

# رڼا دَ سحر

## د نعتونو یوه ښائسته او ښکلې ګلدسته



تصنیف

[illegible] مردانی

Ketabton.com

خورونکے

اسلامی ادبی تولنه

یونیورستی روډ مردان 0312-9818511

رڼا دَ سحر

د نعتونو ګلدسته

تصنیف

ابوالقاسم احمد علی مردانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

د نعتونو ګلدسته

# رنا دَ سحر

تصنيف


## مولانا احمدعلی مردانی

(فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه محمد يوسف بنوريؒ ټاؤن کراچي

وايم اے عربي عبدالولي خان يونيورسټي مردان)

استاد ګورنمنټ پرائمري سکول ليبر کالوني مردان



خوروونکے

## اسلامي ادبي ټولنه

يونيورسټي روډ مردان

0312-9818511....0321-9818511

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر چا ته ئې دَ چهاپ کولو اجازت دے


﴿ دکتاب نوم ﴾ رڼا دَ سحر

﴿ صفحات ﴾ ۳۳٦

﴿ مصنف ﴾ مولانا احمدعلی مردانی

﴿ نظرثانی ﴾ جناب مهراندیش لیبرکالونی مردان

﴿ کتابت ﴾ پیراډئیز کمپوزنګ سنټر مردان

﴿ پبلشرز ﴾ النور کتب خانه یونیورسټي روډ مردان

﴿ دَ چهاپ کال ﴾ نومبر ۲۰۱۵ ء

﴿ بیعه ﴾ ۲۰۰ روپې

﴿ دَ ملاویدلو پته ﴾ مکتبه عشره مبشرهؓ اُردو بازار لاهور


دَ ملاویدلو پتے

- ★ حافظ کتب خانه مردان
- ★ مدرسه اصحاب صفهؓ مردان
- ★ جامعه احیاء العلوم نسته روډ مردان
- ★ او دَ مردان په هره غټه کتب خانه کښې ملاویږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# زما عقيده اويو څو خبرې

الحمدللّٰهِ ربّ العٰلمين الصلوة والسلام علىٰ رسوله الكريم وعلىٰ اٰله واصحابه اجمعين ومن تبعهم باحسان الىٰ يوم الدين . امابعد! دا خبره دَ ورځ پشان روښانه او واضحه ده چه نعت يعني دَ رسول اللّٰه ﷺ تعريف يامدح وثنا دَ نثر شكل كښي او دَ نظم شكل كښي عبادت دے په قرآن كريم كښي چي څومره تعريف اومدحه دَ رسول اللّٰه ﷺ بيان شوي ده دَ هغي ټولي دَ مدحي شكل دَ نثر دے ځكه چي قرآن كريم دَ نظم په شكل كښي نه دے نازل شوے بلكه دَ نثر په شكل كښي نازل شوے دے . دَ امام الانبياء اولنے مدح خوان پخپله باري تعالىٰ دے . په قرآن كريم كښي اللّٰه تعالىٰ په مختلفو اندازونو سره دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ مدحه كړے ده .په مخلوقاتو كښي دَ بنده ( زه پخپله) دَ علم مطابق اولنے مدح خوان منظوم شكل كښي ابوطالب وۀ . بيا دَ هغوی نه وروستو حضرت عليؓ حضرت حسان بن ثابتؓ وغيرهم وو. دَ نظم شكل كښي دَ حضرت محمد رسول اللّٰه ﷺ تعريف او مدحه دَ رسول اللّٰه ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ اغيارو( يعنی کفارو او مشرکانو ) او دَ خپلو( يعنی مسلمانانو) دواړو نـه ثابتـه ده . پـه خپـلـو کښی دَ امام الانبياء ﷺ مشهور مدح خوان حضـرت حسـان بن ثابتؓ وۀ. چې دوی په ډير بهتـرين انداز سره دَنظم پـه شـکـل کښـی دَ رسول اللّٰه ﷺ مدحه اوتعريف کړے دے چه ورته منظوم نعتِ مصطفیٰ ﷺ وئيلے شی.دَ رسول اللّٰه ﷺ تعريف کوول دَ عبـادت نـه خـالـی نـه دی . خـو دَ هـر يو څيـز خپل حدونـه وی. دَ امـام الانبيـاء ﷺ دَ تـعريف اومدحې هم خپل حدونه دی هغه حدونو تـه قـراٰن اوسـنـت وئيـلـے شـی نوکه چرته دَ رسول اللّٰه ﷺ تعريف او مـدحـه دَ شريعت ( يعنی دَ قراٰن اوسنت )په حدونو اوړنا کښی وشی نو دا خـو بيـا يوعظيم عبادت دے خو که چرته دَ رسول اللّٰه ﷺ تعريف او مـدحـه دَ قـراٰن اوسـنـت دَ حـدودو نـه بهـروشی نو دَ عبادت په ځائے دا مـدحـه دَ اللّٰه او دَ رسول ﷺ دَ خفګان سبب جوړ شی او يقينا دَ اللّٰه او دَ رسول ﷺ په خفګان کښې دَ دُنيا او دَ اٰخر ناکامی پرته ده.مختصر دا چې دَ امـام الانبيـاء حضرت محمد رسول اللّٰه ﷺ هغه شان تعريف او مـدحـه کـوُل پـکار دی کوم شان او طريقې سره چی اللّٰه او دَ اللّٰه رسول ﷺ تـه خـوښ وی او داسې تعريف او مدحه اُوشی چی دَ نبی تعريف او مـدحـه دَ خـالـق تـعـريف او صـفـت سره برابر نۀ شی . دَ رسول اللّٰه ﷺ مـدحـه عيـن ايـمـان اوعـبـادت دے خـو هـغـه تعريف او مدحـه دَ قراٰن وسـنـت پـه حـدونـو کښـې دنـنـه کـول پـکـاردی . زمـا دَ امـام الانبيـاء حـضـرت مـحـمـد رسـول اللّٰه ﷺ متعلق هغه عقيده ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومه چي دَ اهلسنت والجماعت (علماءِ دیوبند) عقیده ده . دَ اهلسنت والجماعت عقیده ده چه حضرت محمد رسول الله ﷺ دَ اللّٰه تعالیٰ خوښ کړے شوے بنده او دَ هغه رسول او نبی دے خاتم الانبیاء دے ، دَ ټولو متقیانو امام او دَ ټولو رسولانو سردار دے او دَ ربّ العٰلمین محبوب دے .ستا دَ نبوت نه پس دَ هر قسمه نبوت دعویٰ کول ګمراهی او دَ نفس دَ خواهیشانو اتباع او پیروی ده .او ستاسو بعثت دَ پاره دَ حق او هدایت خورولو دَ ټول خلائق یعنی ټولو پیریانو او انسانانو ته دے

## دَ نعتیه کلام متعلق یو ښوخبري

دَ اهلسنت والجماعت په عقائدو کښي یوه داهم عقیده ده چي رسول اللّٰه ﷺ دَ خلقت په اعتبار سره بشر وۀ. دَ هدایت په اعتبار سره نور وۀ. زما په نعتیه اشعارو کښي چي کوم ځائے رسول اللّٰه ﷺ ته دَ نور نسبت شوي. هلته په اعتبار دَ هدایت نور مراد دے .بلکه دا چي دَ مغیباتو علم صرف دَ یو خالق او مالك سره دے . ددي نه علاوه ما په خپلو اشعارو کښي یا مخاطبه او دغه شان نور خطابیه کلمات استعمال کړي دي دا ټول خطابیه کلمات تصوراتی دي .یعنی زما عقیده دَ رسول اللّٰه ﷺ متعلق هر ځائي کښي دَ حاضر ناظر نه ده بلکه زه داعقیده لرم چي امام الانبیاء حضرت محمد رسول اللّٰه ﷺ په خپله روضه مبارکه کښي آرام فرما دے او درود سلام ورته دَ ملائکو په ذریعه رسیږي او دَ مخلوقاتو نه دَملائکو په ذریعه که اللّٰه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اُغواړي نو خبرېږي. واللّٰه المؤفق والمعين وصلىٰ اللّٰه تعالىٰ علىٰ خير خلقه محمد وآله واصحابه واهل بيته اجمعين ومن تبعهم باحسان الىٰ يوم الدين .

﴿دَ نبي دَ شفاعت او دَ مخلوق دَ دُعاګانو او اللّٰه نه دَ مغفرت طالب﴾


**احمدعلی مردانی**

(فاضل جامعة العلوم الاسلامیه علامه محمد یوسف بنوریؒ ټاؤن کراچی

(وفاق المدارس العربیه ملتان پاکستان)

(ایم اے عربی عبدالولی خان یونیورستی مردان خیبر پختونخوا پاکستان)

**خوره بانډه مردان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# حمد باری تعالیٰ

لاشریکه په خپل ذات دَالله ذات دے
مجموعه دَ ټول صفات دَ الله ذات دے

دَ هر چا مشکل کشا او مددګار دے
دا قاضی دَ ټول حاجات د الله ذات دے

په صفت چې لم یلد اولم یولد دے
دا خالق دَ مخلوقات دَ الله ذات دے

دَ مارغانو په هوا روزی رسان دے
تل رازق دَ کائنات دَالله ذات دے

دَ هر یو انسان ملګرے دَ هر غم دے
دا سامع دَ شکایات دَ الله ذات دے

په یو کُن سره دَ دوی هر یو امر دے
تل آګاه په ټول جهات دَ الله ذات دے

په هر ځائے کښې هر ساعت هغه موجود دے
تل اګاه دَ ټول حالات دَ الله ذات دے

دا الله نه عبادت دَ بل چا نشته
بس لائق دَ عبادات دَ الله ذات دے

مثل نه لری احمده په جهان کښې
لاثانی په ټول صفات دَ الله ذات دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تـهٔ امـام د هـر سـخی ئـي        مـقـتـدا د هر ولی ئي
اے نبی ئي اے نبی ئي   اے نبی ئي اے نبی ئي
مـقـتـدا د عـلـمـاء ئـي        د پـارسـا او اولیـاء ئـي
د حـاکـم او حـکـمـاء ئـي      پـه نـسـب کـنبـي هاشمی ئي
اے نبی ئي اے نبی ئي   اے نبی ئي اے نبی ئي
دهـرخـوږ زړگـي دوائـي      پـه صـورت بـدرالـدجـیٰ ئـي
یا بنـا ئـسـتـه شـمـس الـضـحیٰ ئي      هم مکی او مدنی ئي
اے نبی ئي اے نبی ئي   اے نبی ئي اے نبی ئي
هـر انـسـان درنـه فـدا دے   سـتـا عـاشـق دده دُنیا دے
سـتـا صـفـت سره گـویـا دے   تـه یـاد شوے عربی ئي
اے نبی ئي اے نبی ئي   اے نبی ئي اے نبی ئي
تـول وجـود دے معـطر دے      لـکـه مشك او دعـنـبـر دے
تـول وجـود تـول مـنـور دے   عـالیشـانـه قریشی ئي
اے نبی ئي اے نبی ئي   اے نبی ئي اے نبی ئي
لـکـه نـور ئـي د سـحـر      یـا رڼا ئـي د قـمـر
یـا رڼـا ئـي پـاس دَ نـمـر     مقتدا د مقتدی ئي
اے نبی ئي اے نبی ئي   اے نبی ئي اے نبی ئي
پـه لـقـب خیـر الـبـشـر ئـي   هم سـاقـی تـه د کـوثـر ئـي
بـل شـافـع هـم د محـشـر ئـي   ظـاهری هـم باطنی ئي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے نبی ئې اے نبی ئې    اے نبی ئې اے نبی ئې
ستا غابنونه دي سپین زر    هم یاقوت دي هم گوهر
دا ځلیږي لکه نمر    ته سرتاج د اٰدمي ئې
اے نبی ئې اے نبی ئې    اے نبی ئې اے نبی ئې
ته طٰهٰ ئې هم یٰسین ئې    ته رحمت دَ عالمین ئې
هم صادقه او امین ئې    ابتداء د مبتدي ئې
اے نبی ئې اے نبی ئې    اے نبی ئې اے نبی ئې
دصدیقؓ یار دسفر ئې    بل ملګرے دعمرؓ ئې
دعثمان غنیؓ تهٔ سخر ئې    بل ملګرے دعلیؓ ئې
اے نبی ئې اے نبی ئې    اے نبی ئې اے نبی ئې
احمد زه درنه قربان شم    زه خادم دے ددربان شم
ثناخوان دے په جهان شم    مهربان په امتي ئې
اے نبی ئې اے نبی ئې    اے نبی ئې اے نبی ئې

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اوّلین په کائنات کښي اٰخرین د ربَ اکبر دے
وایه وایه دغه څوك دے دَ ا زمونږه پیغمبر دے
نهٔ وهٔ عرش، نه آسمانونه، نه وویوتي دغه غرونه
نه چیني وې دریابونه، نه ملکونه نه ښارونه
سبب دُوي دپاره دلته، په دُنیا کښي یوبشر دے
وایه وایه دغه څوك دے دَ ا زمونږه پیغمبر دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــه سپـوږمـی بــه وه نــهٔ نـمر ،نـهٔ پیدابــه وے بشر
نــهٔ بــه وې دَا بــحــروبــر، نــهٔ مــابنــام او نــه ســحـر
وایــه وایــه پــه دُنیــا کښــې څـوك سبب د بــحـروبـر دے
وایــه وایــه دغــه څـوك دے دَا زمـونږه پیـغـمبـر دے
نــــه پیــدابــــه وې ادمٔ ،نـــــه بــــه لــوح اودا قــلـم
دا نــظـــام اودا عـــالَـم ، نـــه عــرب او نـــه عـجـم
وایـه وایـه پـه دُنیـا کښې څـوك سبب نور دَ نظر دے
وایــه وایــه دغــه څـوك دے دَا زمـونږه پیـغـمبـر دے
نــهٔ بــه یـونبـی پیـدا وې ،نــهٔ بــه یـوولـی پیـداوې
پـه دُنیـا کښـی بـه څـه نـه وې ،نـهٔ بـه یـوسخی پیدا وې
وایــه وایــه پــه دُنیــا کښـې څـوك سبب دَ هرګـوهر دے
وایــه وایــه دغــه څـوك دے دَا زمـونږه پیـغـمبـر دے
یــو امــام دانبیــاء دے ، بــل صــادقــه پــه ویـنـادے
مــزمـل ددے دُنیــا دے هـم یٰسیـن دے هم طــٰـه دے
بــل دختـمِ نبـوت ئـې پسـر کـړے تـاج پــه سـر دے
وایــه وایــه دغــه څـوك دے دَا زمـونږه پیـغـمبـر دے
یــورڼـــابــــره دَ نـمـــرده بــل دے نـور پـــاس دقـمــر
بـــل دے نـــور دَهـــدایـــت او بــل نــوردے دَهــــر در
چــه شپــه تیـره شـی دُنیــا کښـی نــو رڼـا دَ هرسحـردے
وایــه وایــه دغــه څـوك دے دَا زمـونږه پیـغـمبـر دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



منفرد ئي هر ادا ده، دَ احمد علي وينا ده
دَ رڼا ده بس رڼا ده ، تل رڼا ده په هر خواده
يوساقي چي دَ کوثر دے بل شافع چي دمحشر دے
وايه وايه دغه څوك دے دَ ازمونږه پيغمبر دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اللّٰه وئيل نبي سرداره راځه
رازله راځه خير الابراره راځه
په بُراق سورشه پيغمبره زما
رازله راځه ښکلے دلبره زما
جبرئيل سره ديدن دپاره راځه
رازله راځه خير الابراره راځه
بره راځه خير الابراره نبي
راشه زما ديدن دَ پاره نبي
په بُراق سور زما دَ پاره راځه
رازله راځه خير الابراره راځه
بره راځه دَ هر آسمان نه بره
پاس ته راځه دَ خپل جهان نه بره
ديدن دَ پاره اے دلداره راځه
رازله راځه خير الابراره راځه
پاس دَ جنت اودَ اسمان نه بره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ دے دُنیا دَ هر مکان نه بره
اے قدر منده په دې لاره راځه
رازله راځه خیر الابراره راځه
پاس دَ آسمانه ملاقات دَ پاره
بره دعرش نه انوارات دَ پاره
خوشحاله وسه تاجداره راځه
رازله راځه خیر الابراره راځه
ستا په راتلو سره آسمان خوشحاله
پاس دآسمان نه لامکان خوشحاله
میلمه آسمان ته حُسن داره راځه
رازله راځه خیر الابراره راځه
زۀ احمد یمه نعت خوان دَنبی
یم ثناخوان په دې جهان دَ نبی
وائی الله راځه غمخواره راځه
رازله راځه خیر الابراره راځه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چې په لقب باندے امامُ المرسلین یادیږی
هغه سرتاج دَ کائنات دَ هر حسین یادیږی
چې دَ رخسارئې والضحیٰ سره بیان شوے دے
هم ئې دَ زلفو په والیل سره اعلان شوے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کائنات کښې هم دَټولو بهترين ياديږي
هغه سرتاج دَ کائنات دَ هرحسين ياديږي
اللّٰه ورکړے ورته هم دے ډير عالي نسب
تاج هم دَ ختمِ نبوت ورته په سرکړو رب
په مرتبه کښې اوّلين او آخرين ياديږي
هغه سرتاج دَ کائنات دَ هرحسين ياديږي
نوراني نور هم په اولاد کښې دَآدم هغه دے
رحمت دَ بحر و بر دَ پاره مجسم هغه دے
ځکه دُنيا کښي رحمة اللعٰلمين ياديږي
هغه سرتاج دَ کائنات دَ هرحسين ياديږي
قرآن کښې ياد په مزمل او په طٰهٰ سره دے
ياد کائنات کښې هم صادقه په وينا سره دے
هغه امين دے کله کله په يٰسين ياديږي
هغه سرتاج دَ کائنات دَ هرحسين ياديږي
ساقي په ورځې دَ محشر به دکوثر وي هغه
دَ مجرمانو هم شافع به د محشر وي هغه
هغه شفيع دَ خپل اُمت دَ مذنبين ياديږي
هغه سرتاج دَ کائنات دَ هرحسين ياديږي
زه يم احمدعلي طالب دَ شفاعت دَ نبي
زه طلب ګاريم په دُنيا دَ هدايت دَ نبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څکه هغه محبوب دَ ربُّ الْعٰلمین یادیږی
هغه سرتاج دَ کائنات دَ هر حسین یادیږی

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نوم چه کله راشی دَ نبی خیر الانام ﷺ
وایه وایه وایه دَ درود سره سلام
دغه پاك رسول ﷺ سره دمینې علامت دے
هم دغې دُنیا کښې مسلمانه عبادت دے
دغه نخښه ده د هر عاشق او دَ غلام
وایه وایه وایه دَ درود سره سلام
اَمر الله کړے دے انسان ته دَ جهان
وایه درود وایه ، دَ الله دے دا فرمان
ربّ مقرر کړے دے په دے باندے انعام
وایه وایه وایه دَ درود سره سلام
دا دَ زړهٔ سکون دے په دُنیا دَ هر بشر
دا رانجهٔ دَ سترګو دی دُنیا کښې دَ نظر
دے سره تیزیږی دَ دُنیا نظر تمام
وایه وایه وایه دَ درود سره سلام
دا په دے دُنیا کښې دے سبب دَ مغفرت
دغه په آخر کښې دے سبب هم دَ جنت
ژبه دے لمده کړه په درود سحر مابنام

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایــــه وایـــــه وایــــه دَ درود ســـره ســـلام

هـم دې ســره ختـمیـــږي دَ دُنیـــا مـصیبتــونــه

هـم پــرې فــراخیـــږي دَ دُنیـــا ټـول نـعـمتـونـه

غـوره پـــه دُنیـــا کښـي هـم ښـائستـــه دے دَ اکـلام

وایــــه وایـــــه وایــــه دَ درود ســـره ســـلام

دا احــمــدعـلـی لیـکـلـی دي یـو څـو شـعـرونـه

دَا دي دَ رحــمــت دَ ســمــنـدر تـلـي نهــرونــه

څــکــه چـي پــه دې کښـي دَنبی دےلـوئے مـقـام

وایــــه وایـــــه وایــــه دَ درود ســـره ســـلام

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نسیـمـــه زر تیـــار شـــه پـــه سـفـر دَ مـدیـنـي

یـــاد شـــوے مـي ډیـر زیـات خیـر البشـر دَ مـدینـي

نسیـمـــه زر روان شـــه مـدیـنـي تـــه پـــه سفـر

یـادیــږی مـي ډیـر زیـات دَمـدیـنـي شـمـس وقـمـر

یـــادیـــږی مـــي ډیـــر ډیـــر هـغـــه دلبـر دَ مدینـي

یـــاد شـــوے مـي ډیـر زیـات خیـر البشـر دَ مـدینـي

یـــادیـــږی مـــي ډیـر زیـــات هـغـــه سردار دَ دوجهـــان

یـادیــږی مــي ډیـرزیـــات هـغــه مشـفـقـه مهـربـان

یـــادیـــږی مـــي دَ ټـــول جهـــان رهبــر دَ مـدیـنـي

یـــاد شـــوے مـي ډیـر زیـات خیـر البشـر دَ مـدینـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تيار شه اي نسيمه ! ژر شروع كړه خپل سفر
ياديږي مي ډير زيات ښكلے محبوب دَ ربّ اكبر
ياد شوے مي حسين دَ بحر و بر دَ مديني
ياد شوے مي ډير زيات خير البشر دَ مديني

روان شه اي نسيمه! چي په لار نۀ شي ايسار
ياديږي مي ډير زيات دَ پاك رسول اللّٰه دربار
قسم دے ډير ياديږي مي افسر دَ مديني
ياد شوے مي ډير زيات خير البشر دَ مديني

روان شه اي نسيمه ! زما يو سه دَا سلام
دَا وړاندي كړه نبي ته په ادب او احترام
لازم دے احترام دَ هر يو در دَ مديني
ياد شوے مي ډير زيات خير البشر دَ مديني

تۀ وړاندي كړه سلام ورته زما دَا په ادب
لازم دے دَا ادب هم په عجم او په عرب
موندلے لوئے مقام دے بحر و بر دَ مديني
ياد شوے مي ډير زيات خير البشر دَ مديني

نسيمه ! دَ احمد علي دَا حال ورته بيان كړه
بيا ښكل دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ خائسته لبان كړه
دَ ځان سره واپس راوړه اثر دَ مديني
ياد شوے مي ډير زيات خير البشر دَ مديني

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

فضل وکړه اِلهي په ما غریب
دَ رسول اللّٰه ﷺ دیدن مې کړه نصیب
طلبګار یم ما او تږے دَ دیدن
ځکه ورځ په ورځ اُوچیږي مې بدن
بل مې نشته په دُنیا باندې طبیب
فضل وکړه اِلهي په ما غریب
دَ رسول اللّٰه ﷺ دیدن مې کړه نصیب
زه شائق یم دَ دیدن دَ محمد ﷺ
طلبګار یم دَ وطن دَ محمد ﷺ
مالګړے کړے مولیٰ دَ خپل حبیب
فضل وکړه اِلهي په ما غریب
دَ رسول اللّٰه ﷺ دیدن مې کړه نصیب
چې دیدن ئې دے دوا دَ هر مرض
دا علاج دے زما ستا دَ هر مرض
لاثاني دے دَ دُنیا دغه طبیب
فضل وکړه اِلهي په ما غریب
دَ رسول اللّٰه ﷺ دیدن مې کړه نصیب
چې دیدن کښې ئې سکون دَ دے جهان دے
په ښائست کښې لکه ګل دَ ګلستان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



یـــاقـــمـــر دے پیـــداکـــړے ربّ حسیـــب
فـــضـــل وکـــړہ اِلھـــی پـــه مـــاغـــریـــب
دَ رســـول الـــلّٰـــه ﷺ دیـــدن مـــې کـــړہ نـــصیـــب
دا دیـــــدن دَ زړہ ســـــکـــــون دَ زړہ قـــــرار دے
پـــه مثـــال لـــکـــه ســپـــرلـــے ددغـــې دار دے
دا لیـــکـــلـــے پـــه دُنیـــا کښـــې هـــرادیـــب
فـــضـــل وکـــړہ اِلھـــی پـــه مـــاغـــریـــب
دَ رســـول الـــلّٰـــه ﷺ دیـــدن مـــې کـــړہ نـــصیـــب
دا احـــمـــدعـــلـــی طـــالـــب ئـــې دَ دیـــدن دے
طـلبـگـــاردَ پـــاك رسـول ﷺ دَ پـــاك وطـن دے
ژونـد ئـې تیـر شـی مـدینـه کښـې پـه تـرتیـب
فـــضـــل ئـــې کـــړہ اِلھـــی پـــه مـــاغـــریـــب
دَ رســـول الـــلّٰـــه ﷺ دیـــدن مـــې کـــړہ نـــصیـــب

## نعتِ مصطفٰی ﷺ

آسـمـان تـه شـو روان، رسـول الـلّٰـه ﷺ پـه سر کـړو تاج
داوہ شپـــه دَ مـعـــراج ، داوہ شپـــه دَ مـعـــراج
الـــلّٰـــه بـــرہ بـــلـــلـــے دے امـــام دَ انبیـــاء
افـضـل پـه کـائـنـات کښـی دے تـمـام دَ انبیـاء
وچـــت دې ډیـــر اوچـــت دادے مـــقـــام دَ انبیـــاء
آسـمـــان تـــه شـوروان ددې دُنیـــانـــه دا ســـراج

(c) ketabton.com: The Digital Library



داوه شپــــــه دَ مــعـــــراج ، دا وه شپــــــه دَمــعـــــراج
اللّٰـه ئي هرآسـمـان کښې فريښتې په استقبال کړئې
ښائسـت تـه ئې حيـرانې دَ رسول دَ نـور جمال کړئې
ګـواه ئـې په عـظـمت تولې ذرې ربّ ذوالجلال کړئې
الـلّٰــه پـه هـرمـقــام کښې جـداکړئې پـه مزاج
داوه شپــــــه دَ مــعـــــراج ، داوه شپــــــه دَ مــعـــــراج
نبيـان پـه استـقبـال دَ مـحمد ﷺ وويـه آسمـان کښې
ميـلمـه ددې جهـان تـه پـه کتـو ويـل جهـان کښې
هـرڅـه وويـه ادب هـم پـه مـکـان او لامـکـان کښې
هــرڅــــه شــول لانــدې پــاتــې دَ دُنيــا رسـم رواج
داوه شپــــــه دَ مــعـــــراج ، داوه شپــــــه دَ مــعـــــراج
بُــراق بـــانـدې شـو سـور ښـه پــه عــزت او احتــرام
الـــلّٰـــــه لــــه روانيـــــږې دَ دُنيـــا خيـــر الانـــام
احـمـدَدَ مـــردان دلتــــه کښــې بيـــان کـړلـو تـمـام
پــــه يــــاد دَ مـــحـــمــد ﷺ ســـره کـوي دَ زړه عــلاج
دا وه شپــــــه دَ مــعـــــراج ، دا وه شپــــــه دَ مــعـــــراج

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تــل دے ســلامــونـــه وی پــه افـضـل الـرُّسـل زمـا
ربّ دے پيـــداکــړے هـم دَ ګـل پـه ورځې ګـل زمـا
ربّ دے پيـداکـړے بيـا دَ ګـل پـه ورځ سـحـر هغـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـمـرودَ دي جهـان دے پـه سفر اوپـه حضر هغـه
هم دَ زرۀ سـكـون دے هم دے نوردَ هـر نـظـر هغـه
نشتـه پـه دُنيـاكښـي څـوك دَ دُوی نـه رهبـر بل زمـا
تـل دے سـلامـونــه وی پــه افـضـل الـرُّسل زمـا
ربَ دے پيـداكـړے هـم دَ ګـل پـه ورځـي ګـل زمـا
ربَ دے پيـداكـړے هـم هـادی اوهـدايـت هـغـه
ربَ دے پيـداكـړے هـم سبـب دَ سـعـادت هـغـه
ربَ دے پيـداكـړے مـجسـم هـم مـحبـت هـغـه
نــوردَ هـــرې لارې دَ دُنيـــا دے دَ مــنــزل زمـــا
تـل دے سـلامـونــه وی پــه افـضـل الـرُّسل زمـا
ربَ دے پيـداكـړے هـم دَ ګـل پـه ورځـي ګـل زمـا
ربَ دے پيـداكـړے ښـۀ كـامـل پـه هـرصـفـت سـره
ربَ دے پيـداكـــړے دَ دُنيـــا دَهــرعــزت ســره
ربَ دے پيـداكـړے ښـۀ كـامـلـه پـه خِلقت سره
نـــوردَ هـــدايـــت دے دَ دُنيـــا دَلارې مَـــل زمـــا
تـل دے سـلامـونــه وی پــه افـضـل الـرُّسل زمـا
ربَ دے پيـداكـړے هـم دَ ګـل پـه ورځـي ګـل زمـا
ربَ دے پيـداكـړے پـه دُنيا كښـي نيـازبيـن هـغـه
ربَ دے پيـداكـړے هـم صـادقـه اوهـم امـيـن هـغـه
ربَ دے پيـداكـړے رحـمة الـلـعٰـلـمـيـن هـغـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميـنــه مـحـبـت سـره تـرلـي دي وئيـل زمـا
تـل دے سـلامـونــه وي پــه افـضـل الـرُّسـل زمـا
ربّ دے پيـدا کـړے هـم دَ ګـل پـه ورځـې ګـل زمـا
ربّ دي پيـدا کـړے امتيـان دَ مـحـمـد ﷺ غـوره
ربّ دي پيـدا کـړے عـاشـقـان دَ مـحـمـد ﷺ غـوره
ربّ دي پيـدا کـړے ثـنـاخـوان دَ مـحـمـد ﷺ غـوره
خـدايــه! کـړے قبـولــه داويـنـا او داليـکـل زمـا
تـل دے سـلامـونــه وي پــه افـضـل الـرُّسـل زمـا
ربّ دے پيـدا کـړے هـم دَ ګـل پـه ورځـې ګـل زمـا
زه احـمـدعـلـي دَ مـحـمـد ﷺ ثـنـاصـفـت ليـکـم
دابـه پـه دُنيـا هـره لـحـظـه او هـرسـاعـت ليـکـم
دَ زړه پــه خـلـوص سـره پـه ميـنـه محبت ليکم
نــهٔ مـې دي پـکـار دَ دې دُنيـا مـال او مـحـل زمـا
تـل دے سـلامـونــه وي پــه افـضـل الـرُّسـل زمـا
ربّ دے پيـدا کـړے هـم دَ ګـل پـه ورځـې ګـل زمـا

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښـکـلـے مـخ دَ مـحـمـد ﷺ دے نـور آفـتـاب
ښــهٔ کــامـل پــه کــائـنـات دے دامهتــاب
ښـکـلـے مـخ دَ مـحـمـد ﷺ حُسـن دَ ګـل دے
لاثــانــي دے پـــه دُنيـــا کښــې دَا ګـلاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلے مخ دَ محمد ﷺ رڼا ده
دَ ژوندون دَ پاره دے دَ ربَ کتاب
دَ حیا په دے جهان یو نمونه ده
په کتو کښې ئې سکون شته هم ثواب
دَ وفا هم علامت دے دَ دُنیا
ختموی واړه غمونه اضطراب
دَ سکون او اطمینان دے دَا سامان
هر یو فرد له دَ اولاد او دَ اصحابؓ
لاثانی دے په صفت سره احمده!
وائی ځکه ورته خلق لاجواب

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

محمد ﷺ دے دَ دُنیا دَ در طبیب
لاثانی دے دَ الله دَ در حبیب
دَ ژوندون هره حصه ئې قیمتی ده
بهترین دے په دُنیا کښې په ترکیب
هر یو قول ئې زرګوهر ددې دُنیا دے
بهترین دے هر بیان ئې په ترتیب
کامیابی ئې اتباع کښې په جهان ده
ناکامي ده په دُنیا کښې ئې تکذیب
لعل ګوهر دي ټول افعال دَ محمد ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاثـــانـــی دے دادولـــت دَهـــرغـــریـــب
غـــریـــب نـــه دے پـــه دُنیـــا هـغـــه غـنـــی دے
اتبـــاعِ چـــي دَ رســـول ئـــي شـــی نـصـیـــب
اتبـــاعِ دَ مــحــمــد ﷺ چــي ئــي نـصـیــب شـي
ورتـــه وايـــمـــه دُنیـــا کښـي خـوش نـصیـب
دَ بـــي قـــدرو پـــه نـــصـیـــب کښـي دغـــه نشتـــه
قـــدردان دَ مـــحـــمـــد ﷺ دے هـــر لبیـــب
اے احـــمـــدعـــلـــی! پـــه هـــرڅـــه لاثـانـــی دے
داســـي وائـــی هـــرعـــالـــم ســـړے ادیـــب

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

لـوئـے مـقـام دَ مـحـمـد ﷺ دے لوئـے منـصـب
ښـــهٔ ښـائـستـــهٔ دَمـحـمـد ﷺ دے دامـذهـب
هـــریـــو ښـــاخ ئـــي قـیـــمتـــي ددي جهـــان دے
قیـــمتـــي پـــه دي جـــو پـــړي ورځ اوشـــب
بـــي مـــطـلبـــه پـکښـي نشتـــه دے یـــو حـــرف
هـریـو حـرف پـکښـي ښـائـستـهٔ دے پـه مطلب
دَ الـلّٰـــه رضـــا پـــه دغـــي کښـــي پـــرتـــه ده
دَ رســـول دَ رضـــا هـــم دے غـــټ سبـــب
دَ رسول پـــه لـوئـے مـقـام بـانـدے خبـردے
تـــاج پـــه ســـرچـــي وي دَ چـــا نُـــور دَ ادب

(c) ketabton.com: The Digital Library


نهٔ اودهٔ سرے ددغي نه خبريږي
اے احمده! نهٔ خبريږي مذبذب

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چي ئي نوم دَ هر مجلس دے برکت
هغه ذات دَ محمد ﷺ دے ډير اوچت
دَ نبيانو دے امام مقرر شوِے
لاثاني دے دَ دُنيا په امامت
نور رنا دَ هر بشر ده په دُنيا کښي
سيورے هر چا له دے دلته دَ رحمت
دَ وفا اودَ حيا سبق شته دلته
هم سبق دلته کښي شته دَ صداقت
مهربانه په هر چا دے دَ دُنيا
مجموعه ده ټول دَ مينے محبت
لاثاني دے امانت سره دُنيا کښي
لاثاني دے دَ دُنيا په سخاوت
داسي نشته بل رهبر په دے جهان
نمر رنا ده په دُنيا دَ هدايت
اولين په مرتبي سره ياديږي
هم محبوب دے دَ الله ربَ العزت
دَ نبيانو په آخر کښي دے راغلے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ نبیانو دے خاتم دَ نبوَت
په ساقی هم دَ کوثر سره یادیږي
حق محشر کښي هم دَ دوی دے شفاعت
راشه راشه ډیر حسین دے په صورت
ډیر عظیم دے محمد ﷺ په ټول سیرت
اے احمد علی! دَ پاك نبی ﷺ دا شان دے
هر صفت ددي دُنیا ئي دے صفت

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ډیر عظیم دَ مصطفیٰ ﷺ دے هر حدیث
نورانی صفت رڼا دے هر حدیث
نۀ ثانی ئي شی لیدلے په جهان
لاثانی په دي دُنیا دے هر حدیث
قدردان دَ هر حدیث دی عالمان
اطمینان دَ اولیاء دے هر حدیث
دَا دَ زراو دَ گوهر نه قیمتی دے
هر صفت سره جُدا دے هر حدیث
ډیر دے خوږ څکه دَ قند اوله گبینه
داسي خوږ دَ مجتبیٰ دے هر حدیث
پاس له عرشه له کرسی نه ئي مقام دے
په مقام کښي ډیر اعلیٰ دے هر حدیث

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــل سـکــون دے اطــمیــنــان دَ هــریــو قــلــب
مــعـــالـــجـــه پـــه هــرخــوا دے هــرحــدیــث
هـــم رهبـــــــر دَ لارې مَـــــل دے دَ دُنیـــــــا
نـــورانــــی نــور دَ صبـــا دے هـــرحـــدیـــث
اے احـــمــدعـلــی! حـدیـث دے تـول حـکـمـت
تـــل نـــاصـــح زمـــا اوستـــادے هـــرحـــدیـــث

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زلــفــې دَ والیــل دي پـــه دُنیـــا دَ مـصـطـفـیٰ زمـــا
مـخ دَ مـحـمـد رسـول الـلّٰـه ﷺ دے والـضـحـیٰ زمـا
هــرځــائــے نـورانــی شـولـو پـه مـخ دَ مصطفیٰ سره
هــرځـــائـــے نـورانـــی شـولـو پـــه سیَـدالـوریٰ سـره
داســے پـــه دُنیــا کښـې مـقـتـدا شـولـو پیـدا زمـا
زلــفــې دَ والیـــل دی پـــه دُنیـا دَ مـصـطـفـیٰ ﷺ زمـا
هـــرځـــائـــے نـــورانـــی شـــو مـنـوره پـــه رسـول سـره
وایــم لاثـــانـــی شـــو مـــنـــوره پـــه رسـول ســـره
داســـے مـــنـــور دے دَ دُنیـــا خیـــر الـــوریٰ زمـــا
زلـــفــې دَ والیـــل دی پـــه دُنیـــا دَ مـــصـــطـفـــیٰ زمـــا
هــرځـــائــے نـورانـی شـو نـورانـی شـولـو آسـمـان بـره
هــرځـــائـــے نـورانـی شـو نـورانـی شـولامـکـان بـره
هـــرځـــائـــے نـورانـــی شـــو پـــه امـام الانبیـاء زمـا

(c) ketabton.com: The Digital Library



زلفي دَ واليل دي په دُنيا دَ مصطفیٰ زما
هر ځائے نوراني شولو خائستهٔ په هرصفت سره
هر ځائے نوراني شولو په پاك نبي حضرت سره
كوركوڅه ښائسته شوله په دغے مقتدازما
زلفي دَ واليل دي په دُنيا دَ مصطفیٰ زما
هر څه منور شو بره ستوري په اسمان كښي تول
هر څه منور شو احمد وائي په جهان كښي تول
راغي چي دُنيا ته مهربانه په هرچا زما
زلفي دَ واليل دي په دُنيا دَ مصطفیٰ زما

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

غوښتلے ابراهيمؑ ئي او بل زيرے دَ عيسیٰؑ ئي
امام دَ انبياء ئي دَ پارسا او اولياء ئي
امام دَ انبياء ئي اے رسوله! په دُنيا كښي
بے مثله اے رسوله! ئي موجود په هراداكښي
امين ئي اے رسوله! او صادق ئي په وينا كښي
حسين په كائنات كښي په صورت بدرالدجیٰ ئي
غوښتلے ابراهيمؑ ئي او بل زيرے دَ عيسیٰؑ ئي
امام دَ انبياء ئي دَ پارسا او اولياء ئي
امام دَ امام ئي هم په تولوكښي اوچت ئي
راغلے كائنات كښي په وجود سره رحمت ئي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جامع په کائنات کښې دَ هر حُسن اوصفت ئې
یوسفؑ نه هم په حُسن کښې رسوله!ﷺ ته بالائې
غوښتلے ابراهیمؑ ئې او بل زیرے دَ عیسیٰؑ ئې
امام دَ انبیاء ئې دَ پارسا اواولیاء ئې
امام دَ ماماانو ئې جامع دَ فضیلت ئې
امام دَ متقیانو ئې خاتم دَ نبوت ئې
داعی په کائنات کښې ته دَ حق اوصداقت ئې
محمود ئې په دُنیا کښې مصطفیٰ ئې مجتبیٰ ئې
غوښتلے ابراهیمؑ ئې او بل زیرے دَ عیسیٰؑ ئې
امام دَ انبیاء ئې دَ پارسا اواولیاء ئې
اعلیٰ په هر صفت ئې اے امام المرسلینه!ﷺ
محبوب دَ پاك اللّٰه ئې اے صادقه او امینه!ﷺ
ساقی هم دَ کوثرئې اے شفیع المذنبینه! ﷺ
یٰسین ئې اے رسوله! مزمل ئې او طٰهٰ ئې
غوښتلے ابراهیمؑ ئې او بل زیرے دَ عیسیٰؑ ئې
امام دَ انبیاء ئې دَ پارسا اواولیاء ئې
صدیقؓ دَ صداقت خبرې ستانه دی زده کړے
عمرؓ دَ عدالت خبرې ستانه دی زده کړے
عثمانؓ دَ سخاوت خبرې ستانه دي زده کړے
رهبر او رهنما هم دَ علی المرتضیٰؓ ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتلے ابراهيمؑ ئي او بل زيرے ۮ عيسیٰؑ ئي
امام ۮ انبياء ئي ۮ پارسا اواولياء ئي
احمدعلی طالب دے په محشر ۮ شفاعت دے
اميد ۮ ربّ په درکښي برابر ۮ شفاعت دے
لائق دے ستا ۮ ميني ۮ نظر ۮ شفاعت دے
شفيع ۮ مجرمانو ئي غمخوار تهٔ ۮهر چائي
غوښتلے ابراهيمؑ ئي او بل زيرے ۮ عيسیٰؑ ئي
امام ۮ انبياء ئي ۮ پارسا اواولياء ئي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

يادېږي په لقب خيرالبشر نبی زما
افضل دے ۮ دُنيا په بحر وبر نبی زما
بالا په مرسلانو کښي زمونږه ربّ اکبر کړهٔ
ښائستهٔ ے په دُنيا کښي ۮ دُنيا شمس وقمر کړهٔ
بيانور ئي ۮ سحر کړهٔ برابر نبی زما
يادېږي په لقب خيرالبشر نبی زما
افضل دے ۮ دُنيا په بحر وبر نبی زما
افضل دے مُرسلانو کښي خاتم ۮنبوت دے
خاتم ۮ رسالت دے او خاتم ۮ شريعت دے
ۮ ټول جهان ۮ پاره دے رهبر نبی زما
يادېږي په لقب خيرالبشر نبی زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



افضل دے دَ دُنیا په بحر وبر نبی زما
په نور دَ محمد ﷺ سره هرځائے دے منور
روښانه دے په نور دَ محمد ﷺ سره هر در
روښانه دے دُنیا کښې لکه نمر نبی زما
یادیږي په لقب خیرالبشر نبی زما
افضل دے دَ دُنیا په بحر وبر نبی زما
افضل په کائنات کښې دے زمونږه پیغمبر
سپرلے په کائنات کښې دے راغلے برابر
سپرلے دَ کائنات دے سراسر نبی زما
یادیږي په لقب خیرالبشر نبی زما
افضل دے دَ دُنیا په بحر وبر نبی زما
خائسته په کائنات کښې دَ هرګل نه دَجهان دے
محبوب په کائنات کښې دَ اللّٰه غنی سبحان دے
ساقي دَ خپل امت دے دَ کوثر نبی زما
یادیږي په لقب خیرالبشر نبی زما
افضل دے دَ دُنیا په بحر وبر نبی زما
رحمت په کائنات کښې دے دَ پاك غنی سبحان
بالا په مرتبه کښې دے اُوچت بره آسمان
ممتاز په هر صفت دے سراسر نبی زما
یادیږي په لقب خیرالبشر نبی زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



افضل دے دَ دُنیا په بحر وبر نبی زما
شفیع دَ مجرمانو دے محشر کښې په میدان
احمد علی خبره مختصر کړه دَ مردان
بادشاه دے کائنات کښې دَ هر درنبی زما
یادیږي په لقب خیرالبشر نبی زما
افضل دے دَ دُنیا په بحر وبر نبی زما

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

میلمهٔ په آسمانونو کښې اللّٰه دے کړځولے
دَ هر څه نه دے ښکلے، زمونږه پاك رسول
بره دَ آسمانونو نه بللے پاك اللّٰه دے
امین ددے جهان دے او صادقه په وینا دے
اللّٰه له روانیږي ځان ته رب دے رابللے
دَ هر څه نه دے ښکلے زمونږه پاك رسول
دَ رب دیدار له ځي دَ دې جهان نه بل جهان ته
دیدن له دَ اللّٰه ځي دَ مکان نه لامکان ته
بُراق ورله اللّٰه دے دَ آسمانه رالیږلے
دَ هر څه نه دے ښکلے، زمونږه پاك رسول
دیدن له دَ اللّٰه ځي روانیږي په سفر
هر څه په تماشه دي دغه ستوري او قمر
جبرئیل هم ورسره په دے سفر کښې دے وتلے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ هر څـه نـه دے ښکلے ، زمونږه پاك رسول
ديدن لـه دَ اللّٰه ځـي دَ دُنيا دَ دغـے در نـه
دُنيا بـه لانـدې پاتې شى حضرت خير البشر ﷺ نـه
نن نمـر پـه آسمانونو كښې دَ شپې دے راختلے
دَهر څـه نـه دے ښکلے ، زمونږه پاك رسول
جبرئيل ئې دے ملګرے دَ سفر او دَ حضر
ښائسته پـه كائنات كښې داسے نشته بل افسر
دُنيا كښې چابـه نـه وى بل بشر داسے ليدلے
دَ هر څـه نـه دے ښکلے ، زمونږه پاك رسول
اے خلقو! زه احمد على صفت بيانوومه
قيصه دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ درته كوومه
تعريف مې پـه دُنيا كښې دَ رسول اللّٰه ﷺ ليكلے
دَ هر څـه نـه دے ښکلے ، زمونږه پاك رسول

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ

لـكـه نمر دَ پاس آسمان دے محمد ﷺ
وايم داسے عاليشان دے محمد ﷺ
هم امام دَ رسولانو دَ دُنيا دے
هم امام پـه كائنات كښې دَهرچا دے
مقتدا دے هم سلطان دے محمد ﷺ
وايم داسے عاليشان دے محمد ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نۀ ئي حُسن ته رسيږي يو بشر
نۀ ئي حُسن ته رسيږي پاس قمر
په هر ځائے کښې نمر روښان دے محمد ﷺ
وايم داسے عاليشان دے محمد ﷺ

هم دے نور دَ هدايت په دے جهان
هم دے نور دَ سعادت په دے جهان
داسے نورددي جهان دے محمد ﷺ
وايم داسے عاليشان دے محمد ﷺ

مرتبه ئي دَ آسمان نه ده اوچته
مرتبه ئي هر انسان نه ده اوچته
وينم پاك الله ته ګران دے محمد ﷺ
وايم داسے عاليشان دے محمد ﷺ

دَ دُنيا که ټول عرب دي يا عجم
دَ دُوي ټولو دَ سرتاج دے محترم
عزتمنده قدردان دے محمد ﷺ
وايم داسے عاليشان دے محمد ﷺ

په صفت ئي نه مړيږي عاشقان
دَ احمد علی وينا ده دَ مردان
دَ الله کريم احسان دے محمد ﷺ
وايم داسے عاليشان دے محمد ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښائسته په تول جهان کښې بره پاس شمس وقمر دے
دا حسن حقیقت کښې دَ نبی دَ نور اثر دے

منم دَ مشك عنبرو دَ صفت نه دُنیا ډکه ده
نچوړ دد ے صفت زمونږه پاك نبی سرور دے

هرقول ئې هدایت دے او رحمت دے دَ جهان
هرقول ے قیمتی لکه یاقوت دے یاګوهر دے

ملګری ئې دي ستوری دَ جهان ددې دُنیا
صحبت کښې دَا اثر دَ محمد ﷺ خیر البشر دے

هر درئې دے روښانه دَ دُنیا او دَ عقبیٰ
رڼائې هم په نور سره دُنیا کښې هر سحر دے

ممتاز په هر صفت دے زمونږ پاك نبی سرور
صفات چې شې راجمع دا صفت ئې مختصر دے

بې شمیره صفتونه دَ نبی دې اے احمده!
ممتاز په هر صفت سره محبوب دَ ربَ اکبر دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څومره ښکلے څومره ښکلے دے صفت ستا
اے رسوله! څومره ښکلے دے سیرت ستا

مدینه دَ نور نه ډکه دَ عرب ده
په ښارونو کښې اوچته په ادب ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــه ښـــارونـــو کښـــې هـــم خـــوښـــه دا دَ ربَ ده
مـــرتبـــه ورتـــه مـــلاؤ شـــوه پـــه نسبـــت ستـــا
اے رســـولـــه! څـــومـــره ښـــکلے دے سیـــرت ستـــا

مـــدیـــنـــــه ده مـــنـــوره دَا پـــــه نـــور ده
مـــنـــوره مـــدیـــنـــه پـــه پـــاك حـــضـــور ﷺ ده
داښـــائـستـــه دَ بـــل جهـــان دَ هـــغـــې حُـــور ده
مـــدیـــنـــه ده قـــدرمـــنـــده پـــه رحـــمـــت ستـــا
اے رســـولـــه! څـــومـــره ښـــکلے دے سیـــرت ستـــا

دا عـــرب او دا عـــجـــم دے ټـــول رڼـــا کـــړۀ
دَ دُنیـــا دغـــه تـــورتـــم دے ټـــول رڼـــا کـــړۀ
پـــه خپـــل نـــور ســـره عـــالـــم دے ټـــول رڼـــا کـــړۀ
رڼـــا شـــوې ده دُنیـــا پـــه هـــدایـــت ستـــا
اے رســـولـــه! څـــومـــره ښـــکلے دے سیـــرت ستـــا

ستـــا دَ مـــخ پـــه رڼـــا هـــر څـــه مـــنـــور دی
رڼـــا شـــوې دَ دُنیـــا شـــام او ســـحـــر دی
رڼـــا شـــوې دَ دُنیـــا دا بـــحـــر و بـــر دی
دا اثـــر دے پـــه دُنیـــا دَ امـــامـــت ستـــا
اے رســـولـــه! څـــومـــره ښـــکلے دے سیـــرت ستـــا

ستـــا پـــه لار بـــانـــدې روان صـــدیـــق اکبـــرؓ شـــۀ
څـــکـــه ډیـــر زیـــات عـــالیشـــان صدیـــق اکبـــرؓ شـــۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــــه دُنيــــا دَ ديــن بــرهـــان صـديـق اکبــرؓ شـو
دا اثــــر دے پــــــه دُنيــــا دَ صــــداقــــت ستــــا
اے رســولــــه! ځــومــره ښـکلــے دے سيــرت ستــا

ستـــاپــــه لار بـــانــدې عــمـرفـــاروقؓ دے تــلــے
چــې دَ ديــن پـــه وجـــه پـــاتـے شــو تــرے کلـے
څـکـــه نـمـر نــه پـه سيـرت بـانـدے دے ښـکلـے
دۀ زده کـــــړې وۀ سبــــق دَ عـــدالــــت ستــــا
اے رســولــــه! ځــومــره ښـکلــے دے سيــرت ستــا

ستـــاپــــه نــور پـسـې روان حـضـرت عـثـمـــانؓ وۀ
چــې قـــاصـد دَ مــحـمــدﷺ ددے جهـــان وۀ
جــمــع کـــړې پـــــه اٰخــــر کـښـــې دۀ قـــراٰن وۀ
سـخـــي جـوړ شـولـو پــه نــور دَ سـخـــاوت ستــا
اے رســولــــه! ځــومــره ښـکلــے دے سيــرت ستــا

دَ حـــضـــرت عـــلــــيؓ دَ عـــلـــم ابتــدا ئـــې
مـــقـتــــدا هـــم دَ عـلـــی الــمـــرتـضــیٰؓ ئـــې
نيــغـــــه لار هــم دَ عـــلــــيؓ ددې دُنيـــــائـــې
اُوچــت کـــړے هـــر بشــر دے شـــريـعـت ستــا
اے رســولــــه! ځــومــره ښـکلــے دے سيــرت ستــا

اے رســـولـــــه! تـــۀ مـحـبـوب دَ ربّ مـنّــان ئــې
اے رســـولــــه! تـــۀ مـحـبـوب دَ هـر انسـان ئــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے رسولــــه! تــــهٔ محبوب دَ ټول جهان ئـې
زړهٔ کښــــې اُوسـې دَا حـمـد هـم محبـت ستــا
اے رسولــــه! خـومـره ښـکلــے دے سیـرت ستــا

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

لاثـــانـــی پــــه ټـول جهـــان دے پـــاك نبـــی
ډیــر عــظیــمــه عــالیشـــان دے پـاك نبـــی
لاثـــانـــی پــــه هــرصــفــت ددے جهـــان دے
لاثـــانـــی ټـول پــــه سیــرت ددے جهـــان دے
دَ آفتـــاب پــــه شـــان روښـــان دے پـــاك نبـــی
ډیــر عــظیــمــه عــالیشـــان دے پـاك نبـــی
لاثـــانـــی دے پــــه عــرب او پــــه عــجـم کښـــې
لاثـــانـــی دے ســخـــاوت اوپـــه کـــرم کښـــې
لاثـــانـــی پــــه هــریـــان دے پـــاك نبـــی
ډیــر عــظیــمــه عــالیشـــان دے پـاك نبـــی
لاثـــانـــی دے ټـول جهـان کښـې پــــه عـظـمـت
لاثـــانـــی دے امـــانـــت کښـــې پــــه صـفـت
دَ رحـــمـــت سـپـورمے آمـــان دے پـــاك نبـــی
ډیــر عــظیــمــه عــالیشـــان دے پـاك نبـــی
لاثـــانـــی دے نـــوررنـــاســــره نبـــی
لاثـــانـــی دے هـــرادا ســـره نبـــی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاثانی عظیم سلطان دے پاك نبی
ډیر عظیمه عالیشان دے پاك نبی
لاثانی دے هم په نور دَ هدایت
لاثانی دے دَ دُنیا په امامت
لاثانی ماهِ تابان دے پاك نبی
ډیر عظیمه عالیشان دے پاك نبی
لاثانی دے هم پۀ ختمِ نبوت
لاثانی دے هم په مینه محبت
لاثانی په هر مکان دے پاك نبی
ډیر عظیمه عالیشان دے پاك نبی
لاثانی په آسمانونو دَجهان دے
لاثانی په کائنات کښې دَ رحمٰن دے
لاثانی داسے انسان دے پاك نبی
ډیر عظیمه عالیشان دے پاك نبی
لاثانی دے په نومونو دَجهان
دَ احمدعلی وینا ده دَ مردان
داسے ګل دَ ګلستان دے پاك نبی
ډیر عظیمه عالیشان دے پاك نبی

★★★★★★★★★

★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

لاثانی په کائنات دَ ربَ اکبر دے
داعظیم انسان زمونږه پیغمبر دے
داعظیم انسان امام دَ انبیاء دے
داعظیم انسان امام دَ اولیاء دے
په مثال سره یاد شوے بره نمر دے
داعظیم انسان زمونږه پیغمبر دے
دا عظیم انسان خاتم دَ انبیاء دے
سرچشمه په کائنات دَ اولیاء دے
منوره په آسمان بره قمر دے
داعظیم انسان زمونږه پیغمبر دے
داعظیم انسان هادي دے دَجهان
داعظیم انسان دلیل دلیل دے او برهان
هرانسان دَ پاره سپورے دَ محشر دے
داعظیم انسان زمونږه پیغمبر دے
دا عظیم انسان دے نُور دَ هدایت
هم سبب دے دَ دُنیا دَ سعادت
مقتدا دَ کائنات عظیم رهبر دے
داعظیم انسان زمونږه پیغمبر دے
داعظیم بشر محبوب دے دَ رحمٰن

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل محبوب دے په دُنیا دَمسلمان
انبیاؤ کښې ګرځولے ربّ افسر دے
داعظیم انسان زمونږه پیغمبر دے

داعظیم انسان دے نوردَ هر سحر
داعظیم انسان دے نُور دَ بحروبر
هرانسان دَ پاره نُور هم دَ نظر دے
داعظیم انسان زمونږه پیغمبر دے

داعظیم انسان رحمت دَهرعالم دے
کۀ عرب دے دَ دُنیا اوکۀ عجم دے
هرانسان دَ پاره سپورے دَهردر دے
داعظیم انسان زمونږه پیغمبر دے

مهربان په خپل اُمت دے سراسر
داعظیم انسان ساقی دے دَ کوثر
داعظیم انسان شافع دَ ربّ په در دے

په نومونو کښې یاد شوے په یٰسین دے
مزمل ددې جهان دے بهترین دے
هم طٰهٰ دے دانبی او مدثر دے
داعظیم انسان زمونږه پیغمبر دے

په مقام کښې دے اُوچت له هر آسمان نه
پاس اُوچت لرې مقام دَلامکان نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے احمد علی! دَ هر چا دَ زړه سر دے
داعظیم انسان زمونږه پیغمبر دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رتبه کښې په نبیانو کښې دَ ټولو مقدم دے
امام دَ مُرسلانو دے زمونږ نبی اکرم ﷺ دے
رتبه ئې ښۀ اُوچته دَ دُنیا دَ هریو درنه ده
عظیمه ده اُوچته دَ دُنیا دَ هر بشر نه ده
رُتبه کښې ښه اُوچت دے کۀ عرب دے کۀ عجم دے
امام دَ مُرسلانو دے زمونږ نبی اکرم ﷺ دے
رُتبه لری عظیمه پاس مکان او لامکان نه
رُتبه ئې ده عظیمه دَ دُنیا دَ هر انسان نه
ګواه ئې په عظمت باندې هم لوح او هم قلم دے
امام دَ مُرسلانو دے زمونږ نبی اکرم ﷺ دے
رُتبه ئې ده عظیمه هم په نُور او هدایت سره
رُتبه ده عظیمه هم په ختمِ نبوت سره
ګواه ئې په مقام او مرتبه خپله آدمؑ دے
امام دَ مُرسلانو دے زمونږ نبی اکرم ﷺ دے
رُتبه ئې ډیر عظیمه دَ دُنیا دَ بحر وبر نه ده
رُتبه ئې ډیر عظیمه دَ دُنیا دَ هر کوهر نه ده
امام دَ کائنات په امامانو کښې اعظم دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام دَ مُرسلانو دے زمونږ نبی اکرم ﷺ دے
رُتبه کښې دے اُوچت هم دَ اَیوبؑ او دَ موسیٰؑ نه
رُتبه کښې ډیر اوچت دے په دُنیا کښې دَ هرچانه
رُتبه کښې ډیر اُوچت هم دَ عیسیٰ ابن مریمؑ دے
امام دَ مُرسلانو دے زمونږ نبی اکرم ﷺ دے
امام دے دَ نبیانو او ولیانو دَ دُنیا هغه
دَ ربَ دَ عاشقانو مجنونانو دَ دُنیا هغه
امام دَ متقیانو دے عظیم دے محترم دے
امام دَ مُرسلانو دے زمونږ نبی اکرم دے
احمدعلی! هم تهٔ ئې په نسبت سره اُوچت ئې
لیکوُنکے ئې دَ نعت ئې او ګویا ئې په صفت ئې
اُمت ئې په نسبت سره اُوچت خیر الامم دے
امام دَ مُرسلانو دے زمونږ نبی اکرم ﷺ دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چې احمد خیر البشر دُنیا ته راغے
نورانی نور منور دُنیا ته راغے
نورانی دے په سیرت او په صورت
نورانی دے کائنات کښې په صفت
شپه شوه تیره شو سحر دُنیا ته راغے
نورانی نور منور دُنیا ته راغے

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوراني دے دَ عرب او دَ عجم
نوراني دے ډیر عظیم او محترم
مجسم مشك او عنبر دُنیا ته راغے
نوراني نور منور دُنیا ته راغے
نوراني دے هر کلام دَ محمد ﷺ
نوراني دے صبح وشام دَ محمد ﷺ
نُور دَ ستر کو دَ نظر دُنیا ته راغے
نوراني نور منور دُنیا ته راغے
نوراني رخسار سره شو راظاهر
نوراني انوار سره شو راظاهر
کائنات کښي دغه نمر دُنیا ته راغے
نوراني نور منور دُنیا ته راغے
نوراني تول په وجود او په بدن
نوراني ئي دَ دُنیا دے کور وطن
منوره تاج په سر دُنیا ته راغے
نوراني نور منور دُنیا ته راغے
نوراني دے کائنات کښي په نظر
نوراني دے دَ دُنیا دَ هر یو در
مُرسلانو کښي افسر دُنیا ته راغے
نوراني نور منور دُنیا ته راغے

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـــوراني دے پــه اخـلاقــو دَجهـان
دَ احــمــدعــلــی ويــنــا ده دَ مــردان
خــليــفــه دَرب اكبــر دُنيــا تــه راغــے
نــورانــی نــور مــنــور دُنيــا تــه راغــے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نــورانــی پــه هــرصــفــت دے مـحـمـد ﷺ
دَهــرچــانــه ډيــر اُوچــت دے مــحــمـد ﷺ
عــاليشــانــه نــورانــی بـدرالـدجیٰ دے
لــوئــے رحـمـت پـه كـائـنـات كښې دَمولیٰ دے
دَ الــلّٰــه عـظـيـم نـعـمـت دے مـحـمـد ﷺ
دَهــرچــانــه ډيــر اُوچــت دے مــحــمـد ﷺ
پــه ټــولــګــی دَ انبيــاؤ كښــې بهتــر دے
بـل مــحـبـوب پــه كــائـنــات دَربّ اكبــر دے
هــم مـمـتــاز پــه صـداقــت دے مــحــمـد ﷺ
دَهــرچــانــه ډيــر اُوچــت دے مــحــمـد ﷺ
رازلـــه تــلــے دَ رحــمٰــن بــره آسـمــان تــه
راز لـــه تــلــے دَ مــكــان نــه لامــكــان تــه
مــعــزز پــه هــرجهــت دے مــحــمـد ﷺ
دَهــرچــانــه ډيــر اُوچــت دے مــحــمـد ﷺ
پــه نبيــانــو كښــې اُوچــت دے محـتــرم دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَوریدلے دَ معراج مې دا عالَم دے
قدرمنده هرساعت دے محمد ﷺ
دَهرچانه ډیر اُوچت دے محمد ﷺ

پیداشوے ده دُنیا دَ دُوی دَ مخه
دَ دُنیا هره رنړا دَ دُوی دَ مخه
هم باعث دَ هر صورت دے محمد ﷺ
دَهرچانه ډیر اُوچت دے محمد ﷺ

اَوَلین او اٰخرین دَ رب دَ در دے
بل ساقی دَ مؤمنین دَ رب دَ در دے
هم شفیع په اٰخرت دے محمد ﷺ
دَهرچانه ډیر اُوچت دے محمد ﷺ

زه احمدعلی تابع ئې دَ سنت یم
زه تابع دَ پاك رسول ﷺ دَ شریعت یم
دَ زړه نُور او بصیرت دے محمد ﷺ
دَهرچانه ډیر اُوچت دے محمد ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په اللّٰه گران خیر البشر مدنی
نمر دے روښان خیر البشر مدنی
نمر دَ دُنیا دَ هریو در هغه دے
نمر دے روښانه منور هغه دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



راز دَ رحـــمٰـــن خيـــر البشــــر مـــدنـــی
پـــــه الـــلّـــــه ګـــران خيـــر البشـــر مـدنـــی
نـــمـــــر دَ دُنيـــا دَ هـــدايـــت هـــغـــــه دے
نـــمـــــر دَ دُنيـــا دَ شـــريـعـــت هـغـــه دے
نُـــور دَ عـــرفـــان خيـــر البشـــر مـدنـــی
پـــــه الـــلّـــــه ګـــران خيـــر البشـــر مـدنـــی
نـــمـــر دے اُوچـــت پـــه آسـمـــانـونـو بــره
دا هـــرســـاعـــت پـــه آسـمـــانـونـو بــره
نُـــور دَجهـــان خيـــر البشـــر مـــدنـــی
پـــــه الـــلّـــــه ګـــران خيـــر البشـــر مـدنـــی
نـــمـــر پـــه رڼـــا کښـــي بـــي مثـــالـــه هـغـــه
هـــريـــو ادا کښـــي بـــي مثـــالـــه هـغـــه
ډيـــر عـــاليشـــان خيـــر البشـــر مـــدنـــی
پـــــه الـــلّـــــه ګـــران خيـــر البشـــر مـدنـــی
وائـــی احـــمـــد حـــقـــه ويـــنـــا ده نبـــی
نُـــور دَ دُنيـــا ټـــولـــه رڼـــا ده نبـــی
دَ حـــق اعـــلان خيـــر البشـــر مـــدنـــی
پـــــه الـــلّـــــه ګـــران خيـــر البشـــر مـدنـــی

★★★★★★★★★

★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مثالی په هرادا دے محمد ﷺ
دَ دُنیا بدرالدجیٰ دے محمد ﷺ
مثالی په هر صفت دے دَجهان
مثالی دے په دُنیا او په آسمان
مثالی خیر الوریٰ دے محمد ﷺ
مثالی په هرادا دے محمد ﷺ
مثالی په نُور نظر دے محمد ﷺ
مثالی شمس وقمر دے محمد ﷺ
بهترین لوئے رهنما دے محمد ﷺ
مثالی په هرادا دے محمد ﷺ
مثالی دے سخاوت او په وفا کښي
مثالی دے دَ اخلاق نور او رنا کښي
منور شمس الضحیٰ دے محمد ﷺ
مثالی په هرادا دے محمد ﷺ
مثالی دے عبادت او تلاوت کښي
مثالی دے دَ دُنیا په قیادت کښي
سپورے مونږ له نبۂ اعلیٰ دے محمد ﷺ
مثالی په هرادا دے محمد ﷺ
په اذکارو کښي ئې مثل مثال نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـل بشـــر داسـے حسيـن پــه جـمـــال نشتـــه
تــل دَ ستـــرګــو نُــور ضيـــاء دے مـحـمـد ﷺ
مثـــالـــى پـــه هـــرادا دے مــحـمــد ﷺ
دا احـمـدوائـــى حسيـن پــه كـــائـنـات دے
مثـــالـــى دَ دې دُنيــا پـــه ټـول حـــالات دے
رهــنـمـــا زمـــا او ستـــا دے مـحـمـد ﷺ
مثـــالـــى پـــه هـــرادا دے مــحـمــد ﷺ

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ

زمـــا رهبـــر مـحـمـد مـصـطـفـىٰ ﷺ دے
نـور مـنـوَر مـحـمـد مـصـطـفـىٰ ﷺ دے
زمـــا رهبـــر زمـــا آقـــا نبـــى دے
زمـــا رهبـــر خيـــرالـــورىٰ نبـــى دے
هـغـــه افســـر مـحـمـد مـصـطـفـىٰ ﷺ دے
نـور مـنـوَر مـحـمـد مـصـطـفـىٰ ﷺ دے
زمـــا رهبـــر دے ګـــلـدستـــه دَ ګُـــلـو
دا پيـــغـمبـــر دے ګـــلـدستـــه دَ ګُـــلـو
داسـے بشـر مـحـمـد مـصـطـفـىٰ ﷺ دے
نـور مـنـوَر مـحـمـد مـصـطـفـىٰ ﷺ دے
زمـــا رهبـــر دے مهـــربـــان هـغـــه دے
مـحبـوب دَ پـاك غـنـى سبـحـان هـغـه دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



نُور دَ قمر محمد مصطفیٰ ﷺ دے
نور منوّر محمد مصطفیٰ ﷺ دے
زما رهبر دے هم حسين هغهٔ دے
هم دے صادقه او امين هغه دے
نُور دَ نظر محمد مصطفیٰ ﷺ دے
نور منوّر محمد مصطفیٰ ﷺ دے
زما رهبر لری وُجود دَ مينے
دا پيغمبر لري وجود دَ مينے
دا پيغمبر محمد مصطفیٰ ﷺ دے
نور منوّر محمد مصطفیٰ ﷺ دے
زما رهبر دَ رحمت سپورے هم دے
ښهٔ مهربان دَ شفقت سپورے هم دے
زما دلبر محمد مصطفیٰ ﷺ دے
نور منوّر محمد مصطفیٰ ﷺ دے
زما رهبر هغه غمخوار دے نبی
زما رهبر هغه تاجدار دے نبی
دَ زړګی سر محمد مصطفیٰ ﷺ دے
نور منوّر محمد مصطفیٰ ﷺ دے
زه يم احمد هغه رحمت دے زما
نُور په دُنيا کښي هر ساعت دے زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور دَ سحر محمد مصطفیٰ ﷺ دے
نور منوّر محمد مصطفیٰ ﷺ دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قربان شم په دُنیا کښې ستا دَ نُور او دَ انواره
قربان دې دَ نامې نه شم اے سيّدالابراره! ﷺ
قربان دې دَ نامې نه اے شفيع المذنبينه! ﷺ
قربان دې دَ نامې نه اے امام المرسلينه! ﷺ
قربان دې په دُنيا کښې دَ هر ګل او دَ ګلزاره
قربان دې دَ نامې نه شم اے سيّدالابراره! ﷺ
قربان دې دَ صورت نه او قُربان دې دَ سيرت نه شم
قربان دې په دُنيا کښې زه دَ پاك ښکلې سنت نه شم
قربان دَ هر صفت نه دې قربان دې دَ رُخساره
قربان دې دَ نامې نه شم اے سيّدالابراره! ﷺ
قربان دې دَ اُحد نه او قربان دې دَ بدر نه شم
قربان دې په دُنيا کښې دَ ماښام او دَ سحر نه شم
قربان دې دَ مکې او مدينې نه تاجداره
قربان دې دَ نامې نه شم اے سيّدالابراره! ﷺ
قربان دې دَ قرآن نه شم قربان دے هر احسان نه شم
قربان دَ هر يو نور نه او قربان دے دَ چشمان نه شم
قربان دَ اقتدا نه دے عظيم سپه ساالاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



قــربـــان دې دَ نــامــې نـــه شم اے سيّـدالابـراره! ﷺ

قــربــان دَ صـــداقــت نـــه دې قـربـان دَ امـانـت نـه دے

قـربان په کائنات کښې ستا دَ لوئے مقام اُوچت نه دے

قــــربـــان دې دَ وطـــن نــــه او قـــربــان دے دَ ديـداره

قــربـــان دې دَ نــامــې نـــه شم اے سيّـدالابـراره!ﷺ

قــربــان دې دَ صـفـانـه شـم قـربـان دې دَ مـروئ نـه شم

قــربــان زه پـاك رسـولـه! ستـا دَ هــرقسمـه ادا نـه شم

قـربـان شـم پــه دُنيـا کښې ستـا لـه هرقسمـه گفتـاره

قــربـــان دې دَ نــامــې نـــه شم اے سيّـدالابـراره!ﷺ

قـربـان شـم ستـادَ حـج نـه او قربان دې دَ جهـاد نـه شم

قـربـان دې دَ مـونـځـونـو نـه قـربـان دې دَ اولاد نـه شم

قــربـــان دې اے رســـولــــه! دَ دُنيـــا دَ هــريــو کــاره

قــربـــان دې دَ نــامــې نـــه شم اے سيّـدالابـراره!ﷺ

قــربـــان دې اے رســولـــه! دَ قـــرآن دَ تـلاوت نـــه شم

قــربـان دې پــاك رســولــه! دَ دُنيـا هـرعبـادت نـه شم

قــربـان دې پــاك رســولــه! کـائـنـات کښې دَ اذکـاره

قــربـــان دې دَ نــامــې نـــه شم اے سيّـدالابـراره!ﷺ

قـربـان دې اے رسـوله! دَ خائسته بنکلے روضې نه شم

قــربـان دې پــه عــرب کښـــې مـنـورے مدينـے نـه شم

قــربـــان دې اے رســـولـــه! دَ حــرم دَ پـــاك دربـــاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



قــریـــان دي دَ نــامــي نـــه شم اے سیّـدالابـراره!ﷺ
قـریـان دي دَ صـدیـقؓ نـه شم قـریـان دي دَ عمرؓ نـه شم
قـریـان دي پـه دُنیـا کښـي دَ عـثمـانؓ او دَ حیدرؓ نـه شم
قـریـان شـم پـه دُنیا کښي اے نبی! ستـا دَ هـریـاره
قــریـــان دي دَ نــامــي نـــه شم اے سیّـدالابـراره!ﷺ
احـمـد دَ مـردان وائـي دَ نـامـي نـه دے قـریان شـمـه
قـریـــان دي دَهـرگـل نـــه دَ دُنیـــا دَ گـلستـــان شـمــه
قـــریـــان شـم ستـــا دَ حُسـن نـــه دَ دوجهـــان سـرداره
قــریـــان دي دَ نــامــي نـــه شم اے سیّـدالابـراره!ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مــــانیـــولـــي ده لـــمـــن دَ مـــحتـــرم ﷺ
چـــي بـــادشـــاه دے دَعـــرب او دَ عـــجــم
چـــي امـــام دَ مُـــرسـلانـــو دَ دُنیـــا دے
تـــل امـــام دَ متـــقیـــانـــو دَ دُنیـــا دے
هـــم امـــام دے دَ عیســـیٰ بـــن مـــریـــمؑ
مــــانیـــولـــي ده لـــمـــن دَ مـــحتـــرمﷺ
چـــي بـــادشـــاه دے دَعـــرب او دَ عـــجــم
مــــالـــمـــن نیـــولـــي ده دَ مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ
چـــي صـــادقـــه دے یـــاد شـــوي پـــه ویـنـــا
عـــزت مـــنـــد دَدُنیـــا پـــــه هـــرقـــدم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما نیولي ده لمن دَ محترم ﷺ
چي بادشاه دے دَعرب او دَ عجم

دا هر څه دَ دُوی دَ مخه پیدا شوی
دا په نُور دَ محمد ﷺ دي رڼا شوی
هم سبب دَ پیدائښت دے دَ قلم
ما نیولي ده لمن دَ محترم ﷺ
چي بادشاه دے دَعرب او دَ عجم

ما لمن نیولي ده دَ تاجدار
چي روښانه ئي دُنیا کړه په انوار
عزت منده دے دُنیا کښي مکرم
ما نیولي ده لمن دَ محترم ﷺ
چي بادشاه دے دَعرب او دَ عجم

ما لمن نیولي ده دَ عزتمند
قدرمنده او ډیر زیات دے سربلند
رڼا نُور دے دَ دُنیا دَ تُور تم
ما نیولي ده لمن دَ محترم ﷺ
چي بادشاه دے دَعرب او دَ عجم

ما نیولي ده لمن دَ نُور او نمر
ما نیولي ده لمن دَ پاس قمر
دغه شان دے نُور رڼا دَ هرچشم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما نیولي ده لمن دَ محترم ﷺ
چي بادشاه دے دَ عرب او دَ عجم

هم یٰسین دے په صفت بدرالدجیٰ
هم امین دے ورسره شمس الضحیٰ
اٰخرین دے په لقب دے مقدّم
ما نیولي ده لمن دَ محترم ﷺ
چي بادشاه دے دَ عرب او دَ عجم

ما لمن نیولي ده دَ عالیشان
چي میلمه دے دَ مکان او لامکان
قدرمند ئي ابراهیمؑ دے هم آدمؑ
ما نیولي ده لمن دَ محترم ﷺ
چي بادشاه دے دَ عرب او دَ عجم

هم په سر دَ شفاعت لري نور تاج
هم ممتاز دے په دُنیا کښي په معراج
تول وجود ئي دے دَ مینې او کرم
ما نیولي ده لمن دَ محترم ﷺ
چي بادشاه دے دَ عرب او دَ عجم

قدرمند دے دَ دُنیا په هر صفت
دَ احمد علي بیان دے دا ساعت
ثاني نشته ئي هیڅ څوك په دے عالم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـــــانيـــولـــي ده لــــمـــن دَ مـــحتـــرم ﷺ
چــــي بــــادشــــاه دے دَعــــرب او دَ عــــجــم

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زمـــا رهبـــر مـــحـــمـــد مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ دے
زمـــا دلبـــر مـــحـــمـــد مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ دے
زمـــا دلبـــر زمـــا آقـــا هـــغـــه دے
زمـــا اَفســـر زمـــا آقـــا هـــغـــه دے
خيـــر البشـــر مـــحـــمـــد مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ دے
زمـــا رهبـــر مـــحـــمـــد مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ دے
داســـے افســـر بـــه بـــل جهـــان کښـــي نـــه وي
داســـے دلبـــر بـــه بـــل جهـــان کښـــي نـــه وي
داســـے بهتـــر مـــحـــمـــد مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ دے
زمـــا رهبـــر مـــحـــمـــد مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ دے
نـــۀ پـــه دُنيـــا کښـــي بـــل بشـــر داســـے شتـــه
نـــۀ پـــه رڼـــا کښـــي بـــل بشـــر داســـے شتـــه
داســـے ګـــوهـــر مـــحـــمـــد مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ دے
زمـــا رهبـــر مـــحـــمـــد مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ دے
نـــۀ ئـــي مثـــال پـــه آســـمـــانـــونـــو کښـــي شتـــه
نـــۀ ئـــي مثـــال پـــه مثـــالـــونـــو کښـــي شتـــه
داســـے بشـــر مـــحـــمـــد مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما رهبر محمد مصطفیٰ ﷺ دے
نۀ دا ګلونه مصطفیٰ ﷺ ته رسي
نۀ ئي ګلونه يو ادا ته رسي
تول معطر محمد مصطفیٰ ﷺ دے
زما رهبر محمد مصطفیٰ ﷺ دے
نۀ په ښائست کښي ورته نمر رسيږی
نه ورته حُسن کښي قمر رسيږی
داسے اظهر محمد مصطفیٰ ﷺ دے
زما رهبر محمد مصطفیٰ ﷺ دے
نۀ ئي کمال ته يو نبی رسيږی
نۀ ئي کمال ته يو ولی رسيږی
داپيغمبر محمد مصطفیٰ ﷺ دے
زما رهبر محمد مصطفیٰ ﷺ دے
زه يم احمد زما دلبر دے نبی
محبوب دَ پاك غنی اکبر دے نبی
مشك وعنبر محمد مصطفیٰ ﷺ دے
زما رهبر محمد مصطفیٰ ﷺ دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زما آقا زما حسين نبی ﷺ دے
دا اوّلين او اٰخرين نبی ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــــل اوَلیـــــن پــــــه هـــرصــــفــــت ســــره دے
ددې دُنیــــــا پـــــــه هـــــرعـــظـــمـــت ســــره دے
هـــغـــــــه صــــــادقـــــــه او امیـــن نبـــی ﷺ دے
دَیتیــــــمـــــــــانــــو دَ دُنیـــــا مـــلــــګـــــرے
دَ مســـــکیـــنـــــانــو دَ دُنیــــا مــلــــګــــرے
پــــــه مــؤمــنـــــانـــو ډیــــر میـــئـــن نبـــی ﷺ دے
زمــــــــاآقـــــــا زمــــــا حسیــــن نبـــــی ﷺ دے
تــــل اَوَلیـــن دے مهـــربـــــانـــــه پــــــه مــونـــږ
تــــل اٰخـــریـــن دے مهـــربـــانـــــه پـــــه مــونـــږ
دَرحـــمـــت ســـپـــورے پـــه یـــقیـــن نبـــی ﷺ دے
زمــــــــاآقـــــــا زمــــــا حسیــــن نبـــــی ﷺ دے
یـــــادمــــــزمـــــل او پـــــــه طـــــــه ســــــره دے
پـــــــــه مـــدثــــــر خیــــــر الـــــورئ ســــــره دے
یـــادپـــــه قـــراٰن کښـــې پـــه یٰسیـــن نبـــی ﷺ دے
زمــــــــاآقـــــــا زمــــــا حسیــــن نبـــــی ﷺ دے
دَنـــفســـــی نـــفســــی صـــداګـــــانـــې چــې شـــی
بیـــا پـــه مـحشــر کښــې جـړاګـــانـــې چـې شـی
هـــلتـــــــه شـــفیــــع دَ مـــذنبیـــن نبـــی ﷺ دے
زمــــــــاآقـــــــا زمــــــا حسیــــن نبـــــی ﷺ دے
ســــاقـــی پـــــه ورځـــې دَ مـــحشـــر هـــغــــه دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالك محشر کښې دَ کوثر هغه دے
دغه حسين دَ رَب متين نبی ﷺ دے
زما آقا زما حسين نبی ﷺ دے
زۀ احمد يمه اُمتی دَ هغه
يمه په مينه کښې ستی دَ هغه
دَ هر بهترنه بهترين نبی ﷺ دے
زما آقا زما حسين نبی ﷺ دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ رَب دليل دَ رَب برهان نبی دے
ډير دے حسينه عاليشان نبی دے
هغه حسين دَ هر يو ګل دَ جهان
هغه حسين په هر محفل دَ جهان
لاثانی دا رنګ په جهان نبی دے
دَ رَب دليل دَ رَب برهان نبی دے
ډير دے اُوچت په مرتبه کښې هغه
دَ خپل سيرت په هر حصه کښې هغه
لکه اُوچت بره آسمان نبی دے
دَ رَب دليل دَ رَب برهان نبی دے
نۀ ئې دَ حُسن ابتداء ليدے شی
نۀ ئې دَ حُسن انتها ليدے شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې حسین په ګلستان نبي دے
دَ ربّ دلیل دَ ربّ برهان نبي دے
نهٔ دا جهان ئې په تعریف مړېږي
نمر او سپوږمۍ ئې حُسن ته کړېږي
نُور دَ دُنیا داسې روښان نبي دے
دَ ربّ دلیل دَ ربّ برهان نبي دے
زهٔ یم احمد دا دَ مردان لیکمه
حُسن دَ پاك نبي سلطان لیکمه
قسم دے نُور دَ هر بیان نبي دے
دَ ربّ دلیل دَ ربّ برهان نبي دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نُور چې دَ پاك نبي پیدا شهٔ
ورسره هر طرف رڼا شهٔ
تیرې رخصت دَ ګمراهې شوے
رخصت دُنیا نه تباهې شوے
دَ ګمراهانو رهنما شهٔ
ورسره هر طرف رڼا شهٔ
نُور دَ ګمراه انسان دَ در شهٔ
دا کائنات تول منور شهٔ
طبیب دَ خلقو دَ دُنیا شهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره هرطرف رڼا شۀ
بیا دَ توحید رڼا رڼا شوه
خالی دَ شرکه دَا دُنیا شوه
توښه دُنیا کښي دَ عقبیٰ شۀ
ورسره هرطرف رڼا شۀ

بدبوئي لاړي له دُنیانه
بدبوئي لاړي له هرخوانه
لکه تیري نه پس صبا شۀ
ورسره هرطرف رڼا شۀ

مذهب باطل شو بندیوان
دا شو په قید کښي دَ قرآن
باطل په چغو په ژړا شۀ
ورسره هرطرف رڼا شۀ

بتان دَ کفر راګزار شُول
ډیر شُول ذلیله او ټول خوار شُول
حق دَ باطل نه راجدا شۀ
ورسره هرطرف رڼا شۀ

بوټی زرغون شو دَ توحید
جُدا بدبخت شو له سعید
مخلوق دُنیا کښي ټول بینا شۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره هر طرف رڼا شــــوه

نُور او رڼا دَ محمد ﷺ ده

ما دا لیکلي چي احمد ده

علاج دَ زړه مي دَ دُنیا شــــوه

ورسره هر طرف رڼا شــــوه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تعریف لیکلے مَا دَ چا دے؟

دَ محمد رسولِ اللّٰه ﷺ دے

هغه دلدار هغه تاجدار دے نبي

ګل دَ دُنیا ددي ګلزار دے نبي

دغه صفت دَ مصطفیٰ ﷺ دے

دَ محمد رسولِ اللّٰه ﷺ دے

تاج ئي دَ حُسن په سر کړے په سر

نُور دَ دُنیا دے دَ دُنیا دَ نظر

تعریف دَ نُور بدرالدجیٰ ﷺ دے

دَ محمد رسولِ اللّٰه ﷺ دے

امین عرب او په عجم هغه دے

حسین عرب او په عجم هغه دے

دغه تعریف دَ مجتبیٰ ﷺ دے

دَ محمد رسولِ اللّٰه ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشته بهتر تري بهترين هغه دے

په الله ګران دے نيازين هغه دے

تعريف دَ سيّد الورى ﷺ دے

دَ محمد رسول الله ﷺ دے

په لوئے اخلاق سره ممتاز هغه دے

دَ کاميابی دَ آخر راز هغه دے

دغه صفت دَ مقتدا دے

دَ محمد رسول الله ﷺ دے

سراپا نُور دے ټول سيرت دَ نبی ﷺ

نُور په جهان دے ټول صفت دَ نبی ﷺ

نُور ټول وجود لکه صبا دے

دَ محمد رسول الله ﷺ دے

راز له دَ رَبّ بره آسمان ته تلے

دَ دے مکان نه لامکان ته تلے

دغه تعريف دَ دي طه ﷺ دے

دَ محمد رسول الله ﷺ دے

سلسله ختمه نبوت کښې په دۀ

سلسله ختمه شريعت کښې په دۀ

صفت دَ نُور او دَ ضيا دے

دَ محمد رسول الله ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد علی! دغه صفت دَ نبی ﷺ
قسم دے کم دے دا نعت دَ نبی ﷺ
صفت دَ پاك خیر الوریٰ ﷺ دے
دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ختمه سلسله دَ نبوت ده مصطفیٰ ﷺ سره
سیَد الوریٰ ﷺ سره په نوراویه ضیاء سره
ختمه سلسله دَنبوت دَ انبیاء چي ده
ختمه سلسله دَ شریعت دَ انبیاء چي ده
دغه ختمه شوي محمد رسول اللّٰه ﷺ سره
سیَد الوریٰ ﷺ سره په نوراویه ضیاء سره
دغه سلسله چي شروع شوي دَ آدمؑ نه وه
دغه شروع شوے دَ دُنیا دَ محترم نه وه
دغه سلسله ده ختمه شوے په طٰه ﷺ سره
سیَد الوریٰ ﷺ سره په نوراویه ضیاء سره
دا وه دَ نبیانو سلسله دَ دي جهان بنکلي
دا وه سلسله په کائنات کنبي عالشیان بنکلي
ختمه سلسله شوه په خاتم الانبیاء سره
سیَد الوریٰ ﷺ سره په نوراویه ضیاء سره
دا وه سلسله دَ انبیاء دَ هدایت دَ نُور

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وه سلسلـه پـه کائنات کښې دَ رحمت دَ نُور
ختمـه سلسلـه شوه دا پـه نُور شمس الضحیٰ سره
سیَـدالـوریٰ ﷺ سـره پــه نـوراوپــه ضیــاء سـره
ختــمــه سلسلــه شـوه دَ نبیـانـو اے احمـده! دا
ښـکـلـې ګـلـدستـه شوه دَ نبیـانـو اے احمـده ! دا
نُـور شُـولـو کـامـل ددے دُنیـا پـه راهنمـا سـره
سیَـدالـوریٰ ﷺ سـره پــه نـوراوپــه ضیــاء سـره

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نــــورانـــــی نـــور دَ دُنیـــــا ددې جهـــــان دے
هـــاشـــمـــی خیــر الــوریٰ ﷺ دَ دې جهـــان دے
نـــورانـــــی نـــور دَ دُنیـــــا دے مُـــنــــوَر
داسے ښــکـــاري لــکـــــه پـــاس بـــره قـمــر
نـــورانـــی دے راهـــنـــمـــا ددې جهـــان دے
هـــاشـــمـــی خیــر الــوریٰ ﷺ دَ دې جهـــان دے
نـــورانـــی دے دَ دُنیــــا پـــــه دے عــــالَـــم
نـــورانـــی دے کـــائـنـــات کښـــې مـحـتــرم
نـــورانـــی تـــول پـــه ویـنـــا ددې جهـــان دے
هـــاشـــمـــی خیــر الــوریٰ ﷺ دَ دې جهـــان دے
نـــورانـــی دے پــــه اخـــلاقـــو دَ جهـــــان
نـــورانـــی دے پــــه اوصــــافــو دَ جهـــــان

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــمـــــرروښـــــانــــــه دَ دُنيــــا ددې جهـــان دے
هـــاشــمــــى خيـــرالـــورىٰ ﷺ دَ دې جهـــان دے
نـــورانــــى دے بهتــــريــــنـــــه دَجهـــــان
بهتـــريـــن دے هـم پـــه زمـكــه پـــه آسـمــان
نـــورانــــى پـــــه هـــرادا ددې جهـــان دے
هـــاشــمــــى خيـــرالـــورىٰ ﷺ دَ دې جهـــان دے
پـــه عـــرب او پـــه عـجـم كښـي نـورانــى دے
خـــورم قســم پـــه هـــر صـفـت تـل لاثـانــى دے
نـــورانــــى نـــور پيـــدا دَ دې جهـــــان دے
هـــاشــمــــى خيـــرالـــورىٰ ﷺ دَ دې جهـــان دے
نـــورانــــى دے مـــجسّـــمــــه هــدايـــت
دا احــــمـــــده! دَ نبــــى دے تـــول صـــفـــت
مـــقتـــدا زمـــا او ستـــا ددې جهـــان دے
هـــاشــمــــى خيـــرالـــورىٰ ﷺ دَ دې جهـــان دے

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ

مـــديـنـــه ډيـــره عـــظيـمــه مـحتــرم ده
دا اُوچتـــــه دَنبـــى ﷺ پـــــه پـــاك قـــدم ده
دا اُوچتــــــــه دَ دُنيـــــا دَ هـــــريـــــو درده
دا اُوچتــــــه دَ دُنيـــا پـــــه بـــحـــرويـــر ده
ښــــۀ اُوچتــــه پــــه عــــرب او پـــــه عـــجـم ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا اُوچته دَنبي ﷺ په پاك قدم ده

دا اُوچته دَ دُنيا په ګلستان ده

دا اُوچته مرتبه کښي دَ آسمان ده

ښۀ اوچته په نوسى دا دَ آدمؑ ده

دا اُوچته دَنبي ﷺ په پاك قدم ده

دا اُوچته دَ دُنيا دَ هر ګوهر ده

دا اُوچته دَ دُنيا دَ هر نظر ده

عزتمنده په دُنيا کښي مکرَم ده

دا اُوچته دَنبي ﷺ په پاك قدم ده

دا استوګنه دَ نبی خير البشر ده

دا په نُور دَ محمد ﷺ ښۀ منوَر ده

ښۀ اُوچته په دُنيا دَ هر عالم ده

دا اُوچته دَنبي ﷺ په پاك قدم ده

دا ډيوه دَ هدايت دَبحرو بر ده

يا ښائسته ددي جهان لکه قمر ده

هم دا شمع دَدُنيا دَ هرتورتم ده

دا اُوچته دَنبي ﷺ په پاك قدم ده

دَ توحيد دَ رڼاګانو دامرکز دے

دَ خوشبو دَ هواګانو دَا مرکز دے

مجموعه دَ هدايت او دَ کرم ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا اُوچته دَنبی ﷺ په پاك قدم ده
دا مرکز دَ هدایت او سعادت دے
دا مرکز دَ پاك نبی دَ شریعت دے
ښه اعلیٰ په کائنات کښې دغه دم ده
دا اُوچته دَنبی ﷺ په پاك قدم ده
اے انسانه! دَ توحید دغه مرکز دے
دَ دُنیا دَ هر سعید دغه مرکز دے
ماراوستے چې احمد دا په قلم ده
دا اُوچته دَنبی ﷺ په پاك قدم ده

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راشه راشه اُوچت کړے ماقلم دے
ثناخوان دَ محمد نبی اکرم ﷺ دے
ثناخوان دَ محمد خیرالوریٰ ﷺ دے
ثناخوان دَ کائنات دَمقتدا ﷺ دے
ثناخوان دَ عزتمنده محترم دے
ثناخوان دَ محمد نبی اکرم ﷺ دے
ثناخوان دَمحمد ﷺ دَ هریو در دے
ثناخوان دَ پاك نبی خیرا لبشر ﷺ دے
ثناخوان دَ محمد ﷺ دَ پاك قدم دے
ثناخوان دَ محمد نبی اکرم ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثـنـــاخـــوان دَ مـــحـــمـــد ﷺ دَ نُـــور رڼــــا دے
ثـنـــاخـــوان دَ مـــحـــمـــد ﷺ بـــدرالـــدجـــیٰ دے
ثـنـــاخـــوان دَ مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ دَ هـــر کـــرم دے
ثـنـــاخـــوان دَ مـــحـــمـــد نـبـــی اکـــرم ﷺ دے
ثـنـــاخـــوان دَ مـــحـــمـــد ﷺ دَ مـــحـبـــت دے
ثـنـــاخـــوان دَ مـــحـــمـــد ﷺ دَ نُـــور سـنـــت دے
قـــدر مـــنـــده دغـــــه شـــان هـــم مـــکـــرَم دے
ثـنـــاخـــوان دَ مـــحـــمـــد نـبـــی اکـــرم ﷺ دے
ثـنـــاخـــوان دَ پـــاك رســـول الـــلّـــه ﷺ دَ شـــان دے
دَ احـــمـــد عـــلـــی ویـــنـــا ده دَ مـــردان دے
لـــرے کـــړے مـــاپـــه دے ســـره هـــر غـــم دے
ثـنـــاخـــوان دَ مـــحـــمـــد نـبـــی اکـــرم ﷺ دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

پیـــداشـــوي چـــي ښـــائستـــه دَ هـــر یـــو ګـــل دے
هـــغـــه څـــوك دے ؟ دا زمـــونـــږه نبی ﷺ خـپـــل دے
مـــجـــمـــوعـــه دَ انـــواراتـــو دَ جـــمـــال دے
پیـــداشـــوي مـــجـــمـــوعـــه دَ هـــر کـــمـــال دے
تـــاج دُنیـــا کـنـــي دَ ښـــائـســـت دَ هـــر محـفـــل دے
هـــغـــه څـــوك دے ؟ دا زمـــونـــږه نبی ﷺ خـپـــل دے
دَ ریـــحـــان ګـــل ئـــي فـــدا دے دَ ښـــائـســـت نـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر ذیشان ګل ئي فدا دے دَ خائست نه
ډیر حسینه په دُنیا کښي ئي منزل دے
هغه څوك دے ؟ دا زمونږه نبی ﷺ خپل دے

په وجود سره یکتا په ټول جهان دے
لکه نمر روښانه شوي په آسمان دے
چي رهبر ددي دُنیا دَ پاره تل دے
هغه څوك دے ؟ دا زمونږه نبی ﷺ خپل دے

پیدا شوي په خپل حُسن لاجواب دے
ډیر حسینه دَ دُنیا په هریو باب دے
په هر څه سره ممتاز دے په عمل دے
هغه څوك دے ؟ دا زمونږه نبی ﷺ خپل دے

اے احمد علی! دَا نعت دَ محمد ﷺ دے
چي یونوم ئي په نومونو کښي احمد دے
بس نسبت دَ محمد ﷺ درسره تل دے
هغه څوك دے ؟ دا زمونږه نبی ﷺ خپل دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ډیر عزتمند دے محمد ﷺ عربی
ډیر قدرمند دے محمد ﷺ عربي

دَ عزت تاج ورته په سر کړۀ ربَ
ورله ورکړے ئي عالي نسب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیر سربلند دے محمد ﷺ عربی
ډیر عزتمند دے محمد ﷺ عربی
ډیر عزتمند دے دَ نبیانو امام
بل دے خاتم هم دَ نبیانو تمام
داسے په ژوند دے محمد ﷺ عربی
ډیر عزتمند دے محمد ﷺ عربی
هم دے رحمت دَ مؤمنانو هغهٔ
هم دے رحمت دَ کافرانو هغهٔ
سراپا پند دے محمد ﷺ عربی
ډیر عزتمند دے محمد ﷺ عربی
دَ هر يتيم دَ زړه طبيب هغه دے
غمخوار ملګرے دَ غريب هغه دے
داسے دردمند دے محمد ﷺ عربی
ډیر عزتمند دے محمد ﷺ عربی
دَ اُمت غم کښي ژړيدلے هغهٔ
دَ اُمت غم کښي کړيدلے هغهٔ
بسهٔ فکرمند دے محمد ﷺ عربی
ډیر عزتمند دے محمد ﷺ عربی
ډیر سربلند زما اوستا نبی دے
دا عاليشانه دَ هرچا نبی دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښائسته په ژوند دے محمد ﷺ عربي
ډیر عزتمند دے محمد ﷺ عربي
وینا ئي ده هم هدایت دَ جهان
ټوله وینا ئي ده رحمت دَ جهان
په وینا پند دے محمد ﷺ عربي
ډیر عزتمند دے محمد ﷺ عربي
نُور او سکون دَ هر انسان دَ پاره
احمد دا وائي ټول جهان دَ پاره
دَ زړهٔ پیوند دے محمد ﷺ عربي
ډیر عزتمند دے محمد ﷺ عربي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راځي چي مونږ دَ صاحبِ قران ﷺ وکړو خبري
ښائسته دَ هغه ګل دَ ګلستان وکړو خبري
راځي چي مونږه یاد کړو محمد ﷺ خیر البشر
نهٔ رسي ئي حُسن ته دَ دُنیا شمس وقمر
ښائسته دَ دي جهان دَ دي انسان وکړو خبري
ښائسته دَ هغه ګل دَ ګلستان وکړو خبري
راځي چي مونږه یاد کړو دَ نبیانو محترم
اُوچت لري مقام هغه دَ لوح او دَ قلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځي چې دَنبيانو دَ سلطان وکړو خبري
ښائسته دَ هغه ګل دَ ګلستان وکړو خبري
امام دَ نبيانو هم دَ ټولو دے اُوچت
اللّه دے ګرځولے دَ دُنيا ټولے رحمت
راځي چې ښۀ په خوند ددے ذيشان وکړو خبري
ښائسته دَ هغه ګل دَ ګلستان وکړو خبري
راځی چې مونږ بيان کړو دَ نبی ښکلے سيرت
بيا ياد پکښې مونږ ټول کړو دَ نبی ښکلی سنت
راځي چي ددے نُور او دَ عرفان وکړو خبري
ښائسته دَ هغه ګل دَ ګلستان وکړو خبري
راځي چي مونږه ياد کړو په نومونو محمد ﷺ
طٰه سره ياد شوے دے حسين دغه احمد ﷺ
راځي چي دَنبی هم دَ فيضان وکړو خبري
ښائسته دَ هغه ګل دَ ګلستان وکړو خبري
دَ شپې هم دَ معراج ټول تذکره وکړو په جمع
روښانه دَ سراج ټول تذکره وکړو په جمع
راځي دَ هغه بره لامکان وکړو خبري
ښائسته دَ هغه ګل دَ ګلستان وکړو خبري
خلاصه دَ هر تعريف دے محمد ﷺ خير البشر
احمده ! دا تعريف دَ مصطفیٰ ﷺ دے مختصر

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځي دَ محمد ﷺ د دغې شان وکړو خبرې
ښائسته دَ هغه ګل دَ ګلستان وکړو خبرې

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راشه ښائسته ګل دَ مدينې دے
ډېر ښکلے محفل دَ مدينې دے
دا دے په خوشبو کښې مثال نۀ لري
دغه په ليدو کښې مثال نۀ لري
دغه مقام تل دَ مدينې دے
راشه ښائسته ګل دَ مدينې دے
دغه ابتدا دَ هريو حُسن ده
دغه انتها دَ هريو حُسن ده
دغه حُسن خپل دَ مدينې دے
راشه ښائسته ګل دَ مدينې دے
څکه کور په کور کښې رڼاګانې دي
کور په کور کښې نور او خنداګانې دي
څکه نبي مَل دَ مدينې دے
راشه ښائسته ګل دَ مدينې دے
دا وينا احمده! دا بيان دے حق
دَا دَ مدينې دلته کښې شان دے حق

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه مې منزل دَ مدينې دے
راشه ښائسته ګل دَ مدينې دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ګل دَ ګل په ورځې پيدا کړے ربَ اکبر دے
ډير دے عاليشانه دا زمونږه پيغبر ﷺ دے
ګل دَ ګل په ورځې پيدا کړے ربَ مولیٰ دے
بيا ئې ښائسته کړے هم په نُور او په رنا دے
ګل دَ ګل په ورځې پيدا کړے ربَ سحر دے
ډير دے عاليشانه دا زمونږه پيغبر ﷺ دے
ګل دَ ګل دَ ورځې نه جُدا به په هيڅ شان نۀ شي
ګل دَ ګل دَ ورځې نه جُدا به په جهان نۀ شي
جوړ په کائنات کښې په هر ګل باندے اختر دے
ډير دے عاليشانه دا زمونږه پيغبر ﷺ دے
دغه خوشحالی دَ هر مؤمن او مسلمان ده
دا په کائنات کښې خوشحالی دَ هر انسان ده
نور دے منوّره پيدا شوي رنا نمر دے
ډير دے عاليشانه دا زمونږه پيغبر ﷺ دے
ورځ دَ خوشحالی ده اے مؤمنه مسلمانه! نن
دغه خوشحالی ده په دُنيا کښې عاليشانه نن

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے احمده ! نور رابنکاره شوے پاس په سر دے
ډیر دے عالیشانه دا زمونږه پیغبر ﷺ دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قدرمنده هر انسان شو چي تهٔ راغلے
قیمتی په ټول جهان شو چي تهٔ راغلے
تیري ختمي اورخصت شوي له دُنیا نه
بندیوانه هر شیطان شو چي ته راغلے
جهل ختم دَ دُنیا نه داساعت شو
دَ جهل ختم خزان شو چي ته راغلے
اَ ډي ختمي شوي دَ شرك او دَ بدعت
عالیشانه هر مکان شو چي تهٔ راغلے
سپرلے جوړ شُولو دَنُوردَ هدایت
دا جهان په تاروښان شو چي تهٔ راغلے
سکون راغے هر طرف ته په دُنیا کښي
په هر ځائے کښي اطمینان شو چي تهٔ راغلے
ختمي ټولي شوي جهګړے دَ جهان
په هر لور اَمن وامان شو چي تهٔ راغلے
لاړ کینه بُغض شو ختم داساعت
سخت طبیعته مهربان شو چي تهٔ راغلے

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے احمده! دَ دے تولو داخلاصه ده
هر بشر په ښۀ روان شو چې تۀ راغلے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تۀ نمر دَ هدايت تولې دُنيا ته ئې راغلے
دَ هر څه نه ئې ښکلے زما نبی سروره! ﷺ
تۀ نمر دَ هدايت ئې دَ دُنيا دَ بحر وبر
تۀ نمر دَ شريعت ئې په دُنيا کښې په نظر
تۀ نمر ئې کور په کور کښې په دُنيا کښې ځليدلے
دَ هر څه نه ئې ښکلے زما نبی سروره! ﷺ
تۀ نمر ئې دَ توحيد دَ رڼاګانو دَ دُنيا
باعث ئې دَ شيطان دَ زړاګانو دَ دُنيا
دُنيا کښې اے نبی ئې پرقيدلے
دَ هر څه نه ئې ښکلے زما نبی سروره! ﷺ
تۀ نمر ئې دَ سنت په دې جهان دَ هر تعليم
تۀ نمر دَ سعادت ئې په جهان دَ هر تعليم
ستا نمر سره روښانه دَ دُنيا دے هريو کلے
دَ هر څه نه ئې ښکلے زما نبی سروره! ﷺ
ستا نمر دی ختمې کړې دَ دُنيا تيرې تورتم
ستا نمر دے په دُنيا کښې تل علاج دَ هريو غم
خوريږي دَ دے نمر نه رڼاګانې غلے غلے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ هــرڅـــه نـــه ئـې ښـکـلـے زمـا نبـی سـروره! ﷺ

ستـا ذات بـه پـه مـحشـر کـښـې تـول روښانه سراسر وی

احـمـدعـلــی دا وائــی تـول میـدان بـــه مـنـورو ی

مـاستـا لـمـن پـه دې وجـه رسـولـه! ﷺ ده نیـولـے

دَ هــرڅـــه نـــه ئـې ښـکـلـے زمـا نبـی سـروره! ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

غــواړې مسـلـمـانـــه کـــه دُنیـا کـښـې تــهٔ آرام

وایـــه وایـــه وایـــه پـــه رسـول ﷺ درود سـلام

وایـــه درود وایـــه دغـــه حـکـم دَ مـولـیٰ دے

وایـــه درود وایـــه دغـــه اَمـــردَ طـــٰه دے

وایـــه درود وایـــه دَ ســحـــرســره مـــاښـــام

وایـــه وایـــه وایـــه پـــه رسـول ﷺ درود سـلام

وایـــه درود وایـــه دَاسـکـون دَ هـــرانســـان دے

وایـــه درود وایـــه مـغـفـرت دَ مسـلـمـان دے

وایـــه درود وایـــه پـــه ادب او احتـــرام

وایـــه وایـــه وایـــه پـــه رسـول ﷺ درود سـلام

وایـــه درود وایـــه دَا رحـمـت ددې جهـــان دے

وایـــه درود وایـــه عبـــادت دَدې جهـــان دے

داســـے اَمـــر کـــړے دَ دُنیـــا هـــریـــو امـــام

وایـــه وایـــه وایـــه پـــه رسـول ﷺ درود سـلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايه درود وايه دا سبب دے دَ جنت

وايه درود وايه دے سبب دَ شفاعت

دغه دے سبب هم دَ کوثر دَ ښکلی جام

وايه وايه په رسول ﷺ درود سلام

وايه درود وايه دَ اٰخر او دَ دُنيا کتّه

وايه درود وايه دا دُنيا کښي دَ هرچا کتّه

اے احمده ! وايه دَ درود دے لوئے مقام

وايه وايه په رسول ﷺ درود سلام

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اے سردارِ دَ دوجهانه! بهترينه! ﷺ

کائنات کښي اوَلينه! اٰخرينه! ﷺ

تهٔ بهتر په کائنات کښي دَ هرچا ئي

تهٔ بهتر په عبادات کښي دَ هرچا ئي

اے دَ حُسن تاجداره نيازبينه! ﷺ

کائنات کښي اوَلينه! اٰخرينه! ﷺ

تهٔ بهتر په مخلوقاتو کښي دَ ربّ ئي

تهٔ بادشاه هم دَ عجم او دَ عرب ئي

اے دَ کُل جهان صادقه او امينه! ﷺ

کائنات کښي اوَلينه! اٰخرينه! ﷺ

تهٔ بهتر دَ فرښتو نه دَ جهان ئي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته بهتر هم په مکان او لامکان ئي
اے محبوب په کائنات دَ ربّ متينه! ﷺ
کائنات کښي اوَلينه! آخرينه! ﷺ

تهٔ بهتر ئي هم حسين دَ کائنات ئي
نور او نمر تهٔ په يقين دَ کائنات ئي
نُور قمر ئي دَ آسمان بره يٰسينه! ﷺ
کائنات کښي اوَلينه! آخرينه! ﷺ

هم بهتر ئي په جهان دَ بحر و بر نه
هم بهتر ئي دَ جهان شمس و قمر نه
قدردانه! اے امام المرسلينه! ﷺ
کائنات کښي اوَلينه! آخرينه! ﷺ

تهٔ ساقي هم په محشر کښي دَ کوثر ئي
تهٔ تاجدار دَ شفاعت هم دَ محشر ئي
مهربانه اے شفيع المذنبينه! ﷺ
کائنات کښي اوَلينه! آخرينه! ﷺ

تا ته نهٔ رسی مقام کښي يوم بشر هم
احمدوائی درته نهٔ رسی قمر هم
اے دَ پاک اللّٰه محبوبه! او قرينه! ﷺ
کائنات کښي اوَلينه! آخرينه! ﷺ

★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اے افضل دَ بحروبره ! پیغمبره ! ﷺ
اے زما دَ زړګی سره! پیغمبره ! ﷺ

درته نۀ رسی داپاس شمس وقمر
درته نۀ رسی دُنیا کښي یو بشر
اے امام خیر البشره! پیغمبره! ﷺ
اے زما دَ زړګی سره! پیغمبره ! ﷺ

درته نه رسی آسمان کښي یو صورت
نۀ مکان او لامکان کښي یو صورت
اے حسین دَ هریشره ! پیغمبره! ﷺ
اے زما دَ زړګی سره! پیغمبره ! ﷺ

درته نه رسی جمال کښي یو صورت
درته نه رسی کمال کښي یو صورت
اے حسینه منوره! پیغمبره! ﷺ
اے زما دَ زړګی سره! پیغمبره ! ﷺ

درته نۀ رسی مقام کښي یو انسان
په وینا او احترام کښي یو انسان
بهترینه اے بهتره! پیغمبره! ﷺ
اے زما دَ زړګی سره! پیغمبره ! ﷺ

درته نه رسی په یو صفت کښي څوك

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــــه رسيـــږي درتــــه يـو نسبـت کښـي څـوك

اے مـــحبـــوب دَ ربَ اکبـــره! پيـــغـــمبـــره! ﷺ

اے زمــــا دَ زړګــــي ســـره!پيـــغــمبـــره ! ﷺ

درتـــــه نـــــۀ رســـی دا نـــمـــر نــــۀ ئـــي رڼـــا

درتـــــه نـــــۀ رســـی قـــمـــر نـــۀ ئـــي رڼـــا

عـــــاليشــــــانـــــه مـــنـــوره ! پيـــغـــمبـــره ! ﷺ

اے زمــــا دَ زړګــــي ســـره!پيـــغــمبـــره ! ﷺ

درتـــه نـــۀ رســـی هيـڅ څـوك پـــه يـوصـفـت

اے احـــمـــدعـــلـــی ! دا تـــول دے حـقيـقـت

اے دَ دوجهــــــان افســــره! پيـــغـــمبـــره ! ﷺ

اے زمــــا دَ زړګــــي ســـره!پيـــغــمبـــره ! ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اے حسينـــه! کـــائـنـات کښـي محـتـرمـه!ﷺ

اے رهبــــر دَ دوجهــــان نبـــی اکــــرمـــــه! ﷺ

تــــۀ رهبـــر دَهـــر بشـــر ئـــي پـــه دُنيـــا کښـــي

نـــور او نـــمـــر دَهـــر بشـــر ئـــي پـــه دُنيـــا کښـــي

هـــرګـــمـــراه تـــه پـــه دُنيـــا ده کـــره لار ســـمـــه

اے رهبــــر دَ دوجهــــان نبـــی اکــــرمـــــه! ﷺ

تـــۀ رهبـــر ئـــي دَ ځـــوانـــانـــو بـــوډاګـــانـــو

تـــۀ رهبـــر ئـــي پـــه دُنيـــا دَ ګـــمـــراهـــانـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـــهٔ ئــي نــمــر دَهــدايــت اے مــكــرَمــه! ﷺ
اے رهبـــــر دَ دوجهـــــان نبـــى اكـــــرمـــــه! ﷺ
تــــــهٔ رهبـــــر ئـــــي دَ ړنـــدو دَهـــــر مـــكـــــان
تــــــهٔ رهبـــــر ئـــــي دَ ړنـــدو دَ ټــول جهـــــان
تـــا كــړهٔ لـــري انســـانـــان دَ تـــور تـــورتــمـــه
اے حسيـنـــه! كـــائـنـات كښــي مـحتــرمــه! ﷺ
تــــهٔ رهبـــــر دَ غـــلامـــــانـــو پــــه دُنيـــا ئـــي
تــــــهٔ دَ دُوى دَ پــــــاره نـــــور ئــــــي او رڼـــا ئـــي
دا انســــــان دے اُبـــــاســلـــے دَهـــرغـــمــــه
اے حسيـنـــه!كـــائـنـــات كښــي مـحتـــرمـــه
تــــــهٔ رهبـــــر ئــــي پيـــغـــمبـــــر دَ ديِ دُنيــــا
تــــهٔ رهبـــرئـــي پيـــغــمبـــرئـــي دَ دُنيــــا
احـــمـــــد وائـــــي تــــــهٔ دلبـــــر ئـــــي دَ دُنيــــا

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ

اے دَ دوجهـــان حسيـــنـــــه مهــــريـــانـــه!ﷺ
بــل بـــه نـــهٔ وي ستـــا پـــه شـان حسين روښـانـــه
تــل روښـــانـــه پـــه سيــرت سره هــر ځـــائے ئـي
تــل روښـانـــه پــه صـفـت سـره هـر ځـائے ئـي
ستـــا دي ذكــــر پـــه دُنيـــا كښـــي عــاليشـانـــه
اے دَ دوجهـــان حسيـــنـــــه مهــــريـــانـــه!ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستــــا دي ذکـــر پــــه کــلـــمــــه کښــي دَجهـــان
هـــم يـــــاد شـــوي ئــــي دُنيـــــا کښــــي پـــــه اَذان
ذکــــر ستـــــا دي ډيـــر اُوچـــت لــــــه هــر اَسـمــانــــه
اے دَ دوجهــــــان حسيــــنـــــــه مهـــــريــــــانـــــه! ﷺ

ستـــــا دي ذکـــر در پـــــه در پـــــه دي دُنيـــــا کښـــي
لـوئـــي يـــاديـــږي اے رسـولــه! ﷺ پــه هــرخوا کښـي
ذکــــر ستـــــــا دي ډيـــــر اوچــــت دَلامـــکـــــانـــــه
اے دَ دوجهــــــان حسيــــنـــــــه مهـــــريــــــانـــــه! ﷺ

ستـــا دي ذکـــر پــه جـمـاعــت کښـي او پـه کـور کښـي
ستــــا دي ذکـــر پـــه هــرځـــائـــے اوپـــه هــرلـور کښـي
ستــــا مـــقـــــام دي ډيــــر اُوچـــــت اے قــدردانـــــه!
اے دَ دوجهــــــان حسيــــنـــــــه مهـــــريــــــانـــــه! ﷺ

ستـــا ذکــرپـــه قــراٰن کښـي ځــائـــے پــه ځــائـــے هــم
ستــا دي ذکــرتـول جهـان کښـي ځـائـے پـه ځـائـے هـم
اے مــحـبـوبـــه! پـــه الــلّــــه بـانـدي ډيــر ګـرانـــه!
اے دَ دوجهــــــان حسيــــنـــــــه مهـــــريــــــانـــــه! ﷺ

ستــــا دي ذکـــــر اے نبـــي پـــــه لامــکـــان کښـــي
مـــــا احــــمـــد عـــلـــي يـــاد کــړي ئــي مــردان کښـي
دَ رحـــمــــت نـــظـــــر دي لـــــر نـــهٔ کـــړي زمــانـــــه
اے دَ دوجهــــــان حسيــــنـــــــه مهـــــريــــــانـــــه! ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ نجات لاره ده لار دَ محمد ﷺ
ثانی نۀ لری انوار دَ محمد ﷺ
دغه لاره دَ نجات ده دَ دُنیا
دغه لاره ده دَ نور او دَ رڼا
منوَر دي هر گفتار دَ محمد ﷺ
دَ نجات لاره ده لار دَ محمد ﷺ

دَ نجات لاره ده دین دَ مصطفیٰ ﷺ
مجموعه ده هم دَ نور او دَ رڼا
عالیشانه دي افکار دَ محمد ﷺ
دَ نجات لاره ده لار دَ محمد ﷺ

دغه لار ده دَ نجات او هدایت
دغه لار ده دَ فلاح او سعادت
لاثانی دے دا گلزار دَ محمد ﷺ
دَ نجات لاره ده لار دَ محمد ﷺ

دَ نجات دَ پاره دغه یوه لار ده
اے احمد علی! دا ډکه دَ انوار ده
منوره دے هر دار دَ محمد ﷺ
دَ نجات لاره ده لار دَ محمد ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښائستهٔ دي هر يو در دَ مدينې منورې
ښائستهٔ دي پيغمبر دَ مدينې منورې
ښائستهٔ دَ مدينې منورې شجر وحجر دي
ښائستهٔ دغه څيزونه دَ دُنيا په بحر وبر دي
ښائستهٔ دي هر ګوهر دَ مدينې منورې
ښائستهٔ دي پيغمبر دَ مدينې منورې
ښائستهٔ دَمدينې منورې دی ټول باغونه
ښائستهٔ دَ مدينې منورې دی ټول يادونه
ښائستهٔ دي بره نمر دَ مدينې منورې
ښائستهٔ دي پيغمبر دَ مدينې منورې
ښائستهٔ دَ مدينې منورې دی هواګانې
ښائستهٔ دَ مدينې منورې دی رناګانې
ښائستهٔ دي هر سحر دَ مدينې منورې
ښائستهٔ دي پيغمبر دَ مدينې منورې
ښائستهٔ دَ مدينې منورې دي هر بازار
ښائستهٔ دَ مدينې منورې دي هر ګلزار
ښائستهٔ دي هر نظر دَ مدينې منورې
ښائستهٔ دي پيغمبر دَ مدينې منورې
ښائستهٔ دَ مدينې منورې دي هريو ګل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښـــائستـــهٔ دَ مـدیـنـــې مـنـورې دې هـر مـحـفـل
ښـــائستـــهٔ دې هـــر اختـــر دَ مـدیـنـــې مـنـورې
ښـــائستـــهٔ دې پیـــغـمبـــر دَ مـدیـنـــې مـنـورې
ښـــائستـــهٔ دَ مـدیـنـــې مـنـورې دې هـر صـفـت
ښـــائستـــهٔ دې اے احـمـده! هغـــه نُـور دَ هدایـت
ښـــائستـــهٔ دې پـاس قـمـر دَ مـدیـنـــې مـنـورې
ښـــائستـــهٔ دې پیـــغـمبـــر دَ مـدیـنـــې مـنـورې

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اے دَ دوجهـان دلبـره! ﷺ اے دَ دوجهـان طبیبـه! ﷺ
اے زمـا دَ زړګـی سـره ! اے دَ پـاك سبحان حبیبه! ﷺ
پـــه مـا ګـــران ئـې لـــه هـــرچـانـــه انبیاء او اولیـاء نـــه
پـه مـاګـــران ئـې لـه هـرچـانـه هـر بـا چـا او هـرګدا نـه
قـــدرمـــنـــد خیـــر البشـــره ! ﷺ مـنـوّره ئـې ادیبـــه!ﷺ
اے غـمـخـوار دَ کُـل جهانه! ﷺ اے حسینه مهربانه!
تـهٔ اُوچـت ئـې لـه هـرچـانـه اے حسیـنـه مهربانه! ﷺ
بهـتـریـن ئـې اے بهـتـره!ﷺ اے دَ نیك خلقو نصیبه!
اے شـفـیـقـه مهـربـانـه! تـه حَسین ئې لـه هر چانـه
پـاس دی نـمر سپوږمی دُنیا کښې ستاپه نور سره روښانه
اے دَ هـر انسـان رهبـره! ﷺ اے دَ دوجهـان خطیبه! ﷺ
زه احـمـد دې ثـنـاخـوان یـم ستـاپـه نور پسې روان یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په نور سره دُنیا کښې خائسته شوې په جهان یم
اے عظیمه لوئې افسره! ﷺ اے زما زړهٔ ته قریبه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مقتدا زما اوستا دے محمد ﷺ
دَ دُنیا دَ دررڼا دے محمد ﷺ
هر يو دردې ددهٔ نور سره روښانه
بره نمر دے ددهٔ نور سره روښانه
ځلېدونکے په صفا دے محمد ﷺ
مقتدا زما اوستا دے محمد ﷺ
هر يو دردې ښائسته کړې دَ دُنیا دے
هر سحر دې ښائسته کړې دَ دُنیا دے
دَ دُنیا نُور دَ صبا دے محمد ﷺ
مقتدا زما اوستا دے محمد ﷺ
دَ رڼا صفت سره هغهٔ ممتاز دے
دَ وفا صفت سره هغهٔ ممتاز دے
تل ممتاز په هر ادا دے محمد ﷺ
مقتدا زما اوستا دے محمد ﷺ
مقتدا دے دَ دُنیا دَ هر بشر
دا سے نشته مقتدا په دغې در
دا بے مثله رهنما دے محمد ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقتدا زما اوستا دے محمد ﷺ

مقتدا دے دَ دُنیا دَ هر انسان

دَ رحمت سپورمے یادیږی په جهان

دا امام الانبیاء دے محمد ﷺ

مقتدا زما اوستا دے محمد ﷺ

شریعت ئې دَ دُنیا دے نور او نمر

شریعت ئې دَ دُنیا دے پاس قمر

لاعلاج لره دَوا دے محمد ﷺ

مقتدا زما اوستا دے محمد ﷺ

اے احمده! دا تعریف دَ محمد ﷺ دے

چې یونوم ئې په نومونوکښې احمد دے

تل سکون دَ زړهٔ زما دے محمد ﷺ

مقتدا زما اوستا دے محمد ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ثناخوان دَ محمد خیر البشر ﷺ شهٔ

ثناخوان دَ مهربانه پیغمبر ﷺ شهٔ

ثناخوان شهٔ دَ امام الانبیاء ﷺ

قدردان شهٔ دَ امام الانبیاء ﷺ

ثناخوان دَ مدینې دَ نُور او نمر ﷺ شهٔ

ثناخوان دَ محمد خیر البشر ﷺ شهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثناخوان شه دَ طه او دَ امین
دَ هغه په شان بل نشته دے حسین
ثناخوان دَ پاك نبي دَ هريو در شه
ثناخوان دَ محمد خیر البشر ﷺ شه
ثناخوان شه دَ نبي دَ كور وطن
ثناخوان شه دَ دے در دَ ګل چمن
ثناخوان دَ مدینې دَ هر دلبر شه
ثناخوان دَ محمد خیر البشر ﷺ شه
ثناخوان شه دَ نبي دَ هر غلام
ثناخوان شه ئي دَ هر قسمه كلام
ثناخوان دَ مدینې دَ هر ګوهر شه
ثناخوان دَ محمد خیر البشر ﷺ شه
ثناخوان دَ شریعت دَ محمد ﷺ شه
ثناخوان دَ هدایت دَ محمد ﷺ شه
ثناخوان دَ پاك رسول ﷺ دَ هر نظر شه
ثناخوان دَ محمد خیر البشر ﷺ شه
اے احمد علي! ګویا ئي په صفت شه
په نسبت دَ محمد ﷺ سره اُوچت شه
ثناخوان دَ دغې در مشك وعنبر شه
ثناخوان دَ محمد خیر البشر ﷺ شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راشـــهٔ ذکــر کښــي شــروع دَ مـحتـــرم ﷺ شــهٔ
هــم پــــه ژبــــه شـــهٔ ګـــویـــا او پـــه قـلـم شـــهٔ
راشـــهٔ ذکــر کښــي شــروع دَ مـصـطفیٰ ﷺ شــهٔ
بیــا پـــه یــاد کښــي دَ ویـنـا ئــي مبتــلا شـــهٔ
مبتــلا ئـــي تـــهٔ پـــه یــاد کښــي دَکــرم شـــهٔ
هــم پــــه ژبــــه شـــهٔ ګـــویـــا او پـــه قـلـم شـــه
راشـــهٔ یــاد کښــي مبتــلا ئــي دَ وطــن شـــهٔ
هــم پـــه یــاد کښــي مبتــلا ئــي دَ چـمـن شـــهٔ
بیـــا پـــه یـــاد کښــي مبتــلا ئــي دَ قـدم شـــهٔ
هــم پــــه ژبــــه شـــهٔ ګـــویـــا او پـــه قـلـم شـــه
مبتـــلا شـــهٔ پــــه یـــاد دَ مـدیـنــي کښـــي
بیــا پـــه یــادکښــي مبتــلا شـــهٔ دَ روضــي کښــي
مبتــلا ئــي تـــهٔ پـــه یـــاد هـم دَ حــرم شـــهٔ
هــم پــــه ژبــــه شـــهٔ ګـــویـــا او پـــه قـلـم شـــه
مبتـــلا ئـــي پـــــه اخــلاقــو دَ جهـــان شـــهٔ
بیـــا پـــه یـــاد کښــي مبتــلا ئــي دَ قــرآن شـــهٔ
مبتــلا ئـــي کـــائـنـــات کښــي پـــه رحـم شـــهٔ
هــم پــــه ژبــــه شـــهٔ ګـــویـــا او پـــه قـلـم شـــه
مبتــلا ئـــي اے احـمـده! پـــه صـفـت شـــهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا پـه نُـورئـي مبتـلا دَ شـریعـت شـهٔ
راشـه یـاد کښـي مبتـلا دَ مـکـرَم شـهٔ
هـم پـه ژبـه شـهٔ ګـویـا او پـه قـلـم شـه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راشـه لار بـانـدي روان دَ مـصـطـفـیٰ ﷺ شـهٔ
عـزتـمـنـده قـدرمـنـده پـه دُنیـا شـهٔ
راشـه لار بـانـدي روان دَ سـعـادت شـهٔ
راشـه لار بـانـدي روان دَ هـدایـت شـهٔ
دَ دُنیـا تیـرو کښـي نـمـر پـهٔ شـان رڼـا شـهٔ
عـزتـمـنـده قـدرمـنـده پـه دُنیـا شـهٔ
راشـه لار بـانـدي روان دَ شـریـعـت شـهٔ
بیـا روان دَ پـاك نبـي پـه نـور سـنـت شـهٔ
دَ ګـمـراه خـلـقـو دَ پـاره رهـنـمـا شـهٔ
عـزتـمـنـده قـدرمـنـده پـه دُنیـا شـهٔ
راشـه لار بـانـدي روان شـهٔ دَ قـرآن
راشـه لار بـانـدي روان شـهٔ دَ رحـمٰـن
کـائـنـات کښـي پـه دي نُـور سـره اعـلـیٰ شـهٔ
عـزتـمـنـده قـدرمـنـده پـه دُنیـا شـهٔ
راشـه لار بـانـدي روان شـهٔ دَ اسـلام
تـمـیـز وکـړه دَ حـلال او دَ حـرام

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اسلام سره ښائستۀ شه مقتدا شۀ
عزتمنده قدرمنده په دُنیا شۀ
راشه وکړه په ښۀ لار باندي سفر
چي ښائستۀ شي دَ دُنیا په بحروبر
ښائستۀ راشه دَ دُنیا په هر ادا شۀ
عزتمنده قدرمنده په دُنیا شۀ
ځان ښائستۀ کړه په قرآن او په اسلام
احمدوائی دا په مینه دَ مردان
راشه لار باندي روان دَ انبیاء شۀ
عزتمنده قدرمنده په دُنیا شۀ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تل ګویا دَ محمد ﷺ په هر صفت شۀ
تابعداره دَ قرآن او دَ سنت شۀ
شۀ ګویا په ولادت دَ محمد ﷺ
شۀ ګویا په عبادت دَ محمد ﷺ
طلبګاره دَ نبی ﷺ دَ لوئي نسبت شۀ
تابعداره دَ قرآن او دَ سنت شۀ
شۀ ګویا په صفتونو دَ رسول ﷺ
شۀ ګویا په رفعتونو دَ رسول ﷺ
تل ګویا دَ پاك نبی ﷺ په صداقت شۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــــابــعــــداره دَ قــــرآن اودَ ســنــــت شـــــۀ
شــــۀ ګــويــــا دَ امـــانـــت ئـــي پـــه صـفـــت
شـــۀ ګــويـــا دَ سـخـــاوت ئـــي پـــه صـفـت
تــل ګــويـــا دَ پـــاك نبـى ﷺ پـــه مـحبـت شـۀ
تــــابــعــــداره دَ قــــرآن اودَ ســنــــت شـــــۀ
شـــۀ ګـــويـــا دَ مــحــمــد ﷺ پـــه عبـــادت
پــــه اذكـــارئـــي شـــۀ ګـــويـــا پـــه تـــلاوت
تــل ګــويــا دَ پــاك نبـى پــه لـوئـي عـظـمـت شـۀ
تــــابــعــــداره دَ قــــرآن اودَ ســنــــت شـــــۀ
اے احــمــدعــلــى ! اســلام دَ مــحــمــد ﷺ دے
نـــورانـــى نُـــور هـــر كـــلام دَ مــحــمــد ﷺ دے
نـورانـــى دَ پـــاك رسـول ﷺ پـــه ټـول سيـرت شـۀ
تــــابــعــــداره دَ قــــرآن اودَ ســنــــت شـــــۀ

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ

تـــــۀ امــــام دَ انبيــــاء او مُـــرسـلـيــن ئـــي
مـــحـــمـــده! ﷺ اوّلـيـــن او آخـــريـــن ئـــي
تــــۀ امــــام دَ مُـــرسـلانـــو دَ دُنيـــا ئـــي
تــۀ امــام پــه كـــائـنـــات كښـي دَ هـرچـا ئـي
ډيـــر حسيـــن ئـــي او امـــام دَ هـــر حَسيـــن ئـــي
مـــحـــمـــده! ﷺ اوّلـيـــن او آخـــريـــن ئـــي

تۀ امام په شریعت کښي هم زمائي

ته امام په نصیحت کښي هم زمائي

تۀ رحمت ئي او رحمت دَ عالمین ئي

محمده! ﷺ اوَلین او اٰخرین ئي

تۀ امام ئي په اسلام کښي دَ انسان

تۀ امام په هر صفت ئي دَ جهان

تل محبوب په کائنات دَ ربَ متین ئي

محمده! ﷺ اوَلین او اٰخرین ئي

تۀ امام په هریو کار کښي دَ دُنیا ئي

تۀ امام کلی او ښار کښي دَ دُنیا ئي

هم صادق سره یاد شوي ئي امین ئي

محمده! ﷺ اوَلین او اٰخرین ئي

تل امام ئي دَ پیریانو دَ دُنیا هم

دَ هرچا دَ لار ملګرے ئي رڼا هم

دَ طٰه سره یاد شوي په یٰسین ئي

محمده! ﷺ اوَلین او اٰخرین ئي

تل امام دَ هریو نُور او دَ رڼا ئي

تل امام دَ هر رهبر او مقتدا ئي

رڼا نمر دَ هدایت تل په یقین ئي

محمده! ﷺ اوَلین او اٰخرین ئي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـــل امــــام دَ هــــر بــــادشــــاه او دَ غـــريـــب ئـــي
تـــل امـــــام دَ هــــر عـــــالـــــم او دَ اديـــــب ئــــي
پــــه مــــحشــر کښــي هــم شـفيـع دَ مـذنبيـن ئـي
مـــحـــمــــده! ﷺ اوّلـيـــن او اٰخـــريـــن ئـــي
تـــل امـــــام دَ هــــر اُستـــــاد ددې جهـــان ئـــي
تـــل امـــام هــــم دَ احــــمـــد ددے مـــردان ئـــي
تـــل عـــلاج پـــه کـــائـنـــات کښـي دَ غـمګيـن ئـي
مـــحـــمــــده! ﷺ اوّلـيـــن او اٰخـــريـــن ئـــي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تـــهٔ حَسيـــن پـــه کـــائـنـــات کښـي دَ هـرچـا ئـي
مـــحـــمــــده! ﷺ دَ هــــرچــــا دَ زړهٔ دوا ئـــي
تـــهٔ حَسيـــن دَ هـــر حَسيـــن نـــه پـــه سيـــرت ئـي
تـــهٔ حَسيـــن دَ هـــر حَسيـــن نـــه پـــه صـفـت ئـي
مـــجـــمـــوعـــه دَ صـــفتـــونـــو دَ دُنيـــا ئـــي
مـــحـــمــــده! ﷺ دَ هــــرچــــا دَ زړهٔ دوا ئـــي
ډيـــر حَسيـــن ئـــي دَ دُنيـــا ددغـــي نـمـــر نـــه
ډيـــر حَسيـــن ئـــي دَ اٰســمــــان بـــره قـمـــر نـــه
دَ دُنيـــا پـــه هـــر مـحـفـل کښـي نُـور رنـا ئـي
مـــحـــمــــده! ﷺ دَ هــــرچــــا دَ زړهٔ دوا ئـــي
ډيـــر حَسيـــن ئـــي دَ هـــر ګـــل دَ دې جهـــان نـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیــر حَسیــن ئــي دَ ګــلاب او دَ ریــحــان نــه
تــــــهٔ دَ حُســــن ابتــــدا او انتهــــائــــي
مــحــمـــده! ﷺ دَ هـــرچـــا دَ زړهٔ دوا ئـــي
ډیــر حَسیــن ئــي پـــه هـــر کـــار دَ دے جهـــان
هــم پـــه کـلـــی او پـــه ښـــار دَ دے جهـــان
تــل دَ حُســن شــمـع بـلــه پــه هـرخــوا ئــي
مــحــمـــده! ﷺ دَ هـــرچـــا دَ زړهٔ دوا ئـــي
ډیــر حَسیــن ئــي دَ هــرستــوری دَجهـــان نـــه
ډیــرحَسیـــن ئــي بــره نـمــر نــه او اسـمـان نــه
مــجــمــوعـــه دَهــریــو حُســن تــهٔ پیدا ئــي
مــحــمـــده! ﷺ دَ هـــرچـــا دَ زړهٔ دوا ئـــي
ډیــر حَسیـــن ئــي پـــه خپـل نُــور او هــدایــت
ډیــر حَسیــن ئــي تــل پـــه نُــور دَ صــداقــت
نــورانـــی نُــور کـــائــنـــات کښــي دَ صبـــا ئـــي
مــحــمـــده! ﷺ دَ هـــرچـــا دَ زړهٔ دوا ئـــي
ډیــرحَسیـــن ئــي پـــه رُخســـار او پـــه صــورت
ډیــر حَسیـــن ئــي دَدُنیـــا پـــه هـــرصـفــت
نـــورانـــی نُـــور پـــه هـــر قـــول او پـــه ادا ئـــي
مــحــمـــده! ﷺ دَ هـــرچـــا دَ زړهٔ دوا ئـــي
تـــهٔ حَسیــن ئــي کـــائــنـــات کښــي تـــاج دَ سـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



احـــمـــد وائـــــي دَمــــردان دا مــــخـتــصـــر
هـم مـحبـوب پــه كـائـنـات كښـي دَ مولـىٰ ئـي
مــــحــــمــــده! ﷺ دَ هـــــرچـــــا دَ زړهٔ دوا ئــــي

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ

ډيــــر اُوچـــت ئـي مـحـمـده ! ﷺ مـحـتـــرم ئـــي
تـــل بـــادشـــاه دَ ټــول عـــرب او دَعــجـــم ئـــي
ډيــر اُوچـــت ئـي مـرتبـــه كښـــي لــه آسمــانــه
ډيــر اوچـــت ئـي مـرتبـــه كښي لـــه انســانـــه
ډيــر اُوچـــت ټـولـــي دُنيـــا كښـــي پـــه كـرم ئـي
ډيــــر اُوچـــت ئـي مـحـمـده ! ﷺ مـحـتـــرم ئـــي
ډيــر اُوچـــت ئـي مـرتبـــه كښـــي هـــر افســرنـــه
تپـــوس وكــــړه خــبــــردے دلتــــه هــريشــرنـــه
مــقـتــدا دَ ټــول جهـــــان ئـــي مــكــرَم ئـــي
ډيــــر اُوچـــت ئـي مـحـمـده ! ﷺ مـحـتـــرم ئـــي
ډيــر اُوچـــت ئـي مـرتبـــه كښي لـــه هـرچـانـــه
مُـــرســـلانـــو نـــه اُوچـــت ئـــي انبيـــاء نـــه
نـمــر روښـــانـــه پـــه دُنيـــا كښـــي دَ تـورتـم ئـي
ډيــــر اُوچـــت ئـي مـحـمـده ! ﷺ مـحـتـــرم ئـــي
ډيــر اُوچـــت دے ستـــا مـقـــام دَكـوهِ طُـورنـــه
ډيــر اُوچـــت دے ستـــا مـقـــام دَ هـريـو نُـورنـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنځورانو لـه علاج ئي او مرهم ئي
ډير اُوچت ئي محمده ! ﷺ محترم ئي
ډير اُوچت ئي مرتبه کښې پاس قمر نه
ډير اُوچت ئي دَ روښانه بره نمر نه
په صفت سره ليکلے احمد کم ئي
ډير اُوچت ئي محمده ! ﷺ محترم ئي

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ

تـه ول کرم ئي دَ اللّٰه او تـه ول رحمت ئي
محمده! ﷺ مجسمه محبت ئي
تـه ول کرم ئي دَ اللّٰه غنى سبحان
تـه ول کرم ئي په دُنيا دَ هر جهان
هم امين ئي هم صادق په صداقت ئي
محمده! ﷺ مجسمه محبت ئي
تـل کرم ئي دَ دُنيا دَ هر يو در
تـل کرم ئي دَ دُنيا دَ بحر و بر
تـل ممتاز ددي جهان په هر صفت ئي
محمده! ﷺ مجسمه محبت ئي
تـه ول کرم ئي محبت دَ دو جهان ئي
خپل اُمت باندي شفيقه مهربان ئي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـمـر دُنيـا کښـې هـم دَ نُـور او هـدايـت ئـې
مـحـمـده! ﷺ مـجسـمـه مـحـبـت ئـې
تـول کـرم ئـې دَ انسـان دَ سـر ئـې سـپـور مے
مـحتـرم ئـې دَ جهـان دَ سـر ئـې سـپـور مے
مـجسـمـه پـه دُنيـا کښـې تـول شـفـقـت ئـې
مـحـمـده! ﷺ مـجسـمـه مـحـبـت ئـې
دَ کـرم سـره سپـرلـے دَ دې جهـان ئـې
ښـکـلـے والـے پـه دُنيـا دَ ګـلستـان ئـې
هـم سبـب پـه کـائـنـات دَهـر عـزت ئـې
مـحـمـده! ﷺ مـجسـمـه مـحـبـت ئـې
دَ سـر سـپـور مے دَ غـريـب ئـې دَ يتيـم ئـې
پـه لـقـب سـره يٰسيـن ئـې او رحيـم ئـې
بهتـريـنـه نـمـونـه تـول پـه سيـرت ئـې
مـحـمـده! ﷺ مـجسـمـه مـحـبـت ئـې
دَ تـوحيـد بـوتـې دې نـال کـړو پـه دُنيـا کښـې
شـرك دې پـريښـودو پـه چـغـو پـه ژړا کښـې
ختـمـوُونـکـے دَ دُنيـا دَهـر ظـلـمـت ئـې
مـحـمـده! ﷺ مـجسـمـه مـحـبـت ئـې
احـمـد وائـې تـهٔ وفـا ئـې حق وينـا ئـې
دَ قيـامتـه پـورې پـاتـې رهـنـمـا ئـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم خاتم دَ نبوت او رسالت ئې
محمده! ﷺ مجسمه محبت ئې

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تل سکون په کائنات دَ هر بشر ئې
محمده ! ﷺ تل زما دَ زړګی سر ئې
تل سکون په کائنات کښې دَ هرچائې
تل سکون دَ اتقياء او اولياء ئې
تل علاج دَ رنځورانو دَ پرهر ئې
محمده ! ﷺ تل زما دَ زړګی سر ئې
تل سکون ئې دَ دُنيا تل اطمينان ئې
تل سکون ئې تل علاج دَ هر انسان ئې
تل طبيب دَ رنځورانو دَ هر در ئې
محمده ! ﷺ تل زما دَ زړګی سر ئې
تل سکون ئې تل دَ هريو غم دوا ئې
تل سکون ئې تل دَ هر مرض شفا ئې
معالج هم په سفر او په حضر ئې
محمده ! ﷺ تل زما دَ زړګی سر ئې
بهترين ئې معالج په کائنات کښې
لاثانی ئې محمده! ﷺ عبادات کښې
تل سکون دَ امتيانو دَ نظر ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمده ! ﷺ تل زما دَ زړګی سرئي
تل سکون ئي دَ مؤمن دَ زړه علاج ئي
هر مؤمن له په دُنیا کښې دَ نُورتاج ئي
دَ احمد علی دُنیا کښې هم دلبر ئي
محمده ! ﷺ تل زما دَ زړګی سرئي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مرتبه کښې ښهٔ اُوچت له اسمان ئي
محمده! ﷺ ډیر عالی ئي عالیشان ئي
مرتبې ته دې نهٔ رسی یو بشر
نهٔ رسیږی مرتبې ته ستا قمر
دَ رحمت سپورمے دُنیا کښې دَ انسان ئي
محمده! ﷺ ډیر عالی ئي عالیشان ئي
مرتبې ته دے نهٔ رسی نُور او نمر
نه رسیږی دَ دُنیا ورته ګوهر
داسے نمر دے جهان بره روښان ئي
محمده! ﷺ ډیر عالی ئي عالیشان ئي
که یوسفؑ دے کهٔ عیسیٰؑ دے کهٔ ادمؑ
په دوی ټول کښې اُوچت ئي محترم
داسے ګل په کائنات دَ ګلستان ئي
محمده! ﷺ ډیر عالی ئي عالیشان ئي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشتــــه حُســن کښـــې مثـــال دې پــــه جهـــان
نــــه مـــونـدې شـــی پـــه مـکـــان او لامـکـــان
هــم میـلــمــــه تــهٔ دَمـکـــان او لامـکـــان ئــې
مـحـمـده! ﷺ ډیــر عـــالــی ئـې عـــالیشـــان ئـې
دَ نبیـــــــانـــــو ابتـــــداء شــــوه دَ آدمؑ نــــــــه
چــــې شـــــروع دغــــــه رڼـــا شــوه دَ آدمؑ نــــه
پـــــه آخـــــر کښـــې دَ نبیــــانــو پـــــه جهـــان ئـــې
مـحـمـده! ﷺ ډیــر عـــالــی ئـې عـــالیشـــان ئـې
ســلسـلــــــه دَنبـــوت شـــوه پــــه تــــا بـــنـــده
ســلسـلــــــه دَ شـــریـعـــت شـــه پـــه تـــابـنـده
هـــریـــو حـــرف پـــه کـــائـنـات کښـــې دَ قـــرآن ئـــې
مـحـمـده! ﷺ ډیــر عـــالــی ئـې عـــالیشـــان ئـې
پــــه آخـــر کښـــې ئـــې راغـــلـــې آخـــریـن ئـــې
مـــرتبــــــه کښـــې ډیــــر اُوچــت ئــې اَوَلیـن ئـــې
دَ نبیـــــانـــو هـــم امـــــام ئـــې او ســـلــطـــــان ئـــې
مـحـمـده! ﷺ ډیــر عـــالــی ئـې عـــالیشـــان ئـې
احـــمـــــد وائــــی مـــجسـمـــــه مـــحبـــت ئـــې
نُـــور دُنیــــا کښـــې دَ تیـــــرو دَ ضـــــلالـــت ئــــې
خپــل اُمـــت بـــانـدې شـفیـقــه مهـــربـــان ئـــې
مـحـمـده! ﷺ ډیــر عـــالــی ئـې عـــالیشـــان ئـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چې سبب دَ کائنات دَ سعادت دے
محمده! ﷺ مبارك دے ولادت دے

ولادت دې مبارك ډير نبی ستا
اے دَ دوجهان حسينه! رهنما

ذخيره ددې جهان او آخرت دے
محمده! ﷺ مبارك دے ولادت دے

ولادت دې مبارك دے پيغمبره! ﷺ
اے محبوب دَ پاك اللّٰه غنی اکبره!

دَ دُنيا دَ پاره سپوږمے دَ رحمت دے
محمده! ﷺ مبارك دے ولادت دے

ولادت دې مبارك دے اے حسينه! ﷺ
اے طٰهٰ دَ دوجهانه! ﷺ اے يٰسينه! ﷺ

دَ دُنيا دَ پاره نُور دَ هدايت دے
محمده! ﷺ مبارك دے ولادت دے

ولادت دې مبارك دے بهترينه! ﷺ
اے دَ دوجهان صادقه! ﷺ او امينه! ﷺ

منفرد دې دَ دُنيا هريو صفت دے
محمده! ﷺ مبارك دے ولادت دے

ولادت دې مبارك اے آخرينه! ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــــۀ رُتبــــه کښــــې اے دَ ټــولــو اَوَلیـــنـــه! ﷺ
دَ نبیـــــــانـــــو پـــــــه اٰخــــــر دې نبــــوت دے
مــــحــــمـــــده ! ﷺ مبــــــارك دے ولادت دے
پـــس لتـــانـــــه پـــه دُنیـــا کښـې نبیـــان نشتـــه
پـــس لتـــانـــــه رســولان پـــه جهـــان نشتـــه
مـــاالحـــمـدلیـــکـلـے دغـــه حـــقیـقــت دے
مــــحــــمـــــده ! ﷺ مبــــــارك دے ولادت دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چـــې بــــادشــــاه هـــم دَ عــــرب او دَعـــجـــم دے
مـــحـــمـــد ﷺ دے عـــزتـــمـــنـــده مـــحـتـــرم دے
چـــې بــــادشــــاه ددې جهــــان دَ هــــر بشــــر دے
امــــامــــانــــو لــــه امــــام دے او رهبــــر دے
هـــغـــه نـــمـــر ددې دُنیـــا دَهـــر تـــورتـــم دے
مـــحـــمـــد ﷺ دے عـــزتـــمـــنـــده مـــحـتـــرم دے
عـــزتـــمـــنـــده دَ دُنیـــا پـــه هـــریـــو در دے
عـــزتـــمـــنـــده دَ جهـــان پـــه بـــحـــر وبـــر دے
عـــزتـــمـــنـــده هـــم پـــه لـــوح او پـــه قـــلـم دے
مـــحـــمـــد ﷺ دے عـــزتـــمـــنـــده مـــحـتـــرم دے
عـــزتـــمـــنـــده دے زمـــا پـــه زړۀ کښـــې اُوســـی
دَ نیـــکـــانـــو او اولیـــاء پـــه زړۀ کښـــې اُوســـی

(c) ketabton.com: The Digital Library



عــالیشــانــه پــه دُنیــا کښــې مـکـرَم دے
مـحـمـد ﷺ دے عـزتـمـنـده مـحتـرم دے
عـزتـمـنـده دے زمــا دَ زړۀ سـکـون دے
دَ نیــکــانـو اولیــاء دَ زړۀ سـکـون دے
عـزتـمـنـده پــه دُنیــا ئــې هـر قـدم دے
مـحـمـد ﷺ دے عـزتـمـنـده مـحتـرم دے
عـزتـمـنـده دے زمــا دَ ستـرګـو نُـور دے
دَ نیــکــانـو او اولیــاء دَ ستـرګـو نُـور دے
مـعــالــجــه دَ درمـنـد سـرې دَ غـم دے
عـزتـمـنـده دے زمــا دَ سـر دے سـپـورے
دَ نیــکــانـو او اولیــاء دَ سـر دے سـپـورے
خـور پــه هـر طـرف دُنیـا کښـې ئـې کـرم دے
مـحـمـد ﷺ دے عـزتـمـنـده مـحتـرم دے
عـزتـمـنـده دے زمــا دَ زړۀ تـکـور دے
دَ نیــکــانـو اولیــاء دَ زړۀ تـکـور دے
عـزتـمـنـده پــه دُنیــا کښـې ئـې حـرم دے
مـحـمـد ﷺ دے عـزتـمـنـده مـحتـرم دے
عـزتـمـنـده دے زمــا هـم رهـنـمـا دے
دَ نیــکــانـو او اولیــاء هـم رهـنـمـا دے
سـپـورے خـورئــې دَ رحـمـت او دَ رحـم دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد ﷺ دے عزتمنده محترم دے

عزتمنده دے احمدوایم په جار

نه ختمیږی دغه مدحه په اشعار

ما لیکلے دا تعریف ئي په قلم دے

محمد ﷺ دے عزتمنده محترم دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چي صاحب دَ ښهٔ اخلاق دے ډیر کریم دے

محمد ﷺ دے بُردباره ډیر حلیم دے

ښهٔ اخلاق باندي ممتاز دَ دي جهان دے

ټول اخلاق ئي دَ دُنیا دغه قرآن دے

مهربانه په غریب او په یتیم دے

محمد ﷺ دے بُردباره ډیر حلیم دے

ښهٔ اخلاق ئي دي لعلونه دَ جهان

یا دَ باغ دي ټول ګلونه دَ جهان

په اخلاق سره یاد شوے ډیر عظیم دے

محمد ﷺ دے بُردباره ډیر حلیم دے

ښهٔ اخلاق ئي ملغلري دَ دُنیا دي

ښي خوږي ئي تل خبري دَ دُنیا دي

دَ حکمت خاوند دے یاد ځکه حکیم دے

محمد ﷺ دے بُردباره ډیر حلیم دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښــــهٔ اخــلاق ئــې دی سپیــن زر دَ دې جهـــان
دَ احـــمـــدعـــلــــی بیـــان دے دَ مـــردان
څـکـــه یـــاد پـــه صـفـتـونـو کښــې رحیـم دے
مـحـمـدﷺ دے بُـردبـــاره ډیـر حـلیـم دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تــهٔ ئــې ختـم الـرُّسـل پیـغـمبـر اے نبـی!ﷺ
بــې لتــانــه څـوك نشتــه رهبـر اے نبــی!ﷺ
تــهٔ ئــې ختــم الــرُّسـل اٰخــریـن دَجهـــان
تـــهٔ ئـــې ختـــم الــرُّســـل اوَلیـــن دَجهـــان
ستــاپــه شــان نشتــه دے بـل افسـر اے نبی! ﷺ
بــې لتــانــه څـوك نشتــه رهبـر اے نبــی!ﷺ
تـــهٔ ئـــې ختـــم الـــرُّسل هـم دَ نـوحؑ او ادمؑ
ستـــاپـــه لاردې روان تـــول عـــرب او عـــجـــم
بهتـــریـن پـــه صـفـت ئـې بهتـر اے نبـی!ﷺ
بــې لتــانــه څـوك نشتــه رهبـر اے نبــی!ﷺ
تــهٔ ئــې ختـم الـرُّسـل لاثـانـی پــه جهـان
تــهٔ ئــې ختـم الـرُّسـل تـاج دَ سـر دَ انسـان
تـــل سپـــرلـے دَ جهـــان دَهـــر در اے نبــی!ﷺ
بــې لتــانــه څـوك نشتــه رهبـر اے نبــی!ﷺ
تــهٔ ئــې ختـم الـرُّسـل لاثـانـی پــه صـفـت

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــــهٔ ئــي ختــم الــرُّسـل لاثــانــى هــرســاعــت
تــــهٔ ئــي ختــم الــرسـل بــره نـمـر اے نبـى!ﷺ
بــي لتـــانـــه خـوك نشتـــه رهبـر اے نبـى!ﷺ
تــــهٔ ئــي ختــم الــرُّسـل مثـالـى پــه صـفـت
تــــهٔ ئــي ختــم الــرُّسـل مـجسّـم مـحبـت
بــي لتـــانـــه خـوك نشتـــه رهبـر اے نبـى!ﷺ
تــــهٔ ئــي ختــم الــرُّسـل پـاس قـمـر اے نبـى! ﷺ
تــــهٔ ئــي ختــم الــرُّسـل مـجسّـم هـدايـت
دَ دُنيـــا ئـــي رحـــمـــت دَ دُنيـــا سـعـــادت
نُــور رنـــائـــي هــم نُــور دَنــظــر اے نبـى!ﷺ
بــي لتـــانـــه خـوك نشتـــه رهبـر اے نبـى!ﷺ
تــــهٔ ئــي ختــم الــرُّسـل هـم وفـــا صـداقـت
مــجسّـم ســخـــاوت مــجسّـم امـــانـت
مثـــالـــى پـــه جهـــان پـــه هــر در اے نبـى! ﷺ
بــي لتـــانـــه خـوك نشتـــه رهبـر اے نبـى!ﷺ
تــــهٔ ئــي ختــم الــرُّسـل دَ احــمــد دے بيـــان
دا بيـــان دے قسـم دے مــوجـود پـــه قـــراٰن
خـوشبـوئـي تـولــه ئـي مشك عنبر اے نبى! ﷺ
بــي لتـــانـــه خـوك نشتـــه رهبـر اے نبـى!ﷺ

★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چې ملګرے دَ غریب او دَ یتیم دے
هغه څوك دے؟ دا زمونږ نبی کریم دے
چې ملګرے دَ بې یار او مددګار دے
تل ملګرے بې مطلبه په دا دار دے
په صفت سره یاد شوے په حلیم دے
هغه څوك دے؟ دا زمونږ نبی کریم دے
تل ملګرے دَ مؤمن او مسلمان دے
تل ملګرے دَ صادقه هر انسان دے
هغه یاد چې په صفت سره رحیم دے
هغه څوك دے؟ دا زمونږ نبی کریم دے
تل ملګرے دَ نیکانو دَ هر در دے
تل ملګرے دَ اُمت دَ هر بشر دے
په طبیعت سره یاد شوي په سلیم دے
هغه څوك دے؟ دا زمونږ نبی کریم دے
تل ملګرے په محشر دَ علماء دے
تل ملګرے دَ محشر دَ اولیاء دے
په اخلاقو بشۀ کامله دے عظیم دے
هغه څوك دے؟ دا زمونږ نبی کریم دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے احمد علی! روان ئي په سنت شهٔ
بیا تابع ئي ته کامل دَ شریعت شهٔ
دَ جنت سبب دے هم دَ هر نعیم دے
هغه څوك دے؟ دا زمونږ نبی کریم دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زهٔ خو ستاشُوم ته زما شهٔ محمده! ﷺ
یو وار خوب کښې رالـه راشهٔ محمده! ﷺ
چې بیان کړم درته حال دَ خپل وطن
بیا بیان کړم درته حال دَ خپل بدن
مهربانه لږ په ما شهٔ محمده! ﷺ
یو وار خوب کښې رالـه راشهٔ محمده! ﷺ
چې بیان درته زهٔ حال کړم دَ جهان
په دُنیا کښې زما څنګه دي ګزران
دَ رنځور زړهٔ مې دوا شهٔ محمده! ﷺ
یو وار خوب کښې رالـه راشهٔ محمده! ﷺ
زړهٔ مې غم کښې ګرفتار دے دَ جهان
سوزیدلے په انګار دے دَ جهان
دَ دي زړهٔ زخمی شفا شهٔ محمده! ﷺ
یو وار خوب کښې رالـه راشهٔ محمده! ﷺ
چې بیان درته ددې جهان کړم غم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ دُنیــــا تیـــــروکښـــي ګـیــــریــم دَ تــــورتــم
رهــنـــمـــا مـــي دَ عــقبـــیٰ شـــهٔ مـحـمـده! ﷺ
یــو وار خــوب کښــي رالـــه راشـــهٔ مـحـمـده! ﷺ
دَ احـــمــــدعـــلــــی ویـــنـــا ده حـــقیــقـــت ده
دَ رنــــځــــور دَ زړهٔ دوا ده حـــــقیـــــقــــت ده
اطــمـیـنــــان مـــي دَ دُنیـــا شـــهٔ مـحـمـده! ﷺ
یــو وار خــوب کښــي رالـــه راشـــهٔ مـحـمـده! ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راشـــــــه درلـــــــه دَ ســـرکـــــار دَ مـــدیــنـــي
پیـــغـــمبـــرلـــــــه دَ ســــرکــــار دَ مـــدیـــنـــي
چـــي ښـــائستـــهٔ شـــي دَ دُنیـــا پـــه دغـــي در
چـــي ښـــائستـــهٔ شـــي دَ دُنیـــا پـــه بـحـــروبـــر
لـــوئـــي رهبـــرلـــــه دَ ســـرکـــار دَ مـــدیـــنـــي
پیـــغـــمبـــرلـــــــه دَ ســــرکــــار دَ مـــدیـــنـــي
چـــي ښـــائستـــهٔ شـــي دَ دُنیـــا پـــه هـدایـــت
چـــي ښـــائستـــهٔ شـــي دَ دُنیـــا پـــه ســعـــادت
نـــوراونـــمـــرلـــــه دَ ســـرکـــار دَ مـــدیـــنـــي
پیـــغـــمبـــرلـــــــه دَ ســــرکــــار دَ مـــدیـــنـــي
چـــي ښـــائستـــهٔ شـــي تـــهٔ پـــه نـوردَ مـحـمـد ﷺ
چـــي ښـــائستـــهٔ شـــي پـــه سُـــرور دَ مـحـمـد ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاس قمر له دَ سرکار دَ مدیني

پیغمبر له دَ سرکار دَ مدیني

چي ښائسته شي په رخسار دَ محمد ﷺ

چي ښائسته شي په دربار دَ محمد ﷺ

لوئي افسر له دَ سرکار دَ مدیني

پیغمبر له دَ سرکار دَ مدیني

چي ښائسته شي په رحمت دَ دُوجهان

چي ښائسته شي دَ دُنیا په هر مکان

نُور بشر له دَ سرکار دَ مدیني

پیغمبر له دَ سرکار دَ مدیني

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ستا نه زار شمه زار درنه زار اے نبی! ﷺ

ته رهبر ئي زما په هر لار اے نبی! ﷺ

تهٔ رهبر ئي زما هم دلبر ئي زما

دَ زړهٔ سر ئي زما پیغمبر ئي زما

ډیر دَ میني یمه ستا طلبګار اے نبی! ﷺ

ته رهبر ئي زما په هر لار اے نبی! ﷺ

تهٔ رهبر ئي زما او رهبر دَ دُنیا

نُور دَ نمر دَ دُنیا پاس قمر دَ دُنیا

کور په کور دي خوارهٔ ستا انوار اے نبی! ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته رهبرئي زما په هر لار اے نبی! ﷺ

تهٔ رهبر دَ انسان ډير حَسين عاليشان

تهٔ حَسين په ګلونو کښې ګل دَ جهان

ټول وجود دے حين هم رخسار اے نبی! ﷺ

ته رهبرئي زما په هر لار اے نبی! ﷺ

ټل رهبر دَ ولی تهٔ بادشاه دَجهان

تهٔ نُور دَ نظر تهٔ رڼا دَ انسان

تهٔ سپرلے دَ دُنيا دَ هر دار اے نبی! ﷺ

ته رهبرئي زما په هر لار اے نبی! ﷺ

ستا نه زار شمه زار زهٔ احمد دَ مردان

هم په پټه په جار به کووُم دا بيان

ډك دَ مينې زما دی اشعار اے نبی! ﷺ

ته رهبرئي زما په هر لار اے نبی! ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مرتبه کښې ډير اُوچت دے عاليشان دے

هغه څوك دے؟ دا زمونږ نبی سلطان دے

چې اُوچت په مرتبه کښې دَ هرچا دے

هم امام په کائنات دَ انبياء دے

ډير شفيقه په يتيم دَ دے جهان دے

هغه څوك دے؟ دا زمونږ نبی سلطان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې اُوچت دے دَ دُنيا په هر صفت کښې
ډير اُوچت دے په مقام او فضيلت کښې
دَ غريب انسان ملګرے دَ جهان دے
هغه څوك دے؟ دا زمونږ نبي سلطان دے

هم اُوچت دے دَ اخلاقو په زينت
هم اوچت دے په ښائسته ښکلې صورت
په ورو غټو په ټولو مهربان دے
هغه څوك دے؟ دا زمونږ نبي سلطان دے

هم اغيار ئې په تعريف باندې ګويا دي
غټ کفار ئې په تعريف باندې ګويا دي
هم محبوب په کائنات کښې دَ رحمٰن دے
هغه څوك دے؟ دا زمونږ نبي سلطان دے

دَ توحيد بوټې ئې نال کړۀ په دُنيا کښې
کفر پاتې شو په چغو او ژړا کښې
چې پرور دَ دي ګلونو ګلستان دے
هغه څوك دے؟ دا زمونږ نبي سلطان دے

اے احمدعلي ! صادق ئې په وينا کښې
ته روان ئې دَ رسول ﷺ په اقتدا کښې
ښائسته کړے ئې مکان او لامکان دے
هغه څوك دے؟ دا زمونږ نبي سلطان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

یـاد دَ مُـرسـلانـو ئـي امـام پـه ټول جهـان کښـې
تـهٔ ئـي لاثـانـی هـم پـه مـکـان او لامـکـان کښـې
هـم دَ اٰیـاتـو ئـي رسـول الـلّٰـه ﷺ تـفـسـیـر ئـي تـهٔ
هـم بشیـر نـذیـر ئـي تـهٔ هـم سـراج مـنیـر ئـي تـهٔ
یـاد پـه مـزمـل سـره ئـي تـهٔ هـم پـه قـراٰن کښـې
تـهٔ ئـي لاثـانـی هـم پـه مـکـان او لامـکـان کښـې
اے دَ پـاك الـلّٰـه حبیبـه! تـهٔ صـادق امیـن ئـي هـم
تهٔ ئي مصطفیٰ ﷺ او مجتبیٰ ﷺ او تهٔ یٰسین ﷺ ئي هم
یـاد پـه ښـائسـتـهٔ ګـل ئـي دَ دُنیـا پـه ګـلستـان کښـې
تـهٔ ئـي لاثـانـی هـم پـه مـکـان او لامـکـان کښـې
تـهٔ ئـي پـاك رسـولـه! ﷺ هـم مکـی او مدنـی رسـول
تـهٔ ئي پـاك رسـولـه! ﷺ قـریشـی او هـاشمی رسـول
تـهٔ هـم نُـور رڼـا ئـي پـاس روښـانـه پـه اٰسمـان کښـې
تـهٔ ئـي لاثـانـی هـم پـه مـکـان او لامـکـان کښـې
تـهٔ ئي هـم یـاد شـوي پـه مـحمـود او محمد ﷺ سره
تـهٔ ئـي هـم یـاد شـوي پـه نـومـونو کښـې احمد سـره
کـلـه کـلـه راشـي هـم طٰـه سـره بیـان کښـې
تـهٔ ئي لاثـانـی هـم پـه مـکـان او لامـکـان کښـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

میـلـمــه دَ لامـکـان خیـر الـوریٰ ﷺ دَ مـدینـي دے
خائستـهٔ دَ هر انسـان نـه مـصـطـفیٰ ﷺ دَ مدینـي دے

بُــراق دُنیــا تــه راغــے پیــغـمبــر لــه دَ جهــان
بُــراق دُنیــا تــه راغــے نُــوراو نـمـر لــه دَ جهــان
بُـراق بـانـدي سـور شـوي بیـا طـٰه دَ مـدینـي دے
میـلـمــه دَ لامـکـان خیـر الـوریٰ ﷺ دَ مـدینـي دے

روان بــه شــي بُــراق اُوس پــه طرف دَ پـاس اٰسمـان
تیــار دغــي ســفــر تــه مـقـتـدا دَ مـدیـنـي دے
میـلـمــه دَ لامـکـان خیـر الـوریٰ ﷺ دَ مـدینـي دے

میلـمـه پـه لامـکـان کښـي به دَ پاك غني سبحان شي
ښـائستـهٔ پـه نُـور سره بـه زمـونږ پاك نبی سلطان شي
مـلیـمــه دَ لامـکـان بـدر الـدجیٰ ﷺ دَ مـدیـنـي دے
میـلـمــه دَ لامـکـان خیـر الـوریٰ ﷺ دَ مـدینـي دے

میـلـمــه دَ اٰسـمـانـونـو او میـلـمـه دَ لامـکـان دے
میـلـمـه ددي جهـان دے هم میلمه دَ بل جهان دے
احـمـده! دا میـلـمـه شـمـس الـضـحیٰ ﷺ دَ مدینـي دے
میـلـمــه دَ لامـکـان خیـر الـوریٰ ﷺ دَ مـدینـي دے

★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ډیر دے مبارك دَ محمد ﷺ په نوم کښې میم
ډیر دے عزتمنده قدرمنده دے عظیم

هم دَ مصطفیٰ ﷺ سره حصه دَ مقتدا ده
هم دَ مرتضیٰ ﷺ سره حصه دَ مبتدا ده
دغه شان حصه ده دغه میم دَ هرقدیم
ډیر دے عزتمنده قدرمنده دے عظیم

میم هم دَ مُرسل سره تړلې په جهان دے
دغه شان حصه هم دغه میم دَ هر اسمان دے
میم به جُدا نشی په دُنیا کښې دَ کریم
ډیر دے عزتمنده قدرمنده دے عظیم

دغه شان حصه هم دَ موسیٰؑ او دَ ادمؑ ده
دغه شان حصه هم په دُنیا دَ هر قلم ده
هم دَ نوم حصه ده په دُنیا دَ ابراهیمؑ
ډیر دے عزتمنده قدرمنده دے عظیم

دغه شان احمد او په محمود کښې تل لیدے شی
هم په منوَر او په مقصود کښې تل لیدے شی
اے احمد علی ! دغه حصه ده دَ حطیم
ډیر دے عزتمنده قدرمنده دے عظیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نـوم دَ مـحـمـد ﷺ دے عـزتـمـنـده پـه جهـان
تـل دے بـي نـقـطـي هـغـه عـظـيـمـه عـاليشـان
نـوم دَ مـحـمـد ﷺ دے روحـانـي دَ زړهٔ عـلاج
نـوم دَ مـحـمـد ﷺ دے مـرتبـه کـښـي دَ سـرتـاج
نـوم دَ مـحـمـد ﷺ دے ذکـر شـوي پـه قـرآن
تـل دے بـي نـقـطـي هـغـه عـظـيـمـه عـاليشـان
نـوم دَمـحـمـد ﷺ دے عـزتـمـنـده مـحـتـرم
ښـهٔ دے مـحـتـرم پـه ټـول عـرب او پـه عـجـم
نـوم دَ مـحـمـد ﷺ دے مـقـتـدا دَ هـر انـسـان
تـل دے بـي نـقـطـي هـغـه عـظـيـمـه عـاليشـان
نـوم دَ مـحـمـد ﷺ دے دَ انـسـان دَ لارے مَـل
نـوم دَ مـحـمـد ﷺ دے دَ جهـان دَلارے مَـل
هـم دے عـزتـمـنـده پـه مـکـان او لامـکـان
تـل دے بـي نـقـطـي هـغـه عـظـيـمـه عـاليشـان
نـوم دَ مـحـمـد ﷺ دے راهـنـمـا ددي دُنـيـا
نُـوم دَ مـحـمـد ﷺ دے نُـور رڼـا ددي دُنـيـا
هـم دغـه دے نُـور بـره روښـانـه پـه اسـمـان
تـل دے بـي نـقـطـي هـغـه عـظـيـمـه عـاليشـان

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـوم دَ مـحـمـد ﷺ دے دَ هـرچـا ډيـوه رڼـا

نـوم دَ مـحـمـد ﷺ دے پـه دُنيـا ډيـوه رڼـا

نوم دَ محمد ﷺ دے نمر صورت غوندې روښان

تـل دے بـې نـقـطـې هـغـه عـظـيـمـه عـاليشـان

نـوم دَ مـحـمـد ﷺ دے هـم قـمـر ددې دُنيـا

نـوم دَ مـحـمـد ﷺ دے مـنـوَر ددې دُنيـا

نوم دَ محمد ﷺ دے مرتبه کښې په اسمان

تـل دے بـې نـقـطـې هـغـه عـظـيـمـه عـاليشـان

نـوم دَ مـحـمـد ﷺ دے دَ رنـځـور دَ زړۀ دوا

نـوم دَ مـحـمـد ﷺ دے دَ دُنيـا دَ درشـفـا

داسـے احـمـد وائـى بـنـه واضـحـه دَ مـردان

تـل دے بـې نـقـطـې هـغـه عـظـيـمـه عـاليشـان

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

پـه دوستـۍ چـې مـې نيـولـے دَ دے دار دے

وايـه څـوك دے؟ دا زمـونـږ نبـى سـردار دے

پـه دوستـۍ چـې مې نيـولـے مـصـطفیٰ ﷺ دے

کـائـنـات چـې ئـې پـه نُـور سـره رڼـا دے

دَ غـريـب او دَ يتيـم سـړى چـې يـار دے

وايـه څـوك دے؟ دا زمـونـږ نبـى سـردار دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دوستی چې مې نیولے دے یٰسین
داسې نشتهٔ په دُنیا کښې بل حَسین
په والیل سره بیان ئې دَ رُخسار دے
وایه څوک دے؟ دا زمونږ نبی سردار دے

په دوستی چې مې نیولے مجتبیٰ دے
مجسَم دَ کائنات هغه وفا دے
هم سخی دے هم صادق امانت دار دے
وایه څوک دے؟ دا زمونږ نبی سردار دے

په دوستی چې مې نیولے مدنی دے
هاشمی هغه مکی بنائستهٔ نبی دے
هم محبوب دَ پاک الله غنی غفار دے
وایه څوک دے؟ دا زمونږ نبی سردار دے

په دوستی چې مې نیولے بهترین دے
هم امام دَ انبیاء او مُرسلین دے
تل علاج دَ دے دُنیا دَ هر بیمار دے
وایه څوک دے؟ دا زمونږ نبی سردار دے

په دوستی چې مې نیولے په عالم دے
احمد وائی محمد ﷺ دے محترم دے
دَ مکې او مدینې هغهٔ تاجدار دے
وایه څوک دے؟ دا زمونږ نبی سردار دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نــوم دَ مــحــمــد ﷺ لـری دُنـیــا کښې لـوئې مـقـام
وایـــــه وایــــه ورســــره درود ســـلام
نــوم دَ مــحــمــد ﷺ ســره لـرکيــږی هـريـوغـم
نــوم دَ مــحــمــد ﷺ دے دَ دُنـيــا رحــم وکــرم
نــوم دَ مــحــمــد ﷺ ســره لازم دے احتــرام
وایـــــه وایــــه ورســــره درود ســـلام
نــوم دَ مــحــمــد ﷺ دے دَ دُنـيــا تـولـې عــزت
نــوم کښــې دَ احـمـد دے مـولـیٰ ايخـې مـحبـت
نــوم دَ مــحــمــد ﷺ دے دَ الـلّــه عـظـيـم انـعـام
وایـــــه وایــــه ورســــره درود ســـلام
نــوم دَ مــحــمــد ﷺ دے دَ دُنـيــا تـولـې رحـمـت
نــوم دَ مــحــمــد ﷺ دے مـجـمـوعـه دَهـر صـفـت
نــوم دَ مــحــمــد ﷺ دے دَ دُنـيــا نُـور او اکـرام
وایـــــه وایــــه ورســــره درود ســـلام
نــوم دَ مــحــمــد ﷺ دے رنـا نـور دَ تـول جـهـان
نــوم دَ مــحــمــد ﷺ دے نـمـر روښـانـه پـه اسـمـان
نــوم دَ مــحــمــد ﷺ نــه فـائـده اخـلـی خاص او عـام
وایـــــه وایــــه ورســــره درود ســـلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـوم دَ مـحـمـد ﷺ دے مـرتبـه کښې ډېر اُوچت
داسې احـمـد وائـي دَ الـلّـه دے لـوئې نعـمـت
ډيـر دے مـعـزّزه دَ الـلّـه خيـر الانـام ﷺ
وايـه وايـه ورسـره درود سـلام

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نـوم دَ مـحـمـد ﷺ دے عـزتـمـنـده مـحتـرم
وايـه درود وايـه چې نـوم راشـي دَ اکـرم ﷺ
نـوم دے عـزتـمـنـده دَ دُنيـا دَ هـريـو در
نـوم دے عـزتـمـنـده دَ دُنيـا پـه بـحـر وبـر
نـوم دے عـزتـمـنـده پـه عـرب او پـه عـجـم
وايـه درود وايـه چې نـوم راشـي دَ اکـرم ﷺ
نـوم دے عـزتـمـنـده ثـانـي نـه لـري دُنيـا کښې
نـوم دے عـزتـمـنـده ثـانـي نـه لـري هـرخـوا کښې
دغـه نـوم عـلاج دے دَ دُنيـا دَ هـريـو غـم
وايـه درود وايـه چې نـوم راشـي دَ اکـرم ﷺ
نـوم دے عـزتـمـنـده پـه مـکـان او لامـکـان کښې
نـوم دے عـزتـمـنـده دا پـه زمـکـه او اسـمـان کښې
دغـه دے عـلاج دَ هـر رنـځـور دَ زړهٔ مـلهـم
وايـه درود وايـه چې نـوم راشـي دَ اکـرم ﷺ
نـوم دے عـزتـمـنـده قـدرمـنـده دَ جهـان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه نوم حصه ده دَ کلمې او دَ اذان
دغه مجموعه ده دَ دُنیا دَ هر کرم
وایه درود وایه چې نوم راشي دَ اکرم ﷺ
نوم دے عزتمنده دا زما او ستا بیان کښې
دغه شان راغلے دَ اللّٰه دے په قرآن کښې
اے احمدعلي! نوم عزت مند دے په قلم
وایه درود وایه چې نوم راشي دَ اکرم ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راشۀ درله راشۀ دَ محبوب نبي اکرم ﷺ
ورك به دَ دُنیا دي شي دُنیا کښې هریو غم
راشۀ درله راشۀ دَ حضرت خیر الانام ﷺ
راشۀ درله راشۀ دَ عزت او احترام
دا دے دَر دُنیا کښې دَ عزت او دَ کرم
ورك به دَ دُنیا دي شي دُنیا کښې هریو غم
راشۀ درله راشۀ دَ سرکار دَ دوجهان
راشۀ درله راشۀ دَ محبوب غني سبحان
دا دے دَر دُنیا کښې بنۀ دَ مینې او رحم
ورك به دَ دُنیا دي شي دُنیا کښې هریو غم
راشۀ درله راشۀ مدینې ته دَ قمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشــه درلــه راشــۀ مـدینـي تــه دَ رهبــر
راشـــۀ تـــۀ مـحبـوب لــه دَ عـرب او دَعـجـم
ورك بــه دَ دُنيــا دي شـــي دُنيـــا كـبنـي هـريـو غـم
راشـــۀ درلـــه راشـــۀ دَ صـــادق او دَ امـيــن
راشـــۀ درلـــه راشـــۀ دَ طـــه او دَ يسيــن
راشـــۀ درلـــه راشـــه دَ نبيـــانـو مُـقـدَم
ورك بــه دَ دُنيــا دي شـــي دُنيـــا كـبنـي هـريـو غـم
راشـــۀ درلـــه راشــه هـــاشـمـی لــه دَجهـــان
راشـــۀ درلـــه راشـــۀ مـدنـــی لـــه دَ جهـــان
راشـــۀ درلـــه راشـــۀ دَ دُنيـــا دَ مــحتـــرم
ورك بــه دَ دُنيــا دي شـــي دُنيـــا كـبنـي هـريـو غـم
راشـــۀ درلـــه راشـــۀ دَ نبيـــانـو دَ امـــام
راشـــۀ درلـــه راشـــۀ دَ وليـــانـو دَ امـــام
راشـــۀ درلـــه راشـــه دَ مشـفـقـــه مـكـــرَم
ورك بــه دَ دُنيــا دي شـــي دُنيـــا كـبنـي هـريـو غـم
راشـــۀ درلـــه راشـــۀ اے احـمـده! دَ نبـــی ﷺ
راشـــۀ درلـــه راشـــۀ دَ مــكـــی او مـدنـــی
راشـــۀ درلـــه راشـــۀ بيـــا گـويـــا شـــۀ پـــه قـلـم
ورك بــه دَ دُنيــا دي شـــي دُنيـــا كـبنـي هـريـو غـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راشـــــهٔ لاثـــانـــی دے هـــریـــو در دَ مـــدیـــنـــې
ځـــکـــــه دلتـــه اُوسـی پیـــغـــمبر ﷺ دَ مـــدیـــنـــې

راشـــــهٔ لاثـــانـــی ده مـــدیـــنـــه پـــه هـــر صـــفـــت
راشـــــهٔ لاثـــانـــی ده مـــدیـــنـــه دَ پـــاك حـــضـــرت
ډیـــر دے قیـــمـــتـــی هـــریـــو حـــجـــر دَ مـــدیـــنـــې
ځـــکـــــه دلتـــه اُوسـی پیـــغـــمبر ﷺ دَ مـــدیـــنـــې

راشـــــهٔ لاثـــانـــی دی تـــول ګـــلـــونـــه ددې دار
راشـــــه لاثـــانـــی دی مـــنـــزلـــونـــه دَ دې دار
ډیـــر دی پـــه مـــاګـــران نُـــور اونـــظـــر دَ مـــدیـــنـــې
ځـــکـــــه دلتـــه اُوسـی پیـــغـــمبر ﷺ دَ مـــدیـــنـــې

راشـــــهٔ لاثـــانـــی دَ دغـــې در دے هـــریـــو ګـــل
راشـــــهٔ لاثـــانـــی دَ دغـــې در دے هـــر مـــحـــفـــل
هـــر څـــه خـــوشبـــودار دی مـــعـــطـــر دَ مـــدیـــنـــې
ځـــکـــــه دلتـــه اُوسـی پیـــغـــمبر ﷺ دَ مـــدیـــنـــې

راشـــــه لاثـــانـــی دی بـــازارونـــه دَ دې در
راشـــــه لاثـــانـــی دی تـــول یـــادرونـــه دَ دې در
ډیـــر زیـــات نـــورانـــی دے بـــره نـــمـــر دَ مـــدیـــنـــې
ځـــکـــــه دلتـــه اُوسـی پیـــغـــمبر ﷺ دَ مـــدیـــنـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشـــهٔ لاثـــانــی ده مـدیـنـــه پـــه لـوئـے نسبـت
وائـــی احـــمـــدوائـــی مـــجـــمـوعـــه ده دَ عـــزت
ډیـــر حَسیـــن یـــاد شـوے هـــر مـنـظـــر دَ مـدیـنـي
څـــکـــه دلتـــه اُوســی پیــغـمبر ﷺ دَ مـدیـنـي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تـعـریف دَ مـحـمـد رسـول الـلّـه ﷺ کـوی ډیـر خونـد
قسـم دے دا دُنیـا کښـي پـه هـرخوا کوی ډیـر خونـد
تـعـریف کـوی ډیـر خـونـد دَ مـحـمـد خیـر البشـر ﷺ
تـعـریف کـوی ډیـر خـونـد دَ مـدیـنـي دَ مشك عنبـر
قسـم دے تـل تـعـریف دَ مـصطفیٰ ﷺ کـوی ډیر خونـد
قسـم دے دا دُنیـا کښـي پـه هـرخوا کوی ډیـر خونـد
تـعـریف کـوی ډیـر خـونـد دَ مـدیـنـي دَ تـاجـدار
تـعـریف کـوی ډیـر خـونـد دَ مـدیـنـي دَ هـریـودار
تـعـریف دَ مـدیـنـي خیـر الـوریٰ ﷺ کـوی ډیـر خونـد
قسـم دے دا دُنیـا کښـي پـه هـرخوا کوی ډیـر خونـد
تـعـریف کـوی ډیـر خـونـد دَ مـدیـنـي دَنُـور او نـمر
تـعـریف کـوی ډیـر خـونـد دَ مـدیـنـي دَپـاس قـمـر
قسـم دے تـل تـعـریف ددې رنـا کـوی ډیـر خـونـد
قسـم دے دا دُنیـا کښـي پـه هـرخوا کوی ډیـر خونـد

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـعـريف كـوي ډيـر خـوند دَ مـديـنـې دَ دے طبيب
تـعـريف كـوي ډير خـونـد دَ پاك الـلّـه دَ دے حبيب
تـعـريف زمـا اوستـا دَ مـقـتـدا كـوي ډيـر خـونـد
قسم دے دا دُنيـا كښـې پـه هـرخوا كوي ډيـر خوند
تـعـريف كـوي ډيـرخـونـد دَ مـحـمـد ﷺ نبى سلطان
تـعـريف كـوي ډيـر خـونـد ددغـې ګـل دَ ګـلستـان
تـعـريف پـه كـائـنـات كښـې دَ طـه كوي ډيـر خوند
قسم دے دا دُنيـا كښـې پـه هـرخوا كوي ډيـر خوند
تـعـريف كـوي ډيـر خـونـد دَ امـامـانـو دَ امـام
راغـلـے دَ دُوي نـوم سـره درود دے او سـلام
احـمـده ! پـه دُنيـا دغـه ويـنـا كوي ډيـر خـونـد
قسم دے دا دُنيـا كښـې پـه هـرخوا كوي ډيـر خوند

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ

راشـه جـوړ تـابـع دَ پـاك رسول ﷺ دَ هـر كـلام شـه
جـوړ دَ مـحـمـد رسـول الـلّـه ﷺ دَ در غـلام شـه
راشـه تـه تـابـع شـه دَ رسـول الـلّـه ﷺ دَ در
راشـه تـه تـابـع دَ مـديـنـې شـه دَ قـمـر
راشـه نيـغـه لار بـانـدې روان سـحـر مـابـنـام شـه
جـوړ دَ مـحـمـد رسـول الـلّـه ﷺ دَ در غـلام شـه
راشـه تـه روان پـه نيـغـه لار دَ مـصـطـفىٰ ﷺ شـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشـــهٔ تـــهٔ روان پـــه نيغـــه لاره دَ طـــهٰ شـــه
نُـــور بـــانـدې روان دَ مـحـمـد خيـر الانـام ﷺ شـه
جـوړ دَ مـحـمـد رسـول الـلّـه ﷺ دَ در غـلام شـه
راشـــهٔ تـــهٔ روان شـــه پـــه سـنـت اوپـــه قـرانٰ
لار بـــانـــدې روان شـــه دَ نبـــی اٰخـــرزمـــان
راشـــه تـــهٔ تـابـع دَهـريـو حـكـم دَ اسـلام شـه
جـوړ دَ مـحـمـد رسـول الـلّـه ﷺ دَ در غـلام شـه
راشـــهٔ تـــهٔ مـلـګـرے پـه دُنيـا كښـې دَ سـنـت شـه
اے احـمـده! راشـــه تـــهٔ روان پـــه شـريـعـت شـه
نُـــور ســـره روان تـــهٔ دَ دُنيـــا پـــه هـــر مـقـام شـه
جـوړ دَ مـحـمـد رسـول الـلّـه ﷺ دَ در غـلام شـه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تـعـريف دَ مـحـمـد رسـول الـلّـه ﷺ دے مـزيـدار
امـــام دَ امـــامـــانـــو دے دا سيّـــد الابـــرار
امـــام دَ امـــامـــانـو دے احـمـد نبـی اكـرم ﷺ
امـــام دَ امـــامـــانـو دَ عـــرب دے دَ عـجـم
پـــه دوجهـــان يـــاد شـوے دے لـقـب ســره سـردار
امـــام دَ امـــامـــانـــو دے دا سيّـــد الابـــرار
امـــام دَ امـــامـــانـــو دے اُوچـــت دے عـــاليشـــان
قسـم دے كـائـنـات كښـې دَ شـاهـانـو دے سـلطان

(c) ketabton.com: The Digital Library



محبوب دے په دُنیا کښې دَ اللّٰه پروردیګار
امام دَ امامانو دے دا سیّد الابرار
امام دَ امامانو دے حسین دَ دے جهان
امام دَ انبیاء او مُرسلین دَ دے جهان
تاجدار دَ مدینې دَ ټول جهان دے تاجدار
امام دَ امامانو دے دا سیّد الابرار
امام دَ امامانو دے صادقه دے امین
یاد شوے په قرآن کښې په طٰهٰ دے په یٰسین
ښائسته په هر صفت دے دَ دُنیا په هر یو دار
امام دَ امامانو دے دا سیّد الابرار
امام دَ امامانو دے دا شمس وقمر هم
امام دَ امامانو دے دا نُور دَ نظر هم
یاد شوے کائنات کښې هم په نور دے په انوار
امام دَ امامانو دے دا سیّد الابرار
امام دَ امامانو دے ساقی دے دَ کوثر
شفیع دَ مجرمانو دے یاد شوے دَ محشر
هم سپورے دَ رحمت دے دَ محشر په دغے دار
امام دَ امامانو دے دا سیّد الابرار
امام دَ امامانو دے موصوف په هر صفت
سخی په سخاوت کښې مثالی په محبت

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمده ! مثالی دے هم دَ پاك نبی گفتار
امام دَ امامانو دے دا سیّدالابرار

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راغلے راغلے راغلے دَ نبیانو محترم
دا دے محمد ﷺ عربی نور مجسّم
راغلے راغلے راغلے هدایت لـه دَ جهان
راغلے راغلے راغلے هدایت لـه دَ انسان
راغلے راغلے راغلے مجموعه دَ هر کرم
راغلے راغلے راغلے هغهٔ نُور دَ دے جهان
راغلے راغلے راغلے هغهٔ نُور دَ هر انسان
راغلے راغلے راغلے بنـهٔ مشفقه مکرَم
دا دے محمد ﷺ عربی نور مجسّم
راغلے راغلے راغلے دَ اللّٰه دَ ر نبی
راغلے راغلے راغلے نورانی قمر نبی
راغلے راغلے راغلے پـه صفت سره رحم
دا دے محمد ﷺ عربی نور مجسّم
راغلے راغلے راغلے نمر روښانه دَ جهان
راغلے راغلے راغلے عزتمنده عالیشان
راغلے راغلے راغلے قدرمند پـه هر قدم
دا دے محمد ﷺ عربی نور مجسّم

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغے راغے راغے هم ډیوه دَ صداقت
راغے راغے راغے مجموعه دَ سخاوت
راغے بادشاه راغے دَ عرب او دَ عجم
دا دے محمد ﷺ عربی نور مجسَم

راغے راغے راغے هم سپرلے دَ دے جهان
راغے راغے راغے هم میلمهٔ دَ لامکان
راغے راغے راغے معالج دَ هریو غم
دا دے محمد ﷺ عربی نور مجسَم

راغے راغے راغے دَ دُنیا ټولي امام
راغے راغے راغے هم رڼا دَ هر مابنام
راغے راغے راغے هم نوسے دے دَ آدمؑ
دا دے محمد ﷺ عربی نور مجسَم

راغے راغے راغے نورانی دَ بشر تاج
راغے راغے راغے دَ رنځور دَ زړهٔ علاج
راغے راغے راغے دَ رنځور دَ زړهٔ ملهم
دا دے محمد ﷺ عربی نور مجسَم

راغے راغے راغے نورانی نُور دَ ظلمت
نه ختمیږی دے سره دَ پاك نبی صفت
ما ئي نعت لیکلے دے په شکل دَ نظم
دا دے محمد ﷺ عربی نور مجسَم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

سپرلے دَ کائنات دَ ګلستان دے محمد ﷺ
یا ګل ددې دُنیا دَ دے جهان دے محمد ﷺ
یا اَ نُور ددې دُنیا دے پاس قمر ددے جهان
یا نمر روښانه شوې دَ دُنیا دے په اسمان
قسم دے نورانی ښکلے انسان دے محمد ﷺ
یا ګل ددې دُنیا دَ دے جهان دے محمد ﷺ
نۀ حُسن په دُنیا کښې ورته رسې دَ سحر
نۀ حُسن ورته رَسې دَ دُنیا دَیو بشر
حسین په کائنات کښې په بوستان دے محمد ﷺ
یا ګل ددې دُنیا دَ دے جهان دے محمد ﷺ
یا حُسن دَ قران دے یا دے حُسن دَ اذکار
یا جمع کائنات کښې ده دَ حُسن او انوار
قسم دے تاج دَ حُسن عالیشان دے محمد ﷺ
یا ګل ددې دُنیا دَ دے جهان دے محمد ﷺ
احمدعلی! دُنیا ئې ده عاشقه په سیرت
قسم دے دا دُنیا ئې ده عاشقه په صورت
حَسین په کائنات لکه ریحان دے محمد ﷺ
یا ګل ددې دُنیا دَ دے جهان دے محمد ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

سپرلے دَ کائنات دَ هريو درد دے محمد ﷺ
سکون دَ کائنات دَ هر بشر دے محمد ﷺ
سپرلے دَ کائنات دَ بحر وبر دے مصطفیٰ ﷺ
امام دَ مُرسلانو دے امام دَ انبياء
محبوب دَ کائنات دَ ربَ اکبر دے محمد ﷺ
سکون دَ کائنات دَ هر بشر دے محمد ﷺ
دا نُور دَ هر بشر دے هم دَ زړۀ دے اطمينان
ډيوه دَ هدايت ده هم رڼا دَ ټول جهان
رڼا په کائنات کښې دَ سحر دے محمد ﷺ
سکون دَ کائنات دَ هر بشر دے محمد ﷺ
قسم دے ښائسته ګل دے دَ دُنيا دَ ګلستان
حسين په هر محفل دے دَ دُنيا دَ ګلستان
خوشبو ددے جهان مشك وعنبر دے محمد ﷺ
سکون دَ کائنات دَ هر بشر دے محمد ﷺ
حَسين دَ حسينانو دے هم تاج دَ هريو سر
ياديږي اے احمده! کائنات کښې په افسر
په نُور دے منوّر خير البشر دے محمد ﷺ
سکون دَ کائنات دَ هر بشر دے محمد ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکاره په کائنات کښې لکه نمر دے محمد ﷺ
هم نُور دَ کائنات دے هم قمر دے محمد ﷺ

دا نُور دَ بحر وبر دے او دا نُور دے اسمان
دا نُور دد ے مکان دے او دا نُور دَ لامکان
هم نُور په کائنات کښې دَ سحر دے محمد ﷺ
هم نُور دَ کائنات دے هم قمر دے محمد ﷺ

دا نُور دَ مؤمنانو دے دا نُور دَ هر بشر
دا نُور دَ صالحانو دے دَا نُور دے تاج دَ سر
هم نُور په کائنات کښې دَ نظر دے محمد ﷺ
هم نُور دَ کائنات دے هم قمر دے محمد ﷺ

دَا نُور دَ عالمانو دے دَا نُور دَ هدایت
دا نُور په کائنات کښې دے سبب دَ سعادت
تل نُور دے محمد ﷺ هم منوّر دے محمد ﷺ
هم نُور دَ کائنات دے هم قمر دے محمد ﷺ

احمدعلی دا وائی منور نور دَ جهان دے
روښانه دَ دوی ذات سره مکان او لامکان دے
حَسین او لاثانی ښائسته بشر دے محمد ﷺ
هم نُور دَ کائنات دے هم قمر دے محمد ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راغـــے راغـــے راغـــے عـــالیشـــانـــه عـزتـمـنـد
دا دے مـــحـــمـــد ﷺ عـــربـی ډیـر دے قـــدرمـنـد
دا دے مـــحـــمـــد ﷺ عـــربـــی نُـــورډَ هـــري لار
نُـــورډَ کـــائـنـــات دے مـجـمـــوعـــه دَ نُـــور انـــوار
هـم دے لاثـــانـــی پـــه هـــر صـفـت دے سـربـلـنـد
دا دے مـــحـــمـــد ﷺ عـــربـــی نُـــورډَ لارے مَـــل
دا دے مـــحـــمـــد ﷺ عـــربـی نُـــورډَهـــر مـحـفـل
هـــريـــوقـــول ئـــي مينـــه ده او هـــريـــوقـــول ئـــي پـند
دا دے مـــحـــمـــد ﷺ عـــربـی ډیـر دے قـــدرمـنـد
دا دے مـــحـــمـــد ﷺ عـــربـــی نُـــور دے مـجسّـم
نشتـــه ئـــي مثـــال نـــهٔ پـــه عـــرب او پـــه عـجـم
دغـــه شـــان غـمـخـوار ددے اُمـت دے او دردمـنـد
دا دے مـــحـــمـــد ﷺ عـــربـی ډیـر دے قـــدرمـنـد
دا دے مـــحـــمـــد ﷺ عـــربـی اے احـمـدعـلـی!
دغـــه شـــان مـکـی مـدنـی هـم دے هـاشـمـی
شـــان دَ مـحـمـد ﷺ دے بـنـهٔ واضـحـه او ښـرګـنـد
دا دے مـــحـــمـــد ﷺ عـــربـی ډیـر دے قـــدرمـنـد

★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نـــورانـــی نُـــور دَ هـــرچـــائـــي مـــحـــمـــده ! ﷺ
نـــورانـــی رهبـــر زمـــا ئـــي مـــحـــمـــد ه ! ﷺ
نـــورانـــی نُـــور پـــه صـــفـــت کښـــي لامثـــال ئـــي
لامثـــال تـــهٔ مـــحـــمـــده! ﷺ پـــه جـــمـــال ئـــي
نـــورانـــی نُـــور دَ وفـــا ئـــي مـــحـــمـــده! ﷺ
نـــورانـــی رهبـــر زمـــا ئـــي مـــحـــمـــد ه ! ﷺ
نُـــورانـــی نُـــور دَ دُنیـــا دَ هـــر یـــودر ئـــي
نـــورانـــی نُـــور کـــائـــنـــات کښـــي دَ قـــمـــر ئـــي
نـــورانـــی نُـــورالهـــدیٰ ئـــي مـــحـــمـــده! ﷺ
نـــورانـــی رهبـــر زمـــا ئـــي مـــحـــمـــد ه ! ﷺ
نـــورانـــی پـــه هـــر صـــفـــت ئـــي پیـــدا شـــوے
نـــورانـــی پـــه شـــریـــعـــت ئـــي پیـــدا شـــوے
نـــورانـــی خیـــر الـــوریٰ ئـــي مـــحـــمـــد ه! ﷺ
نـــورانـــی رهبـــر زمـــا ئـــي مـــحـــمـــد ه ! ﷺ
نـــورانـــی دَ کـــائـــنـــات تـــهٔ اوّلیـــن ئـــي
نـــورانـــی دَکـــائـــنـــات تـــهٔ آخـــریـــن ئـــي
نـــورانـــی نُـــور مـــقـــتـــدائـــي مـــحـــمـــده! ﷺ
نـــورانـــی رهبـــر زمـــا ئـــي مـــحـــمـــد ه ! ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورانی امام دُنیا کښي هم زمائي

نورانی امام دُنیا کښي دَ هر چائي

نُورانی بدرالدجیٰ ئي محمده! ﷺ

نورانی رهبر زمائي محمده ! ﷺ

نورانی ئي محمده! ﷺ په صورت

احمد وائي نورانی ئي په سیرت

نورانی شمس الضحیٰ ئي محمده! ﷺ

نورانی رهبر زمائي محمده ! ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

وتلے مدیني ته په سفر دے محمد ﷺ

ملګرے دَ صدیقؓ خیر البشر دے محمد ﷺ

روان شو دَ مکي نه مدیني ته په هجرت

روان شُولو ملګرے دَ صدیقؓ دَ صداقت

ملګرے دَ صدیقؓ ددغے در دے محمد ﷺ

ملګرے دَ صدیقؓ خیر البشر دے محمد ﷺ

روان شُولو په حکم دَ اللّٰه غني سبحان

روان شو مدیني ته دغه ګل دَ ګلستان

امام دَ امامانو دے رهبر دے محمد ﷺ

ملګرے دَ صدیقؓ خیر البشر دے محمد ﷺ

روان شو دَ مکي نه دغه نُور دَ هدایت

(c) ketabton.com: The Digital Library



روان شـو دَ مـکـي نـه دغـه نُـور دَ سعـادت
مـحبـوب پـه کائنات دَ ربّ اکبـر دے مـحـمـد ﷺ
مـلـګـرے دَ صـدیـقؓ خیـر البشـر دے مـحـمـد ﷺ
روان شـو دَ مـکـي نـه دغـه نُـور دَ شـریـعـت
روان شـو دَ مـکـي نـه دَ دُنیـا دغـه رحـمـت
رحـمـت دَ عـالـمینـو پیغـمبـر دے مـحـمـد ﷺ
مـلـګـرے دَ صـدیـقؓ خیـر البشـر دے مـحـمـد ﷺ
مـلـګـرے دَ صـدیـقؓ دے دَ بهتـر نـه بهتـریـن
ملګـرے دَ صـدیـقؓ دے کـائـنات کښې ډیر حَسین
حسیـن پـه ټـول جهـان کښې لکـه نمر دے محمد ﷺ
مـلـګـرے دَ صـدیـقؓ خیـر البشـر دے مـحـمـد ﷺ
احـمـد عـلـي! خبـره مـختـصـر کـړه دَ هجـرت
هیـڅ کـلـه نـه ختـمیـږي دَ رسـول الـلّٰـه ﷺ صـفـت
بـالا پـه هـر صـفـت ددغـې در دے مـحـمـد ﷺ
مـلـګـرے دَ صـدیـقؓ خیـر البشـر دے مـحـمـد ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قـربـان شـۀ ټـول قـربـان شـۀ دَ جهـان ګلونـه ستـانـه
نبـي اٰخـر زمـانـه! ﷺ پـه ربّ بـانـدے ډیر ګـرانـه!
قـربـان شـۀ درنـه ستـوري پـرقیـدونـکـي دَ اٰسـمـان
قـربـان شـۀ درنـه نـمـر دا ځلیـدونـکـي دَ اٰسـمـان

(c) ketabton.com: The Digital Library



قـربـان درنـه سپـوږمـۍ دَ څـوارلسمـۍ شـۀ روښانـه
نبـي اخـرزمـانـه! ﷺپـه ربَ بانـدے ډیر ګـرانـه!
قـربان درنـه ښائستـۀ ښائستـه څیزونه دَ جهان شـۀ
قـربان درنـه ښائستـۀ ښائستـۀ څیـزونـه دَ اسمان شۀ
قـربـان شـمـه لتـانـه اے دَ دوجهـان سلـطـانـه!
نبـي اخـرزمـانـه! ﷺپـه ربَ بانـدے ډیر ګـرانـه!
تـاجـونـه درنـه زار دد ے جهـان دَ ګلستـان شـۀ
قـربـان درنـه یاقوت سره دُنیـا کښـې درَ مـرجان شـۀ
قـربـان لتـانـه هـرڅـه اے حسینـه مهـربـانـه!
نبـي اخـرزمـانـه! ﷺپـه ربَ بانـدے ډیر ګـرانـه!
قـربـان درنـه هـرڅیـز دد ے جهـان دَ بحـر وبـر د ے
قـربـان درنـه هـرڅیـز دد ے جهـان دَ هـریـو درد ے
احـمـد د ے بیـان کـړ ے دا صفـت د ے عـالیشـانـه!
نبـي اخـرزمـانـه! ﷺپـه ربَ بانـدے ډیر ګـرانـه!

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ګـل دَ ګـل پـه ورځـې پیـدا شـو ے پـه جهـان د ے
دا د ے مـحـمـد ﷺ زمـونـږ نبـي اخـرزمـان د ے
ګل دَ ګل په ورځـې پـه دُنیـا کښـې ربَ پیدا کـړلـو
بیـا ئـې پـه خپـل حُسـن دَ دُنیـا تـولـې جُدا کـړلـو
تـل حَسیـن یـاد شـو ے دَ نبیـانـو پـه سلطـان د ے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دے محمد ﷺ زمونږ نبی اٰخرزمان دے
ګل دَ ګل دَ ورځي نه هيڅ کله جُدا کيږي نه
بي له دغه ګله دغه ورځ ده بيانيږي نه
دغه ګل باعث دَ هريو څيز دَ هر انسان دے
دا دے محمد ﷺ زمونږ نبی اٰخرزمان دے
ګل سره دَ ګل ورځ شوه ښائستهٔ او عاليشانه ډير
ګل سره دَ ګل ورځ شوه ښائستهٔ هم قدردانه ډير
ځکه چي پيدا پکښي مشفقه مهربان دے
دا دے محمد ﷺ زمونږ نبی اٰخرزمان دے
ګل دَ ګل دَ ورځ سره يو ځائے به ترقيامته وي
ځکه مرتبه کښي به دا ورځ ډيره اُوچته وي
دا بيان ليکلے تول احمد ددے مردان دے
دا دے محمد ﷺ زمونږ نبی اٰخرزمان دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راغے راغے راغے عزتمنده دَجهان
دا دے محمد ﷺ عربی ډير دے عاليشان
راغے راغے راغے دَ نبيانو دا امام
راغے راغے راغے شُو روښانه هر مابنام
هم شو منوره هر ځنګل او بيابان
دا دے محمد ﷺ عربی ډير دے عاليشان

(c) ketabton.com: The Digital Library



نُور دَ محمد ﷺ عربي خورشو په هر لور
نُور دَ محمد ﷺ عربي خورشو کور په کور
نُور سره روښانه شوه هم زمکه او اسمان
دا دے محمد ﷺ عربي ډير دے عاليشان
نُور دَ محمد ﷺ سره رڼا شو کائنات
کور کور خه رڼا شوه دَ دُنيا دَ در حالات
نُور دَ محمد ﷺ دے ښائسته کړے گلستان
دا دے محمد ﷺ عربي ډير دے عاليشان
نُور سره رخصت شوے دَ دُنيا تولي تيري
نُور سره رخصت شوے دَهر خوا تولي تيري
اے احمد علي! راشه رڼا شو هر مکان
دا دے محمد ﷺ عربي ډير دے عاليشان

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ياد دَ دلبرانو په دُنيا کښي دے دلبر ﷺ زما
تل دے سلامونه وي په دغي پيغمبر ﷺ زما
تل دے سلامونه وي په دغي مصطفیٰ ﷺ نبي
تل دے سلامونه وي په نُور او په رڼا نبي
تل دے سلامونه وي په سيدالوریٰ ﷺ نبي
ياد دَ رهبرانو په دُنيا کښي دے رهبر ﷺ زما
تل دے سلامونه وي په دغي پيغمبر ﷺ زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـل دے سلامونـه پـه غـمخوارﷺ دَ غـريبانو وی

تـل دے سلامونـه پـه خوږيـارﷺ دَ غـريبانو وی

تـل دے سلامونـه پـه تـاجدار ﷺ دَ غـريبانو وی

تـل دے سلامونـه وی پـه نُـور دَ هـر سحرﷺ زما

تـل دے سلامونـه وی پـه دغـې پيغـمبرﷺ زما

تـل دے سلامونـه دَ نبيـانـو پـه امـام وی تـل

تـل دے سلامونـه دَ نيـکـانـو پـه امـام وی تـل

تـل دے سلامونـه دَ قـاريـانـو پـه امـام وی تـل

تـل دے سلامونـه وی پـه نُـور اوهغـے نمرﷺ زما

تـل دے سلامونـه وی پـه دغـې پيغـمبرﷺ زما

تـل دے سلامونـه پـه تـاجدار دَ مدينـې مـې وی

تـل دے سلامونـه پـه سردار دَ مدينـې مـې وی

تـل دے سلامونـه پـه غـمخوار دَ مدينـې مـې وی

وائـی احـمد وائـی هـر سلام پـه دے افسرﷺ زما

تـل دے سلامونـه وی پـه دغـې پيغـمبرﷺ زما

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راځـئ چـې تـذکـره وکـړو دَ سيَـدالابـرارﷺ

دَ ګـل ﷺ دَ دے ګـلـزار ، قسم دے ډير حسين دے

راځـئ چـې تـذکـره وکـړو دَ سيَـدالـرُسـل

راځـئ چـې تـذکـره وکـړو دَ دوجهـان دَ ګـل

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځــــئ چـــې تــذکـــره وکـــړو دَ پـــاك نبـــی دَ دار

دَ ګــل ﷺ دَ دے ګـلـزار ، قسم دے ډیر حسیـن دے

راځــــئ چـــې تــذکـــره وکـــړو دَ سَیــدالــعـــرب

دَ سَیــدالــعــجـم ســـره اُوچـــت ئـې دے نســب

راځــــئ چـــې تــذکـــره وکـــړو دَ دیـــن دَ تـــاجـدار

دَ ګــل ﷺ دَ دے ګـلـزار ، قسم دے ډیر حسیـن دے

راځــــئ چـــې تــذکـــره وکـــړو دَ خـــاتـم الـــرُّسـل

راځــــئ چـــې تــذکـــره وکـــړو دَ حُســـن دَ مـحـفـل

راځــــئ چـــې تــذکـــره وکـــړو دَ هـــرچـا دَ غـمخـوار

دَ ګــل ﷺ دَ دے ګـلـزار ، قسم دے ډیر حسیـن دے

راځــــئ چـــې تــذکـــره وکـــړو دَ نُـــور او دَ رنـــا ﷺ

راځــــئ چـــې تــذکـــره وکـــړو دَ سَیــدالــورٰی ﷺ

راځــــئ چـــې تــذکـــره وکـــړو دَ حُسـن دَ تـــاجدار ﷺ

دَ ګــل ﷺ دَ دے ګـلـزار ، قسم دے ډیر حسیـن دے

راځــــئ چـــې تــذکـــره کـــړو دَ نُـــور دَ هـدایـــت ﷺ

راځــــئ چـــې تــذکـــره وکـــړو دَ نُـــور دَ ســعـــادت ﷺ

راځــــئ چـــې تــذکـــره وکـــړو دَ پـــاك نبـــی دَ لار

دَ ګــل ﷺ دَ دے ګـلـزار ، قسم دے ډیر حسیـن دے

راځــــئ چـــې تــذکـــره وکـــړو دَ پـــاك نبـــی دَ ذات

راځــــئ چـــې تــذکـــره وکـــړو دَ دُوی دَ ټـول صـفـــات

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځــئ چــي ذکــروکــړو ورســره ئــي دَ رُخســار
دَ ګــل ﷺ دَ دے ګــلــزار ، قسـم دے ډيـر حسيـن دے
راځئ چي مونږه ياد کړو تول په جمع پاك حضرتﷺ
احمد وائــی پــه جـمع چــي مـونږ وکړو ئي صفت
راځــئ چــي تـذکـره وکــړو دَ پــاك نبــی ســردار ﷺ
دَ ګــل ﷺ دَ دے ګــلــزار ، قسـم دے ډيـر حسيـن دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

امـــام دَ تـــول جهـــان دَ مُـــرسـلـيـن شُـولـو پيـدا
دا ګــل ﷺ پــه کــائـنـات کښـي ډير حسين شولو پيدا
امـــام دَ مُـــرســـلانـــو صـــالـــحـــانو شــو پيـدا
امـــام دَ متـــقيـــانـــو عـــالـــمـــانـو شــو پيـدا
امـــام دَ امـــامـــانـــو پـــه يـقيـن شـولـو پيـدا
دا ګــل ﷺ پــه کــائـنـات کښـي ډير حسين شولو پيدا
امـــام دَ مُـــرســـلانــو شــو پيـدا پـــه دے جهـــان
روښــانـــه ئـي پــه نُـور سره کـړه زمـکــه او آسـمـان
مـحبـوب پــه کــائـنـات کښـي دَ متين شـولـو پيدا
دا ګــل ﷺ پــه کــائـنـات کښـي ډير حسين شولو پيدا
امـــام دَ مُـــرســـلانــو شـــوپيـــدا پـــه دي دُنـيـــا
حَسيـــن دا تـــول جهـــان شـولـو حسينـــه شـوه فـضـا
رحـــمــــت دَ دي دُنيـــا دَ عـــالـــميـن شـولـو پيـدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ګـل ﷺ پـه کـائـنـات کـښـې ډېر حسين شولو پيدا
امــام دَ مُــرسـلانــو شـو پيـدا پــه بـحــر و بــر
سپــرلــے دے دَ دُنيــا يــارا ختـلـے بــره نـمــر
شــفيــع دَ دې دُنيـــا دَ مـذنبيــن شــولــو پيــدا
دا ګـل ﷺ پـه کـائـنـات کـښـې ډېر حسين شولو پيدا
امـام دَ مُـرسـلانـو چــې پيـدا شـو کـوم سـاعـت
تيــرې شــولــې رخـصـت ددې دُنيــا دَ ضـلالــت
احـمـد وائـــى قسـم دے نيــازبيــن شــولــو پيــدا
دا ګـل ﷺ پـه کـائـنـات کـښـې ډېر حسين شولو پيدا

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تـــذکـــره ده عبـــادت دَ مــحــمــد ﷺ
تـــذکـــره ده هـــدايـــت دَ مــحــمــد ﷺ
کــــۀ تــــۀ غـــوارې مشـــرى دَ يـــو بشـــر
راشـــــه ګـــوره قيــــادت دَ مــحــمــد ﷺ
کـــۀ تـــۀ غـــوارې پـــه دُنيـــا کښــې رفــاقــت
راشـــــه ګـــوره رفـــاقــت دَ مــحــمــد ﷺ
کـــۀ تـــۀ غـــوارې خـــطـــابـت دَ دے جهـــان
راشـــــه ګـــوره خـــطـــابـــت دَ مــحــمــد ﷺ
کـــۀ تـــۀ غـــوارې نيـــابـــت پـــه دے جهـــان
نـــظـــر وکـــړه پــــه سيـــرت دَ مــحــمــد ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ تهٔ غواړې دَ سخیانو ملګرتیا
راشه ګوره سخاوت دَ محمد ﷺ

کهٔ تهٔ غواړې چې امین شم دَ جهان
راشه ګوره امانت دَ محمد ﷺ

کهٔ دَ خوږ او تریخ تمییز کولے نشے
راشه ګوره عبارت دَ محمد ﷺ

کهٔ منصب دَ امامت غواړے دُنیا کښې
راشه ګوره امامت دَ محمد ﷺ

اے احمد علی! سبب دَ شفاعت دے
تذکره دَ شفاعت دَ محمد ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

لیدلے چا به نهٔ وی په دُنیا داسے بشر ﷺ
بهترو نه بهتر ﷺ زمونږه پاك رسول ﷺ دے

لیدلے چا به نهٔ وی نهٔ په ژوند او په سیرت
لیدلے چا به نهٔ وی په ښائست او په صورت

لیدلے چا به نهٔ وی دَ دُنیا په بحر و بر
بهترو نه بهتر ﷺ زمونږه پاك رسول ﷺ دے

لیدلے چا به نهٔ وی نهٔ په زمکه او آسمان
لیدلے چا به نهٔ وی بل حَسین داسے انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدلے چاپه نۀ وی بل حَسین داسے افسر
بهتر و نه بهتر ﷺ زمونږه پاك رسول ﷺ دے
لیدلے چاپه نۀ وی نه په حُسن او جمال
لیدلے چاپه نۀ وی لاثانی بل لامثال
لیدلے چاپه نۀ وی بل دُنیا کښې په نظر
بهتر و نه بهتر ﷺ زمونږه پاك رسول ﷺ دے
لیدلے چاپه نۀ وی بل انسان داسے پیدا
ممتاز په هر صفت سره مشفقه رهنما
لیدلے چاپه نۀ وی بل ښائسته داسے قمر
بهتر و نه بهتر ﷺ زمونږه پاك رسول ﷺ دے
لیدلے چاپه نۀ وی بل حسین په نُور رڼا
لیدلے چاپه نۀ وی بل ښائسته په هر ادا
لیدلے چاپه نۀ وی داسے نُور دَبره نمر
بهتر و نه بهتر ﷺ زمونږه پاك رسول ﷺ دے
لیدلے چاپه نۀ وی یو بشر داسے رحمت
لیدلے چاپه نۀ وی مجسمه محبت
لیدلے چاپه نۀ وی داسے نُور دَ هر سحر
بهتر و نه بهتر ﷺ زمونږه پاك رسول ﷺ دے
لیدلے چاپه نۀ وی بل میلمه دَ لامکان
احمدعلی خبره مختصر کړه دَ بیان

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدلے چابه نۀ وی بل دُنیا کښې غټ رهبر
بهترو نه بهتر ﷺ زمونږه پاك رسول ﷺ دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

محبوب په کائنات کښې دَ متین شولو پیدا
شفیع دَ مذنبینو په یقین شولو پیدا
محبوب په کائنات دَ انبیاءؑ شولو پیدا
قسم دے دَ دُنیا خیر الوریٰ ﷺ شولو پیدا
امام په کائنات دَ صالحین شولو پیدا
شفیع دَ مذنبینو په یقین شولو پیدا
محبوب په کائنات دَ مسلمان شولو پیدا
محبوب په کائنات دَ ټول جهان شولو پیدا
محبوب دَ کائنات دَ متقین شولو پیدا
شفیع دَ مذنبینو په یقین شولو پیدا
محبوب په کائنات دَ ربَ اکبر شولو پیدا
محبوب دَ کائنات خیر البشر شولو پیدا
تاجدار دَ کائنات دَ هر حسین شولو پیدا
شفیع دَ مذنبینو په یقین شولو پیدا

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

محبوب په کائنات دَ ربَ اکبر شولو پیدا
قسم دے دا زمونږه پیغمبر ﷺ شولو پیدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتــلــو ســره پــه دوی دا تـول جهــان شـو مـنـوَر
راتــلــو ســره پــه دوی بـره اسـمــان شـو مـنـوَر
قسم دے چې پـه زمکـه ښـائسـتـۀ نمر شولو پیدا
قســم دے دا زمـونـــږه پیـغـمبـر ﷺ شـولـو پیـدا
راتـلـو ســره پــه دوی دا تـول جهــان رنـا رنـا شـو
راتـلـو ســره پــه دوی بــره اسـمـــان رنـا رنـا شـو
قســـم دے دَ دُنیــــا دَ در ســـحــــر شــولــو پیــدا
قســم دے دا زمـونـــږه پیـغـمبـر ﷺ شـولـو پیـدا
راتـلـو سـره پـه دوی تـولـه ښـائسـتـۀ دغـه دُنیا شوه
پـه نُور دَ هدایـت سـره ښـائستـه دا پـه هـر خوا شوه
قســم دے پــه تیـرو کـښــې چـې قـمـر شـولـو پیـدا
قســم دے دا زمـونـــږه پیـغـمبـر ﷺ شـولـو پیـدا
پــه دوی ســره رخـصــت شـوې دَ دُنیـا تیـرے تـورتـم
پیـــدا شــولـــو بـــادشـــاه هـم دَعــرب او دَعـجـم
قســـم دے پـــه دُنیـــا خیــر البشــر شـولــو پیـدا
قســم دے دا زمـونـــږه پیـغـمبـر ﷺ شـولـو پیـدا
بُتـــان دَ ضـــلالــت دَ دوی راتــلـو ســره شُـول مـات
بُتـــان دَ جـهــالــت دَ دوی راتـلــو سـره شُول مـات
قســـم دے عـــالیشـــان نُـــور رهبــر شـولـو پیـدا
قســم دے دا زمـونـــږه پیـغـمبـر ﷺ شـولـو پیـدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا بلـه شوه ډیوه دَ هدایت په هره لار
بیا بلـه شوه ډیوه دَ سعادت په هره لار
احمد وائی دُنیا کښې لوئے افسر شولو پیدا
قسم دے دا زمونږه پیغمبر ﷺ شولو پیدا

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مالیار په مدینه کښې دَ چمن شولو پیدا
مالك دَ مدینې دَ پاك وطن شولو پیدا
سردار دَ مدینې شولو پیدا په دے جهان
روښانه شوه دا زمکه هم روښانه شو اسمان
حَسین دَ ټول جهان په خپل بدن شولو پیدا
مالك دَ مدینې دَ پاك وطن شولو پیدا
سردار دَ مدینې شولو پیدا چې په مکه کښې
بیاجوړې خوشحالې شوې دَ دُنیا هره حصه کښې
هادی دَ ټول جهان هغه په تن شولو پیدا
مالك دَ مدینې دَ پاك وطن شولو پیدا
سردار دَ مدینې دے هم سردار دَ دوجهان
غمخوار دَ مدینې دے هم غمخوار دَ دوجهان
مالك دَ کائنات دَ هر معدن شولو پیدا
مالك دَ مدینې دَ پاك وطن شولو پیدا
سردار دَ مدینې دے دَ احمدعلی رهبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



طبیب دَ هر رنځور دے معالج دَ هر بشر

آرام دَ هریو غم دَ زنکدن شولو پیدا

مالك دَ مدینې دَ پاك وطن شولو پیدا

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نن ورځ دَ خوشحالۍ ده محترم شولو پیدا

هر ځائے ده خوشحالي نبی اکرم ﷺ شولو پیدا

هر ځائے ده خوشحالي دَ ولادت دَ محمد ﷺ

هر ځائے ده خوشحالي دَ قیادت دَ محمد ﷺ

علاج په کائنات کښې دَ هر غم شولو پیدا

هر ځائے ده خوشحالي نبی اکرم ﷺ شولو پیدا

هر ځائے ده خوشحالي په ولادت دَ مصطفیٰ ﷺ

هر ځائے ده خوشحالي دَ پاك الله په دے عطا

شفیع په کائنات کښې دَ اُمم شولو پیدا

هر ځائے ده خوشحالي نبی اکرم ﷺ شولو پیدا

هر ځائے کښې خوشحالي ده په راتللو دَ امین

هر ځائے کښې خوشحالي ده په راتللو دَ یٰسین

بادشاه هم دَ عرب او دَ عجم شولو پیدا

هر ځائے ده خوشحالي نبی اکرم ﷺ شولو پیدا

هر ځائے شو منوَره په رنا دَ محمد ﷺ

هر ځائے شو معطره په وینا دَ محمد ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشــفــقــه مهـريــانــه مـجسّم شـولـو پيــدا
هر ځـائـے ده خـوشـحـالـی نبی اکرم ﷺ شولو پيدا
هـر ځـائـے شـوي رنـاګـاني دَ تـوحيـد او دَ سـنت
هـر ځـائـے شوي رنـاګـانـي دَ رسول ﷺ دَ شـريعت
قسـم دے کـائـنـات کښـي تول رحم شـولـو پيـدا
هر ځـائـے ده خـوشـحـالـی نبی اکرم ﷺ شولو پيدا
رخـصـت شـولـي تـېـري دَ ضـلالـت دَ کـفـر وشـرك
رخـصـت شـولـي تـېـري دَ جهـالـت دَ کـفـر وشـرك
نـوسـے پـه کـائـنـات کښـي دَ ادم شـولـو پيـدا
هر ځـائـے ده خـوشـحـالـی نبی اکرم ﷺ شولو پيدا
احـمـدعـلـی هـم ذکـر دَ نبـی دَ ولادت
قسـم دے پـه دُنيـا کښـي دا اعلـیٰ دے عبـادت
صـفـت لـه دَنبـی دغـه قـلـم شـولـو پيـدا
هر ځـائـے ده خـوشـحـالـی نبی اکرم ﷺ شولو پيدا

تمت بحمد اللّٰه تعالیٰ وبتوفيقه

ربناتقبل منا انك انت السميع العليم وتب علينا انك انت التوّاب الرحيم
وصلی اللّٰه تعالیٰ علیٰ خير خلقه محمد واٰله واصحابه واهل بيته اجمعين
١٦ رمضان المبارك ١٤٣٦ ه
3 جلائی 2015ء

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

## حمدباری تعالیٰ

نشته نشته دے ثانی په بحروبر ځوک

نهٔ ثانی دے شی لیدے په تصوّر ځوک

نهٔ ثانی شته ستاپه ذات اوپه صفات کښي

نهٔ ثانی دے شی لیدے په لراوبر ځوک

تهٔ خالق ئي او مالك ئي ته رازق ئي

ستا په شان دلته کښي نشته باخبر ځوک

تهٔ قهار ئي او جبار ئي ته غفار ئي

مقابل دے دلته نشته په یودر ځوک

ته رحمٰن ئي او رحیم په ټول جهان ئي

ستاپه شان په جهان نشته مصوّر ځوک

تهٔ بادشاه دَ بادشاهانو دَ دُنیائي

ستاپه شان په جهان نشته بل پرور ځوک

تهٔ خالق د دغي بوټو دَ جهان ئي

راپیدا به نه کړی ستاپه شان شجر ځوک

لوئے لوئے غرونه دی په زمکه راپیدا کړهٔ

راپیدا به نهٔ کړی ستاپشان یو غر ځوک

د دنیا دي پیدا کړي هر سحر دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



راپیدا به نۀ کړي دلته یو سحر څوک
تۀ خالق دَ هر ما بنام او مازیګر ئې
نشته بل چه راپیدا کړي مازیګر څوک
دَ دُنیا دَ ټول حالاتو نه آګاه ئې
بې لتا نه دلته نشته باخبر څوک
اے احمد علی! دا ټول هرڅه دَ رب دي
نشته نشته په دُنیا کښې بل رهبر څوک

## حمد باری تعالیٰ

نۀ سپرلے او نۀ خزان وۀ بیا هم تۀ وې
نۀ وه زمکه نۀ آسمان وۀ بیا هم ته وې
نۀ ووکانړي نۀ اوچت اوچت وو غرونه
نۀ وو بوټي دا ښائسته ښائسته ګلونه
نۀ اُوبه وې نۀ روان دغه سیندونه
نۀ میوې وې نۀ ښائسته وو دا باغونه
نۀ وۀ عرش نه دا جهان وۀ بیا هم تۀ وې
نۀ مکان او لامکان وۀ بیا هم تۀ وې
نۀ تیاره وه نۀ ښائسته دغه رڼا وه
نۀ ژړا وه نۀ دالوبې او خندا وه
نۀ خلا وه دَ دُنیا او نۀ هوا وه
نۀ هوا کښې دَ مارغانو دا غوغا وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـــهٔ حيـوان اونـــهٔ انســـان وهٔ بيـــا هــم تـــه وي
نـــهٔ صـــحـــرا اوبيـــابـــان وهٔ بيـــا هــم تـــه وي
نـــــهٔ وهٔ ګـــل نــــــهٔ دَ ګـــلـــونـــو داګـــلـــزار وهٔ
نـــــهٔ مـــحـــفـــل وهٔ نـــــه داحســـن دَ دربـــار وهٔ
نـــــهٔ داژبـــــــه نـــــــهٔ دَ ژبـــــې داګـــفـتـــار وهٔ
نـــــهٔ چـــمـــن وهٔ دَ دُنيـــا اونـــــهٔ مـــاليـــار وهٔ
نـــهٔ نبيـــان اونـــهٔ وليـــان ووبيـــا هــم تـــهٔ وي
نـــهٔ نيـــکـــې اونـــهٔ نيـــکـــان ووبيـــا هــم تـــهٔ وي
نـــهٔ وهٔ نـــمـــررو ښـــانـــه شـــوي پـــه دې در
نـــهٔ رڼـــا وه پـــه اَســـمـــان بـــانـــدي قـــمـــر
نـــهٔ ووستـــوري ځـــليـــدونـــکـــې پـــه نـــظـــر
نـــــهٔ مـــا ښـــام وو دَ دُنيـــا اونـــــهٔ ســـحـــر
نـــهٔ وختـــونـــه دَ جهـــان ووبيـــا هــم تـــهٔ وي
نـــهٔ راڼـــده بيـــنـــا کســـان ووبيـــا هــم تـــهٔ وي
نـــــهٔ عـــرب وهٔ دَ دُنيـــا اونـــــه عـــجـــم وهٔ
نـــــهٔ رڼـــا وه دَ دُنيـــا اونـــــه تـــورتـــم وهٔ
نـــهٔ کـــرســـې وه دغـــه شـــان اونـــهٔ قـــلـــم وهٔ
نـــهٔ ودونـــه خـــوشـــحـــالـــې وي اونـــهٔ غـــم وهٔ
نـــهٔ وه ګـتـيـــه نـــهٔ نـقـصـــان وهٔ بيـــا هــم تـــهٔ وي
نـــهٔ يـــاقـــوت وهٔ نـــهٔ مـــرجـــان وهٔ بيـــا هــم تـــهٔ وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـــــــهٔ دوزخ وهٔ نــــــهٔ پيـــدا دغـــــه جـنـــت وهٔ
نـــــــهٔ عـــــزت وهٔ دَ دُنيــــــا اونـــــــهٔ ذلـــــت وهٔ
نـــــهٔ وريــــځ وه اونــــهٔ سـپــورمے دَ رحـمـــت وهٔ
نـــهٔ نـــاصـــح وهٔ نـــهٔ مــوجـود ئـي نـصيحـت وهٔ
نـــــهٔ صـــــراط وهٔ نـــــهٔ ميـــزان وهٔ بيـــا هــم تــــهٔ وي
نـــــهٔ مـــحشــــر وهٔ نـــهٔ ميـــدان وهٔ بيـــا هــم تـــهٔ وي
نـــــــهٔ وهٔ سپيـــــن دَ دي دُنيــــــا اونـــــــهٔ وهٔ تـــور
نـــــــهٔ شــــــا هـــــــان وهٔ دَ دُنيــــــا اونـــــــهٔ وهٔ زور
نـــــــهٔ خپــــلـــــوان وهٔ دَ دُنيـــــانـــــــهٔ رور اوخــــور
نـــــهٔ صـــوبــــــه وهٔ نــــهٔ ضـــلــع وهٔ کــلــي کــور
نـــــهٔ احـــمـــد وهٔ نـــــهٔ مـــردان وهٔ بيـــا هــم تـــــهٔ وي
نـــــهٔ کـــافـــر اومســـلــمـــان ووبيـــا هــم تـــهٔ وي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

سپـــرلــے پــــه زمــکـــــه پـــه آسـمـــان راغـــے
ســــــردار دُنيـــــا کنبــــي دَ جهــــــان راغــــے
سپـــــرلـــــے پــــه بــــاغ اوپـــــه چـــمــن راغـــے
سپـــــرلـــــے هـــــرخـــواتـــــه پــــه وطـــن راغـــے
تـــــاجـــدار دُنيـــــا کنبــــي عــــاليشــــان راغـــے
سپـــرلــے پــــه زمــکـــــه پـــه آسـمـــان راغـــے
پـــــه سپـــرلـــې تـــول دي بـلـبـلان خـوشـحـالــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ پاك رسول دي عاشقان خوشحاله
دُنيا كښې نُور دَ لامكان راغـے
سپرلے په زمكه په آسمان راغے

مكه رڼا شوه ستا په نور سره نن
دا شوه رڼا په پاك حضورﷺ سره نن
محبوب دُنيا ته دَ رحمٰن راغے
سپرلے په زمكه په آسمان راغے

عرب رڼا شـۀ او ښائسته په نبی
رڼا رڼا شـۀ په مكی مدنی
دُنيا ته ګل دَ ګلستان راغے
سپرلے په زمكه په آسمان راغے

رڼا رڼا شـۀ دا عرب عجم
دا ټول رڼا شُول دَ نبی په قدم
احمده ! پاك نبی سلطان راغے
سپرلے په زمكه په آسمان راغے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چي موصوف په هر صفت دے
دا زمونږ نبی حضرت ﷺ دے
هم موصوفه په وفا دے
هم موصوفه په رڼا دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم موصوف په نور رحمت دے
دا زمونږ نبی حضرت ﷺ دے
هم موصوف په رهنما دے
هم موصوف په مقتدا دے
بل موصوف په سخاوت دے
دا زمونږ نبی حضرت ﷺ دے
هم کريم دَ دې دُنيا دے
هم رحيم دَ دې دُنيا دے
هم موصوفه په شفقت دے
دا زمونږ نبی حضرت ﷺ دے
هم موصوف دې په غمخوار
هم موصوف دې په تاجدار
تل ياد شوې په نُصرت دے
دا زمونږ نبی حضرت ﷺ دے
هم صادق دے هم امين دے
هم طٰهٰ دے هم يٰسين دے
بل هادی دَ هدايت دے
دا زمونږ نبی حضرت ﷺ دے
هم بنده دَ ربّ اکبر دے
دا زمونږ پيغمبر ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـــــل قـــــــاســــــم دَ مـــــحبــــــت دے

دا زمــــونــــــږ نبــــی حـــــضـــــــرت ﷺ دے

اے احـــــمــــــده ! هــــم ســــلـــــطـــــان دے

هـــــم ســــــاقـــــی دَ مسـلــــمــــــان دے

بـــــل شــــــافـــــع دَ خپـــــل امــــــت دے

دا زمــــونــــــږ نبــــی حـــــضـــــــرت ﷺ دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

بـوځـے مـدينـي تــه اِلهـی دغــه دُعــا مـي ده

خـوښــه مـدينــه دَ مـحـمـدرسول اللّٰـه ﷺ مـي ده

بـوځـے مـدينـي تـه يـا مـي بوځـے مصطفیٰ لـه تـهٔ

سيَـدالــوریٰ لــــه تـــهٔ دَ دوجهـــان رڼـــا لـــه تـــهٔ

دغــــه تــمــنــا مــــي ده اودغـــه الـتـجـا مـــي ده

خـوښــه مـدينــه دَ مـحـمـدرسول اللّٰـه ﷺ مـي ده

بـوځـے اِلهــی مـي دغــه در تــه دَ دُنيـا ښـکـلـے

بـوځـے الهــی مـي پيـغـمبـر تــه دَ دُنيـا ښـکـلـے

خـوښـه مـدينـه مـي ده او خـوښـه ئـي صـحـرا مـي ده

خـوښــه مـدينــه دَ مـحـمـدرسول اللّٰـه ﷺ مـي ده

بـوځـے الهــی مــا دَ رسـول الــلّٰـه ﷺ دربـارلـه تـهٔ

بـوځـے مـديـنـه کښـي مـا دَ دي امت غـمخـوارلـه تـهٔ

دا پـــه زړه ارمـــان مـــي دے دَ خـوږ زړګــی دوا مـــي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښه مدینه دَ محمدرسول اللّٰه ﷺ مې ده
بوځې الهی ما ته امام دَ مُرسلانو ته
بوځې الهی ما ته امام دَ متقیانو ته
خوښ مې دا امام دے او ئې خوښه هر ادا مې ده
خوښه مدینه دَ محمدرسول اللّٰه ﷺ مې ده
بوځې الهی ما ته غمخوار دَ غریبانو له
بوځې اِلهی ما ته غمخوار دَ یتیمانو له
دغه تمنا ددغې زړهٔ په دے دُنیا مې ده
خوښه مدینه دَ محمدرسول اللّٰه ﷺ مې ده
داسے احمد وائی اِله! بو موځې دې بنارته ته
یااِله مابوځې دَ رسول اللّٰه ﷺ دربارته ته
خوښه مدینې مې ده او خوښه ئې هوا مې ده
خوښه مدینه دَ محمدرسول اللّٰه ﷺ مې ده

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

خوښه مدینه مې ده او خوښه ئې فضا مې ده
ځکه دغه ګرانه په حضرت رسول اللّٰه ﷺ مې ده
خوښه مدینه مې ده او خوښ ئې هریودرزما
خوښه مدینه مې ده او خوښ ئې هرشجرزما
خوښه مدینه کښې دَ سحر ښکلے هوا مې ده
ځکه دغه ګرانه په حضرت رسول اللّٰه ﷺ مې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښه مدینه مې ده اوخوښ ئې هرانسان زما
خوښه مدینه مې ده اوخوښ ئې ګلستان زما
خوښه مدینې کښې دَ سحر ښکلے رڼا مې ده
ځکه دغه ګرانه په حضرت رسول اللّٰه ﷺ مې ده

خوښه مدینه مې ده اوخوښ ئې نوراونمر زما
خوښه مدینه مې ده اوخوښ ئې پاس قمر زما
خوښه مدینه کښې دَ مارغانو بیاثنا مې ده
ځکه دغه ګرانه په حضرت رسول اللّٰه ﷺ مې ده

خوښه مدینه مې ده اوخوښ ئې هردلبر زما
خوښه مدینه مې ده او خوښ ئې هرسحر زما
خوښه مدینه مې ده اوخوښه ئې صحرا مې ده
ځکه دغه ګرانه په حضرت رسول اللّٰه ﷺ مې ده

خوښه مدینه مې ده اوخوښ ئې هرګفتار زما
خوښه مدینه مې ده اوخوښ ئې هردربار زما
وایمه احمد ډیره دا خوښه دَ پخوا مې ده
ځکه دغه ګرانه په حضرت رسول اللّٰه ﷺ مې ده

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښائسته په ټول عالم کښې دے تاجدار ﷺ دَ مدینې
یادېږي مې ډیر ډیر خیر الابرار ﷺ دَ مدینې
ښائسته په ټول عالم کښې دے خیر الورئ زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عرب او په عجم کښې دے خیر الوریٰ زمونږ
ثانی په دُنیا نه لری سردار دَ مدینې
یادیږی مې ډیر ډیر خیر الابرار ﷺ دَ مدینې
ښائسته په هر مکان اولامکان کښې دَ دُنیا دے
ښائسته حسین دے ګل په ګلستان کښې دَ دُنیا دے
ثانی په دُنیا نه لری دلدار دَ مدینې
یادیږی مې ډیر ډیر خیر الابرار ﷺ دَ مدینې
ښائسته په ټول عالم کښې دے ښائسته په بحروبر
ښائسته ددې جهان دے ځلیدونکے بره نمر
قسم دے ډیر حسین دے هر ګفتار دَ مدینې
یادیږی مې ډیر ډیر خیر الابرار ﷺ دَ مدینې
قسم دے ډیر حسین دَ مدینې دے هر یو ګل
قسم دے ډیر حسین دَ مدینې دے هر محفل
ښائسته دَ هر ګلزار نه دے ګلزار دَ مدینې
یادیږی مې ډیر ډیر خیر الابرار ﷺ دَ مدینې
قسم دے ډیر حسین دَ مدینې دی بره ستوری
رهبر ددغې دین دَ مدینې دی بره ستوری
ښائسته دَ هر یو در نه دے دربار دَ مدینې
یادیږی مې ډیر ډیر خیر الابرار ﷺ دَ مدینې
ښائسته په ټول عالم کښې دے محبوب دَ ربَ اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد دَ مردان وائی ډیر ښائسته دے دَ قمر
ښائسته په ټول عالم کښې دے غمخوار دَ مدینې
یادیږی مې ډیر ډیر خیر الابرار ﷺ دَ مدینې

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رهبر دَ رهبرانو مصطفیٰ مدنی دے
رهبر زما اوستا په دے دُنیا مدنی دے
رهبر زما اوستاد دے او رهبر دَ ټول جهان
رهبر دے کائنات کښې دَ پیری او دَ انسان
رهبر په کائنات کښې دَ هرچا مدنی دے
رهبر دَ رهبرانو مصطفیٰ ﷺ مدنی دے
رهبر دے ترقیامته هر انسان له دَ دُنیا
رهبر دے ترقیامته ټول جهان له دَ دُنیا
رهبرد دے دُنیا دَ اولیاء مدنی دے
رهبر دَ رهبرانو مصطفیٰ ﷺ مدنی دے
رهبر دَ هر عالِم دے او رهبر دَ هر ولی
رهبر په کائنات کښې دَ دیندار دے متقی
رهبر دَ دې دُنیا دَ هر دانا مدنی دے
رهبر دَ رهبرانو مصطفیٰ ﷺ مدنی دے
رهبر دے لاثانی ددې دُنیا زمونږ نبی
راغلے نورانی ددې دُنیا زمونږ نبی

(c) ketabton.com: The Digital Library



قائد دَ کائنات خیر الوریٰ مدني دے
رهبر دَ رهبرانو مصطفیٰ ﷺ مدني دے
رهبر دے محمد ﷺ وائي احمد دا دَ مردان
نه دلته ئې ثاني شته نه ثاني ئې په آسمان
افضل په رهبرانو کښې طٰه مدني دے
رهبر دَ رهبرانو مصطفیٰ ﷺ مدني دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ډیر حسین خیر الوریٰ نبي ئې ته ئ
په نبیانو کښې بالا نبي ئې ته ئ
ته حسین دَ کُل عالم ئې پیغمبره! ﷺ
دَ عرب او دَ عجم ئې پیغمبره! ﷺ
په صورت شمس الضحیٰ نبي ئې ته ئ
ډیر حسین خیر الوریٰ نبي ﷺ ئې ته ئ
ته حسین ئې لاثاني ئې په خپل حُسن
بهترین ئې لاثاني ئې په خپل حُسن
په صورت بدر الدجیٰ نبي ئې ته ئ
ډیر حسین خیر الوریٰ نبي ﷺ ئې ته ئ
ته حسین ئې لاجواب ئې په خپل حُسن
ته حسین ئې نُور مهتاب ئې په خپل حُسن
مزمل سره طٰه نبي ئې ته ئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر حسين خيرالورىٰ نبی ﷺ ئې ته

ډېر حسين په هر صفت ئې پيغمبره! ﷺ

ډېر حسين په ټول سيرت ئې پيغمبره! ﷺ

ټول حسين په هر ادا نبی ئې ته

ډېر حسين خيرالورىٰ نبی ﷺ ئې ته

ته حسين ئې ستا په حُسن ټول فِدا دي

عاشقان دے کائنات کښې په هر خوا دي

نورانی نور دَ هر چا نبی ئې ته

ډېر حسين خيرالورىٰ نبی ﷺ ئې ته

ته حسين ئې دا احمد دَ مردان وائی

ته حسين ئې هر يو فرد دَ جهان وائی

لکه نور دَ هر صبا نبی ئې ته

ډېر حسين خيرالورىٰ نبی ﷺ ئې ته

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ

نور رهبر دَ کُل عالم نبی ئې ته

عزتمند مکرّم نبی ئې ته

ته رهبر دَ هر بشر ئې دَ دُنيا

ته رهبر دَ هر يو در ئې دَ دُنيا

نُور رڼا دَ هر تورتم نبی ئې ته

نور رهبر دَ کُل عالم نبی ﷺ ئې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



تۀ رهبر ئې لاثانی ئې رهنما
ته رهبر ئې لاثانی ئې په دُنیا
ډېر اوچت ئې محترم نبی ئې تۀ
نور رهبر دَ کُل عالم نبی ﷺ ئې تۀ

تۀ رهبر دَ ګمرانو دَ دُنیائې
تۀ رهبر دَ کافرانو دَ دُنیا ئې
تل قائد دلته هر دم نبی ئې تۀ
نور رهبر دَ کُل عالم نبی ﷺ ئې تۀ

تۀ رهبر دَ هر مشرك او بدعتی ئې
ته رهبر دَ مسلمان ئې متقی ئې
تۀ رهبر ئې هم کرم نبی ئې تۀ
نور رهبر دَ کُل عالم نبی ﷺ ئې تۀ

تۀ رهبر ئې دَ غریب او دَ مالدار
ته علاج ئې په دُنیا کښې دَ بیمار
تۀ رهبر ئې هم رحم نبی ئې تۀ
نور رهبر دَ کُل عالم نبی ﷺ ئې تۀ

تۀ رهبر ئې دَ احمد هم دَ مردان
تۀ رهبر ئې دَ دُنیا دَ هر انسان
هم علاج دَ هر یوغم نبی ئې تۀ
نور رهبر دَ کُل عالم نبی ﷺ ئې تۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ بهترونه بهتر نبی ئې تهٔ
محمد ﷺ خیر البشر نبی ئې تهٔ
تهٔ بهتر په خلائق کښې ئې دَ ربّ
ته بهتر ئې په عجم او په عرب
په دوی ټولو کښې افسر نبی ئې تهٔ
دَ بهترونه بهتر نبی ﷺ ئې تهٔ
هم بهتر ئې دَ آدمؑ او دَ عیسیٰؑ نه
هم بهتر ئې په دُنیا دَ انبیاء نه
غوره دارنګ پیغمبر نبی ئې تهٔ
دَ بهترونه بهتر نبی ﷺ ئې تهٔ
ته بهتر ئې دَ دُنیا دَ هر بشر نه
تهٔ ئې غوره کائنات کښې هر افسر نه
نور دُنیا کښې دَ نظر نبی ئې تهٔ
دَ بهترونه بهتر نبی ﷺ ئې تهٔ
تهٔ بهتر ئې درنه نشته بهتر بل
نه لیدے شی دَ دُنیا په یو محفل
ډیر عظیم په بحر و بر نبی ئې تهٔ
دَ بهترونه بهتر نبی ﷺ ئې تهٔ
تهٔ شمس الضحیٰ یادیږے دَ دنیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهٔ بدرالدجیٰ یادیږې دَ دُنیا
مزمل او مدثر نبی ئې تهٔ
دَ بهترونه بهتر نبی ﷺ ئې تهٔ

تهٔ بهتر ئې دابیان دے دَ احمد
دَ مقام دے معلوم نه دے دلته حد
تل محبوب دَ ربّ اکبر نبی ئې تهٔ
دَ بهترونه بهتر نبی ﷺ ئې تهٔ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ډیر عظیم په دې جهان نبی ئې تهٔ
لاثانی په هر بیان نبی ئې تهٔ
ډیر عظیم ئې په سیرت دَ دې دُنیا
مجسم ئې ټول رحمت ددې دُنیا
دَ نبیانو تل سلطان نبی ئې تهٔ
ډیر عظیم په دې جهان نبی ﷺ ئې ته

ډیر عظیم ئې نُور امام دَ انبیاء
ډیر عظیم ئې نُور امام دَ اولیاء
لاثانی په هر یوشان نبی ئې تهٔ
ډیر عظیم په دې جهان نبی ﷺ ئې تهٔ

اوَلین ئې مرتبه کښې په دُنیا
درته نه رسی دُنیا کښې انبیاء

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم نبي اخر زمان ﷺ نبي ئي ته
ډير عظيم په دي جهان نبي ﷺ ئي ته

هم خاتم ئي دَ نبيانو په جهان
ستانه وروستو راتلے نشي مُرسلان
لاثاني په هر مكان نبي ئي ته
ډير عظيم په دي جهان نبي ﷺ ئي ته

ته حسين ئي په خپل حُسن لاجواب
ته حسين ئي دَ دُنيا بره آفتاب
لكه ګل دَ ګلستان نبي ئي ته
ډير عظيم په دي جهان نبي ﷺ ئي ته

ته عظيم ئي په عظمت كښي بي مثاله
ته رحيم ئي په رحمت كښي بي مثاله
لكه نُور دَ پاس آسمان نبي ئي ته
ډير عظيم په دي جهان نبي ﷺ ئي ته

ډير عظيم ئي په اخلاقو محمده! ﷺ
ډير كريم ئي په اخلاقو محمده! ﷺ
هم محبوب دَ ربَ رحمٰن نبي ئي ته
ډير عظيم په دي جهان نبي ﷺ ئي ته

ډير عظيم ئي دَ احمد علي وينا ده
دا وينا د دي دُنيا دَ علماء ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ اللّٰــــه عــظـيــم احســـان نبــی ئـي تــهٔ
ډيــر عــظـيــم پــه دې جهــان نبــی ﷺ ئــي تــهٔ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ربّ چې پيدا کړے زمونږ پاک نبی حضور ﷺ دے
نــــور دے نـــور دے نــــور دے نـــور دے
نور دے محمد ﷺ عــربــی سيدالوریٰ ﷺ زمونږ
نــور دے مــحــمــد ﷺ عربـی نـور او دا رڼـا زمـونـږ
هـر کـو ځـه او کـلـے ئـې پـه نـور سـره معـمـور دے
نــــور دے نـــور دے نــــور دے نـــور دے
نور دے هـاشـمـی خيـر الابـرار ﷺ پـه هـر صفت سره
ذات لــری بشـــر تـول مجسم دے پـه رحـمـت سـره
مـقـتـدا رسـول اللّٰـه ﷺ اُوس هـم دَ کـوهِ طـور دے
نــــور دے نـــور دے نــــور دے نـــور دے
نـور دَ هـدايـت دَ شـفـاعـت دَ محبت دے تـول
نـور رڼـا هـغـه هم پـه سيرت او پـه صـورت دے تـول
نور دے هغـه شـان چې پـاك اللّٰـه تـه څنګ منظور دے
نــــور دے نـــور دے نــــور دے نـــور دے
نـور دے نـورانـی زمـونـږه پـاك خيـر البشـر ﷺ نبی
نـور دے نـورانــی ددې دُنيــا دغــه دلبــر ﷺ نبــی
دغــه شـان قـرآن کښــې هم پـه نـور سره مذکـور دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور دے نور دے نور دے نور دے

نور او بشر دواړه دے محبوب دَ ربّ اکبر نبی

یاد ساته احمدعلی هرځائے کښې سراسر نبی

ډك دَ هدایت نه دَ رسول اللّٰه ﷺ دستور دے

نور دے نور دے نور دے نور دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راغے پیغمبر دَ جَاءَ الْحَقّ شوې صداګانې

کور کښې دَ باطل شوې په دُنیا کښې ژړاګانې

حق دُنیا کښې خور شو هر طرف ته نور او نور شۀ

کله چې پیدا زمونږه پاك نبی حضور ﷺ شۀ

ختمې په دُنیا کښې دَ باطل شوې خنداګانې

راغے پیغمبر ﷺ دَ جَاءَ الْحَقّ شوې صداګانې

کله چې پیدا دَ دوجهان نبی روښانه شۀ

خلاص دَ ګمراهی نه داانسان دَ هریلا نه شۀ

ډکې شوې دَ نوره په دُنیا کښې هواګانې

راغے پیغمبر ﷺ دَ جَاءَ الْحَقّ شوې صداګانې

ډك په نور سره شو دَ نبی عرب عجم

بیا په نیغه لار شو دَ دُنیا بنی ادم

کله چې خورې ئې شوې دُنیا کښې ویناګانې

راغے پیغمبر ﷺ دَ جَاءَ الْحَقّ شوې صداګانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جَاءَ الْحَق وینا شوه دَ دُنیا په هر یو در
زَهَقَ الْبَاطِل شۀ دَ دُنیا نه سراسر
راشه دی راغلی دَ اسمانه رڼا ګانې
راغے پیغمبر ﷺ دَ جَاءَ الْحَق شوې صداګانې
دا احمد علی وائی باطل شو لو تس نس
واغسته ډیوه دَ رڼا دلته کښې هر کس
دا دَ ابرهیمؑ دی قبول شوې دُعاګانې
راغے پیغمبر ﷺ دَ جَاءَ الْحَق شوے صداګانې

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قربان لتانه اے مکی مدنی ! ﷺ
په الله ګرانه اے مکی مدنی ! ﷺ
دَ مدینې منورې دلبره
په مخلوقاتو کښې خیر البشره! ﷺ
ډیر ئې حسین اے منوره! ﷺ نمره
کامل جانانه اے مکی مدنی ! ﷺ
قربان لتانه اے مکی مدنی ! ﷺ
نه رسی څوك درته په حُسن وجمال
ځکه قربان شۀ درنه حضرت بلالؓ
چې ئې موندلے وۀ په عشق کښې کمال
ماهِ تابانه اے مکی مدنی ! ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



قربان لتانه اے مکی مدنی ! ﷺ

که مدینه ده ستا نسبت سره ده

دا نوراني ستا هدایت سره ده

دا ښائسته شوي ستا رحمت سره ده

دوست دَ سبحانه اے مکی مدنی! ﷺ

قربان لتانه اے مکی مدنی! ﷺ

ناست زهٔ احمد دے دَ روضې سره وِي

ناست زهٔ نزدې ستا مصلې سره وِي

ژوندون مې ټول دَ مدینې سره وِي

ډیر عالیشانه اے مکی مدنی! ﷺ

قربان لتانه اے مکی مدنی! ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ستا په دیدن پسې وجود مې ټول کړیږي

نور انتظار انتظار رانه نهٔ کیږي

ستا په دیدن پسې کړیږمه ختم الرسله! ﷺ

ستا په وطن پسې کړیږمه ختم الرسله! ﷺ

په انتظار انتظار دا ټول بدن مې ویلے کیږي

نور انتظار انتظار رانه نهٔ کیږي

ستا په دیدن پسے کړیږمه خیر البشره ! ﷺ

بل کائنات کښې درنه نشته په دُنیا بهتره ! ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دي حالت کښې په ماورځې شپې تيرېږي
نور انتظار رانه نهٔ کيږي
ستا په ديدن پسے کړيږمه اے نور ورنا
تهٔ ئې ممتاز په کائنات کښې په هرقول اوادا
په دے حالت کښې زما عمر دے لنډيږي
نور انتظار رانه نهٔ کيږي
مينه په زړهٔ کښې مې پرته ده دَمکې مدنې
مينه ليمهٔ کښې مې پرته ده دَ مکې مدنې
بې له ديدنه دغه زړهٔ نهٔ قلاريږي
نور انتظار رانه نهٔ کيږي
مينه په زړهٔ کښې هرساعت مې دَ مکې سره ده
مينه په زړهٔ کښې دَ احمد دَمدنې سره ده
عاشقان کله په ديدن باندې مړيږي
نور انتظار رانه نهٔ کيږي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زما زړهٔ کښې دَ مدينې مينه اُوسيږي
دَ زړه علاج په دغې کيږي
مينه په زړهٔ کښې مې وسيږي دا وطن ددې دے
په دې جهان دَ اُوسيدو دغه چمن دَ دې دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیمـــاران زړونـــه تـول پـــه دې سـره رغیـــږي
دَ زړه عـــــلاج پـــــــــه دغـــــي کیـــــــږي
زړۀ دا قـــرار دَ مـــدینـــې مـنـــورې دے دلتــــه
هـــم دغــــه ښـار دَ مـدینې مـنـورې دے دلتــه
عــاشـقــان خـلق پـه دې ښـار کښې پـاتې کیـږي
دَ زړۀ عـــــلاج پـــــــــه دغـــــي کیـــــــږي
دغــــه قـــرار دَ مـدینـــې دَ تـــاجـدار دے دلتـــه
دغــــه قـــرار دَ مـدیـنـــې دَ حُسـن دار دے دلتــه
کـــلـــــه دا میـنـــــه پټیـــدو سـره پټیـــږي
دَ زړۀ عـــــلاج پـــــــــه دغـــــي کیـــــــږي
دغــــه مسـکـن دَ مـدینـې دَ پیـغـمبـر دے هـم
دغــــه مسـکـن دَ دلبـرانـو دَ دلبـر دے هـم
تـــل رحـمتـونــه پـه دې کـور بـانـدې وریـږي
دَ زړۀ عـــــلاج پـــــــــه دغـــــي کیـــــــږي
دغــــه قـــرار دَ متـقیـــانـو دَ رهبـر دے هـم
دغــــه قـــرار دَ عــالـمـانـو دَ رهبـر دے هـم
ګـــلـونـــه دلتــه کښـې دَ حُسـن راوریـــږي
دَ زړۀ عـــــلاج پـــــــــه دغـــــي کیـــــــږي
دغــــه قـــرار دَ اوَلیـن دے پـه دُنیـا احـمـده !
پــه تـول جهـان کښـې خـوره شـوې تـرې رڼـا احـمده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــه دغـــې نـور سـره دُنيـا تـولـــه ځـليــږي
دَ زړۀ عــــلاج پــــــه دغــــې کيـــــږي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زمــا پــه زړۀ کښـې دَ رسـول ﷺ مينـــه اُسيـــږي
دَ زړۀ عــــلاج پــــــه دغــــې کيـــــږي
دَ زړۀ عـلاج دے دغـــه مينـــه دَ رسول ﷺ عـربـي
دَ زړۀ عـلاج دے دغـــه ميـنـــه دَمـکـي مـدنـي
زمــا دَ زړه نـــه دغـــه ميـنـــه نـۀ بيـلـيــږي
دَ زړۀ عــــلاج پــــــه دغــــې کيـــــږي
دَ زړۀ عـلاج دے دغـــه ميـنـــه هـر انســان دَ پـاره
دَ زړۀ عـلاج دے دغـــه ميـنـــه تـول جهـان دَ پـاره
تـــول لاعــلاج مــريـضـــان دې ســره رَغيـــږي
دَ زړۀ عــــلاج پــــــه دغــــې کيـــــږي
دَزړۀ عـلاج دے دغـــه ميـنـــه هـر طبيـب لـره هـم
دَزړۀ عـلاج دے دغـــه ميـنـــه هـر اديـب لـره هـم
ډيـر دی نـاپـوهـه چې پـه دغـې نـۀ پـوهيـږي
دَ زړۀ عــــلاج پــــــه دغــــې کيـــــږي
دَ زړۀ عـلاج دے لاثـــانـــي داعـــالـمـان وائـــي
دغــــه عــلاج دے روحـــانـــي دا عــالـمـان وائـــي
دغــــه عــلاج دَ هـرعـــاشـق دے چـې کـريـږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ زړۀ عـــــلاج پـــــــه دغــــي کيـــــږي
دَ زړۀ عـلاج دے دغــه ميـنــه سـراسـر زمونــږه
دَ زړۀ عـــلاج د دلبـــرانـــو دے دلبـــر زمـــونـــږه
هــريــو رنــځــور پـــه دي دوا ســره ښـــۀ کيـــږي
دَ زړۀ عـــــلاج پـــــــه دغـــــي کيــــــــږي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ مــکـــي او مــديــنـــي نـــه قــريـــان شــمـــه
دَ رســول ﷺ پـــاکـــي روضـــي نـــه قــريـــان شمـــه
اوسيـــدلـــے پـــکښـــي ســـرورِ عــــالـــم دے
دَ دُنيــــا دغـــي ډيـــوي نـــه قـــريـــان شـــمـــه
هـغـــه لار چـــي مـعـطـــره پـــه نبـــی ﷺ ده
هـغـــي لارې او کـــوڅـــي نـــه قـريـــان شـمـــه
هـغـــه ځـــائـــے چـــي دَ آرام دَ مـحـمـد ﷺ دے
دَ دُنيـــا دغـــي حـصـــي نـــه قـريـــان شـمـــه
هـغـــه ځـــائـــے چـــي مـنـوره پـــه نبـــی دے
ددي ځـــائـــے دَمـــرتبـــے نـــه قـريـــان شـمـــه
چـــي نسبـــت ئـــي دَ رســـول الـلّـــه ســره دے
هـغـــه ځـــائـــے هـغـــي ذرې نـــه قـريـــان شمـــه
لاثـــانـــی ورســـره ميـنـــه دَ اصـحـــابؓ وه
دَ اصـحـــابؓ دَ عـقيـدے نـــه قـريـــان شمـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه مـجـلـس کښې دَ اصحـابؓ سره ئې نـاستـه
دَ رسـول ﷺ دَ غـې جـذبـې نـه قـربـان شـمـه
اے احـمـد عـلـی هـم آل دَ مـحـمـد ﷺ شتـه
دَ هـر يـو دَ مـرتبـې نـه قـربـان شـمـه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

پـه عـاشـقـانو کښې عـاشق دَ پـاك نبـی ﷺ يمـه زهٔ
يـوامتـی يـمـه زه يـو امتـی يـمـه زهٔ
يـوامتـی يـوامتـی يـوامتـی يـوامتـی يمـه زهٔ
ستـا پـاك نبـی يمـه زه ستـا پـاك نبـی يمـه زهٔ
ستـانـه لـوګـی بـه دَ دُنيـا واړه څيـزونـه کـړمـه
ستـانـه لـوګـی بـه دَ دُنيا پاس آسمـانـونـه کـړمـه
ستـانـه لـوګـی بـه دَ دُنيا ټـول نعـمتـونـه کـړمـه
څـکـه عـاشـق دے اے مـکـی زه حـقيقی يمـه زهٔ
يـوامتـی يـوامتـی يـوامتـی يـوامتـی يمـه زهٔ
ستـا پـاك نبـی يمـه زه ستـا پـاك نبـی يمـه زهٔ
ستـاقـربـان بـه ټول جهـان پـه خوښـوواري کـړمـه
ستـاقـربـان بـه نـمر روښـان پـه خوښـو واري کـړمـه
ستـانـه قـربان بـه داخپـل ځان پـه خوښـو واري کـړمـه
څـکـه عـاشـق ستـا اے مـکـی اے مدنی يمـه زهٔ
يـوامتـی يـوامتـی يـوامتـی يـوامتـی يمـه زهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستـــا پـــاك نبـــی یمـــه زه ستـــا پـــاك نبـــی یمـــه زهٔ

ستـــانـــه قـــربان بـــه جنتـــونـــه دَ خپـــل ربَ كـــرمـــه زهٔ

ستـــانـــه قـــربـــان بـــه راحتـــونـــه دَ خپـــل ربَ كـــرمـــه زهٔ

ستـــانـــه قـــربان بـــه عـــظـــمتـــونـــه دَ خپـــل ربَ كـــرمـــه زهٔ

څـــكـــه عـــاشـــق دَ دي دُنیـــا ستـــا عـــربـــی یمـــه زهٔ

یـــوامتـــی یـــوامتـــی یـــوامتـــی یـــوامتـــی یمـــه زهٔ

ستـــا پـــاك نبـــی یمـــه زهٔ ستـــا پـــاك نبـــی یمـــه زهٔ

ستـــانـــه قـــربـــان بـــه دا مـــردان اوپاكستـــان كـــرمـــه زهٔ

احـــمـــدعـــلـــی وائـــی قـــربـــان درنـــه بیـــان كـــرمـــه زهٔ

درنـــه قـــربـــان دَ دي دُنیـــا هـــر گلستـــان كـــرمـــه زهٔ

څـــكـــه پـــه میـــنـــه كښـي رسـولـــه ستـــا ستـی یمـــه زهٔ

یـــوامتـــی یـــوامتـــی یـــوامتـــی یـــوامتـــی یمـــه زهٔ

ستـــا پـــاك نبـــی یمـــه زه ستـــا پـــاك نبـــی یمـــه زهٔ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ ژونـــد بـــه هلـــه خونـــد ئـي مـدینـــه كښـي تیـریـدے

وِي پـــاكـــي مـــدیـــنـــه كښـي دَ رسـول ﷺ سـره نـزدے

ښـــائستـــه بـــه مـــي داژونـــد ئـــي دَ دُنیـــا دَ هـــر یـــودر

ښـــائستـــه بـــه مـــي داژونـــد ئـــي پـــه دُنیـــا كښـي سـراسـر

روضـــه دَ پـــاك رسـول ﷺ چـــي مـخـــامـخ وے مـا لیـدے

وِي پـــاكـــي مـــدیـــنـــه كښـي دَ رسـول ﷺ سـره نـزدے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښـائسته بـه مې داژوند ئې په سکون اوپه آرام
ښـائسته به مې دا ژوند ئې دَ دُنيا په هرمقام
دَ پاك رسول اللّٰه ﷺ ښكلي روضې ته مې كتے
وِي پاكې مدينه كښې دَ رسول ﷺ سره نزدے
ښـائسته به مې دَ ژوند وي هرلمحه اوهرساعت
ښـائسته به مې دَ ژوند وي دالمحې دَ عبادت
ښـائسته به مې په ژوند وي دَ دُنيا ورځې اوشپې
وِے پاكے مدينه كښې دَ رسول ﷺ سره نزدے
ښـائسته به زما حال وي دَ دُنيا ددے جهان
ښـائسته به زما حال وي دَ دُنيا دَ ګلستان
دَ اُوس نه ترقيامته پورے هلته اُسيدے
وِي پاكې مدينه كښې دَ رسول ﷺ سره نزدے
احمده ستا به حال وے ښهٔ ښائسته دَ دې دُنيا
دُنيا به دې ښائسته وي او آخر به دے رڼا
ارمان دے مدينې نه زهٔ هيڅ كله نه وَتے
وِي پاكې مدينه كښې دَ رسول ﷺ سره نزدے

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ

راغلے مدينې منورې كښې دے سپرلے
رخصت شوې له دُنيا نه دَ تورتم تولے تيرې
راغلے مدينې ته دَ نبيانو دے امام ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلے مدینې ته دے حضرت خیر الانام ﷺ
دُنیا شوه منوره دَ جهان ذرې ذرې
رخصت شوے له دُنیا نه دَ تورتم تولے تیرې
راغلے دے خاتم دَ انبیاؤ مُرسلانو
راغلے دے رهبر دَ کائنات دَ رهبرانو
دُنیا کښې رڼاګانې هر طرف ته شوے خورې
رخصت شوے له دُنیا نه دَ تورتم تولے تیرې
راغلے اوّلین دے آخرین دَ دې جهان
راغلے کائنات کښې بهترین دَ دې جهان
دَ نور دَ محمد ﷺ شوے په هرلور باندے نعرې
رخصت شوے له دُنیا نه دَ تورتم تولے تیرې
راغلے دے هادي تولې دُنیا ته هدایت
راغلے دے رحمت او مجسم دے محبت
رڼا شوهٔ آبادې ورسره غرونه او درې
رخصت شوے له دُنیا نه دَ تورتم تولے تیرې
اعلیٰ دے ډیر اعلیٰ دغه رحمٰن راته وئیلی
اعلیٰ دے ډیر اعلیٰ دغه قرآن راته وئیلی
ګواه ئې په مقام دی دَ قرآن دیرش سپارې
رخصت شوے له دُنیا نه دَ تورتم تولے تیرې
راغلے دے احمده په آخر کښې دَ نبیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقام ئي دے اعلیٰ دَ کائنات دَ مُرسلانو
کوُلے شئ دَ نُور ئي په دُنیا کښي نظارې
رخصت شوې له دُنیا نه دَ تورتم تولے تیرې

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

خوند کوي ډیر خوند دَ مصطفیٰ دَ در ګلونه
تل په دُوی وریږي دَ آسمانه رحمتونه
تل کوي ډیر خوند دَ مصطفیٰ ﷺ دَ در هوا
تل کوي ډیر خوند دَ مصطفیٰ ﷺ دَ در رنا
تل کوي ډیر خوند په مدینه کښي آوازونه
تل په دُوی وریږي دَ آسمانه رحمتونه
تل کوي ډیر خوند دَ مدینې ښائسته فضا
تل کوي ډیر خوند دَ مدینې نور دَ صبا
تل په دې ختمیږي دَ دُنیا دَ در غمونه
تل په دُوی وریږي دَ آسمانه رحمتونه
تل کوي ډیر خوند دَ مصطفیٰ ﷺ هره ادا
تل کوي ډیر خوند دَ مصطفیٰ ﷺ خوږه وینا
تل په دے رغیږي دَ دُنیا دا مرضونه
تل په دُوی وریږي دَ آسمانه رحمتونه
تل کوي ډیر خوند دَ مدینې نوراو رنا
تل کوي ډیر خوند دَ مدینې دَ در دوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي ســره رغيــږي دَ دُنيـا واړه زخـمـونـه
تـل پـه دُوی وریـږي دَ آسـمـانـه رحـمتـونـه
تـل کـوی ډیـر خـونـد دَ مـدینـې ښـکلـے صـفت
راشـه دَ احـمـدعـلـی نـه واوره حـقیـقـت
راشـه ډیـر ښـائستـه دَ مـدیـنې دی مـحـفلـونـه
تـل پـه دُوی وریـږي دَ آسـمـانـه رحـمتـونـه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښـکـلـے مـدَینـه ده هـم ئـې ښـکلـی دی یـادونـه
ځـکـه پـاك رسـول دلتـه دی ایښـی قـدمـونـه
ذکـر کـوی خـونـد دَ مـدیـنـې دَ دردَ ګـل ﷺ
څـومـره کـوی خـونـد ورتـه دُنیـا کښـې بیـاکتـل
دے ســره ورځـی دَدې دُنیـا دَ درزخـمـونـه
ځـکـه پـاك رسـول ﷺ دلتـه دی ایښـی قـدمـونـه
ذکـر کـوی خـونـد دَ مـدیـنـې دَ هـرمـحـفـل
نشتـه پـه دُنیـا کښـې ښـائستـه داسـے مـحـفـل بل
دغـه مـحـفـلـونـه دَ دُنیـا دی جـنتـونـه
ځـکـه پـاك رسـول ﷺ دلتـه دی ایښـی قـدمـونـه
ذکـر کـوی خـونـد دَ مـدیـنـې دَ هـریـودر
ذکـر کـوی خـونـد دَ مـدیـنـې دَنـورا و نـمـر
هـروختـے وریـږي دَ نـور دلتـه بـارانـونـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څکه پاك رسول ﷺ دلته دي ایښی قدمونه
ذکر کوي خوند دَ مدینې دَ هر سحر
ذکر کوي خوند دَ مدینې دَ هر شجر
نښته په دُنیا دَ مدینې په شان باغونه
څکه پاك رسول ﷺ دلته دي ایښی قدمونه
ذکر کوي خوند دَ مدینې دَ صحراګانو
هم دَ یتیمانو غریبانو مسکینانو
اے احمدعلی په دُوی وریږي رحمتونه
څکه پاك رسول ﷺ دلته دي ایښی قدمونه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نن راته رایاده مدینه چې دَ طٰه ﷺ شوه
زړهٔ زخمي دُنیا له مې طبیبه دَ دُنیا شوه
نن راته رایاده مدینه دَ محترم ﷺ چې شوه
نن راته رایاده مدینه دَ مکرَم ﷺ چې شوه
زړهٔ زخمي دُنیا له مې علاج سره شفا شوه
زړهٔ زخمي دُنیا له مې طبیبه دَ دُنیا شوه
نن راته رایاده مدینه دَ مدني ﷺ چې شوه
ښه راته رایاده تصوَر کښې دَ مکي ﷺ چې شوه
زهٔ شوم په سکون څکه دَ زړهٔ دغه دوا شوه
زړهٔ زخمي دُنیا له مې طبیبه دَ دُنیا شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن راته راياده مدينه دَ تاجدار چي شوه
نن راته راياده مدينه دَ نور انوار چي شوه
زړۀ لره علاج دَ دي دُنيا زما هم دا شوه
زړۀ زخمي دُنيا له مي طبيبه دَ دُنيا شوه
زه احمدعلي وايم طبيبه مدينه مي شوه
زه يم خوش قسمته چي نصيبه مدينه مي شوه
هم په دين کښي ما دَ پاره دغه رهنما شوه
زړۀ زخمي دُنيا له مي طبيبه دَ دُنيا شوه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تۀ که ليدل غواړي په دُنيا کښي جنتونه
راشه جنتونه دَ رسول دي محفلونه
راشه محفلونه جنتونه دَ رسول ﷺ دي ټول
دا ښکلي باغونه جنتونه دَ رسول ﷺ دي ټول
دغه شان ښائسته دي دَ رسول اللّٰه ﷺ ګلونه
راشه جنتونه دَ رسول ﷺ دي محفلونه
راشه محفلونه جنتونه دَ دُنيا دي دا
راشه محفلونه جنتونه دَ رڼا دي دا
دلته جمع شوي دَ دُنيا دي رحمتونه
راشه جنتونه دَ رسول ﷺ دي محفلونه
راشه محفلونه جنتونه دَ جهان دي دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشــــۀ مــحــفــلــونــــه جـنـتــونـــه عــالـيشــان دي دا
راشــــۀ مــحــفــلــونــــه جـنـتــونـــه عــالـيشــان دي دا
راشـــۀ جـنـتــونـــه دَ رســول ﷺ دي مــحــفــلـونـــه
راشــــۀ مــحــفــلــونــــه جـنـتــونـــه مـعـطـر دي دا
راشــــۀ مــحــفــلــونــــه جـنـتــونـــه مـنـوَر دي دا
دلتـــه خـوشــحــالـۍ دي نشتــه دلتــه کښي غـمـونـه
راشـــۀ جـنـتــونـــه دَ رســول ﷺ دي مــحــفــلـونـــه
راشــــۀ مــحــفــلــونــــه جـنـتــونـــه ســراســر دي دا
وائـــي دَ مــردان احــمــد پـــه تـولـوکښـي بهتــر دي دا
تــل پــه دغـې ځــائـے بــانـدې وريــږي سـلامـونـه
راشـــۀ جـنـتــونـــه دَ رســول ﷺ دي مــحــفــلـونـــه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ستــرګـــې يــخــوي دَ مــحــمــد ﷺ دَ در ګـلـونـــه
دابـــکـــلـــی بـــاغــونـــه دي او دا دي جـنـتــونـــه
دابـــکـــلـــی بـــاغــونـــه دي دَ در دَ مــحــمــد ﷺ
تــول دي مـعـطــره پـــه اثـــر دَ مــحــمــد ﷺ
زرۀ تــکـــوروی دَ دې دُنيـــا دغـــه يـــادونـــه
دابـــکـــلـــی بـــاغــونـــه دي او دا دي جـنـتــونـــه
دابـکـلـی بـــاغـونـــه دي هر ګـل ئې لاثـانـی دے
دا دَ هـــر رنـــځـــور دَ زړۀ عـــلاج روحـــانـــی دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے سره ختميرې دَ دُنيا دَ درغمونه
دا ښکلې باغونه دي او دا دي جنتونه
دا ښکلې باغونه دي ښائسته دَ دې جهان
دے کښې زرغون شوي دي ګلونه دَ ريحان
نشته دَ ښائست ے په دُنيا کښې مثالونه
دا ښکلې باغونه دي او دا دي جنتونه
دا ښکلې ګلونه دي احمده دَ دُنيا
دلته کښې چينې دَهدايت دي دَ رڼا
هم په دې اُوبو سره رغيږي دغه زړونه
دا ښکلې باغونه دي او دا دي جنتونه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نهٔ ختميرې دا تعريف اوبيان ستا
محمده ﷺ! مدح خوان دے رحمٰن ستا
تهٔ ميلمه دَ لامکان ئې اے رسوله! ﷺ
تهٔ ميلمه دَ پاك سبحان ئې اے رسوله! ﷺ
نه مريږي په تعريف عاشقان ستا
محمده ﷺ! مدح خوان دے رحمٰن ستا
کله ستا تعريف ختميږي په عالم
ټول عرب دے مدح خوان دے هم عجم
په تعريف سره ګويا دي شاهان ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مــحــمــده ﷺ! مــدح خــوان دے رحــمٰــن ستــا

انســـانـــان ددې دُنيـــا درتـــــه مــحتـــاج دی

رهبـــران ددې دُنيـــا درتـــــه مــحتـــاج دی

رهبـــران دی ټـــول پــــــه لاره روان ستــــا

مــحــمــده ﷺ! مــدح خــوان دے رحــمٰــن ستــا

ستــا تــعــريف هــم پــه تــورات کښې دَ موسىٰ شتــه

ستــا تــعــريف پــه کــائنــات کښې پــه هر خوا شتــه

بيـــان کـــړے هـــم تـــعـــريف دے قـــراٰن ستـــا

مــحــمــده ﷺ! مــدح خــوان دے رحــمٰــن ستــا

ستـــا تـــعـــريف هـــم نـــاثـــران دَدې دُنيـــا کـــړی

ستـــاتـــعـــريف ټـــول شـــاعـــران ددې دُنيـــا کـــړی

پيـــدا شـــو ے دے دَ مـــخـــــه جهـــان ستــــا

مــحــمــده ﷺ! مــدح خــوان دے رحــمٰــن ستــا

هـــريـــو کـــس ستـــاپـــه تـــعـــريف ســره ګــويــادے

اَکـــهٔ ځـــوان دے کـــهٔ مـــاشـــوم دے کـــهٔ بـــوډا دے

مـــحـــمـــده ﷺ! دَ دُنيـــا دے آســـمـــان ستـــا

مــحــمــده ﷺ! مــدح خــوان دے رحــمٰــن ستــا

ستـــا تـــعـــريف دَ زړهٔ عـــلاج دَ هـــر بيـــمـــار دے

ستـــاتـــعـــريف ډيـــر غـــټ عـــلاج دَ دُنيـــادار دے

ټـــول مـــحتـــاج دی ددې در طبيبـــان ستـــا

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمده ﷺ! مدح خوان دے رحمٰن ستا
اوچت هر یو ځیز هم ستا په لوئے نسبت دے
عزت منده په دُنیا کښې هر ساعت دے
احمدوائی دی ممتاز امتیان ستا
محمده ﷺ! مدح خوان دے رحمٰن ستا

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مرتبې ته کله رَسی یو بشر ستا
محمده ﷺ! ته بالا ئې او هم در ستا
مرتبې ته نهٔ رسیږی مُرسلان ستا
مرتبې ته نهٔ رسیږی ټول نبیان ستا
نشته نشته یو بشر هم برابر ستا
محمده ﷺ! ته بالائے او هم در ستا
مرتبه دے ده اُوچته له هر چانه
مرتبه دے ده اُوچته له آسمانه
مرتبې ته کله رَسی یو ګوهر ستا
محمده ﷺ! ته بالائے او هم در ستا
مرتبه دے ده اُوچته عالیشانه
اے دَ پاک اللّٰه محبوبه قدردانه
ډیر اوچت په مرتبه کښې دے نظر ستا
محمده ﷺ! ته بالا ئې او هم در ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرتبه دي ده اوچته له هر خياله
ډير اوچت ئي دَ دُنيا دَ هر مثاله
دَ هر څه نه دے ښه خوږ هر يو خبر ستا
محمده ﷺ! ته بالا ئي او هم در ستا
ستا دَ در مقام اوچت دے په دُنيا هم
ستا دَ در مقام اوچت دے په عقبىٰ هم
تقسيمېږي به په لاس سره کوثر ستا
محمده ﷺ! ته بالا ئي او هم در ستا
تهٔ شفيع دَ مذنبينو په محشر ئي
محمده ﷺ! مهربان په هر بشر ئي
دنجات پوراقيمت دے تش نظر ستا
محمده ﷺ! ته بالا ئي او هم در ستا
احمدوائى ستا مقام دے ډير اوچت
تهٔ رڼا ئي دَ دُنيا دَ هدايت
رڼا شوي ده دُنيا ټوله په نمر ستا
محمده ﷺ! تهٔ بالا ئي او هم در ستا

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ

مجموعه دَ صفتونو ده صفت ستا
محمده ﷺ! ډير مقام دے زيات اوچت ستا
هر صفت دَ بل صفت نه دے جُدا دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه ګل دَ ګلستان دَ دې دُنیا دے
مثالی دے په دُنیا کښې محبت ستا
مجموعه دَ صفتونو ده صفت ستا
هر صفت دے دَ جهان دَ دراوچت دے
یا دے سپوږمے دَ رحمت یا دَ عزت دے
ډیر عظیم دے په دُنیا باندې نسبت ستا
مجموعه دَ صفتونو ده صفت ستا
هر صفت دے ښائسته ګل ددے جهان
یا دے ستورے ستا صفت دَ پاس آسمان
هریو خیز دلته ګویا دے په عظمت ستا
مجموعه دَ صفتونو ده صفت ستا
هر صفت دے په مثال ددے ګوهر
یا خوشبو ده دَ دُنیا مشك اوعنبر
لاثانی دے په دُنیا کښې هدایت ستا
مجموعه دَ صفتونو ده صفت ستا
ستا صفت که امانت دے لاثانی دے
ستا صفت که سخاوت دے لاثانی دے
لاثانی صفت دارنګ دے صداقت ستا
مجموعه دَ صفتونو ده صفت ستا
بهترین دے ستا ګفتار اے محمده ! ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهتــریــن دي ستــا اخبــار اے مــحــمــده ! ﷺ
بهتــریــن دَ کــائــنــات دے نــصیــحــت ستــا
مــجــمــوعــه دَ صــفتــونــو ده صــفــت ستــا
ستــا پــه وجــه هــر بشــر پــه لــوئــے مــقــام دے
کــه صدیــق ؓ دے کــه عــمــرؓ پــه لوئــے مقام دے
ستــا پــه وجــه ډیــر عــظیــمــه دے اُمــت ستــا
مــجــمــوعــه دَ صــفتــونــو ده صــفــت ستــا
تــــه رهبـــر دَ رهبـــرانـــو دَ دُنیـــا ئـــي
تــه هــادي پــه کــائــنــات کښــي دَهــرچــا ئــي
لاثــانــي دے پــه دُنیــا کښــي امــامــت ستــا
مــجــمــوعــه دَ صــفتــونــو ده صــفــت ستــا
ستــا پــه نــور ســره روښــانــه مــدیــنــه شــوه
دَ دُنیـــــا دَ درد پـــــاره یـــو ډیـــوه شـــوه
مــنــوره پــه دُنیــا شــوه پــه سیــرت ستــا
مــجــمــوعــه دَ صــفتــونــو ده صــفــت ستــا
تــه ســاقــي ئــي دَ کــوثــر ډیــر بهتــریــن ئــي
تــــه امــــام دَ انبیــــاء او مُــــرســلیــن ئــي
دَ مــحشــر میــدان کښــي حــق دے شــفــاعــت ستــا
مــجــمــوعــه دَ صــفتــونــو ده صــفــت ستــا
نــن احــمــد عــلــي بیــان ستــا فــضیــلــت کــړۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښه واضحه تول بيان ئي حقيقت کړۀ
بيان کړے پاك الله دے فضيلت ستا
مجموعه دَ صفتونو ده صفت ستا

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

لاثانی په کائنات دے ګلزار ستا
محمده ﷺ! ډير حسين دے ګفتار ستا
ډير حسين دَ کائنات دے ستا ګفتار
بهترين دَ کائنات دے ستا ګفتار
لاثانی دی په دُنيا کښي انوار ستا
محمده ﷺ! ډير حسين دے ګفتار ستا
ډير حسينه دَ دُنيا دے هرويناده
چي دَ شاتو نه خوږه په دے دُنيا ده
قدرمند دے په دُنيا تابعدار ستا
محمده ﷺ! ډير حسين دے ګفتار ستا
ستا دَ ښار هم خپل مقام او مرتبه ده
په دُنيا کښي رڼا شوي يو ډيوه ده
ډير اوچت دے دَ نسبت سره هم ښار ستا
محمده ﷺ! ډير حسين دے ګفتار ستا
ستا دَ کور حجري مقام هم لوئے عظيم دے
دا مقام ورته ورکړے ربّ کريم دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا نسبت سره اوچت دے هر دربار ستا
محمده ﷺ! ډير حسين دے ګفتار ستا
ستا ياران هم لوئے مقام لري دُنيا کښې
لاثانی دي دا ياران په هر ادا کښې
ډير عظيم دَ کائنات دے هر يار ستا
محمده ﷺ! ډير حسين دے ګفتار ستا
ستا په نوم سره احمد علی ګويا دے
ستا دَ نوم سره تړلے په هر خوا دے
دَ ديدن دے په هرخوا چې طلبګار ستا
محمده ﷺ! ډير حسين دے ګفتار ستا

## نعتِ مصطفى ﷺ

محمده ﷺ! ثناخوان دے هم باري ستا
په دُنيا کښې غواړي خلق تول ياري ستا
تهٔ امام دَ انبياؤ دَ جهان ئې
تهٔ سپرلے ددغے زمکه او آسمان ئې
قدرمنده ده دَ ربّ په درزاري ستا
محمده ﷺ! ثناخوان دے هم باري ستا
قدرمند ئې محترم دَ ربّ دَ در ئې
عزتمنده دَدُنيا په بحر وبر ئې
ده عظيمه دَ جهان دَ در خواري ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمده ﷺ! ثناخوان دے هم باري ستا
قدرمنده! ته میلمه د لامکان ئې
قدرمنده! ډیر اوچته عالیشان ئې
د هرچا نه ده اوچته سرداري ستا
محمده ﷺ! ثناخوان دے هم باري ستا
تهٔ محبوب د کائنات د هر بشر ئې
د احمد علي محبوب د دغے در ئې
تعریفونه به وي دغه شان جاري ستا
محمده ﷺ! ثناخوان دے هم باري ستا

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مدح خوان دي په دُنیا کښې خلق عام ستا
ډیر بالا د هر مقام نه دے مقام ستا
هر بشر دے ستا نسبت سره اوچت
لوئے مقام ورته حاصل دے د عزت
محمده ﷺ! ډیر اوچت دے هر غلام ستا
ډیر بالا د هر مقام نه دے مقام ستا
ستا وینا ده قدرمنده په جهان
مرتبه کښې ده اوچته د عالیشان
ډیر د شاتو نه شرین دے هر کلام ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیــــر بــــالا دَ هـــــر مـــقـــام نـــــه دے مــقـــام ستـــا

دکـــــوثــــر دَ جـــــام دے تـــــږے هـــــر انســــــان دے

دَ کــــوثــــر دَ جــــام دے تـــــږے مســــلــمــــــان دے

عـــــاشــــقــــان دَ دُنیــــــا تــــــږی دی دَ جــــام ستــــا

ډیــــر بــــالا دَ هـــــر مـــقـــام نـــــه دے مــقـــام ستـــا

احـــــمــــــدوائـــــــی لازمــــــی دے ستــــــــا ادب

لازمــــــی دے پــــــه عـــــجــــم هـــــم پـــــه عـــــرب

لازمــــــی پـــــه هـــــر مــــؤمـــن دے احتـــــرام ستـــــا

ډیــــر بــــالا دَ هـــــر مـــقـــام نـــــه دے مــقـــام ستـــا

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زړۀ کښــې مــې وسیـــږی دَ رسول اللّــه ﷺ یـــادونـــه

دا دَ زړۀ عــــلاج دے وروکــــوِی دَزړۀ غـــمـــــونـــــه

دا دَ زړۀ عــــلاج دے اوســــــکـــــون دَ هـــــریشـــــر

دا دَ زړۀ عــــلاج دے اوســــــکـــــون دَ هــــــریـــــودر

نـــــور دَ هـــــدایـــــت دے دَ آخـــــر دی ثـــوابـــونـــــه

دا دَ زړۀ عــــلاج دے وروکــــوِی دَ زړۀ غـــمـــــونـــــه

دا دَ زړۀ عـــلاج دے مســــلـــمــــانـــــه! تــــا دَ پــــاره

دا دَ زړۀ عـــلاج دے اے انســـــانـــــه! تـــــا دَ پـــــاره

هـــم پـــــه دی ختـــمیــــږی دَ آخـــر مـــصیبتـــونـــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دَ زړۀ عــــلاج دے وروکـــوِی دَ زړه غـــمـــونـــه
دا دَ زړۀ عــــلاج دے دَ عـــجـــم او دَ عـــرب
دا عـلاج مـونـدے شـی پـه دُنیـا کښـې پـه طلـب
دې سـره ختـمـیـــږی دَ اٰخــر تـول عـذابـونـه
دا دَ زړۀ عــــلاج دے وروکـــوِی دَ زړۀ غـــمـــونـــه
دا دَ زړۀ عــــلاج دے اطـــمـیـنـــان دَ هـــریشـــر
دا دَ زړۀ عــــلاج دے دَ دُنیـــا دَ هـــر رهبـــر
سـکـون دے هم پـه دې مـو دمـه کیږی اندمونه
دا دَ زړۀ عــــلاج دے وروکـــوِی دَ زړۀ غـــمـــونـــه
دا دَ زړۀ عــــلاج دے اے احـــمــدہ! تـــادَ پـــاره
نشتـــه روحـــانـــی بـل یـو عـلاج دُنیـا دَ پـاره
هـم پـه دے سـره تـل بیـداریـږی دغـه زړونـه
دا دَ زړۀ عــــلاج دے وروکـــوِی دَ زړۀ غـــمـــونـــه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هـاشـمـی خیـر الابـراره! ﷺ شـفـاعـت وکـړې زمـا
اے دَ دوجهـان سـرداره! ﷺ شـفـاعـت وکـړې زمـا
تـــهٔ ئـــې دوســـت دَ پـــاك سبـــحـــان
تـــهٔ پـــه رب بـــانـــدې ئـــې گـــران
عـــــزت مـــنـــد ئـــــې قـــدردان

(c) ketabton.com: The Digital Library



درتـــه وائـم خـدائـے ډَ پـاره شـفـاعـت وکـړې زمـا
اے ډَ دوجهــان ســرداره! ﷺ شـفـاعـت وکـړې زمـا

ربّ پــــــه تـــــابـــــانـــدي ميـيـــن دے
پـــــه هـــر قـــول مـــي ستـــايـــقيـــن دے
درتـــــــــه اينبــــــے مـــــــي جبيــــــن دے
دلـــريـــا زمـــا دلـــداره شـفـــاعـــت وکـــړې زمـــا
اے ډَ دوجهــان ســرداره!ﷺ شـفـاعـت وکـړې زمـا

مـــــدنـــــــى خيـــــرالـــــورىٰ ئـــــــي
بـــــل امــــــــــام ډَ انبيـــــــاء ئـــــــي
پـــــه صــــفـــــت بـــدرالـــدجـــىٰ ئـــي
وايـم اے ډَ زړهٔ قــراره!ﷺ شــفـاعـت وکـړې زمـا
اے ډَ دوجهــان ســرداره!ﷺ شـفـاعـت وکـړې زمـا

پـــــه دُنيـــا کبنـــي بـــي نـــظيـــرئـــي
تــول تــنــويــرئــي تـــول تـنـويـــرئـــي
هـــم بشيـــرئـــي هـــم نـــذيـــرئـــي
وائـم اے نبـى روئيـداره ! ﷺ شـفـاعـت وکـړې زمـا
اے ډَ دوجهــان ســرداره! ﷺ شـفـاعـت وکـړې زمـا

زه احـــمـــد چـــي ډَ مـــردان يـــم
پـــــه نسبـــت دے عـــاليشـــان يـــم
امتــــــــــى دے ډَ جهـــــــــان يـــــــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زار دے شمه دَ رخساره شفاعت وکړې زما

اے دَ دوجهان سرداره!ﷺ شفاعت وکړې زما

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اے زما دَ زړګی سره پیغمبره! ﷺ

اے محبوب دَ ربِ اکبره پیغمبره! ﷺ

ته محبوب دَ ملائکو دَ آسمان ئې

ته محبوب په کائنات کښې دَ انسان ئې

ته ښائسته دَ هریو ګل دَ ګلستان ئې

اے دَ دوجهان دلبره پیغمبره !ﷺ

اے زما دَ زړګی سره پیغمبره !ﷺ

تا ته نه رسی ښائست کښې پاس قمر

نه رسیږی تا ته حُسن کښې سحر

ته روښانه په دُنیا دا بره نمر

بهترینه اے بهتره پیغمبره!ﷺ

اے زما دَ زړګی سره پیغمبره !ﷺ

ته ئې تاج دَ حُسن دلته په دُنیا کښې

ته حسین ئې بې مثاله په هر خوا کښې

ته ممتاز ئې دَ دُنیا نه هر ادا کښې

اے افسرو کښې افسره پیغمبره!ﷺ

اے زما دَ زړګی سره پیغمبره !ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تۀ دوا دَ هر مرض ئې دَ دُنیا هم
په هر خوا دَ هر مرض ئې دَ دُنیا هم
تۀ شفا دَ هر مرض ئې دَ دُنیا هم
اے دَ دوجهان اختره پیغمبره!ﷺ
اے زما دَ زړګی سره پیغمبره !ﷺ

تۀ هادي ئې دَ احمدعلی وینا کښې
ثانی نشته په دُنیا دے په وفا کښې
لاثانی په امانت ے په رښتیا کښې
اے عظیم خیر البشره پیغمبره!ﷺ
اے زما دَ زړګی سره پیغمبره !ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ انسان نه انسان جوړ شۀ چې تۀ راغلے
له مشرك مسلمان جوړ شۀ چې تۀ راغلے
سخته طبعیته انسان نرم دَ دُنیا شۀ
قدرمند په جهان جوړ شۀ چې تۀ راغلے
دَ دُنیا جهګړې ختمې داساعت شوې
په هر طرف امان جوړ شۀ چې تۀ راغلے
خزان ختم په دُنیا دَ جهالت شۀ
نمر انسان نه روښان جوړ شۀ چې تۀ راغلے
تیرې ختم شوې دَ شرك اودَ بدعت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ صحرا گلستان جوړ شهٔ چې ته راغلې
بوتې وچ شول د شرك په دې جهان
وران دُكان دَ جهان جوړ شهٔ چې ته راغلې
ازغی مات شو د بدعت او گمراهی تول
دَ نجات بيا سامان جوړ شهٔ چې ته راغلې
مړ شهٔ اُور دَ عداوت په دې جهان
گران نه كار به آسان جوړ شو چې ته راغلې
اے احمدعلی! مردان هم تول بنائسته شهٔ
هر انسان نه ذيشان جوړ شو چې ته راغلې

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ سپوږمي نه زيات حسين دے محمد ﷺ
په الله باندې مئين دے محمد ﷺ
دَ هر چانه بنهٔ بنائسته په دې جهان دے
انبياء نه بنهٔ بنائسته په دې جهان دے
اولياء نه بنهٔ بنائسته په دې جهان دے
هم محبوب دَ ربّ متين دے محمد ﷺ
په الله باندې مئين دے محمد ﷺ
دَ هر چا دَ زړهٔ علاج دے محمد ﷺ
دَ شاهانو دَ سرتاج دے محمد ﷺ
بهترين نه په مزاج دے محمد ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم صادقه او امين دے محمد ﷺ
په الله باندي مئين دے محمد ﷺ

دَ هر چا دَزړهٔ سکون دَ زړهٔ قرار دے
هم هر چا لره هادي دَ نيغي لار دے
دَ نبيانو هم امام دے هم سردار دے
هم شفيع دَمذنبين دے محمد ﷺ
په الله باندي مئين دے محمد ﷺ

اے احمد علی رحمت دَ ټول جهان دے
مرتبه کښي ډير اوچت دے عاليشان دے
هم په دے باندي شاهد زما قرآن دے
تل رحمت دَ عالمين دے محمد ﷺ
په الله باندي مئين دے محمد ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

انبياء او مُرسلانو کښي اعلیٰ ئي معتبر ئي
تهٔ ښائسته دَ ټول جهان ئي ته نيازبين دَ ربَ اکبر ئي

ستا دَ مخه پيداشوي دغه زمکه او آسمان
ستا دَ مخه پيداشوي کائنات کښي هر انسان
ستا دَ مخه پيداشوي هريو خيز دَدي جهان
تهٔ خاتم دَ مُرسلانو انبياؤ پيغمبر ئي
تهٔ ښائسته دَ ټول جهان ئي ته نيازبين دَ ربَ اکبر ئي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اوصافو سره یاد ته په صادقه او امین ئې
په طٰهٰ سره یاد شوې ته یاد شوې په یٰسین ئې
دَ بهترنه بهترین ئې رحمة اللعٰلمین ئې
ته استاد ئې په صفت ، رهبرانو له رهبر ئې
ته ښائسته دَ ټول جهان ئې ته نیازبین دَ ربّ اکبر ئې

ته رڼا دَ دې جهان ئې عزتمنده قدردان ئې
مرتبه کښې ډېر او چت ئې لکه ستوری پاس آسمان ئې
یا ته ګل دَ ګلستان ئې یا قمر دَ پاس آسمان ئې
په مثال روښانه شوې دَ دُنیا دا بره نمر ئې
ته ښائسته دَ ټول جهان ئې ته نیازبین دَ ربّ اکبر ئې

ستا په لاره کښې فلاح ده کامیابی دَ دوه جهان
عزت پروت دے په دې لار کښې ترقی دَ هر انسان
ستا په شان باندې ګویا دے دَ اللّٰه دغه قرآن
بهترین په خلائق کښې په لقب خیر البشر ئې
ته ښائسته دَ ټول جهان ئې ته نیازبین دَ ربّ اکبر ئې

زه احمد علی ګویا دے په صفت دَ دې دُنیا یم
ثناخوان او مدح خوان دے په دُنیا کښې په هر خوا یم
امیدوار دَ شفاعت زۀ دَ محشر په درزه ستا یم
ته شفیع هم دَ محشر ئې هم ساقی ته ګوثر ئې
ته ښائسته دَ ټول جهان ئې ته نیازبین دَ ربّ اکبر ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ربَ جوړ کړے بي مثال ئي
بل محبوب دَ ذوالجلال ئي
آئينه دَ هر کمال ئي
نورانی نور په هر حال ئي
ټول جمال ئي ټول جمال ئي
محمد ﷺ لامثال ئي

مرتبه کښي اوَلين ئي
تهٔ خاتم ئي آخرين ئي
رحمة اللعلمين ئي
تهٔ دَ ګل غوندي حسين ئي
تهٔ جواب دَ هر سوال ئي
محمد ﷺ لامثال ئي

هم په تا مئين دے رب
هم عجم دے هم عرب
تهٔ عالی ئي په نسب
بهترينه په مذهب
بهترينه په جلال ئي
محمد ﷺ لامثال ئي

ښهٔ حسين په خپل صورت ئي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهتــــريـــن پـــــه تــــول سيـــرت ئـــــي

مـــحبـــت ئـــي تـــول رحـــمـــت ئـــي

احـــمـــدوائـــى شـــرافـــت ئـــي

ډيـــر اوچـــت دَهـــريـــو خيـــال ئـــي

مـــحـــمـــده ﷺ لامثـــال ئـــي

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ

هـر څيـز دَدې دُنيـا پـه مـصـطفىٰ ﷺ فـخـركـوى

قسـم دے پـه دُنيـا كښـې پـه هرخوا فـخـر كـوى

كـوم ځـائـے چې قدم ايښـے مـحمد رسول اللّٰه ﷺ دے

نسبـت سـره يـو شـوے چـې دَسيـدالـورىٰ ﷺ دے

دا ځـائـے پـه كـائـنـات كښـې پـه هـرچا فخـر كـوى

هـر څيـز دَدې دُنيـا پـه مـصـطـفىٰ ﷺ فـخـركـوى

كـوم ځـائـے چې نـاسـتـه كړې محمد رسول اللّٰه ﷺ ده

خـوره پـه كـائـنـات كښې هم ددغې ځـائـے رڼـا ده

دا ځـائـے دَ كـائـنـات خيـر الـورىٰ ﷺ فـخـر كـوى

هـر څيـز دَدې دُنيـا پـه مـصـطـفىٰ ﷺ فـخـركـوى

كـوم ځـائـے بـاندې چې تلـے محمد رسول اللّٰه ﷺ دے

هـم دلتـه ځـليدلـے مـحـمـد رسـول الـلّٰـه ﷺ دے

قسـم دے پـه دُنيـا كښـى دا رڼـا فـخـركـوى

هـر څيـز دَدې دُنيـا پـه مـصـطـفىٰ ﷺ فـخـركـوى

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم ځائے ته چې کتلی محمد رسول الله ﷺ دی
مقام او مرتبه کښې تل دَ هرڅه نه جُدا دی
احمدعلی دُنیا کښې دا ادا فخر کوی
هرڅیز دَدې دُنیا په مصطفیٰ ﷺ فخرکوی

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هر څیز دَکائنات او هر انسان فخر کوی
ګلونه په رسول ﷺ دَدې جهان فخر کوی
بلالؓ دے هم یو ګل دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ
ښائسته دے هر محفل دَمحمد رسول اللّٰه ﷺ
ښائسته دغه محفل دا ګلستان فخرکوی
ګلونه په رسول ﷺ دَدې جهان فخر کوی
صدیقؓ دے هم یو ګل دَمحمدرسول اللّٰه ﷺ
ثانی نشته دے بل دَمحمد رسول اللّٰه ﷺ
ګلونه هم عمرؓ او داعثمانؓ فخرکوی
ګلونه په رسول ﷺ دَدې جهان فخر کوی
علیؓ دے ښائسته ګل دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ
یادیږی مې دا تل دَمحمد رسول اللّٰه ﷺ
په سیدالوری ﷺ باندې شاهان فخرکوی
ګلونه په رسول ﷺ دَدې جهان فخر کوی
ګلونه دی هم ستوری ټول اصحاب دَمصطفیٰ ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښائسته دي دا ګلونه په هر باب دَمصطفیٰ ﷺ
دَ پاك رسول الله ﷺ دا عاشقان فخر كوي
ګلونه په رسول ﷺ دَدې جهان فخر كوي
احمد علی ! ګلونه ئې هم اٰل هم اولاد
دَدين دَ پاره ستوري دي دَدين دے پوخ بنياد
هر څيز ددغې زمكې او آسمان فخر كوي
ګلونه په رسول ﷺ دَدې جهان فخر كوي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښائسته په هر صفت دا عاشقان خوند كوي
ګلونه دَ رسول ﷺ دَګلستان خوند كوي
هر ګل دے خوشبوداره دَ رسول الله ﷺ دَ در
روان په نيغه لاره دَ رسول الله ﷺ دَ در
ګلونه خوشبودار دَ دے مكان خوند كوي
ګلونه دَ رسول ﷺ دَګلستان خوند كوي
هر ګل دے خوشبوداره لاثانی دے په صفت
خورېږي خوشبوئی ترينه دُنيا كښې هر ساعت
ګلونه لاثانی دَدې جهان خوند كوي
ګلونه دَ رسول ﷺ دَګلستان خوند كوي
هر ګل دے معطره ښه حسينه دَجهان
حسين دے هم په زمكه او حسين دے په آسمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسم دے دا ګلونه په هر اَن خوند کوي
ګلونه دَ رسول ﷺ دَ ګلستان خوند کوي
هر ګل دے لاثاني په کائنات کښې په جمال
هر ګل دے لاثاني په کائنات کښې په مثال
احمدعلي دَ دوي تولو بيان خوند کوي
ګلونه دَ رسول ﷺ دَ ګلستان خوند کوي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تر تازه دے تول ګلزار دَ مدينې
دا ګلزار دے خوشبودار دَ مدينې
ښه خوش رنګه آوازونه دَ مارغانو
دا ګلزار دے ښه ښائسته په هواګانو
نوراني ده هر يو لار دَ مدينې
تر تازه دے تول ګلزار دَ مدينې
مخ ګلونو بهر کړے له نقاب نه
دوي ښائسته دي دَ دُنيا دَ هر ګلاب نه
لاثاني دے دابهار دَ مدينې
تر تازه دے تول ګلزار دَ مدينې
دلته تول دي ښه ښائسته ښائسته ګلونه
دلته تول دي منور نوراني زړونه
ډير ښائسته دي دا انوار دَ مدينې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترتازه دے تول ګلزار دَ مديني

دلته کور دَ محمد خير الانام ﷺ شته

هم روضه دَ امامانو دَ امام ﷺ شته

ښه ښائسته شته دے دربار دَ مديني

ترتازه دے تول ګلزار دَ مديني

ښه ښائسته ښائسته ګلونه په دے ښار شته

نوراني ښکلي مخونه په دے ښار شته

معطر دے هر عطار دَ مديني

ترتازه دے تول ګلزار دَ مديني

مجلسونه دَ اصحابو ؓ پکښي شته دے

محفلونه دَ اصحابو ؓ پکښي شته دے

لاثاني دے هر يو يار مديني

ترتازه دے تول ګلزار دَ مديني

اے احمد علي! نثار دَ دغي درشتۀ

ثناخوان دَ محمد خير البشر ﷺ شۀ

زړۀ بيدار کړه په ګفتار دَ مديني

ترتازه دے تول ګلزار دَ مديني

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

درنه غوارم اے رسوله! ﷺ په محشر دَ ميني لاس

تاچي چاله لاس ورکړے په هرخوا شۀ هغه پاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



راله لاس دَ ميني راکړه په محشر کښې محمده ﷺ!
راله لاس دَ ميني راکړه دَ رب در کښې محمده ﷺ!
ستا نسبت دے په محشر کښې کاميابۍ لره اساس
تا چې چا له لاس ورکړے په هر خواشۀ هغه پاس
راله لاس دَ ميني راکړه ستا دَ ميني طلبګار يم
راله لاس دَ ميني راکړه زه عاصي يم ګناه ګار يم
ته پيشوا دَ انبياء ئې ته پيشوا ئې الياس
تا چې چا له لاس ورکړے په هر خواشۀ هغه پاس
راله لاس دَ ميني راکړه اے خاتم دَ مرسلانو
راله لاس دَ ميني راکړه اے امام دَ امامانو
ته بهتر په کل جهان ئې بهترينه حق شناس
تا چې چا له لاس ورکړے په هر خواشۀ هغه پاس
راله لاس دَ ميني راکړه اے سردار دَ دوجهانه !ﷺ
راله لاس دَ ميني راکړه اے غمخوار دَ دوجهانه !ﷺ
احمدوائي ته شفيع ئې هم ياد شوې خير الناس
تا چې چا له لاس ورکړے په هر خواشۀ هغه پاس

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په ليکلو چې لګيا دغه قلم شۀ
عزتمنده دا په سرور عالم ﷺ شۀ
چې وفا ئې دَ رسول ﷺ بيانوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور رڼا ئي دَ رسول ﷺ بيانوله
دا اوچت بيا په عرب او په عجم شئ
عزتمنده دا په سرور عالم ﷺ شئ
چې صفت دَ امانت ئې وليکلو
بيا صفت دَ سخاوت ئې وليکلو
قدردان په دې دُنيا په دغه دم شئ
عزتمنده دا په سرور عالم ﷺ شئ
په اخلاق دَ محمد ﷺ سره ګوياشئ
معطره په دُنيا کښې په هرخواشئ
قدردانه په دُنيا کښې محترم شئ
عزتمنده دا په سرور عالم ﷺ شئ
په ګفتار دَ محمد ﷺ سره ګوياشئ
په رخسار دَ محمد ﷺ سره ګوياشئ
لاثانی دغه قلم شئ مکرَم شئ
عزتمنده دا په سرور عالم ﷺ شئ
په جمال سره ګويا چې دَ رسول ﷺ شئ
په کمال سره ګويا چې دَ رسول ﷺ شئ
عزتمنده دَ دُنيا په هر قدم شئ
عزتمنده دا په سرور عالم ﷺ شئ
اې احمدعلی! ښائسته په مصطفیٰ ﷺ شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



باکمالــه پــه دُنیـا کښــې پــه هـرخواشـه
مـرتبـه کښـې دَ هـرڅیـز نـه مقـدم شـۀ
عــزتـمـنـده دا پـه سـرورعـالــم ﷺ شـۀ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

داچـې هــرڅـه دَ دُنیـا ددې جهـان دی
دابـائستــه پــه محـمـد اٰخـرزمـان ﷺ دی
دابـائستــه ښائستــه ګـلـونـه دَ جهـان
نـورانـی تـول مـحـفـلـونـه دَجهـان
منـوردَ پـاك رسـول ﷺ پـه نـورعـرفـان دی
دابـائستــه پــه مـحـمـد اٰخـرزمـان ﷺ دی
دابـائستـه ښائستـه مخـونـه پـه دُنیاکښـې
لاثـانـی دی روحـانـی پـه دې دُنیـا کښـې
دوی پـه نـوردَ مـحـمـد ﷺ سـره روښـان دی
دابـائستـه پـه مـحـمـد اٰخـرزمـان ﷺ دی
دانیـکـان اوعـالـمـان ددې جهـان
داشـاهـان اوغـریبـان ددې جهـان
ځـلیـدونـکی کـه داستـوری پـه آسـمـان دی
دابـائستـه پـه مـحـمـد اٰخـرزمـان ﷺ دی
کـه عـرب لـه خـدائـے ورکـړے فـضیلـت دے
دادَ پـاك رسـول اللّٰـه ﷺ پـه لوئـے نسبـت دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



که مکه او مدینه دي قدردان دي
دا بنائسته په محمد آخرزمان ﷺ دي
اے احمد علی نسبت دَ محمد ﷺ دے
دا نسبت ډیر زیات اوچت دَ محمد ﷺ دے
قدردان چې په دُنیا خومره کسان دي
دا بنائسته په محمد آخرزمان ﷺ دي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کهٔ شاهان دي دَ جهان کهٔ غریبان دي
اے رسوله ! ﷺ ستا دَ در تهول غلامان دي
غلامان دي ستا دَ در تهول انسانان
دَ دُنیا دَ در دا غټ لوئے شاهان
ستا په لار باندې روان دا صالحان دي
اے رسوله ! ﷺ ستا دَ در تهول غلامان دي
ستا په نور پسې روان دي اولیاء تهول
ستا په عشق کښې بندیوان دي اولیاء تهول
دا ګلونه دَ دُنیا دَ ګلستان دي
اے رسوله ! ﷺ ستا دَ در تهول غلامان دي
کهٔ مالدار دے کهٔ غریب دے دَ دُنیا
کهٔ مریض دے کهٔ طبیب دے دَ دُنیا
کهٔ داسپین دي یا تك تور دا انسانان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے رسـولـه ! ﷺ ستـا دَ درتـول غـلامـان دي
ستـاپـه درکښي دے حيـات دَ هـرانسـان
ستـاپـه درکښي دے ژونـدون دَ تـول جهـان
بـوډاګـان دي يـا وارۀ يـا كـۀ ځـوانـان دي
اے رسـولـه ! ﷺ ستـا دَ درتـول غـلامـان دي
احـمـدوائـی تـۀ شـفيـع هـم دَ مـحشـرئـي
هـم سـاقـی سـره يـادشـوي دَ کـوثـرئـي
کـۀ عـرب دي دَ جهـان يـاعـجـميـان دي
اے رسـولـه ! ﷺ ستـا دَ درتـول غـلامـان دي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تـول جهـان دے دَ مـحـمـد مـصـطـفـیٰ ﷺ
مـدح خـوان دے دَ مـحـمـد مـصـطـفـیٰ ﷺ
کـۀ ده زمـکـه يـا آسـمـان دے د دُنيـا
لامـکـان يـاکـۀ مـکـان دے د دُنيـا
دابـوستـان دے دَ مـحـمـد مـصـطـفـیٰ ﷺ
تـول جهـان دے دَ مـحـمـد مـصـطـفـیٰ ﷺ
پـه آفتـاب کښي رڼـا ستـا لـه مخـه راغلـه
پـه مهتـاب کښي رڼـا ستـا لـه مخـه راغلـه
داسـے شـان دے دَ مـحـمـد مـصـطـفـیٰ ﷺ
تـول جهـان دے دَ مـحـمـد مـصـطـفـیٰ ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼــــا ګــــانـــي ستـــــادحـــق دَلار اصـــحـــابؓ دي

رڼـــــاګـــــانــــي دَ قـــراٰن بـــرحـــق كتـــاب دي

داقـــــراٰن دے دَ مـــحـــمـــد مـــصـــطـــفـــىٰ ﷺ

تـــول جهـــان دے دَ مـــحـــمـــد مـــصـــطـــفـــىٰ ﷺ

هـــريـــودردے لـــكـــه ګـــل دَ ګـــلستـــان دے

هـــر مـــحـــفـــل دے مـــنـــوره دَ جهـــان دے

ښــــهٔ روښـــان دے دَ مـــحـــمـــد مـــصـــطـــفـــىٰ ﷺ

تـــول جهـــان دے دَ مـــحـــمـــد مـــصـــطـــفـــىٰ ﷺ

هـــريـــو قـــول ئـــي ده رڼـــا دَ هـــدايـــت

هـــريـــو قـــول كښـــي ئـــي مـــوجـــود دے نـــصـــيـــحـــت

دَرمـــرجـــان دے دَ مـــحـــمـــد مـــصـــطـــفـــىٰ ﷺ

تـــول جهـــان دے دَ مـــحـــمـــد مـــصـــطـــفـــىٰ ﷺ

احـــمـــدوائـــي حـــق بيـــان دَ مـــحـــمـــد ﷺ دے

ښــــهٔ واضـــحـــه پـــه جهـــان دَ مـــحـــمـــد ﷺ دے

تـــل بـــرهـــان دے دَ مـــحـــمـــد مـــصـــطـــفـــىٰ ﷺ

تـــول جهـــان دے دَ مـــحـــمـــد مـــصـــطـــفـــىٰ ﷺ

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ

لاردَ پـــاك رســـول الـــلّـــه ﷺ ښـــه دَ عـــزت ده

دغـــــه لار دَ هـــــرجـــنـــت دَ اٰخـــرت ده

دغـــــه لاره كښـــي عـــزت دَدوجهـــان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه لاره کښې عزت د هر انسان دے

دغه لاره نوراني د پاك حضرت ﷺ ده

دغه لار د هر جنت د آخرت ده

دغه لار د رڼاګانو د دُنيا ده

دغه لار د مُرسلانو انبياء ده

دغه لاره ښه ښائسته په هر صفت ده

دغه لار د هر جنت د آخرت ده

دغه لاره کښې فلاح د هر انسان ده

دغه لاره کښې فلاح د ټول جهان ده

بهترينه دغه لاره هر ساعت ده

دغه لار د هر جنت د آخرت ده

دغه لار د صالحانو د دُنيا ده

دغه لار د عالمانو د دُنيا ده

منوره دغه لار د هدايت ده

دغه لار د هر جنت د آخرت ده

دغه لاره کښې پرته د رب رضا ده

دغه لاره د دُنيا د هر دانا ده

دغه لاره ښه د مينې محبت ده

دغه لار د هر جنت د آخرت ده

دغه لاره کښې د هريو غم علاج دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه لاره هر انسان له دَ سر تاج دے

دَ احمد علی وينا دا حقيقت ده

دغه لار دَ هر جنت دَ آخرت ده

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تذکره دَ محمد ﷺ دَ روح غذا ده

تذکره دَ محمد ﷺ دغم دوا ده

ملاويږي هم په دے سره سکون

ښائسته کيږي هم په دے سره ژوندون

هر رنځور له دُنيا کښې دا شفا ده

تذکره دَ محمد ﷺ دَ روح غذا ده

تذکره کۀ دَ احمد دَ هدايت ده

تذکره دَ محمد ﷺ کۀ دَ رحمت ده

دا اوچته کائنات کښې په هر خوا ده

تذکره دَ محمد ﷺ دَ روح غذا ده

تذکره ده ډير عظيمه دَ رسول ﷺ

رسولانو کښې ياديږي په مقبول ﷺ

هر انسان دَ پاره نور او رهنما ده

تذکره دَ محمد ﷺ دَ روح غذا ده

تذکره کښې دَ نبی پروت دے عزت

تذکره کښې دَ نبی شته دے عظمت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دابـــه کـلـکــه پــه دُنیـا بـانـدې وینـا ده
تــذکــره دَ مــحــمــد ﷺ دَ روح غــذا ده
دا احــمـد دَ مـحـمـد ﷺ صـفـت دې کـړې
ورتـــه مــا احـمـد علـی نسبـت دې کـړې
عــزت منـده پــه دُنیـا کښـې داوینـا ده
تــذکــره دَ مــحــمــد ﷺ دَ روح غــذا ده

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اې ســردار دَ دوجهــانـه بهتـریـنـه! ﷺ
اې دَ پـاك الـلّـه مـحبـوبـه نیـازبینـه ! ﷺ
تـــهٔ امــام دَ مُــرسـلانـو انبیـاء ئـي
تـهٔ رهبـر پـه کـائـنـات کښـې دَهـرچـائـي
نـورانـی ئـي مـنـوره نـور رنـا ئـي
مـعـالـج ئـي هـم شـفـا ئـي هـم دوا ئـي
اې خــاتـم الانبیــاء والـمـرسـلـیـنـه! ﷺ
اې دَ پـاك الـلّـه مـحبـوبـه نیـازبینـه! ﷺ
بهتـریـن تـهٔ دَ اخـلاقـو نـمـونـه ئـي
پـه ژونـدون سـره اُسْـوَه تـهٔ حَسَـنَـه ئـي
حیـاداره مـجسـمـه نـمـونـه ئـي
هـر انسـان لـه دَ ژونـدون یـوائینـه ئـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے دَ دوجهان صادقه اوامینه ! ﷺ
اے دَ پاك اللّه محبوبه نیازبینه ! ﷺ
ته ؤ طه ئي مزمل دَ دوجهان
ته ؤ قمر ئي دَ دُنیا دَ پاس آسمان
نوراني ئي لکه نمرغوندې روښان
درته نه ؤ رسي دُنیا کښي یوانسان
ډیر عظیم په کائنات کښي ئي یٰسینه
اے دَ پاك اللّه محبوبه نیازبینه ! ﷺ
هم دے آل اوهم اصحابؓ دے بې مثال دی
دغه ستوري په هر باب دے بې مثال دی
محترم دی لاجواب دی بې مثال دی
دوی ګلونه دَ ګلاب دی بې مثال دی
قدرمنده اے شفیع المذنبینه! ﷺ
اے دَ پاك اللّه محبوبه نیازبینه ! ﷺ
زۀ احمدعلي هم ستایم مدح خوان
لاثاني ئي کائنات کښي په جهان
ستاپه لاربانديې روان دی امامان
مقتدا ئي نوردی ستاتول مقتدیان
اے دَ خپل امت دَ پاره ډیرغمګینه! ﷺ
اے دَ پاك اللّه محبوبه نیازبینه ! ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

لاثاني په دې دُنیا دے محمد ﷺ
تل زما دے او هم ستا دے محمد ﷺ

نشته نشته ثې ثاني په ټول جهان کښې
نشته نشته ثې ثاني بره آسمان کښې
دَ رنځور علاج دوا دے محمد ﷺ
تل زما دے او هم ستا دے محمد ﷺ

آخرین دے پیدا شوې انبیاء کښې
بهترین دے پیدا شوې انبیاء کښې
اوَلینو کښې اولٰی دے محمد ﷺ
تل زما دے او هم ستا دے محمد ﷺ

دَ معراج په شپه امام دَ انبیاء دے
نوراني دے منوره نور رڼا دے
رازله تلے دَ مولٰی دے محمد ﷺ
تل زما دے او هم ستا دے محمد ﷺ

په اخلاق سره عظیم ددې جهان دے
په صفتاتو کښې کریم ددې جهان دے
مهربانه باوفا دے محمد ﷺ
تل زما دے او هم ستا دے محمد ﷺ

دَ توحید بوټے په دُوی سره ښائسته دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــــه وجــود ســره اُسْــوَه تـول حَسَنَــــه دے
بهتــريـنــــه پــــه هــرخــوا دے مــحــمــد ﷺ
تــــل زمـــا دے او هــم ستـــادے مــحــمــد ﷺ

تيـــاره ختــمــــه ئـي پــه نـورد هـدايـت كـړه
خــلاصـــه تـولـــه ئي دُنيـا دَهـر بـدعـت كـړه
پـــه لــقــب خيــر الــورىٰ دے مــحــمــد ﷺ
تــــل زمـــا دے او هــم ستـــادے مــحــمــد ﷺ

هــم شـفيــع دَهـر بشـر دے پـــه مـحشـر كښـي
لاثــــانـــى دے دَدُنيـــا پـــــه هــريــو دركښـــي
لاثــــانـــى هــم رهــنـمــــا دے مــحــمــد ﷺ
تــــل زمـــا دے او هــم ستـــادے مــحــمــد ﷺ

پـــه اميــن ســره يـــادشــوي پـــه جهـــان دے
نــمــر روښـانـــه كــائـنــات كښـي دَ آسـمـان دے
احــمــدوائـــى تـول رښتيـــا دے مــحــمــد ﷺ
تــــل زمـــا دے او هــم ستـــادے مــحــمــد ﷺ

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ

لاثــــانـــى دے شــريــعـــت دَ مــحــمــد ﷺ
لاثــــانـــى دے هــر صــفــت دَ مــحــمــد ﷺ
لاثــــانـــى دے هـــريـــوامـــر دَ نبـــى
لاثــــانـــى دے پـــه اوصـــافـــو مــدنـــى

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور رڼا ده هر سنت دَ محمد ﷺ

لاثانی دے شریعت دَ محمد ﷺ

لاثانی دے هر یو قول دَ مصطفیٰ ﷺ

نورانی په کائنات ئي ده وینا

دا مقام دے دا عظمت دَ محمد ﷺ

لاثانی دے شریعت دَ محمد ﷺ

لاثانی ده هر ادا دَ محمد ﷺ

لاثانی ده نور رڼا دَ محمد ﷺ

لاثانی دے هدایت دَ محمد ﷺ

لاثانی دے شریعت دَ محمد ﷺ

لاثانی دے په رحمت ددي جهان

لاثانی دے په عظمت ددي جهان

ډیر عظیم دے لوئے نسبت دَ محمد ﷺ

لاثانی دے شریعت دَ محمد ﷺ

لاثانی دي ټول افعال دَ محمد ﷺ

لاثانی دے نور جمال دَ محمد ﷺ

ډیر عظیم دے ټول سیرت دَ محمد ﷺ

لاثانی دے شریعت دَ محمد ﷺ

احمد وائی لاثانی دے پاك نبی ﷺ

هر انسان د پاك نبی ﷺ دے مقتدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیر عظیم دے تول اُمت دَ محمد ﷺ
لا ثانی دے شریعت دَ محمد ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښهٔ ښائسته ښکلے وطن دَ محمد ﷺ دے
ښهٔ ښائسته ښکلے چمن دَ محمد ﷺ دے
دا ښائسته دے په انوار دَ محمد ﷺ
دا ښائسته دے په دربار دَ محمد ﷺ
نورانی هم په مدفن دَ محمد ﷺ دے
ښهٔ ښائسته ښکلے وطن دَ محمد ﷺ دے
دا ښائسته دے په اولاد دَ محمد ﷺ
دا ښائسته دے تل په یاد دَ محمد ﷺ
ښهٔ ښائسته تول په بدن دَ محمد ﷺ دے
ښهٔ ښائستهٔ ښکلے وطن دَ محمد ﷺ دے
دا ښائسته دے په اصحابؓ دَ محمد ﷺ
دا ښائسته دے په افتاب دَ محمد ﷺ
بهترین هر یو سخن دَ محمد ﷺ دے
ښهٔ ښائستهٔ ښکلے وطن دَ محمد ﷺ دے
معطره هر یو در دَ مدیني دے
معطره هر شجر دَ مدیني دے
معطره په کفن دَ محمد ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښۀ ښائسته ښکلے وطن دَ محمد ﷺ دے
کۀ فلاح غواړې احمده ! دَ جهان
راشه وتړه سنت سره خپل ځان
دا مقام دَ پاك لمن دَ محمد ﷺ دے
ښۀ ښائسته ښکلے وطن دَ محمد ﷺ دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

یادیږی مې فضا دَ مدینې منورې
ښائسته ښکلے هوا دَ مدینې منورې
یادیږی مې فضا دَ مدینې دَ ښکلی ښار
یادیږی مې فضا دَ پاك نبی ﷺ دَ دربار
ګلونه دَ ښکلا دَ مدینې منورې
یادیږی مې فضا دَ مدینې منورې
مسکن دَ محمد خیر البشر ﷺ په دې کښې دے
مسکن دَ امامانو دَ افسر ﷺ په دې کښې دے
مسکن دَ مصطفیٰ ﷺ دَ مدینې منورې
یادیږی مې فضا دَ مدینې منورې
مسکن په کښې هم شته دے دَ صدیقؓ اودَ عمرؓ
مسکن په کښې هم شته دے دَ عثمانؓ علی حیدرؓ
ګلونه دَ دُنیا دَ مدینې منورې
یادیږی مې فضا دَ مدینې منورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر لارئي معطر ده په حضرت خیر الابرار ﷺ
خوارۀ په ټول جهان کښي دي د دې ځائے نه انوار
فضا ده ښۀ رڼا دَ مدیني منوري
یا دیرې مې فضا دَ مدیني منوري
احمد علی تعریف دَ مدیني کړلو بیان
داشان ورته ملاؤ دے په نبی اٰخر زمان ﷺ
ډیر خوند کوي وینا دَ مدیني منوري
یا دیرې مې فضا دَ مدیني منوري

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

حسین دے گلستان دَ مدیني منوري
حسین دے ټول بیان دَ مدیني منوري
حسین دے په جهان دَ پاك نبی ﷺ دغه وطن
حسین دے په جهان دَ پاك نبی ﷺ دغه چمن
حسین دے هر مکان دَ مدیني منوري
حسین دے ټول بیان دَ مدیني منوري
حسین دے په جهان دَ مدیني ښکلے دربار
حسین دے په جهان دَ مدیني ښکلے گفتار
حسین دے پاس آسمان دَ مدیني منوري
حسین دے ټول بیان دَ مدیني منوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسين دے په جهان دَ مدينې هريو محل
حسين دي په جهان دَ مدينې دَ درليدل
حسين دے ګل ريحان دَ مدينې منورې
حسين دے ټول بيان دَ مدينې منورې
حسين ده په جهان دَ مدينې دَ درزښا
حَسينه په جهان دَ مدينې دَ درفضا
حسين دے ټول سامان دَ مدينې منورې
حسين دے ټول بيان دَ مدينې منورې
حَسينه په جهان ده لاثانى په هرصفت
عظيمه په دُنيا ده ده عظيمه په نسبت
حسين دے هرديان دَ مدينې منورې
حسين دے ټول بيان دَ مدينې منورې
حسينه په جهان ده احمدوائى هرساعت
قسم دے دا ټکړه ده په دُنيا کښې د جنت
نبى دے عاليشان دَ مدينې منورې
حسين دے ټول بيان دَ مدينې منورې

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ

دژوند به هله خوند وى چې مې کور په مدينه کښې وې
دَ مرګ به هله خوند وى چې مې ګور په مدينه کښې وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلـے زما په سترګو کښې تل نُور دَ پاك نبی ﷺ دَ در
روضــې ســره نـزدې وې دَ حضور دَ پـاك نبـی ﷺ دَ در
مـلـګـرې دَ دُنـيا مـې پـلار او مور پـه مدينـه کښې وې
د ژونـد بـه هـلـه خوند وې چې مې کور په مدينه کښې وې
دولـت نـه مـې زړه مـوړ وې دَ بـدعت نه مې نفرت وې
پـه زړهٔ کښـې مـې رسـولـه ! ﷺ بـس ستا مینـه محبت وې
ښـپـلـۍ مـې پـه خپـو نهٔ وے زهٔ سرتور په مدينه کښې وې
د ژونـد بـه هـلـه خوند وې چې مې کور په مدينه کښې وے
بـلالٌ کـهٔ پـه صـورت سـره وهٔ تـور خو لوئے مقام لرى
مـقــام دَ نــزدې والــی دَ حـضـرت خيـرالانـام لــرى
پـه شـکـل سـره سپين نه وومه تور په مدينه کښې وې
د ژونـد بـه هـلـه خوند وې چې مې کور په مدينه کښې وې
يـاران دَ پـاك رسـول ﷺ مـې مـديـنـه کښې يادوُلے تل
ژونـدون مـې دغــه شــان پــه مـديـنـه کښې تيروُلے تل
دَ مينـے سـره هلته کښې نسکور په مدينه کښې وې
د ژونـد بـه هـلـه خوند وې چې مې کور په مدينه کښې وې
احـمـدعـلـی دا وائـی دَ نبی ﷺ مينـه پـه زړهٔ کړه تـهٔ
ژونـدون پـه طـريقه دَ مصطفیٰ ﷺ سره تول ښهٔ کړه تهٔ
عــلاج زمــا دوا دَ زړهٔ تــکــور پــه مـديــنــه کښې وې
د ژونـد بـه هـلـه خوند وے چې مې کور په مدينه کښې وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هر څه رڼا شول ستا له مخه په جهان رسوله! ﷺ
په الله ګران رسوله! ﷺ، لتا نه ځو ځو واري زار شم

رڼا شوهٔ تا سره آسمان
رڼا مکان شوهٔ لامکان
رڼا هر ځائے شوهٔ دَجهان
رڼا شوهٔ زړهٔ دَ هر انسان
تیرې رخصت شوې له دُنیا نه دغه شان رسوله! ﷺ
په الله ګران رسوله! ﷺ، لتا نه ځو ځو واري زار شم

تهٔ ئې هم منبع الانوار ﷺ
دَ مُرسلانو تاجدار ﷺ
تهٔ ئې هادي تهٔ ئې غمخوار ﷺ
هم مهربان خیر الابرار ﷺ
نور دے رڼا کړهٔ دَ دُنیا هر بیابان رسوله! ﷺ
په الله ګران رسوله! ﷺ، لتا نه ځو ځو واري زار شم

بنیاد دَ هر حُسن وجمال ئې
تهٔ لاثانی ئې لامثال ئې
مجموعه تهٔ دَ هر کمال ئې
محبوب هم تهٔ دَ ذوالجلال ئې
وائی دارنګ تولې دُنیا کښې عاشقان رسوله! ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اللّٰه ګران رسوله ! ﷺ، لتا نه ځوځو واري زارشم

وایم احمد زهٔ دَ مردان

ته ئې حسین ښائسته انسان

لکه ئې ګل دَ ګلستان

یا لکه نمر ئې دَ آسمان

زهٔ یم نعت خوان لکه چې ځنګه وهٔ حسّانؓ رسوله! ﷺ

په اللّٰه ګران رسوله ! ﷺ، لتا نه ځوځو واري زارشم

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چې ځوك مدحه دَ رسول ﷺ کوی صفت

نازلیږی دَ اللّٰه په دهٔ رحمت

راشه مدحه کښې رضا دَ مصطفیٰ ﷺ شته

راشه مدحه کښې رضا دَ پاك اللّٰه شته

په دُنیا کښې داسے نشته بل نعمت

نازلیږی دَ اللّٰه په دهٔ رحمت

مدحه وکړهٔ په کښې شته اجروثواب

مدحه وکړهٔ دَ رسول ﷺ نشه لاجواب

اللّٰه ایخے دے په دې کښې تېول عزت

نازلیږی دَ اللّٰه په دهٔ رحمت

شته په مدحه کښې سکون د پیغمبر ﷺ

شته په مدحه کښې سکون دَ هر بشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشتــــه نشتــــه دَ ســکــون داســې جـنـت
نــــازلیـــږي دَ الــلّـــه پـــه دۀ رحــمــت
دا عـــلاج دَ هــرغــمــګیـن دَ هــریـوغـم دے
داعــلاج ښــۀ پــه یـقیـن دَ هــریـوغـم دے
داعـــــلاج دے دَ دُنیــــا دَ مـــصیبـــت
نــــازلیـــږي دَ الــلّـــه پـــه دۀ رحــمــت
پــکښـــې پــروت دے اطــمیـنـــان دَ هــریشــر
پــکښـــې پــروت دے ښـــۀ لـوئـے شـان دَ هـریشـر
اطــمیـنـــان دے پـــه دُنیـــا کښــې هــرسـاعـت
نــــازلیـــږي دَ الــلّـــه پـــه دۀ رحــمــت
مــدحـــه وکــړۀ احــمـدوائـــې دَ سـلـطـــان ﷺ
پــکښـــې شتـــه دے عـــزتـــونـــه دَ جهـــان
نشتـــه دي کښــې پـــه دُنیـــا څـــۀ مشـقـت
نــــازلیـــږي دَ الــلّـــه پـــه دۀ رحــمــت

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راشـــه لاړ بـــانـدے روان شـــۀ دَ حـضــرت ﷺ
دغــــــه لاره دَ ســـکـــون ده دَ جـــنـــت
دغــــــه لاره دَ فـــلاح دَ دې جهـــــان ده
دغــــــه لاره دَ فـــلاح دَ هـــرانســـــان ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه لاره ده دُنیا کښې دَ عزت
دغه لاره دَ سکون ده دَ جنت
دغه لاره کښې پرته ده دَ رب رضا ده
دغه لاره دَ هر لاري نه اعلیٰ ده
دغه لاره ده دَ مینې محبت
دغه لاره دَ سکون ده دَ جنت
دغه لاره ده جنت ته نیغه تللې
دغه لاره دَ هر لاري نه ده ښکلې
کامیابي ده دَ دُنیا دَ اخرت
دغه لاره دَ سکون ده دَ جنت
دغه لاره دَ نیکانو اولیاء ده
دغه لاره دَ دُنیا دَ انبیاء ده
دغه لاره ده اوچته په نسبت
دغه لاره دَ سکون ده دَ جنت
دغه لاره کښې خوشحاله هر انسان وي
لکه ګل غوندې ښائسته په دې جهان وي
نوراني ده په قرآن او په سنت
دغه لاره دَ سکون ده دَ جنت
دغه لاره دَ ګلونو دَ جهان ده
نوراني دَ محفلونو دَ جهان ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ احمد علي وينا ده حقيقت
دغه لاره دَ سکون ده دَ جنت

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مدينه ده په دُنيا باندې جنت
ځکه دلته کښې مدفن دے دَ حضرت ﷺ
مدينه ده منوره په رسول ﷺ
هر يو در دَ مدينې دے ښهٔ مقبول
جمع شوې دلته هر رنګ دے صفت
ځکه دلته کښې مدفن دے دَ حضرت ﷺ
مدينه ده ښائسته شوې په نبی ﷺ
مدينه ده نوراني په مدني ﷺ
هر يو څيز دَ مدينې دے ښهٔ اوچت
ځکه دلته کښې مدفن دے دَ حضرت ﷺ
مدينه کښې دی ښائسته ښائسته ګلونه
مدينه کښې دی ښائسته ښکلی باغونه
ښهٔ حسين دی لاثاني دی په صفت
ځکه دلته کښې مدفن دے دَ حضرت ﷺ
مدينه کښې بارانونه دَرحمت دی
معطرې محفلونه هر ساعت دی
معطرې هر يو ځائے دے هر ساعت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکـــه دلتـــه کښـــې مـدفـن دے دَ حـضـرت ﷺ
هـــر حـــجـــر دَ مـــديـــنـــې ګـــڼـــه ګـــوهـــر
هـــر عـــطـــر دَ مـــديـــنـــې دی مشك عـــنـبـــر
دلتـــه هــر ځـــائـــے کښـــې مـوجـود دے محبـت
ځکـــه دلتـــه کښـــې مـدفـن دے دَ حـضـرت ﷺ
احـــمــدوائـــی مــديـــنـــه ډيـــره اعـــلـٰـی ده
پـــه ښـــارونـــو کښـــې اوچتـــه اوبـــالا ده
دلتـــه هــر ځـــائـــے کښـــې موجـود دے ښـــهٔ راحـت
ځکـــه دلتـــه کښـــې مـدفـن دے دَ حـضـرت ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اٰخـــری دَ پـــاك نبـــی ﷺ دے شـــريـــعـــت
ختـــم شـــوې هـــم پـــه دوی دے نبـــوت
اٰخـــری دے ورتـــه وائـــی اٰخـــريـــن ﷺ
نشتـــه نشتـــه بـــل څـــوك دوی نـــه بهتـــريـــن ﷺ
اٰخـــری دے دَ دُنيـــا ئـــې هـــدايـــت
ختـــم شـــوې هـــم پـــه دوی دے نبـــوت
اٰخـــری دے دَ نبيـــانـــو دَ دُنيـــا
نشتـــه نشتـــه پـــه دُنيـــا بـــلـــه رڼـــا
د رڼـــا ډيـــوه قـــراٰن ده هـــم ســـنـــت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختم شوې هم په دوی دے نبوت

آخری زمونږ ددین دی ټول احکام

په دُنیا کښې دی کافی دغه تمام

هریو حکم ئې اوچت دے په صفت

ختم شوې هم په دوی دے نبوت

آخری دے هریوامر ددے دین

کامیابی له دے بنیاد شۀ په یقین

ختم شوې هم په دوی سره ظلمت

ختم شوې هم په دوی دے نبوت

احمد وائی اوّلین ﷺ هم دَ جهان دے

لکه څنګ چې آخرین ﷺ دلته بیان دے

داسې نشته په دُنیا کښې بل نعمت

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تۀ بار بار وایه صلِّ علیٰ محمد ﷺ

بیشمیره یار وایه صلِّ علیٰ محمد ﷺ

چې ګرځې په دُنیا کښې

هیر نه کړې په ویناکښې

په هره لار وایه صلِّ علیٰ محمد ﷺ

بیشمیره یار وایه صلِّ علیٰ محمد ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library


سبب چې دَ رحمت دے
باعث دَ برکت دے
په جار جار وايه صلِّ علىٰ محمد ﷺ
بيشميره يار وايه صلِّ علىٰ محمد ﷺ

دَ ربَ دَ نوم نه پس دے
هادي دَ هر يو كس دے
په دار دار وايه صلِّ علىٰ محمد ﷺ
بيشميره يار وايه صلِّ علىٰ محمد ﷺ

دخوږ زړګي علاج دے
دَ سر دَ پاره تاج دے
هزار هزار وايه صلِّ علىٰ محمد ﷺ
بيشميره يار وايه صلِّ علىٰ محمد ﷺ

دَ ربَ لويه عطا ده
دَ هر رنځور دوا ده
په هر دربار وايه صلِّ علىٰ محمد ﷺ
بيشميره يار وايه صلِّ علىٰ محمد ﷺ

درود كښې پروت عزت دے
رحمت دے شفاعت دے
په كلي ښار وايه صلِّ علىٰ محمد ﷺ
بيشميره يار وايه صلِّ علىٰ محمد ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library


احمده ! هم شفاده
درود ډیره رښا ده
په هر دیار وایه صلِّ علیٰ محمد ﷺ
بیشمیره یار وایه صلِّ علیٰ محمد ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکلے دے قرآن زمونږه ښکلے پیغمبر دے
نشته ئي ثاني څوك لاثاني په بحروبر دے
ښکلے دے قرآن ورسره ښکلے مصطفیٰ ﷺ زمونږ
ښکلے په جهان دے لاثاني خیر الوریٰ ﷺ زمونږ
هر حسین نه ښکلے دے اوهرچانه بهتر ﷺ دے
نشته ئي ثاني څوك لاثاني په بحروبر دے
ښکلے په شاهانو کښې دے ښکلے په نبیانو کښې
نشته ئي ثاني څوك دَ اللّٰه په بندګانو کښې
نۀ دغسے ښکلے دَدُنیا بره قمر دے
نشته ئي ثاني څوك لاثاني په بحروبر دے
ښکلے په وفاسره دے ښکلے په حیاسره
نشته ئي مثال په بندګانو کښې دَ چاسره
نۀ دومره حسین په کائنات کښې یو بشر دے
نشته ئي ثاني څوك لاثاني په بحروبر دے
ښکلے صداقت سره دے ښکلے امانت سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلے په حیا سره دے ښکلے سخاوت سره
نهٔ دغسے ښکلے په دُنیا کښې بره نمر دے
نشته ئې ثانی خوك لاثانی په بحروبر دے

ښکلے په ادا سره زمونږه مصطفیٰ ﷺ دے هم
ښکلے په وینا سره زمونږه مصطفیٰ ﷺ دے هم
هر افسر دَ پاسه کائنات کښې لوئے افسر ﷺ دے
نشته ئې ثانی خوك لاثانی په بحروبر دے

ښکلے دے ډیر ښکلے په صورت سره زمونږ نبی ﷺ
خورم قسم ډیر ښکلے دے سیرت سره زمونږ نبی ﷺ
ټول جهان په دوی سره قسم دے منور دے
نشته ئې ثانی خوك لاثانی په بحروبر دے

زهٔ احمدعلی وایمه ښکلے دے افعال سره
ښکلے په جمال سره دے ښکلے هرکمال سره
دوست په دے دُنیا کښې دَ اللّٰه غنی اکبر دے
نشته ئې ثانی خوك لاثانی په بحروبر دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زړهٔ زما قرارئې تهٔ پاك نبی سردار ﷺ ئې تهٔ
ځار دے دَ نامې نه شم سید الابرار ﷺ ئې تهٔ
دوست دَ پاك سبحان ئې تهٔ
ډیر عظیم انسان ئې تهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نمر دَ پاس آسمان ئي تهٔ
نور دَ ټول جهان ئي تهٔ
اے نبی ﷺ طٰه ئي تهٔ ، دوست دَ ربّ غفار ئي تهٔ
ځار دے دَ نامي نه شم سيد الابرار ﷺ ئي تهٔ

ياد ئي په صادق امين ﷺ
اے شفيع المذنبين! ﷺ
تهٔ ئي مزمل يٰسين ﷺ
اے امام المرسلين! ﷺ
رحمة اللعٰلمين ﷺ، منبع الانوار ﷺ ئي تهٔ
ځار دے دَ نامي نه شم سيد الابرار ﷺ ئي تهٔ

ګل ئي دَ عرب عجم
خور مه زهٔ په دے قسم
ستا دے مبارک قدم
ستا دے مبارک حرم
ځار دے دَ روضي نه شم ، مدنی تاجدار ﷺ ئي تهٔ
ځار دے دَ نامي نه شم سيد الابرار ﷺ ئي تهٔ

اے بدرالدجیٰ نبی ! ﷺ
اے خیر الوریٰ نبی ! ﷺ
اے شمس الضحیٰ نبی ! ﷺ
اے نور الهدیٰ نبی ! ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشته دے ثانی بل څوك هاشمي سردارئي ته
ځار دے دَ نامي نه شم سيد الابرار ﷺ ئي ته
وائي دا احمد علي
ته ئي هاشمي نبي
اے مکي ومدني
اے محمَد عربي
ستا په در ولاړيمه ځکه چي غمخوارئي ته
ځار دے دَ نامي نه شم سيد الابرار ﷺ ئي ته

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ربّ چي دے ستائيلے په قرآن کښي بار بار
سيد الابرار ﷺ دے دَ نامي نه ئي شم زار
ياد دے په طٰه ﷺ سره او ياد دے په یٰسين ﷺ
ياد په کائنات کښي په صادق ﷺ دے په امين ﷺ
ياد دے کله کله مزمل ﷺ هم په گفتار
سيد الابرار ﷺ دے دَ نامي نه ئي شم زار
ياد په مدثر ﷺ دے هم زمونږ نبي سرور ﷺ
ياد په کائنات کښي دے دَ ټولونه بهتر ﷺ
ياد دے نوراني هم دَ دُنيا په هره لار
سيد الابرار ﷺ دے دَ نامي نه ئي شم زار

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاد په مهربان ﷺ دے هم دے یاد خیر البشر ﷺ
یاد دَ رهبرانو کائنات کښي دے رهبر ﷺ
یاد دے مینه ناك په كائنات کښي حسن دار ﷺ
سیدا لابرار ﷺ دے دَ نامي نه ئي شم زار
یاد دے هم ملګرے کائنات کښي دَ غریب
یاد دے کائنات کښي دَ هریو انسان طبیب ﷺ
یاد دے کائنات کښي په لقب باندے غمخوار ﷺ
سیدا لابرار ﷺ دے دَ نامي نه ئي شم زار
یاد په کائنات کښي دے ملګرے دَ یتیم
یاد دے په لقب سره یاد شوي په کریم
نور دَ هري لاري دے او نور دَ هریو دار
سیدا لابرار ﷺ دے دَ نامي نه ئي شم زار
یاد دے هم شفیع ﷺ دَ خپل اُمت ددي جهان
داسے احمد وائي ښه واضحه دَ مردان
مدحه کښي لیکلي دَ رسول ﷺ ئي دي اشعار
سیدا لابرار ﷺ دے دَ نامي نه ئي شم زار

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قربان شمه لتانه اے احمدنبي سرداره! ﷺ
دُنیا تولـه پیداشوه ستاله مخه له انواره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دُنیا تـولــه پیـداشـوه ستــا لــه مـخــه سـراسـر
پیـدا شـول ستــالــه مـخــه دَ دُنیـا شمــس وقـمـر
پیـدا ده ستــا لـــه مـخـــه هــرکـوځـه اوهــره لاره
قــریــان شـمــه لـتــانــه اے احـمـدنبی سـرداره! ﷺ

پیـداشـول ستـا لـه مخـه پـه دُنیا کښې بره ستـوري
انسـان ورتـه پـه شپـه کښې بنـۀ پـه خوند سره چې ګوري
رڼـاده ستــا لـــه مـخـــه پـه دُنیا کښـې هـره لاره
قــریــان شـمــه لـتــانــه اے احـمـدنبی سـرداره! ﷺ

پیـدا شـول ستــا لــه مـخـــه آسـمـانـونـه دَ جهـان
پیـداشـول ستــا لـــه مـخـــه تـول ګـلـونـه دَجهـان
هـر څـۀ دي ستـا لـه مخه اے محبوب دَربّ غفاره! ﷺ
قــریــان شـمــه لـتــانــه اے احـمـدنبی سـرداره! ﷺ

کـۀ مشك دي عـنبـر دي ستـا لـه مـخـه پیداشـوی
دُنیـا کښـې کـۀ ګـوهر دي ستا لـه مـخه پیداشـوی
هـر حُسـن ستـا دَ حُسـن نـه پیـدادے تـاجداره! ﷺ
قــریــان شـمــه لـتــانــه اے احـمـدنبی سـرداره! ﷺ

حـرفـونـه دَ قـرآن هـم ستـاپـه لـوئـے مقام ګـویـادي
احـمـدعـلـی! شـاهـد پـه دے خبـره اولیـاء دي
مـقـام دے ډیـر اوچـت دے اے حسینـه حسن داره! ﷺ
قــریــان شـمــه لـتــانــه اے احـمـدنبی سـرداره! ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

پیداشـۀ چـې حـضرت خیرالبشر ﷺ دَ مدینې
هـر ځـائے شــۀ نـورانــی نور منـور دَ مدیـنـې
نــور خــور شــۀ هـر طـرف تـه شوه دُنیـا تـولـه رڼـا
رڼــا شــوه هــر طــرف تـــه معـطَـره شوه فـضــا
پیــداشــولــو دُنیــا کښــې چـې دلبــر دَ مـدیـنــې
هـر ځـائے شــۀ نـورانــی نور منـور دَ مدیـنـې
هــر ځـــائے رڼــا رڼــا شـو دَ دُنیــا ددې جهـــان
هـم زمــکــــه شــوه رڼــا او هـم رڼـا شـولـو آسمــان
هــر کــلــه دلتـــه راغـــے چــې رهبــر دَ مـدینـې
هـر ځـائے شــۀ نـورانــی نور منـور دَ مدیـنـې
بــاطــل شــۀ پـــه دُنیـــا کښـې پـه ژړا دغـه سـاعـت
بــربــاد شــولــو مشــرکــه بدعـتــی او هـم بـدعـت
پیـدا چـې شــۀ دُنیـا کښـې پیـغـمبر ﷺ دَ مـدینـې
هـر ځـائے شــۀ نـورانــی نور منـور دَ مدیـنـې
بتــان دَ لات مـنــات پــه جهــان مات شول داساعـت
نــور خــور شــۀ پــه دُنیـــا کښـې دَ اسلام دَ هـدایـت
هـــادی دَ زمـــانـــې شــولــو افســـر دَ مـدیـنـې
هـر ځـائے شــۀ نـورانــی نور منـور دَ مدیـنـې
تیــرې دَ ضــلالـت تـولې رخصـت شـوے لـه دُنیـانـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر ځائے شۀ نورانی ښۀ منوره ښۀ روښانه

رڼا شۀ په دُنیا کښې چې سحر دَ مدینې

هر ځائے شۀ نورانی نور منور دَ مدینې

احمد علی رڼا شوه مدینه اوتول جهان

رڼا شوه کورکوڅه ورسره هم ضلع مردان

روښانه دَ دُنیا شو هریو در دَ مدینې

هر ځائے شۀ نورانی نور منور دَ مدینې

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

لاثانی دے په دُنیا کښې محمد ﷺ

لاثانی دے په هر خوا کښې محمد ﷺ

لاثانی دے په صورت سره نبی ﷺ

لاثانی دے په سیرت سره نبی ﷺ

لاثانی دے په ویښا کښې محمد ﷺ

لاثانی دے په هر خوا کښې محمد ﷺ

لاثانی په هر ادا دے پاك نبی ﷺ

لاثانی په نوررڼا دے پاك نبی ﷺ

لاثانی دے په وفا کښې محمد ﷺ

لاثانی دے په هر خوا کښې محمد ﷺ

لاثانی دے په رفتار ددې جهان

لاثانی دے په هر کار ددې جهان

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاثـــانـــی دے پـــه غـنـــا کـبنـــي مـحـمـد ﷺ

لاثـــانـــی دے پـــه هـر خـوا کـبنـــي مـحـمـد ﷺ

لاثـــانـــی دے پـــه کتـلـــو دَ جهـــان

لاثـــانـــی دے پـــه وئيـلـــو دَ جهـــان

لاثـــانـــی دے پـــه دُعـــا کـبنـــي مـحـمـد ﷺ

لاثـــانـــی دے پـــه هـر خـوا کـبنـــي مـحـمـد ﷺ

لاثـــانـــی پـــه امـــانـــت دے دَ جهـــان

لاثـــانـــی پـــه سـخـــاوت دے دَ جهـــان

لاثـــانـــی دے پـــه ربنتيـــا کـبنـــي مـحـمـد ﷺ

لاثـــانـــی دے پـــه هـر خـوا کـبنـــي مـحـمـد ﷺ

لاثـــانـــی دے پـــه اصـحـــابؓ ددي جهـــان

لاثـــانـــی دے پـــه هـريـــاب ددي جهـــان

لاثـــانـــی دے پـــه بنـکـلا کـبنـــي مـحـمـد ﷺ

لاثـــانـــی دے پـــه هـر خـوا کـبنـــي مـحـمـد ﷺ

لاثـــانـــی دے پـــه هـر کـور اويـــه هـردر

لاثـــانـــی دے پـــه لـقـب خيـر البشـر ﷺ

لاثـــانـــی دے نـور زيبـــا کـبنـــي مـحـمـد ﷺ

لاثـــانـــی دے پـــه رحـمـت ددي جهـــان

لاثـــانـــی دے پـــه عـظـمـت ددي جهـــان

لاثـــانـــی دے پـــه حيـــا کـبنـــي مـحـمـد ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاثـــانـــی دے پـــه هــر خــوا کـبـنـې مـحـمـد ﷺ

لاثـــانـــی دے هــم پـــه مـیـنـــه مـحـبـت

لاثـــانـــی دے هــم پـــه نــور دَ شــفــاعــت

لاثـــانـــی دے پـــه عـطـــا کـبـنـې مـحـمـد ﷺ

لاثـــانـــی دے پـــه هــر خــوا کـبـنـې مـحـمـد ﷺ

لاثـــانـــی پـــه هــر صــفــت دے دَ جـهـــان

هــر مــحــســن بــانــدې ئـې کـړے دے احـســان

لاثـــانـــی دے پـــه جــزا کـبـنـې مـحـمـد ﷺ

لاثـــانـــی دے پـــه هــر خــوا کـبـنـې مـحـمـد ﷺ

لاثـــانـــی دے احـــمـــدوائـــی دَ مــردان

لاثـــانـــی دے هــم پـــه زمــکـــه او آســمـــان

لاثـــانـــی دے پـــه تــقــویٰ کـبـنـې مـحـمـد ﷺ

لاثـــانـــی دے پـــه هــر خــوا کـبـنـې مـحـمـد ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

لاثـــانـــی پـــه ټــول جـهـــان دے مـحـمـد ﷺ

لاثـــانـــی پـــه هــر آسـمـــان دے مـحـمـد ﷺ

نـــهٔ اَفـتـــاب ورتـــه پـــه حـســن کـبـنـې رسـیـــږی

نـــهٔ مهـتـــاب ورتـــه پـــه حُـسـن کـبـنـې رسـیـــږی

وایـــم داســـے عـــالیـشـــان دے مـحـمـد ﷺ

لاثـــانـــی پـــه ټــول جـهـــان دے مـحـمـد ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـــهٔ رڼــــا تـــــه ئــي رسيـــــږي يــو ســحــر
نـــهٔ رڼــــا تـــــه ئــي رسيـــــږي نــور دَ نــمــر
پـــه دُنيـــا کښـــي تـل روښـــان دے مــحــمـد ﷺ
لاثـــانـــي پـــه ټـول جهـــان دے مــحــمـد ﷺ

لاجـــواب پـــــه هــر صـــفـــت دے دَ جهـــان
لاجـــواب پـــــه ټـول سيـــرت دے دَجهـــان
لــکـــه ګـل دَ ګـلستـــان دے مــحــمـد ﷺ
لاثـــانـــي پـــه ټـول جهـــان دے مــحــمـد ﷺ

هـــر کـمـــال ئــي دَ دُنيـــا دے غــټ کـمـــال
لاثـــانـــي دے پـــه دُنيـــا کښـــي لامثـــال
دَ دُنيــــا عــظيـــم انســـان دے مــحــمـد ﷺ
لاثـــانـــي پـــه ټـول جهـــان دے مــحــمـد ﷺ

هـــر مــحــفـــل ئــي دَ انـــوارونـــه دے ډك
هـــرمـــنـــزل ئــي دَ انـــوارو نـــه دے ډك
مــنــور پــه هــر مــکـــان دے مــحــمـد ﷺ
لاثـــانـــي پـــه ټـول جهـــان دے مــحــمـد ﷺ

هــم اولاد ئــي دے ښـــائستـــهٔ پـــه هــرصـفـت
هــم اولاد ئــي دے ښـــائستـــهٔ پـــه نــورعــزت
تـــرجـــمـــان دَ حــق بيـــان دے مــحــمـد ﷺ
لاثـــانـــي پـــه ټـول جهـــان دے مــحــمـد ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم اصحابؓ ئي رڼا ګاني دَ دُنيا دي
هم اصحابؓ ئي ټول ممتاز په هر ادا دي
هم محبوب دَ پاك سبحان دے محمد ﷺ
لاثاني په ټول جهان دے محمد ﷺ
احمد وائي دا بيان حقه وينا ده
دا توخه تل اخرت له ذَهر چاده
دَ اللّٰه کريم احسان دے محمد ﷺ
لاثاني په ټول جهان دے محمد ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چي تعريف دَ محمد ﷺ شي په لبانو
ډير به خوند كوي ملګرو عاشقانو
چي تعريف دَ محمد ﷺ په ژبه راشي
لكه شات چي دَ كبين نه راجداشي
ډير به خوند كوي ملګرو شاعرانو
ډير به خوند كوي ملګرو عاشقانو
عزت مند ه به هرځائے په دے دُنيا شي
چي تعريف سره دَ پاك رسول ﷺ ګويا شي
داعلاج دے دَ دُنيا دَ رنځورانو
ډير به خوند كوي ملګرو عاشقانو
تل تعريف دَ محمد ﷺ دَ دُنيا نور دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـل تـعـریف دَ محمد ﷺ دَ هـر خوا نـور دے
تپـوس کـوُلـے شـے دَ ښـو ښـو عـالـمـانـو
ډیـر بـه خـونـد کـوی ملـګـرو عـاشـقـانـو
مـخ قـمـر ئـې دَ جـهـان دے دَ دُنـیـا
نـورانـی ډیـر عـالیشـان دے دَ دُنـیـا
تپـوس کـوُلـے شـے دَ نیـکـو صـالحـانـو
ډیـر بـه خـونـد کـوی ملـګـرو عـاشـقـانـو
احـمـد وائـی پـه تـعـریف ئـې نـهٔ مـړیـږم
پـه دیـدن یـې ئـې دلـتـه کښـې کـړیـږم
ځـکـه یـاد یـمـه طـالـب دَ طـالـبـانـو
ډیـر بـه خـونـد کـوی ملـګـرو عـاشـقـانـو

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ربّ پیـدا کـړے لامثـال
لاثـانـی پـه نـور جـمـال
هـم پـه حـال او استـقبـال
لاثـانـی پـه هـر کـمـال
مـحـمَـده ﷺ! بهتـریـن ئـې
خـورم قسـم چـې ډیـر حسیـن ئـې
هـم مـکـی ﷺ ئـې مـدنـی ﷺ ئـې
لاثـانـی تـهٔ پـه مـاضـی ئـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



عربی ئي هاشمی ئي
مقتدا دَ مقتدی ئي
رحمة اللعلمین ﷺ ئي
محمده ﷺ! بهترین ئي
تهٔ ملګرے دَ یتیم ئي
مهربانه ئي کریم ئي
رَبّ یاد کړے په رحیم ئي
هم حلیم ئي هم حکیم ئي
تهٔ محبوب دَ رَبّ متین ئي
محمده ﷺ! بهترین ئي
لاثانی په هر یو در ئي
دَ رهبر سری رهبر ﷺ ئي
په لقب خیرالبشر ﷺ ئي
نورانی ئي منور ﷺ ئي
په اللّٰه باندے مئین ئي
محمده ﷺ! بهترین ئي
مزمل ﷺ ئي ته طه ﷺ ئي
مصطفیٰ ﷺ ئي مجتبیٰ ﷺ ئي
نورانی بدرالدجیٰ ﷺ ئي
نورانی نور دَ هر چا ئي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهٔ صادقه ﷺ او امین ﷺ ئي
محمَده ﷺ! بهترین ئي
احمد وائی مختصر
تهٔ ساقی ﷺ ئي دَ کوثر
تاج دَ هرچا ئي دَ سر
نور رڼا ئي د نظر
هم شفیع المذنبین ﷺ ئي
محمَده ﷺ! بهترین ئي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په کائنات کښي لاثانی ئي تهٔ
اے محمده ﷺ! نورانی ئي تهٔ
تهٔ لاثانی ئي په هر در دَ جهان
تهٔ لاثانی ئي هم په زمکه آسمان
تهٔ لاثانی ئي عزت مند عالیشان
علاج دُنیا کښي جسمانی ئي تهٔ
اے محمده ﷺ! نورانی ئي تهٔ
تهٔ نورانی ئي منوره نمر
تهٔ نورانی ئي دَ دُنیا قمر
تهٔ نورانی ئي د دُنیا سحر
داعی دَ حق ئي نشانی ئي تهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے محمده ﷺ! نوراني ئي تهٔ
تهٔ نوراني ئي هدايت دَ جهان
تهٔ نوراني ئي شريعت دَجهان
تهٔ نوراني ئي هر ساعت دَجهان
علاج دَ هر زړهٔ روحاني ئي تهٔ
اے محمده ﷺ! نوراني ئي تهٔ
تهٔ لاثاني ئي دَحيا په صفت
تهٔ لاثاني ئي دَوفا په صفت
احمد ښائستهٔ شولو نن ستا په صفت
برهان دُنيا کښې قرآني ئي تهٔ
اے محمده ﷺ! نوراني ئي تهٔ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دوست په دُنيا دَ رَبّ منان ئي
اے محمده ﷺ! عاليشان ئي
دوست په دُنيا دَ رَبّ غفار ئي
ګل دَ دُنيا دَ هر ګلزار ئي
ډير مهربانه ئي غمخوار ئي
ته لاثاني په هر بيان ئي
اے محمده ﷺ! عاليشان ئي
ګل دَ مکې ئي په عرب کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیر ئې عالی اوچت نسب کښې
هم لاثانی ئې په مذهب کښې
حُسن دَ هر یو ګلستان ئې
اے محمده ﷺ! عالیشان ئې

تهٔ لاثانی په ټول عالم ئې
نور په دُنیا دَ هر تورتم ئې
ډیر معزز ئې مکرم ئې
نور منوَر نمر دَ آسمان ئې
اے محمده ﷺ! عالیشان ئې

دَ دُنیا سپورے دَ رحمت ئې
حسین قسم دے په سیرت ئې
هم تهٔ حسین په هر صفت ئې
وائی احمد دلیل برهان ئې
اے محمده ﷺ! عالیشان ئې

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تهٔ ئې مکی مدنی خیر الابراره نبی ﷺ
اے محمد عربی خیر الابراره نبی ﷺ
تهٔ ئې محبوب دَ عرب هم ئې محبوب دَ عجم
تهٔ لاثانی په مینه هم لاثانی په کرم
تهٔ لاثانی په جهان تهٔ لاثانی په حرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے دَ مکي هاشمی خیر الابراره نبی ﷺ

اے محمد عربی خیر الابراره نبی ﷺ

تۀ لاثانی په وطن په دي تول خلق ګواه

تۀ لاثانی په چمن په دي تول خلق ګواه

نورانی ئې په بدن په دي تول خلق ګواه

ښائستۀ حسینه نبی خیر الابراره نبی ﷺ

اے محمد عربی خیر الابراره نبی ﷺ

ستا لوے مقام ته کله بره آسمان رسیږی

ستا لوئے مقام ته کله نور دَ جهان رسیږی

ستا لوئے مقام ته کله دغه انسان رسیږی

اے مقتدا دَ ولی خیر الابراره نبی ﷺ

اے محمد عربی خیر الابراره نبی ﷺ

هم ئې محبوب تۀ دَ ربّ داسے یادیږي نبی ﷺ

تۀ ئې عالی په نسب داسے یادیږي نبی ﷺ

هم دَ جنت ئې سبب داسے یادیږي نبی ﷺ

اے قدردانه مکی خیر الابراره نبی ﷺ

اے محمد عربی خیر الابراره نبی ﷺ

تۀ ئې وفا دَ جهان هم ئې رڼا دَ جهان

تۀ ئې حیا دَ جهان تۀ په هر خوا دَ جهان

تۀ ئې شفا دَجهان هم ئې دوا دَ جهان

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه نسـب ئـې هــاشمـى خيـرالابـراره نبـى ﷺ
اے مـحـمـد عـربـى خيـر الابـراره نبـى ﷺ
ستـا دَ وطـن ګـلـونـه دى تول اصحـابؓ دَ جهـان
ستـا دَ چـمـن ګـلـونـه دى تول اصحـابؓ دَ جهـان
دَ پـرون نـن ګـلـونـه دى تـول اصحـابؓ دَجهـان
هـم لاثـانـى ئـې سـخـى خيـر الابـراره نبـى ﷺ
اے مـحـمـد عـربـى خيـر الابـراره نبـى ﷺ
تـه ئـې رهـبـر دَ جهـان هـم دَ صـديـق اکبـرؓ
تـه ئـې رهـبـر دَ جهـان هـم دَ عثـمـانؓ عـمـرؓ
تـه نـورانـى ئـې نـمـر هـم نـورانـى سـحـر
اے مـقـتـدا دَ عـلـىؓ خيـر الابـراره نبـى ﷺ
اے مـحـمـد عـربـى خيـر الابـراره نبـى ﷺ
احـمـد قـربـان لتـانـه د دې مـردان د در
ستـانـه قـربـان دا هـرڅـه د دې جهـان د در
ستـانـه قـربـان ګـلـونـه تول عـاليشـان دَ در
نُـور ظـاهـرى بـاطـنـى خيـر الابـراره نبـى ﷺ
اے مـحـمـد عـربـى خيـر الابـراره نبـى ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

امتـى دَ مـحـمـد خيـر البشـر ﷺ يـم
ثـنـاخـوان او مـدح خـوان دَ پيـغـمبـر ﷺ يـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثنا خوان دَ محمد خیر الابرار ﷺ یم

ثنا خوان زهٔ دَ محبوب دَ ربَ غفار یم

ثنا خوان دَ مدینې دَ تاجدار یم

زهٔ خوشحاله دَ رسول الله ﷺ په در یم

ثنا خوان او مدح خوان دَ پیغمبر ﷺ یم

ثنا خوان دَ مدینې زهٔ دَ دلدار ﷺ یم

ثنا خوان دَ مدینې زهٔ دَ غمخوار ﷺ یم

ثنا خوان دَ مدینې زهٔ دَ سردار ﷺ یم

ثنا خوان زهٔ په دُنیا دَ دغې نمر یم

ثنا خوان او مدح خوان دَ پیغمبر ﷺ یم

ثنا خوان دَ مصطفیٰ ﷺ او مجتبیٰ ﷺ یم

ثنا خوان زهٔ دَ احمد خیر الوریٰ ﷺ یم

ثنا خوان دَ مزمل ﷺ او دَ طٰه ﷺ یم

ثنا خوان زهٔ دَ روښانه نور قمر یم

ثنا خوان او مدح خوان دَ پیغمبر ﷺ یم

ثنا خوان دَ اولین ﷺ او اخرین ﷺ یم

ثنا خوان زهٔ دَ صادق ﷺ او دَ امین ﷺ یم

ثنا خوان زهٔ په دُنیا کښې دَ حسین ﷺ یم

ثنا خوان دَ رهبرانو دَ رهبر ﷺ یم

ثنا خوان او مدح خوان دَ پیغمبر ﷺ یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثناخوان دَ رحمة اللعلمين ﷺ يم
ثناخوان دَ مدثر او دَ يسين ﷺ يم
ثناخوان زۀ دَ شفيع المذنبين ﷺ يم
ثناخوان په کائنات کښې دَ بهتر ﷺ يم
ثناخوان او مدح خوان دَ پيغمبر ﷺ يم
ثناخوان دَ امامانو دَ امام ﷺ يم
ثناخوان زۀ دَ حضرت خير الانام ﷺ يم
ثناخوان زۀ دَ حضرت عالی مقام ﷺ يم
ثناخوان زۀ په دُنيا دَ معطر ﷺ يم
ثناخوان او مدح خوان دَ پيغمبر ﷺ يم
ثناخوان زۀ دَ بشير ﷺ او دَ نذير ﷺ يم
ثناخوان دَ اميرانو دَ امير ﷺ يم
ثناخوان زۀ دَ سراج ﷺ يمه منير ﷺ يم
ثناخوان دَ پاك رسول ﷺ دَ هر نظر يم
ثناخوان او مدح خوان دَ پيغمبر ﷺ يم
ثناخوان زۀ دَ محمود ﷺ يمه حكيم ﷺ يم
ثناخوان زۀ په اخلاقو دَ عظيم يم
ثناخوان زۀ دَ حليم ﷺ او دَ رحيم ﷺ يم
ثناخوان زۀ لاثانی ددے سحر يم
ثناخوان او مدح خوان دَ پيغمبر ﷺ يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثنا خوان يمه احمد ئي دَ مردان
ثنا خوان يم دَ نبي اٰخرزمان ﷺ
ثنا خوان يمه دَ لوئے عظيم سلطان ﷺ
ثنا خوان دَ مديني زۀ دَ دلبر يم
ثنا خوان او مدح خوان دَ پيغمبر ﷺ يم

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قربان لتا نه شمه محبوب زما ئي
ګران په الله ئي نبي ﷺ ګران په الله ئي
ستا په راتلو سره شوه ټوله دا دُنيا بدله
ستا په راتلو سره شوه ټوله دا فضا بدله
ستا په راتلو سره شوه ټوله دا هوا بدله
ډيوه روښانه ئي تۀ رڼا رڼا ئي
ګران په الله ئي نبي ﷺ ګران په الله ئي
ستا په خاطر له دُنيا نه ټول ظلمت لرے شو
ستا په خاطر له دُنيا نه شرك بدعت لرے شو
دَ قبيلو ډلو نه ټول عداوت لرے شو
هم رهنما دَ خلقو تۀ په هر خوا ئي
ګران په الله ئي نبي ﷺ ګران په الله ئي
تۀ ئي امين ﷺ په صفت ددې دُنيا دَ در
تۀ ئي حسين ﷺ په صفت ددې دُنيا دَ در

(c) ketabton.com: The Digital Library


تـــهٔ ئـــې نیـــازبیـــن ﷺ پـــه صـفـت ددې دُنیـــا دَ در
لاثـــانـــی دلتـــه کښـــی هـم تـــه پـــه نـوروفـــائـــې
ګـــران پـــه الـلّـــه ئـــې نبـی ﷺ ګـــران پـــه الـلّـــه ئـــې
تـــهٔ ئـــې صـــادق دَجهـــان دَ دُنیـــا خـلـق وائـــی
تـــهٔ مـــحبـــوب دَ رحـــمٰـــن دَ دُنیـــا خـلـق وائـــی
تـــهٔ ئـــې عـظیـم عـــالیشـــان دَ دُنیـــا خلق وائـــی
دَ هـــر رنـــځـــورپـــه جهـــان عـــلاج دوا ئـــې
ګـــران پـــه الـلّـــه ئـــې نبـی ﷺ ګـــران پـــه الـلّـــه ئـــې
تـــهٔ ئـــې خـــاتـم پـــه جهـــان ثـــانـی دے دلتـــه نشتـــه
خـــوږ ئـــې پـــه هـــریـــو بیـــان ثـــانـی دے دلتـــه نشتـــه
وائـــی احـــمـد دَ مـــردان ثـــانـــی دے دلتـــه نشتـــه
حسیـــن سیـــرت ســـره ئـــې خـــوږ پـــه ویـنـــائـــې
ګـــران پـــه الـلّـــه ئـــې نبـی ﷺ ګـــران پـــه الـلّـــه ئـــې

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هـــر طـــرف رنـــا شـــهٔ چـــې ظـــاهـر شـهٔ پیغمبـر ﷺ دَ حق
نـــور خیـــر الـبشـــر ﷺ دَ حـق بـدلـــه دادُنیـــا شـولـــه
بـــدلـــې هـــوا ګـــانـــې دَ دُنیـــا پـــه هـــر طـــرف شـولـــے
قسـم دے رنـــا ګـــانـــې دَ دُنیـــا پـــه هـــر طـــرف شـولـــے
حسیـــنـــې فـضـــا ګـــانـــې دَ دُنیـا پـــه هـر طـرف شـولـــے
دُنیـــاکښـــې بښـــکـــاره شـــوې مـدینـــه کښـې دے قمـر دَ حق

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور خیر البشر ﷺ دَ حق بدله دادُنیا شوله
جوړ دَهر صحرانه په دُنیا باندے ګلزارشولو
هر مکان په دوی سره دُنیاکښې خوشبودار شولو
هر یو څیز دُنیا کښې ئې په حسن حسندار شولو
کله چې ظاهر شۀ دَ دُنیا دغه رهبر ﷺ دَ حق
نور خیر البشر ﷺ دَ حق بدله دادُنیا شوله
زړونه منور دَ انسانانو په دُنیا کښې شو
زړونه منور دَ صالحانو په دُنیاکښې شو
زړو منوّر دَعالمانو په دُنیا کښې شو
کله چې ظاهر شۀ په دُنیا کښې دا افسر ﷺ دَ حق
نور خیر البشر ﷺ دَ حق بدله دادُنیا شوله
هر ځائے منوّر شۀ منوّره مدینه شوله
ټوله معطّره نورانی ئې هر حصه شوله
اے احمدعلی ! دا نورانی ښکلے ډیوه شوله
کله چې ظاهر شۀ په دُنیا کښې دغه نمر ﷺ دَ حق
نور خیر البشر ﷺ دَ حق بدله دادُنیا شوله

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رهبر دَ رهبرانو دې زمونږه پاك حضور ﷺ
افضل دَهر بشر نه دے افضل دے دَ هر نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



افضل په کائنات کښې هم دَ نوحؑ او دَ ادمؑ دے
افضل په کائنات کښې په عرب او په عجم دے
افضل په ټول جهان کښې مقدمه محترم دے
افضل ئې غار ثور دے دَ دُنیا دَ کوهِ طور
افضل دَ هر بشر نه دے افضل دے دَ هر نور
افضل په خلائق کښې دے قسم دے لاثانی
طبیب دَ کائنات دے جسمانی او روحانی
وجود ئې دَ دُنیا دے منوره نورانی
قسم دے لاثانی ئې دَ ژوندون دے ټول دستور
افضل دَ هر بشر نه دے افضل دے دَ هر نور
افضل په هر صفت دے په دُنیا دَ هر بشر نه
افضل په امامت دے دَ دُنیا دَ هر بشر نه
افضل په شفاعت دے دَ دُنیا دَ هر بشر نه
هر شی دې جهان ئې په لیدلو شئ مسحور
افضل دَ هر بشر نه دے افضل دے دَ هر نور
هم مینه محبت دے دَ دُنیا دَ هر بشر
هم سپورے دَ رحمت دے دَدُنیا دَ هر بشر
هم نور دَ شریعت دے دَ دُنیا دَ هر بشر
ملګرے کائنات کښې دَ غریب دے دَ مجبور
افضل دَ هر بشر نه دے افضل دے دَ هر نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



افضل دے اے احمده ! محمد ﷺ دَ ربَ اکبر
یادیږي په بهتروکښي دَ ټولونه بهتر
لیدلے چا به نه وي داسے بل څوك په نظر
ملګرے په دُنیا کښي دَ یتیم دے او مزدور
افضل دَ هر بشر نه دے افضل دے دَ هر نور

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دُنیا کښي چي پیدا شو محمد رسول اللّٰه ﷺ
هر ځائے شو منوره شوه دُنیا رڼا رڼا
هر ځائے شو منوره په انوار دَ محمد ﷺ
هر ځائے شو منوره په دربار دَ محمد ﷺ
هر ځائے شو منوره په ګفتار دَ محمد ﷺ
هر ځائے شو نوراني دَ محمد ﷺ په نور ضیا
هر ځائے شو منوره شوه دُنیا رڼا رڼا
خوره په کائنات کښي چي رڼا شوه دَ سحر
خوره په کائنات کښي چي رڼا شوه دَ قمر
هر ځائے شو نوراني ټول په رڼا دَ پیغمبر ﷺ
هر څیز په خوشحالي شو کائنات کښي په خندا
هر ځائے شو منوره شوه دُنیا رڼا رڼا
تیره دَ ضلالت شولي رخصت ټولي دُنیا نه
تیره دَ هر بدعت شولي رخصت ټولي دُنیا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیـــري دَعـــداوت شــولـــي رخـــصـــت تـهولـــي دُنیـــا نـــه
خـوره پـــه کـــائـنـــات کښې دَرسول ﷺ شوه چې ویـنا
هـــر ځـــائـــے شـــو مـــنـــوره شـــوه دُنیـــا رنـــا رنـــا

بتـــان دَکـــفــــر پـــريـــوتـــل دُنیـــا کښې داســـاعـــت
وُدۀ خـــلـــق بیـــدار شـــول دَ خـــوب نـــه دَ غـــفـــلـــت
دَشـــرك بتـــان تـــول لاړل دُنیـــانـــه شـــو رخـــصـــت
پیـــدا شـــو پـــه دُنیـــا کښې چې زمونـــږه رهـــنـــمـــا
هـــر ځـــائـــے شـــو مـــنـــوره شـــوه دُنیـــا رنـــا رنـــا

بتـــان دَکـــفــــر مـــات شـــول احـــمـــده ! دَ جـهـــان
ښـــائستـــۀ شـــوه دادُنیـــا هـــم پـــه ســـنـــت اوپـــه قـــرآن
ښـــائستـــۀ شـــول پـــه دي نـــور سره هـــم زمـکـــه اوآسمـــان
راتـــلـــو ســـره پـــه دوي شـــوه مـــعـــطـــره دافـــضـــا
هـــر ځـــائـــے شـــو مـــنـــوره شـــوه دُنیـــا رنـــا رنـــا

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

عـــزتـــمـــنـــد دے دَ نبـــی ﷺ دَ در مـــکـــتـــوب
قـــدردان دے مســـلـــمـــان تـــه دے مـــحـــبـــوب
قـــدرمـــنـــد دے هـــريـــو خـــط دَ مـــحـــمـــد ﷺ
عـــزتـــمـــنـــد دے هـــريـــو خـــط دَ مـــحـــمـــد ﷺ
ښـــۀ بـــلـــنـــد دے هـــريـــو خـــط دَ مـــحـــمـــد ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اطمینان دے په دُنیا کښي دَ قلوب
عزتمند دے دَ نبی ﷺ دَ در مکتوب
قدرمند دے دا مکتوب ددي جهان
مرتبه کښي دے اوچت له هر آسمان
ډیر عظیم دے دَ دُنیا په هر مکان
بهترین دے دَ دُنیا په هر اسلوب
عزتمند دے دَ نبی ﷺ دَ در مکتوب
قدرمند دے دا مکتوب ددي دُنیا
په دُنیا کښي دَ هر در ده دا رڼا
عزت مند دے کائنات کښي په هرخوا
مکمل دے دا په مینه کښي تول ډوب
عزتمند دے دَ نبی ﷺ دَ در مکتوب
اے احمد علی ! دا خط دے عالیشان
هم حسین په هر صفت دے دَجهان
ډیر حسین دے دَ دُنیا په گلستان
دَعزت دے هر یو شیز ورته منسوب
عزتمند دے دَ نبی ﷺ دَ در مکتوب

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

حسین ددي دُنیا دے هر یو گل دَ مدینې
ښائسته په تول جهان کښي دے محفل دَ مدینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر ګل دے حسن داره خوشبوداره معطر
هر ګل په هره لاره خوشبوداره معطر
دَزړۀ سکون دَ پاره خوشبوداره معطر
یادیږي دا ګلونه زما تل دَ مدینې
حسین ددې دُنیا دے هر یو ګل دَ مدینې

هر ګل کښې ده ښکلا حسن وجمال ددې جهان
هر ګل دے لاثانی ددې دُنیا په ټول احوال
هر ګل ددغې دردے په دُنیا کښې لامثال
قسم دے اطمینان دی تل لیدل دَ مدینې
حسین ددې دُنیا دے هر یو ګل دَ مدینې

خوشبو ته ئې نۀ رسی دَ دُنیا مشك وعنبر
خوشبو ته ئې نۀ رسی دَ دُنیا دَ در عطر
خوشبو ته ئې نۀ رسی په دُنیا کښې یو بشر
هر ځائے دے خوشبوداره هر منزل دَ مدینې
حسین ددې دُنیا دے هر یو ګل دَ مدینې

تل پروت ئې په خوشبو کښې دے سکون واطمینان
تل پروت ئې په خوشبو کښې دے سکون دَ ټول جهان
تل پروت ئې په خوشبو کښې دے سکون دَ هر انسان
احمد علی! حسین دی دا لیکل دَ مدینې
حسین ددې دُنیا دے هر یو ګل دَ مدینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

لوئے مقام لري دَ پاك نبی ﷺ تعریف
اطمینان دے په دُنیا دَ هر ضعیف

هم دَ روح دغه غذا ده په دُنیا کښې
قدرمنده داوینا ده په هر خوا کښې
لاثانی ده داوینا حسن ښکلا کښې
هم په دے سره ښائسته وی هر ردیف
اطمینان دے په دُنیا دَ هر ضعیف

دا له شاتو نه دے خوږ په دې جهان
مرتبه کښې دے اوچت له هر اٰسمان
دَ رسول اللّٰه ﷺ تل مدحه اوبیان
دَ ښائست لباس دے ښکلے دَ شریف
اطمینان دے په دُنیا دَ هر ضعیف

هر یو ځائے دَ پاره نور دے اورڼا
په اٰخر کښې په دے شته دے هم جزا
دا ښائسته کړی دَ دُنیا هره فضا
ښائسته کیږی هم په دے سره تصنیف
اطمینان دے په دُنیا دَ هر ضعیف

داوینا ګڼه دُنیا کښې خوږ شکر
دا خوږه ده دَ دُنیا په هر یو در

(c) ketabton.com: The Digital Library



احـــمـــد کــــړے دابيــــان دے مــخــتــصـــر
خـــفـــه کيــــږی دے ســـره شيــطـــان حـــريف
اطـــميــنــــان دے پــــه دُنيــــا دَهـــر ضــعـيف

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

عـظيـم پـه اُسـتـاذانـو کښـې زمـونږ نبی ﷺ اُستاد دے
قسـم دے داجهــان دَ دوی پــه نــور ســره آبــاد دے
بــاعــث دَ تـول جهــان دے مـحـمد خيـر الانـام ﷺ
بــاعــث دَ هــر مـکـــان دے محمد خيـر الانـام ﷺ
بــاعــث دَهــر آســمــان دے مـحـمد خيـر الانـام ﷺ
قسـم دے پـه دُنيـا کښـې زمـا دغـه اعتـقـاد دے
عـظيـم پـه اُسـتـاذانـو کښـې زمـونږ نبی ﷺ اُستاد دے
بـنيـاد دَ هـريـو کور دے محـمد رسول اللّـه ﷺ
سـکـون دَ سترګـو تور دے محـمد رسول اللّـه ﷺ
نـور دَ هـريــو ګـور دے مـحـمد رسول اللّـه ﷺ
قـوی پـه تـول وجـود سـره پــه مثـل دَ فـولاد دے
عـظيـم پـه اُسـتـاذانـو کښـې زمـونږ نبی ﷺ اُستاد دے
حسيــن پــه هــر صــفـت سره يــاديــږی مـحـمد ﷺ
حسيــن پــه هــدايــت ســره يـــاديــږی مـحـمد ﷺ
حسيــن پــه هــر ســنـت سره يــاديــږی مـحـمد ﷺ
حسيــن دے مـحمد ﷺ اوهـم حسين ے تول اولاد دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



عظیم په اُستاذانو کښې زمونږ نبی ﷺ اُستاد دے
حسین دے لاثانی په ټول جهان کښې دَ دُنیا
حسین دے لاثانی په هر مکان کښې دَ دُنیا
حسین دے لاثانی په هر بیان کښې دَ دُنیا
موندلے اتباع کښې هر انسان دَ دوی مراد دے
عظیم په اُستاذانو کښې زمونږ نبی ﷺ اُستاد دے
احمد علی ! استاد دے محمد ﷺ دَ ټول جهان
استاد دے دبابا او دَ وړوکی او دَ ځوان
اُستاد دے لاثانی په کائنات دَ هر مکان
عظیم په ارشاداتو کښې دَ پاك نبی ﷺ ارشاد دے
عظیم په اُستاذانو کښې زمونږ نبی ﷺ اُستاد دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

عابد ﷺ په کائنات کښې لاثانی دے دَ معبود
حامد ﷺ په کائنات کښې محمد ﷺ دے هم محمود ﷺ
حکیم ﷺ دے لاثانی په کائنات دَ ربَ اکبر
رحیم ﷺ دے لاثانی په کائنات دَ ربَ اکبر
حلیم ﷺ دے لاثانی په کائنات دَ ربَ اکبر
قاصد ﷺ په کائنات کښې محمد ﷺ دے هم مقصود ﷺ
حامد ﷺ په کائنات کښې محمد ﷺ دے هم محمود ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



صادق ﷺ په کائنات کښې لاثاني دے په صفت
قسم دے لاثاني دے په صفت دَ امانت
قسم دے لاثاني دے په صفت دَ سخاوت
والد دے په جهان کښې هم دُنیا کښې دے مولود
حامد ﷺ په کائنات کښې محمد ﷺ دے هم محمود ﷺ
امین ﷺ سره یادیږي په دُنیا کښې درپه در
حسین سره یادیږي په دُنیا کښې در په در
نیازبین سره یادیږي په دُنیا کښې درپه در
حسینه مدینه کښې دے دَ پاك نبي ﷺ وجود
حامد ﷺ په کائنات کښې محمد ﷺ دے هم محمود ﷺ
اقوال ئې دي ګلونه دَ جهان ددغې در
حسین ئې دي یادونه دَ جهان ددغې در
حسین ئې دي وختونه دَ جهان ددغې در
وایه په دے نبي باندې سلام سره درود
حامد ﷺ په کائنات کښې محمد ﷺ دے هم محمود ﷺ
احمدعلي ! وینا دَ محمد ﷺ ده محبت
رڼا دَ علم دا ده او دا نور دے دَ حکمت
قسم دے نه ختمیږي ئې په دے سره صفت
محبوب په کائنات کښې هم یادیږي دَ ودود
حامد ﷺ په کائنات کښې محمد ﷺ دے هم محمود ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

عـالیشـانـه پـه دُنیـا کښـې محمده! ﷺ مکـرم ئـې
تـهٔ بـادشـاه هـم دَ عـرب ئـې اوبـادشـاه هـم دَعـجـم ئـې
تـهٔ بادشاه دَ انـس وجان ئـې مـحـمد خیر الابراره ! ﷺ
لاثـانـی پـه ټول جهان ئـې محمد خیـر الابـراره ! ﷺ
قـدرمـنـده عـالیشـان ئـې مـحـمد خیـر الابـراره ! ﷺ
دَ زخمـونـو تـه مـرهـم ئـې هـم عـلاج دَهـریوغم ئـې
عـالیشـانـه پـه دُنیـا کښـې محمده! ﷺ مکـرم ئـې
تـهٔ بـادشاه دَ دوجهان یـے اے دَدوجهـان سـرداره ! ﷺ
تـهٔ مـحبـوب دَ پـاک سبحان یـے اے دوجهـان سرداره ! ﷺ
تـهٔ رهبـر دَهـر انسـان یـے اے دَ دوجهـان سـرداره ! ﷺ
تـهٔ رهبـره ښـهٔ محـکـم ئـې تـهٔ رهبـر دَټول عـالم ئـې
عـالیشـانـه پـه دُنیـا کښـې محمده! ﷺ مکـرم ئـې
تـهٔ بـادشـاه دَهـریـو در ئـې محمد خیـر البشـره! ﷺ
تـهٔ رنـا دَ پـاس قـمـرئـې مـحـمد خیـر البشـره! ﷺ
تـهٔ هـم نـور دَبـره نـمـرئـې محمد خیـر البشـره ! ﷺ
هـم بـرهـان دلیـل مـحـکـم ئـې دَهـرچـا نـه مقدم ئـې
عـالیشـانـه پـه دُنیـا کښـې محمده! ﷺ مکـرم ئـې
تـهٔ بـادشـاه پـه هـرصـفـت ئـې محمد خیـر البشـره !ﷺ
مینـه مینـه محبـت ئـې محمد خیـر البشـره ! ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـهٔ رحمت ئي تـول رحـمـت ئي محمد خير البشره ! ﷺ
نـوررڼـا دَ هـر تـورتـم ئـي تـول كـرم ئـي مـحـتـرم ئـي
عـاليشـانـه پـه دُنيـا كښـي محمده! ﷺ مكـرم ئـي
تـهٔ سلـطان دَ هـر سلطان ئـي ، محمد خير الابراره ! ﷺ
تـهٔ رڼـا دَ هـر آسمان ئـي ، محمد خيـر الابـراره ! ﷺ
هـم مـوجـود پـه هـر اذان ئـي ، محمد خير الابراره ! ﷺ
دَ احـمـد هـم پـه قـلـم ئـي اطـمـيـنـان دَ هـر مـاتـم ئـي
عـاليشـانـه پـه دُنيـا كښـي محمده! ﷺ مكـرم ئـي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

لازم پـه كـائـنـات كښي دے دَ پـاك نبـی ﷺ ادب
لازم دے دا ادب هـم پـه عـجـم اوپـه عـرب
ادب هـم دے لازم دَ مـحـمـد ﷺ دَ هـر مـحـفـل
ادب هـم دے لازم دَ مـدينـي دَ هـريـو گـل
پـه خيـال سـره پـكـار دي داليـكـل اودا وئيـل
محبـوب پـه كـائنات دے پاك رسول اللّٰه ﷺ دَ ربَ
لازم پـه كـائـنـات كښي دے دَ پـاك نبـی ﷺ ادب
لازم دے هـم ادب دَ پـاك نبـی ﷺ دَ تـول اسـمـاء
لازم دے ښـهٔ ادب پـه كـائـنـات دَ انبيـاء
لازم دے تـل ادب دَ مـصـطـفـیٰ خيـر الـوریٰ ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library


حسين په کائنات کښې دے قسم دے په نسب
لازم په کائنات کښې دے دَ پاك نبي ﷺ ادب
ادب سره عظمت دے په دُنيا کښې هرساعت
ادب سره عزت دے په دُنيا کښې هرساعت
ادب سره زينت دے په دُنيا کښې هرساعت
ادب کښې هيڅ کله نشي دُنيا کښې مذبذب
لازم په کائنات کښې دے دَ پاك نبي ﷺ ادب
ادب دَ دين رڼا ده لاثاني په دے جهان
ادب دے ښکلے والے په دُنيا دَ هرانسان
ادب دے ښکلے والے دَ هرکور او د انسان
عظيم دے په دُنيا باندے قسم دے دا مَرُکَبْ
لازم په کائنات کښې دے دَ پاك نبي ﷺ ادب
ادب کوه دُنيا کښې دَ اصحابوٌ دَ نبي ﷺ
لازم دے دا ادب په عجمي اوعربي
لازم دے دا ادب ددي دُنيا په هر ولي
عظيم په کائنات کښې دے دَ دوي ټولو منصب
لازم په کائنات کښې دے دَ پاك نبي ﷺ ادب
ادب کوه دُنيا کښې دَ رسول ﷺ دَ ټول اولاد
په دين کښې هميشه کوه په دوي تل اعتماد
دَ دين دَ عمارت دَپاره دوي ګټه بنياد

(c) ketabton.com: The Digital Library



خادم ددغي کورشۀ اے احمده! ورځ اوشب
لازم په کائنات کښي دے دَ پاك نبي ﷺ ادب

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په دُنیا دَ هر بشر ئي تاج دَ سر
نوراني په هريو درئي تاج دَسر
لاثاني په کائنات کښي ستا وفا ده
لاثاني په کائنات کښي دي وينا ده
قدرمنده هر ساعت داپه هرخوا ده
رهبرانو له رهبر ئي تاج دَ سر
نوراني په هريو درئي تاج دَسر
هم عزت ئي دَ هردر ددي جهان
هم رحمت ئي دَ هردر ددي جهان
هدايت ئي دَ هردر ددي جهان
نوراني تۀ لکه نمر ئي تاج دَ سر
نوراني په هريو درئي تاج دَسر
لامثال ئي دَ دُنيا په هريو در
نۀ رسيږي ستا مقام ته يو بشر
ستا حسن ته نۀ رسيږي پاس قمر
نوراني نور دَ سحر ئي تاج دَ سر
نوراني په هريو درئي تاج دَسر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ عـزت پـه لـوئـے مـقـام بـانـدې ستـا کـور دے
دَ غــمــګـيــن بشــر عــلاج دَ زړۀ تـهـکـور دے
هـم شـفـيـع ﷺ دَ مـذنـبـيـن مـقـام دے نـور دے
دَ احــمــد عــلـــى دلبــر ئـــې تـــاج دَ ســر
نـــورانـــى پـــه هـــريـــو درئـــې تـــاج دَ ســر

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تـــۀ بُـنـيــا دَ هـريـو کـور ئـې مـحـمـده ! ﷺ
نـــورانـــى ډيـــوه دَ کـــور ئـــې مـــحـــمـــده ! ﷺ
نـــورانـــى ئـــې پـــه صـــورت دَ دې جهـــان
نـــورانـــى ئـــې پـــه سيـــرت دَ دې جهـــان
نـــورانـــى ئـــې هـــرســـاعـــت دَ دې جهـــان
مـــنـــوره پـــه هـــر لـــور ئـــې مـــحـــمـــده! ﷺ
تـــۀ بُـنـيــا دَ هـريـو کـور ئـې مـحـمـده ! ﷺ
مهـريـــانـــه پـــه هـــرچـــا ئـې اے رسـولـــه! ﷺ
لاثـــانـــى بشـــکـــلـــے رڼـــا ئـې اے رســولـــه! ﷺ
مـــعـــطـــره پـــه هـــرخـــوا ئـې اے رســولـــه! ﷺ
دَ مـــؤمـــن دَ زړۀ تـــکـــور ئـــې مـــحـــمـــده ! ﷺ
تـــۀ بُـنـيــا دَ هـريـو کـور ئـې مـحـمـده ! ﷺ
هـــم رحـــمـــت ئـــې مـــحـبـــت ددې جهـــان
هـــم راحـــت ئـــې هـــم شـــفـــقـــت ددې جهـــان

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم هادي ئې هدايت ددې جهان
اطمينان دَ سترګو تور ئې محمده ! ﷺ
تهٔ بُنياد دَ هر يو کور ئې محمده ! ﷺ

هم شفيع دَ مجرمانو په محشر ئې
هم رفيع تهٔ هر ساعت په هر يو در ئې
کائنات کښې رهبرانو له رهبر ئې
لااثانی قوی په زور ئې محمده ! ﷺ
تهٔ بُنياد دَ هر يو کور ئې محمده ! ﷺ

دَ احمد علی رهبر ئې دَ دُنيا
ستا په شان به پيدا نشی رهنما
لااثانی ده په دُنيا کښې ستا وينا
په ماګران دَ پلار او مور ئې محمده ! ﷺ
تهٔ بُنياد دَ هر يو کور ئې محمده ! ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اے محمد مصطفیٰ ! ﷺ سيد الابرار ﷺ ئې تهٔ
نشته نشته ستا په شان داسے حسندار ﷺ ئې تهٔ
تهٔ ممتاز په حسن کړے ربّ دَ دوجهان زما
تهٔ ممتاز په حسن کړے ربّ دَ پاس آسمان زما
تهٔ ممتاز په حسن کړے ربّ دَ هر انسان زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



وائـمـه قسـم دے چـې ګـل دَ هـر ګـلـزارئـې تـهٔ
نشتـه نشتـه ستـا پـه شـان داسـے حسـندار ﷺ ئي تهٔ
بـاعـثِ تـخـلیـق ئـې تـهٔ تـهٔ دَ هـر سحـر نبـی ! ﷺ
بـاعـثِ تـخـلیـق ئـې تـهٔ تـهٔ دَ هـر بشـر نبـی ! ﷺ
بـاعـثِ تـخـلیـق ئـې تـهٔ تـهٔ دَ هـر یـو در نبـی ! ﷺ
هـم محـبـوب دَ ربَ ئـې تـهٔ مدنـی تـاجدار ﷺ ئـې تـهٔ
نشتـه نشتـه ستـا پـه شـان داسـے حسـندار ﷺ ئي تهٔ
ګـل دَ مـدیـنـې ئـې تـه ګـل دَکُل جهـان ئـې تـهٔ
ګـل دَ ګـلسـتـان ئـې تـهٔ ګـل یـا دَ ریـحـان ئـې تـهٔ
ګـل ئـې دَدې زمـکـې هـم ګـل دَ پـاس آسمـان ئـې تـهٔ
خـورم قسـم خیـر الـورئ ﷺ حُسـن دَ هـر لار ئـې تـهٔ
نشتـه نشتـه ستـا پـه شـان داسـے حسـندار ﷺ ئي تهٔ
تــهٔ ئــې لاثــانــی نبــی نـور ددې دُنیــا زمــا
نشتــه نشتــه ستــا پــه شــان تــهٔ ئـې مقتـدا زمـا
وائــی دا احـمـد عـلـی روح ئـې پــه هـر خـوا زمـا
روح دَ هــر یــو نشـر ئـې هـم مـې دَ اشـعـار ئـې تـهٔ
نشتـه نشتـه ستـا پـه شـان داسـے حسـندار ﷺ ئي تهٔ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کـور مـې مـدیـنـه کـښـې اِلٰهـی پـروردیـګـار وے
مـا تــه مـخـامـخ روضــه دَ سیّد الابـرار ﷺ وے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ته مخامخ وي دَ رسول الله ﷺ روضه ښکلے
ما ته مخامخ وي دَروضې هره حصه ښکلے
هر وختے موجود زهٔ دَ دُنيا په دغې دار وي
ما ته مخامخ روضه دَ سيّدالابرار ﷺ وي

تل ښکلے روضې ته دَ رسول الله ﷺ کتلے ما
تل درود سلام ورسره هلته کښې وئيلے ما
تل زما په زړه باندې دغه يو ګفتار وي
ما ته مخامخ روضه دَ سيّدالابرار ﷺ وي

ماته مخ وے دَ رسول الله ﷺ يادونه تول
ماته مخا مخ وے ددې در دغه ګلونه تول
زهٔ هم معطره ددې در په ګل ګلزار وي
ما ته مخامخ روضه دَ سيّدالابرار ﷺ وي

ما ته مخا مخ وے ادا ګانې دَ رسول الله ﷺ
ما ته مخا مخ وے رڼا ګانې دَ رسول الله ﷺ
زهٔ په دغې در باندے ښائسته اوخوشبودار وي
ما ته مخامخ روضه دَ سيّدالابرار ﷺ وي

ما ته مخامخ وے خوشبوداره ئې فضا ښکلے
ما ته مخا مخ وي دَ رسول الله ﷺ وفا ښکلے
زهٔ په خادمانو کښې د دغې در شمار وي
ما ته مخامخ روضه دَ سيّدالابرار ﷺ وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ منور شوي ددې در په هر سحر وومه
زۀ منور شوي په دې نور او په دې نمر وومه
مخ مې ښائسته شوي په دې نور او په انوار وي
ما ته مخامخ روضه دَ سيَد الابرار ﷺ وي
ما ته مخا مخ وي تصور کښې دا امام نبی ﷺ
ما ته مخامخ وي هر ساعت خير الانام نبی ﷺ
ما احمد علی دے تعريف کړي په اشعار وي
ما ته مخامخ روضه دَ سيَد الابرار ﷺ وي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

سپوږمۍ ده محمد ﷺ ورسره تول اصحابؓ ې ستورې
مؤمن په مينه مينه تصور کښې ورته ګورې
حسين په کائنات کښې دے نبی آخر زمان
حسين په کائنات کښې دے هم ګل دَ ګلستان
حسين په کائنات کښې لکه ګل دے دَ ريحان
هم سپوږمے محمد دے تول اصحابؓ دي دَ سر سپورې
مؤمن په مينه مينه تصور کښې ورته ګورې
حسين په کائنات کښې لاثانی دے په جمال
حسين په کائنات کښې دَ دُنيا په تول احوال
حسين په کائنات کښې دے په هر قسمه افعال
څکه حسين يادېږي دَ دُنيا په هر يو لورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مؤمن په مینه مینه تصورکښې ورته ګوري

حسین په کائنات دے پاس قمرنه دَ جهان

حسین په کائنات دے بره نمر نه دَجهان

حسین په کائنات دے هر سحر نه دَ جهان

اَصحابؓ دَ محمد ﷺ دي هم حسین دَ ستر ګو توري

مؤمن په مینه مینه تصورکښې ورته ګوري

حسین دے په وینا دَ مدینې خیر البشر ﷺ

حسین دے په هرخوا دَ مدینې خیر البشر ﷺ

زما دے رهنما دَ مدینې خیر البشر ﷺ

احمده ! ورته نهٔ رسی مخلوق دَ دُنیا نوري

مؤمن په مینه مینه تصورکښې ورته ګوري

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

معطره دے دَ پاك نبی ﷺ چمن

داسے نشته په دُنیا کښې بل وطن

هر ذره ئې خوشبو داره دَ جهان ده

عزتمنده قدرمنده عالیشان ده

لاثانی په هر صفت اوپه بیان ده

عزتمنده ده دَ پاك نبی په تن

داسے نشته په دُنیا کښې بل وطن

هر ذره ئې منوَره دَ جهان ده

(c) ketabton.com: The Digital Library


قیمتی لــه هرګـو هــره ‌ دَ جهـان ده
قیمتی لـه مشك عـنبــره دَ جهـان ده
ځـکـه دلتــه دے دَ پــاك نبی بـدن
داسـے نشتـه پـه دُنیـا کښې بـل وطـن
هـر حـجـرئـې قیـمتی ددې دُنیـا دے
هـر شـجـرئـې قیـمتی دَ دې دُنیـا دے
هـر یـو درئـې قیـمتی دَدې دُنیـا دے
خـوږ دے هـر وختـے دَ دغـې در سـخـن
داسـے نشتـه پـه دُنیـا کښې بـل وطـن
هـر یـو لاره ئـې رڼـا ددې جهـان ده
لـکـه نـمـر پشـان روښـانـه عـالیشـان ده
قـدرمـنـده پـه نبـی آخـرزمـان ﷺ ده
جـمـع شـوې پـه دې در دے هـر حُسـن
داسـے نشتـه پـه دُنیـا کښې بـل وطـن
هـره حـصـه دَ مـدیـنـې ده مـنـوره
پـه رسـول الـلّـه ﷺ سـره ده مـعـطـره
دَ دُنیـا هـرې حـصـې نـه ده دا غـوره
ځـکـه دلتـه دے دَ پـاك نبـی ﷺ مسـکـن
داسـے نشتـه پـه دُنیـا کښې بـل وطـن
پـه هـر ځـائـے کښې پـکښې پـروت دے محبت

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر ځائے کښې پکښې پروت دے ښهٔ عزت
په هر ځائے کښې پکښې پروت دے هدايت
خوند کوی دَ دغې در هر وخت ديدن
داسے نشته په دُنيا کښې بل وطن
په هر چا دلته وريږی رحمتونه
لاثانی دَ مدينې دی نعمتونه
لاثانی دَ مدينې دی ټول وختونه
دَ هر چا دَ زړهٔ سکون دے دغه نن
داسے نشته په دُنيا کښې بل وطن
کهٔ تهٔ غواړې کاميابی په آخرت
په آخر کښې تل حسين ښکلے نسبت
دَ رسول اللّٰه ﷺ دَ در هم شفاعت
راشه اُنيسه دَ پاك نبی ﷺ لمن
داسے نشته په دُنيا کښې بل وطن

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

محمد ﷺ لاثانی دے شريعت ستا
لاثانی دے دَ دُنيا دَ در سنت ستا
هم په رحم وکرم سره لاثانی ئې
معالجه روحانی هم جسمانی ئې
دَ اللّٰه په عظمت لويه نشانی ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاثانی په کائنات کښې دے رحمت ستا
محمده ﷺ لاثانی دے شریعت ستا
لاثانی ئې په حیاسره دُنیا کښې
لاثانی ئې په وفاسره دُنیا کښې
لاثانی ئې نوررڼا سره دُنیا کښې
لاثانی دے په دُنیا کښې سخاوت ستا
محمده ﷺ لاثانی دے شریعت ستا
لاثانی ئې په وینا ددغې دار
لاثانی ئې مدینه کښې په دربار
لاثانی ئې تهٔ عاشق دَ ربّ غفار
لاثانی دے دَ دُنیا دَ در عزت ستا
محمده ﷺ لاثانی دے شریعت ستا
لاثانی ئې تهٔ په نور دَ هدایت
لاثانی ئې تهٔ په نور دَعبادت
لاثانی ئې تهٔ په نور دَ سعادت
لاثانی دے دَ دُنیا دَ در نسبت ستا
محمده ﷺ لاثانی دے شریعت ستا
لاثانی ئې تهٔ په علم دَ قرآن
لاثانی ئې تهٔ په پوهه اوعرفان
لاثانی ئې دَ دُنیا په ګلستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاثانی دے دَ دُنیا دغه دولت ستا
محمده ﷺ لاثانی دے شریعت ستا
لاثانی ئي په عرب او په عجم
ستا مقام ته نهٔ رسیږي دا عالم
دَ احمد علی ګواه دے پرې قلم
لاثانی دَ کائنات دے امامت ستا
محمده ﷺ لاثانی دے شریعت ستا

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قدم په قدم کړے چې ئې مونږ ته نصیحت دے
دا سیّدالوریٰ ﷺ دے مصطفیٰ ﷺ دے ډیر اوچت دے
ناصح دَ دوجهان دَ هر بشر دے دَ دُنیا
ناصح په کائنات کښې دَ هر در دے دَ دُنیا
ناصح دَ هر غریب او دَ افسر دے دَ دُنیا
دا څوک دے راته وایه چې هم مینه محبت دے
دا سیّدالوریٰ ﷺ دے مصطفیٰ ﷺ دے ډیر اوچت دے
ناصح زما او ستا دے هم ددې ټولې دُنیا دے
قسم دے لاثانی دغه رهبر او رهنما دے
حسین په کائنات کښې دے دَ ټولو نه اعلیٰ دے
کامل په کائنات کښې چې هر قسمه په صفت دے
دا سیّدالوریٰ ﷺ دے مصطفیٰ ﷺ دے ډیر اوچت دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناصح دے په اقوال سره دُنیا کښي په هر در
ناصح دے په افعال سره دُنیا کښي په هر در
ناصح دے تول احوال سره دُنیا کښي په هر در
وجود ئې دَ دُنیا دَ پاره سپورے دَ رحمت دے
دا سیّدالوریٰ ﷺ دے مصطفیٰ ﷺ دے ډیر اوچت دے

اقوال دَ نصیحت ئې دی لعلونه دَ جهان
افعال دَ نصیحت ئې دی لعلونه دَ جهان
احوال دَ نصیحت ئې دی لعلونه دَ جهان
قسم دے لاثانی په دے دُنیا کښي هرساعت دے
دا سیّدالوریٰ ﷺ دے مصطفیٰ ﷺ دے ډیر اوچت دے

هرقول ئې معطر دے نصیحت دَ دې دُنیا
بهترو نه بهتر دے نصیحت دَ دې دُنیا
دا نور دَ هریو در دے نصیحت دَ دې دُنیا
قسم دے لاثانی په دغې نور او هدایت دے
دا سیّدالوریٰ ﷺ دے مصطفیٰ ﷺ دے ډیر اوچت دے

ناصح دَ خپل امت دے هر ساعت په هر مکان
ناصح دے لاثانی په دغې زمکه او آسمان
احمدعلی دَ پاره هم ناصح دے په مردان
قسم دے لاثانی ئې په دُنیا کښي شریعت دے
دا سیّدالوریٰ ﷺ دے مصطفیٰ ﷺ دے ډیر اوچت دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کامل په کائنات کښې چې په نور او په صفت دے
عظیم په ټول سیرت دے دا زمونږ نبی حضرت ﷺ دے
عظیم په ټول سیرت دے محمد رسول الله ﷺ
حسین په ټول صورت دے محمد رسول الله ﷺ
رحمت دے ټول رحمت دے محمد رسول الله ﷺ
عظیم دے هم پخپله هم عظیم ئې ټول امت دے
عظیم په ټول سیرت دے دا زمونږ نبی حضرت ﷺ دے
چمن دمدینې ئې هم عظیم دے دَ جهان
وطن دَ مدینې ئې هم عظیم دے دَ جهان
مدفن دَ مدینې ئې هم عظیم دے دَ جهان
لیکلے دلته چا چې ئې عظمت دے حقیقت دے
عظیم په ټول سیرت دے دا زمونږ نبی حضرت ﷺ دے
هر یار ئې په عظمت باندې ګواه دے دَ جهان
ګواه ئې په عظمت باندې ده زمکه او آسمان
ګواه ئې په عظمت باندې دَ ربَ دے داقرانٰ
قسم دے نوراني دَ کائنات په هر جهت دے
عظیم په ټول سیرت دے دا زمونږ نبی حضرت ﷺ دے
محفل ئې په عظمت باندې ګویا دَ مدینې دے
ګواه په لوئے مقام ئې نور سبا دَ مدینې دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسم دے لاثانی خیر الوریٰ ﷺ دَ مدینې دے
داعی دَ تبلیغ لارې په دُنیا دَ هدایت دے
عظیم په ټول سیرت دے دا زمونږ نبی حضرت ﷺ دے

امام دَ عالمانو اوولیانو دَ جهان دے
قسم دے لاثانی هم په مکان اولامکان دے
قسم دے لاثانی هم په دے زمکه او آسمان دے
محبوب په کائنات کښې دَ اللّٰه ربُّ العزت دے
عظیم په ټول سیرت دے دا زمونږ نبی حضرت ﷺ دے

احمد علی وینا دې حقیقت ده دَ جهان
ثانی په دُنیا نه لري نبی آخر زمان ﷺ
بس دې سره بس کومه دَ دُنیا دغه بیان
روښانه په صورت دے هم روښانه په سیرت دے
عظیم په ټول سیرت دے دا زمونږ نبی حضرت ﷺ دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ډیر عظیم په کائنات دے لاثانی په دې دُنیا دے
راته وایه دغه څوك دے؟ محمد رسول اللّٰه ﷺ دے
په صادقه ﷺ په امین ﷺ هغه یاد دے په دُنیا کښې
په طٰهٰ ﷺ اوپه یٰسین ﷺ هغه یاد دے په دُنیا کښې
هم محبوب دَ ربّ متین هغه یاد دے په دُنیا کښې
دَ هر کور دَ پاره نور دے لاثانی تل رهنما دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتـه وایـه دغـه څوك دے؟ مـحـمـد رسول اللّٰه ﷺ دے
پـه امـام دَ مـرسلانـو هغـه یـاد دے پـه دُنیـا کښې
پـه امـام دَ متـقیـانـو هغـه یـاد دے پـه دُنیـا کښې
پـه امـام دَ عـالـمـانو هغـه یـاد دے پـه دُنیـا کښې
مـعـالـج دَ هـریشـر دے هم دوا دے هـم شـفـا دے
راتـه وایـه دغـه څوك دے؟ مـحـمـد رسول اللّٰه ﷺ دے
پـه لـقـب خیـر البشـر ﷺ هغـه یـاد دے در پـه در
ورتـه وائـی هـم قـمـر ورتـه وائـی بـره نـمـر
ورتـه وائـی پـه دُنیـا کښـی نـورانـی نـور دَ سحـر
عـزتـمـنـده پـه هـر خـوادے قـدرمـنـده پـه هـر خـوا دے
راتـه وایـه دغـه څوك دے؟ مـحـمـد رسول اللّٰه ﷺ دے
پـه مـحبوب دَ ربِّ اکبـر هغـه یـاد دے در پـه در
لـکـه څنګـه چی افسـردے داسے نشتـه بل افسر
لاثـانـی دے پـه هـر در مـعـطـر مشك او عـنبـر
احـمـدوائـی هـم زمـادے هم محبوب چې دَهـرچا دے
راتـه وایـه دغـه څوك دے؟ مـحـمـد رسول اللّٰه ﷺ دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ثـانـی نشتـه دَ نبیـانـو دَ افسـر څـوك
ثـانـی نـهٔ لـری زمـونـږه پیـغـمبـر ﷺ څـوك

(c) ketabton.com: The Digital Library



نۀ ثانى ئې څوك دَ نور او دَ جمال شته
نۀ ثانى ئې كائنات كښې په افعال شته
نۀ ثانى ئې كائنات كښې په اقوال شته
نۀ ليدے شى دَ دُنيا داسے رهبر څوك
ثانى نۀ لرى زمونږه پيغمبر ﷺ څوك
په رحمت هم لاثانى ددې جهان دے
په عظمت هم لاثانى ددې جهان دے
په عزت هم لاثانى ددې جهان دے
نۀ موندلے شى دارنګے بل بشر څوك
ثانى نۀ لرى زمونږه پيغمبر ﷺ څوك
هم صادقه په وينا ددې جها ن دے
حياداره په دُنيا ددې جهان دے
منوره نوررڼا ددې جهان دے
داسے نشته په دُنيا كښې په نظر څوك
ثانى نۀ لرى زمونږه پيغمبر ﷺ څوك
هم شفيع المذنبين ﷺ دے په محشر كښې
لاثانى دے په سفر او په حضر كښې
نور رڼا ده دَ دُنيا په هر سحر كښې
داسے نشته عاليشانه بل بهتر څوك
ثانى نۀ لرى زمونږه پيغمبر ﷺ څوك

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـــــــر يـــــو در ئــــــي  دَ دُنيــــــا دَ در ډيـــوه ده
پـــــه ژونــدون ســـره اُســـوه بنـــۀ حســـنـــــه ده
قيــمتــــى ئـــي دَ ويـــنـــا هـــره حـــصـــــه ده
داســـے نشتــــه دے حسينــــه معـطـر څـوك
ثـــانـــى نـــۀ لـــري زمـونـــړه پيـغـمبر ﷺ څوك

تـــل ميـلـمــــه دَ لامـــكـــان ســـره يـــاديـــږى
پــــه دُنيـــا كښــي مهــربـــان ســره يــاديــږى
دَ احـــمــد عـــلــــى بيــــان ســـره يــــاديـــږى
داسـے نشتـــه بـل مـحبـوب دَ ربَ اكبـر څـوك
ثـــانـــى نـــۀ لـــري زمـونـــړه پيـغـمبر ﷺ څوك

## نعتِ مصطفٰی ﷺ

يـــاديـــږى مــي دَ دوجهـــان ســردار ﷺ دَ مـديـنـي
امـــام دَ مُـــرســلانـو حُســنـدار ﷺ دَ مـديـنــي
يـــاديـــږى مــي ډيــرډيــر دَ مـديـنـي خير البشر ﷺ
يـــاديـــږى مــي ډيـــر ډيــر دَ مديـنـي دَ در افسـر ﷺ
يـــاديـــږى مــي ډيــر ډيــر خير الابـرار ﷺ دَ مدينـي
امـــام دَ مُـــرســلانـو حُســنـدار ﷺ دَ مـديـنــي
يـــاديـــږى مـــي ډيـــر ډيـــر دَ كـــائـنـات نـور او رنـا
يـــاديـــږى مـــي ډيـــر ډيـــر دا مـــقـتـدا اوپيشـوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسم دے ډیر یادیږي مي تاجدار ﷺ دَ مدینې
امام دَ مُرسلانو حُسندار ﷺ دَ مدینې
قسم دے ډیر یادیږي مي امین ﷺ دَ کائنات
قسم دے ډیر یادیږي مي حَسین ﷺ دَ کائنات
یادیږي مي ډیر زیات ښکلے دربار دَ مدینې
امام دَ مُرسلانو حُسندار ﷺ دَ مدینې
قسم دے ډیر یادیږي مي شفیع المذنبین ﷺ
قسم دے ډیر یادیږي مي رحمت دَ عالمین ﷺ
قسم دے ډیر یادیږي مي ګلزار دَ مدینې
امام دَ مُرسلانو حُسندار ﷺ دَ مدینې
قسم دے ډیر یادیږي مي مکی او مدنی
قسم دے ډیر یادیږي مي نبی داعربی
قسم دے ډیر یادیږي مي انوار دَ مدینې
امام دَ مُرسلانو حُسندار ﷺ دَ مدینې
قسم دے ډیر یادیږي مي محبوب دَ ربَ اکبر
قسم دے ډیر یادیږي مي بهترو نه بهتر
قسم دے ډیر یادیږي مي دلدار دَ مدینې
امام دَ مُرسلانو حُسندار ﷺ دَ مدینې
احمد علی یادیږي درته نور دَ مدینې
یادیږي درته هر ساعت حضور دَ مدینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يادېږي هر ساعت راته غمخوار دَ مدينې

امام دَ مُرسلانو حُسندار ﷺ دَ مدينې

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښار مدينه ډېر ښکلې ښار دې

هلته وريږي رحمتونه

پکښې دَ پاك نبي ﷺ ګلزار دې

ښائسته ښائسته ئې دي ګلونه

ښکلي خلور پکښې ياران دي

دوي ټول ګلونه دَ جهان دي

هريو دَ پاك نبي خوږ يار دې

حَسين ښائسته لري مخونه

ښار مدينه ډېر ښکلې ښار دې

هلته وريږي رحمتونه

ښکلې صديقؓ ښکلې عمرؓ دې

ښکلې عثمانؓ علي حيدرؓ دې

هريو حسين دَ دغې دار دې

ورته نه رسي دا ګلونه

ښار مدينه ډېر ښکلې ښار دې

هلته وريږي رحمتونه

پکښې دي ستوري ټول اصحابؓ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم دي کلونه دَ هر باب
محبت دوی سره پکار دے
ربّ پرې وئیلی سلامونه
ښار مدینه ډیر ښکلے ښار دے
هلته وریږي رحمتونه
هریو هادي ددې جهان دے
هریو رهبر دَ هر انسان دے
هریو داعی دَ نېغي لار دے
دي مبارک ئې قدمونه
ښار مدینه ډیر ښکلے ښار دے
هلته وریږي رحمتونه
احمد علی دَ مردان وائی
نیغه لار خلقو ته چې ښائی
په ده هم فضل دَ غفار دے
چې نن لیکی دغه نعتونه
ښار مدینه ډیر ښکلے ښار دے
هلته وریږي رحمتونه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

عاشق دے خپله ذوالجلال دَ نبی ﷺ
خبر هغه دے په احوال دَ نبی ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې پیدا به په دُنیا کښې نشي
داسې پیدا به په ښُکلا کښې نشي
لکه چې څنګه دے جمال دَ نبي ﷺ
خبر هغه دے په احوال دَ نبي ﷺ

بره آسمان ته لامکان ته تلے
دَ دې جهان نه بل جهان ته تلے
خبر الله دے په وصال دَ نبي ﷺ
خبر هغه دے په احوال دَ نبي ﷺ

دَ مرسلانو او نبیانو امام ﷺ
ډیر دے عالي صفت وایمه تمام
داسې بل نشته دے مثال دَ نبي ﷺ
خبر هغه دے په احوال دَ نبي ﷺ

تاج دَ عزت ورته په سر کړۀ ربَ
تاج دَ عظمت ورته په سر کړۀ ربَ
دا دے مقام اولوئے کمال دَ نبي ﷺ
خبر هغه دے په احوال دَ نبي ﷺ

سلام پرې وائي هم خالق دَ جهان
ډیر دے عظیمه په دُنیا عالیشان
ټول منوَره دي اقوال دَ نبي ﷺ
خبر هغه دے په احوال دَ نبي ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تول په وجود سره رحمت نبی ﷺ دے
تول نورانی تول محبت نبی ﷺ دے
تول منوَره دی افعال دَ نبی ﷺ
خبر هغه دے په احوال دَ نبی ﷺ
احمد علی چې په مردان کښې وُسی
تل ئې دَ مینې گلستان کښې وُسی
حسین دے حال او استقبال دَ نبی ﷺ
خبر هغه دے په احوال دَ نبی ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راشه خوښه دَ هر چاده مدینه
ځکه دلته کښې وریږی سکینه
په دُنیا کښې لوئے مقام دَ مدینې دے
لکه څنگ چې وی گوتمه کښې نگینه
مؤمنان په دې کشتۍ کښې دی سوارۀ
منافق نۀ سوروی داسفینه
دلته اُوسی حُسنداره لوئے امام ﷺ
په دے وجه ورته وائی حسینه
زۀ احمد یمه طالب دَ دے چمن
شپې او ورځې ئې ښائسته دی رنگینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قسم دے لاثانی په دے دُنیا ده مدینه
ښائسته ښکلے حسینه دَ طٰه ﷺ ده مدینه

قسم دے لاثانی دے هر یو ګل دَ مدینې
قسم دے لاثانی دے هر محفل دَ مدینې
مقام کښې ډیر اوچته تل پیدا ده مدینه
ښائسته ښکلے حسینه دَ طٰه ﷺ ده مدینه

قسم دے لاثانی دے هر ګلزار دَ مدینې
قسم دے لاثانی دے هر دربار دَ مدینې
قسم دے لاثانی هم په فضا ده مدینه
ښائسته ښکلے حسینه دَ طٰه ﷺ ده مدینه

هر ځائے دے معطر دَ مدینې منورې
هر ځائے دے منور دَ مدینې منورې
قسم دے لاثانی تل په هر خوا ده مدینه
ښائسته ښکلے حسینه دَ طٰه ﷺ ده مدینه

هر خیر دے جمع شوې مدینه کښې دَ نبی ﷺ
قسم دے لاثانی دے دغه درد دَ عربی ﷺ
قسم دے په هر نور صفت جدا ده مدینه
ښائسته ښکلے حسینه دَ طٰه ﷺ ده مدینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمدعلی ! صفت دے دَ رسول اللّٰه ﷺ دَ ښار
قسم دے ډیر حسین دے دَ دُنیا دغه ګفتار
دَ ښاتو نه خوږه هم په ویښا ده مدینه
ښائسته ښکلے حسینه دَ طٰه ﷺ ده مدینه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مسکن په کائنات دَ پاك حضور ﷺ ده مدینه
قسم دے لاثانی په دغې نور ده مدینه
مسکن دَ محمد خیر البشر ﷺ دے دَ دُنیا
مسکن دَ اماماانو دَ رهبر ﷺ دے دَ دُنیا
اوچته کائنات کښې هم دَ طور دَ مدینه
قسم دے لاثانی په دغې نور ده مدینه
مسکن دَ محمد خیر الانام ﷺ دے دَ جهان
پراته په مدینه کښې دی انوار دَ دې قران
په دوی ده منوره هم مشهور ده مدینه
قسم دے لاثانی په دغے نور ده مدینه
مسکن دے دَ مکی او مدنی خیر الابرار ﷺ
مسکن دے کائنات کښې دَ نبیانو دَ سردار ﷺ
ښۀ پاکه ده له شرکه دَ فجور ده مدینه
قسم دے لاثانی په دغے نور ده مدینه
مسکن دَ مصطفیٰ ﷺ دے هم دَ سیدالوریٰ ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثـــانـــی پـــه دُنیـــا نـــه لـــري دُنیـــا کښـــې پـــه وفـــا
ښـــائسـتـــهٔ پـــه نـعـمـتـونـو کښـې دَ حـور ده مـدینـــه
قســـم دے لاثـــانـــی پـــه دغـــې نـــور ده مـدیـنـــه
مسـکـن دے کـائـنـات کښـې دَ صـادق ﷺ او دَ امین ﷺ
مسـکـن دے کـائـنـات کښـې دَ شـفیع المذنبین ﷺ
بـــچ کـــړې پـــاك مـولـــیٰ دَ هـــر نـــاسـور ده مـدیـنـــه
قســـم دے لاثـــانـــی پـــه دغـــې نـــور ده مـدیـنـــه
احـــمـــده! مـــدیـنـــه ده پـــاك لـــه هـــر قسـمـــه ضـــرره
قســـم دے ښـــائسـتـــهٔ شـــوې پـــه ګـلـونـو ســراســره
قســـم دے ښـــائسـتـــهٔ کـــړے ربّ غـفـور ده مدیـنـه
قســـم دے لاثـــانـــی پـــه دغـــې نـــور ده مـدیـنـــه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ثـــانـــی پـــه دُنیـــا نـــه لـــري اخـــلاق دَ مـحـمـد ﷺ
قســـم دے لاثـــانـــی دے هـــم بُـــراق دَ مـحـمـد ﷺ
اخـــلاق دَ مـحـمـد ﷺ دی مشـك عـنـبـر د دې دُنیـــا
قســـم دے لاثـــانـــی دی پـــه هـــر درد دې دُنیـــا
خـبـر پـه لـوئـے مـقـام دی تـول عشـاق دَ مـحـمـد ﷺ
ثـــانـــی پـــه دُنیـــا نـــه لـــري اخـــلاق دَ مـحـمـد ﷺ
اخـــلاق دَ مـحـمـد ﷺ دی لاثـــانـــی اولامثـــال

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسم دے لاثانی دی هم په نوراو په جمال
عظیم په کائنات کښې دے میثاق دَ محمد ﷺ
ثانی په دُنیا نه لری اخلاق دَ محمد ﷺ
هر څۀ نۀ قیمتی ئې هر نظر دے دَ دُنیا
قسم دے لاثانی دغه ګوهر دے دَ دُنیا
شته ذکر په دُنیا کښې په آفاق دَ محمد ﷺ
ثانی په دُنیا نه لری اخلاق دَ محمد ﷺ
خاتم دے دَ نبیانو مُرسلانو دَ دُنیا
امام دے دَ ولیانو متقیانو دَ دُنیا
عظیم دی تهجد او هم اشراق دَ محمد ﷺ
ثانی په دُنیا نه لری اخلاق دَ محمد ﷺ
محبوب په کائنات کښې دَ اللّٰه غنی سبحان دے
مداح ئې هم په خپله دَ اللّٰه بنکلے قرآن دے
ګواه په لوئے مقام دی ټول اوراق دَ محمد ﷺ
ثانی په دُنیا نه لری اخلاق دَ محمد ﷺ
احمده! ډیر عظیم په هر صفت دے محمد ﷺ
په ټول وجود سره ټول محبت دے محمد ﷺ
ګران څکه په هرچا دے نن فراق دَ محمد ﷺ
ثانی په دُنیا نه لری اخلاق دَ محمد ﷺ

★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

لوئے مقام دے دَ حضرت خیرالابرار ﷺ
دا سے نشته په دُنیا کښې بل غمخوار
چې دیدن ئې دے دهریو غم علاج
لاثانی په کائنات دے دا دربار
دَ رحمت سپورے هم دلته نه خورشوے
دَ ښائسته ښائسته ګلونو دے ګلزار
دَ سحر رڼا ددې ځائے نه خورېږی
تقسیمېږی هم ددې ځائے نه انوار
دَ حکمت چینه هم دلته نه بهیږی
هم دَ مینه شته دے دلته کښې بازار
تربیت دَ هر بشر دلته کښې کیږی
معالج دلته کښی شته دَ هر بیمار
که سکون په جهان غواړې دلته راشه
دلته شته دَ هریو زړهٔ سکون قرار
بل ځهٔ نهٔ غواړی احمد ددې دُنیا
بس دیدن دَ محمد ﷺ ئې دے پکار

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په دُنیا کښې بس صفت دَ یار صفت دے
دا صفت کهٔ دَ نبی ﷺ وی ډیر اوچت دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



کــــۀ صــفــت ددغــي ګـل يـــا دَ مـحـفـل وی
دا صــفــت پــه کــائـنــات کښــي عبــادت دے
کـــــۀ صـــفـــت ئــي دَ يــــارانــو دَ دُنيــــا وی
نـورانـــی پـــه کـــائـنــات کښــي هــرسـاعــت دے
کــــۀ صــفــت ئــي دَ اولاد وی پـــه دُنيـــا کښـــي
دَ اســمـــانــه هــم عــظــيــمــه پــه عــظــمـت دے
کـــۀ صــفــت ئــي دَ ازواج وی پـــه ويــنـــا کښـــي
لاثـــانـــی پـــه کـــائـنـــات دغـــه نسبــت دے
پـــوره ديـــن ئـــي مـــجـــمـــوعـــه ده دَفـــلاح
لاثـــانــی پــه کـــائـنــات ئـي شــريـعــت دے
مــــلــــغـــري دَ دُنيــــا ئــــي دی کـــــارونـــــه
لاثـــانـــی پـــه کـــائـنـــات کښــي هــر سـنـت دے
اے احــمــدعــلــی ! صِـفــت دَ مـحـمـد ﷺ دے
قـــدرمـــنـــده دَ دُنيـــا پــــه هـــر جهـــت دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زۀ نــعــت خـــوان دَ مــحــمــد ﷺ دَ پيــراستـــاديـم
ثــنـــاخـــوان دَ مـــحـــمـــد ﷺ دَ پيـــراستـــاد يـــم
ثــنـــاخــوان دَ مــحــمــد ﷺ يــمـــه دُنيــا کښـــي
ثـنـــاخـــوان دَ مـحـمـد ﷺ يــم پـــه هــر خـوا کښــي
قـــدردان دَ مـــحـــمـــد ﷺ دَ پيـــراستـــاد يـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثنا خوان دَ محمد ﷺ دَ پیراستاد یم
ثاني نه لري دُنیا کښې په صفت
ثاني نه لري دُنیا کښې په سیرت
زۀ قربان دَ محمد ﷺ دَ پیراستاد یم
ثنا خوان دَ محمد ﷺ دَ پیراستاد یم
چې رحمت دَ هر عالم دے په دُنیا کښې
ثاني نۀ لري دُنیا کښې په وفا کښې
په بوستان دَ محمد ﷺ دَ پیرا ستاد یم
ثنا خوان دَ محمد ﷺ دَ پیراستاد یم
امتي دَ پاك رسول ﷺ یمه دَ در
په دُنیا کښې لاثاني لرم رهبر ﷺ
په دُوکان دَ محمد ﷺ دَ پیراستاد یم
ثنا خوان دَ محمد ﷺ دَ پیراستاد یم
هر یو قول ئې لاثاني دَ شریعت دے
بهترین په کائنات کښې په سنت دے
ترجمان دَ محمد ﷺ دَ پیرا ستاد یم
ثنا خوان دَ محمد ﷺ دَ پیراستاد یم
زۀ په لار دَ محمد ﷺ یمه روان
تابعدار دَ محمد ﷺ یم په جهان
په قرآن دَ محمد ﷺ دَ پیراستاد یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثناخوان دَ محمد ﷺ دَ پیراستاد یم
زهٔ احمدعلی طالب ئي دَ دیدن یم
په دُنیا کښې زهٔ طالب ئي دَ چمن یم
په ارمان دَ محمد ﷺ دَ پیراستاد یم
ثناخوان دَ محمد ﷺ دَ پیراستاد یم

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هم حامد ﷺ دے محمد ﷺ او هم محمود ﷺ
لاثاني په کائنات لرې وجود
هريو کار کښې ئي فلاح ددي جهان ده
خو رندو ته نهٔ ښکارې پکښې بهبود
ثناخوان ئي هم ده زمکه او آسمان
ثناخوان دَ محمد ﷺ دے ربّ معبود
لکه څنګ چې دا مخلوق ئي تول عاشق دے
تل کوي ورسره مینه ربّ ودود
لاثاني په عبادت دے محمد ﷺ
لاثاني دے په رکوع او په سجود
دَ رسول ﷺ آواز ته نهٔ رسي دُنیا کښې
نهٔ نغمه دَ يو بشر نه د داؤدؑ
لاثاني دے په خپل حسن دَ جهان
هم قاصد ﷺ دے دَ جهان او هم مقصود ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library


اے احمدعلی ! سلام په هغه وایه
تل دَ نوم سره لازم ئې دے درود

# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

بهترین دَ مصطفیٰ ﷺ دے تول مذهب
لاثانی دا دَ طٰه ﷺ دے تول مذهب
کۀ قرآن دے لاثانی دے داکتاب
منفرده هم په دا دے تول مذهب
کۀ سنت دے لاثانی دَ محمد ﷺ دے
نورانی هم تول رڼا دے تول مذهب
کۀ اصحابؓ دَ محمد ﷺ دی لاثانی دی
نورانی نور دَ صبا دے تول مذهب
کۀ اولاد دے او کۀ آل دَ محمد ﷺ دے
قدردان په تول وینا دے تول مذهب
هر حصه ئې لاثانی په تول جهان ده
مرتبه کښې ډیر اعلیٰ دے تول مذهب
دَ اسلام هره حصه دَ حق وینا ده
دا مذهب دَ مجتبیٰ ﷺ دے تول مذهب
اے احمدعلی ! وینا ئې ښۀ خوږه ده
معلم دَ ښۀ وینا دے تول مذهب

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چا چې کړے په رسول ﷺ وی اعتماد
دے به ونۀ کړی هیڅ کله څه فریاد

هریو کار به دَ دُنیا اورته آسان شی
که نیولے ئې رسول ﷺ وی پیراستاد

په دُنیا کښې به خوشحاله په جهان شی
هم خوشحال به په عیال شی په اولاد

په نبی ﷺ پسے روان شۀ په دُنیا کښې
هم په دے سره موندلے شی مُراد

دَ نبی ﷺ دَ در غلام شۀ په دُنیا کښې
تۀ مضبوط به شې په مثل دَ فولاد

هریو قول کښې به رهبر شې دَ جهان
هر بشر به کړی په تا هم اعتماد

پاك نبی ﷺ دے په وجود ټول محبت
پاك ئې زړۀ دے دَ حسد او دَ عناد

که وی امر دَ رسول الله ﷺ واضحه
جائز نه دے پس له دے نه اجتهاد

دَ نبی ﷺ مخالفت سره ټول غرق شول
که نمرود دے دَ دُنیا او که شدّاد

راشه لار باندې روان دَ محمد ﷺ شۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاثـــانـــی دے پـــه دُنیـــا دغـــه بـنیـــاد
نشتـــه نشتـــه پـکښـي هیـڅ قسـمـه نقـصـان
لاره دغـــــه ده خـــــالـــــی دَ هـــرفسـاد
هـــریـــو درئـــي رنړـــا کـــړے دے پـــه نـــور
کـــهٔ مـکـــه ده مـدیـنـــه ده کـــهٔ بـغـداد
مـــجـــوعـــه دَ صـــفـتـــونـــو مـــحـمـد ﷺ دے
دَ احـــمـــدعـــلـــی دے دغـــه اعتـــقـــاد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

پـــه دُنیـــا چـــي دے دَ هـــریشـــرعـــلاج
دا نبـــی ﷺ دے دَ نبیـــانـــو دَ ســـرتـــاج
دُوی مـــات کـــړی دی بتـــان دَ جهـــالـــت
ختـــم کـــړے دُوی غـــلـــط رســـم ورواج
نـــورانـــی پـــه هـــرصـــفـــت دے مـحـمـد ﷺ
مـــنـــع کـــړی دَ بـــاطـــل ئـــي دی امـــواج
هـــرشیـــطـــان ئـــي کـــړهٔ رســـوا ددي جهـــان
دَ بـــاطـــل ئـــي رســـواکـــړی دی افـــواج
میـنـــه نـــاك دے مهـربـانـــه پـــه هـرچـادے
دانبـــی ﷺ دے نـــرم خـــویـــه پـــه مـــزاج
ښـــهٔ کـــامـــل پـــه هـــرصـفـت دے مـحـمـد ﷺ
بیـــاهـــم وائـــمـــه دَ ربّ دے تـــل مـحـتـــاج

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے احـــمـــده تـــــهٔ لارِ نشـــے دَ دي در نــــه
دلتـــــــه کيــــــږی هــــم عـــلاج دَ لاعـــلاج

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مـــقـتــدا مــضبــوط ستــون دے مــحــمــد ﷺ
تـــل قـــائــد دَ نــن پـــرون دے مــحــمــد ﷺ
مـــعـــــالــجـــــه دَ انســـان دے دَ دنــــــه
مـــعـــــالـــج هــم دَ بيـــرون دے مــحــمــد ﷺ
نـــورانـــی دے مـــنـــوَرپـــــه تـــول جهـــان
دَ دُنيـــــا صبـــر ســـکـــون دے مــحــمــد ﷺ
دَ دُنيـــــا دَ مـــصـيبـــت دے تـــل عـــلاج
تـــل عــلاج دَ هـــرمـــحـــزون دے مــحــمــد ﷺ
پـــه الـــلّــه بـــانـدي عـــاشـقـــه دا نبـــی دے
تـــل الـــلّـــه تـــه ســرنــکــون دے مـحـمـد ﷺ
لـــکـــه څـنـګـــه چـــي عـظـيم دے پـــه هـــر بــاب
ډيـــر عـــظيـم پـــه هـــر مـضمون دے مـحـمـد ﷺ
احـــمـــدوائـــی لاثــــانـــی پـــه هــرصــفــت دے
بهتـــريـــن پـــه تـــول ژونـــدون دے مــحــمــد ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

عـظيـم دے لـوئـے مـقـام دَ مـصـطفـیٰ ﷺ دَ ښـهٔ اخلاق
ثـــانـــی پـــه دُنيـــا نـــه لـــری طـــه ﷺ دَ ښـــهٔ اخـلاق

(c) ketabton.com: The Digital Library



عظیم دے مصطفیٰ ﷺ ددې دُنیا په هر صفت
هر کور ته رسیدلے ئې رڼا دَ ښه اخلاق
عظیم دے محمد رسول اللّٰه ﷺ په محبت
قسم دے جوړه کړې ئې فضا دَ ښه اخلاق
عظیم دے محمد رسول اللّٰه ﷺ هم په رحمت
دا سپوږمے دے عظیم دَ مجتبیٰ ﷺ دَ ښهٔ اخلاق
عظیم په امانت دے او عظیم په سخاوت
قسم دے لاثانی دے په وینا دَ ښهٔ اخلاق
عظیم په شجاعت دے او عظیم په هدایت
ممتاز دے په دُنیا کښې په مسکا دَ ښهٔ اخلاق
عظیم په امامت دے او عظیم په شریعت
دا لوئے مقام لری خیر الوریٰ ﷺ دَ ښهٔ اخلاق
هر شے ددې جهان په دے عظیم شی لے احمده!
دا لوئے مقام لری نور الهدیٰ ﷺ دَ ښهٔ اخلاق

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هر شے دَ دے دُنیا ستا په نسبت فخر کوی
رسوله! ﷺ ټول یاران دے په صحبت فخر کوی
صدیقؓ ستا په دوستۍ باندې کړی فخر په جهان
عمرؓ هم ستا دوستۍ سره عظیم شهٔ عالیشان
هر فرد په تا رسوله! ﷺ دَ امت فخر کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسولـه! ﷺ ټول يـاران دے پـه صـحبت فخـرکوي
بــاعــث دَ فــخــر تــهٔ ئــي دَ عثـمــانؓ بن عـفــان
بــاعــث دَ فــخــر تـــهٔ ئـي دَ علــيؓ ددے جهـان
ګــلــونـــه ټــول پـــه تــا دَ رســالـت فـخـر کـوي
رسولـه! ﷺ ټول يـاران دے پـه صـحبت فخـرکوي
هـم فـخــر کـوي تـابـاندې ټول ستـورې دَ جهـان
هـم فـخــر کـوي تــابــاندې دا زمـکــه او آسـمــان
قسـم دے پــه دُنيــا دوي هــرســاعـت فـخـرکـوي
رسولـه! ﷺ ټول يـاران دے پـه صـحبت فخـرکوي
هــم فــخــر دَ حبشــے بـلالؓ کـوي دلتـــه پـــه تــا
تــل فــخــر دَ بـلالؓ دے ستـــا پـــه نـور او پـــه رڼــا
هــر وختــې هــر ســاعــت ستـاپـه عـظـمت فـخـرکـوي
رسولـه! ﷺ ټول يـاران دے پـه صـحبت فخـرکوي
احـمدعلــي ! نسبـت ئـې دلتــه تـهٔ کړے هم اوچـت
قسـم دے پـه دُنيـا کښې داسے نشتـه بـل نسبـت
هــر در پـــه تـــا بـــاندې او هــر جهـت فـخـر کـوي
رسولـه! ﷺ ټول يـاران دے پـه صـحبت فخـرکوي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

آواز راځـــي دَ مـيـنـــې دَ نـعتــونــو دَ هــر کــوره
زمـــا دَ ستـــر ګــو تـوره خــاتــم الانبيــاء ﷺ ئــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



آواز راځي هر کور نه ستا دَ نعت او دَ صفت
کور کور کښې بيانيږي پاك رسوله ! ﷺ ستا عظمت
بيان مې اَوريدلے دے دَ پلاره او دَ موره
زما دَ سترګو توره خاتم الانبياء ﷺ ئې

هر قول کښې دے پرته ده فلسفه اولوئے حکمت
عظيم دے په دُنيا کښې ستا رسوله! ﷺ شريعت
دوا ئې هم علاج ئې اے زما دَ زړه ټکوره! ﷺ
زما دَ سترګو توره خاتم الانبياء ﷺ ئې

چې څوك ځي پاك رسوله ! ﷺ په دُنيا کښې ستا په لار
لازم ده چې راضي به وي دَ دۀ نه رب غفار
بچ کيږي داسے کس به په محشر کښې دَ پيغوره
زما دَ سترګو توره خاتم الانبياء ﷺ ئې

دُنيا کښې اتباع دے کاميابي دَ آخرت ده
باعث دَ محبت ده دا باعث دَ شفاعت ده
چې څوك ځي ستا په لاره نو بچ کيږي به دَ اُوره
زما دَ سترګو توره خاتم الانبياء ﷺ ئې

ښائستۀ دے طريقه ده احمدوائي دَ مردان
ثاني په دُنيا نه لرے دُنيا کښې په جهان
ښائستۀ دے طريقه ده داسے نشته بله نوره
زما دَ سترګو توره خاتم الانبياء ﷺ ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په نبيانو کښي امام ئي محمده ! ﷺ
نورانى خير الانام ئي محمده ! ﷺ
په ټولى دَ انبياؤ کښي بهتر ئي
منفرد په کائنات دَ ربَ اکبر ئي
تهٔ مالك دَ لوئے مقام ئي محمده ! ﷺ
نورانى خير الانام ئي محمده ! ﷺ
مخکښي وروستو په عالم کښي لاثانى ئي
معالج هم جسمانى ئي روحانى ئي
په خپل نور سره تمام ئي محمده ! ﷺ
نورانى خير الانام ئي محمده ! ﷺ
دَ توحيد رڼا خوره شوه ستا دَ درنه
هم حيا وفا خوره شوه ستا دَ درنه
لاثانى په ټول نظام ئي محمده ! ﷺ
نورانى خير الانام ئي محمده ! ﷺ
په اخلاقو منفرد ئي تهٔ عظيم ئي
مهربان تهٔ په غريب اوپه يتيم ئي
مينه ناك په هر اندام ئي محمده ! ﷺ
نورانى خير الانام ئي محمده ! ﷺ
راز له تلے ئے تهٔ ربَ له لامکان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



رازله تللے ئے دَ زمکې نه آسمان ته
تۀ خلاصه دَ هر سلام ئې محمده ! ﷺ
نوراني خير الانام ئې محمده ! ﷺ
نبوت شولو په تا باندې تمام
شريعت شولو په تا باندې تمام
نوراني دَ حق پيغام ئې محمده ! ﷺ
نوراني خير الانام ئې محمده ! ﷺ
تۀ شفيع ﷺ ئې دَ محشر په لوئے ميدان
شۀ شفيع مې احمدوائي دَمردان
نوراني سحر ماښام ئې محمده ! ﷺ
نوراني خير الانام ئې محمده ! ﷺ

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ

په الله باندې ډير ګران ئې محمده ! ﷺ
ډير عظيمه عاليشان ئې محمده ! ﷺ
کله ياد ئې په طٰه ﷺ او په يٰسين ﷺ کړې
په دُنيا کښې ئې صادقه ﷺ او امين ﷺ کړې
په دُنيا دَ حق بيان ئې محمده ! ﷺ
ډير عظيمه عاليشان ئې محمده ! ﷺ
کله ياد ئې مدثر ﷺ او مزمل ﷺ کړې
کله ياد ئې دَ آسمان په لوئے محفل کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر عظيمه په جهان ئې محمده ! ﷺ
ډېر عظيمه عاليشان ئې محمده ! ﷺ
په وَالَّيل سره دے ذکر دَ رخسار شته
وَالضُّحیٰ سره ترلی ستا انوار شته
لکه نمر غوندې روښان ئې محمده ! ﷺ
ډېر عظيمه عاليشان ئې محمده ! ﷺ
کائنات کښې تهٔ دَ ټولو بهترين ئې
تهٔ رحمت په کائنات دَ عالمين ئې
وائم داسې قدردان ئې محمده ! ﷺ
ډېر عظيمه عاليشان ئې محمده ! ﷺ
دمردان وائی احمد چې ډېر حَسين ﷺ ئې
دَ هر حسن نه بالا ئې بهترين ﷺ ئې
لکه ګل دَ ګلستان ئې محمده ! ﷺ
ډېر عظيمه عاليشان ئې محمده ! ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

بهترين په هر صفت ئې محمده ! ﷺ
نور رڼا په هر جهت ئې محمده ! ﷺ
نور رڼا دَ هر بشر ئې دَ دُنيا
نور رڼا دَ هر يو در ئې دَ دُنيا
سراپا ټول محبت ئې محمده ! ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور رڼا په هر جهت ئي محمده ! ﷺ

نوراني په هر يو قول ددې دُنيا ئي

لاثاني په کائنات کښې په رڼا ئي

لاثاني په ټول سيرت ئي محمده ! ﷺ

نور رڼا په هر جهت ئي محمده ! ﷺ

نوراني دے هر ادا دَ دې دُنيا ده

لاثاني دے دا ښکلا ددې دُنيا ده

لاثاني په ټول صورت ئي محمده ! ﷺ

نور رڼا په هر جهت ئي محمده ! ﷺ

لاثاني په انبياؤ کښې نبي ﷺ ئي

هم مکي ﷺ ئي مدني ﷺ ئي عربي ﷺ ئي

په وجود سره رحمت ئي محمده ! ﷺ

نور رڼا په هر جهت ئي محمده ! ﷺ

لاثاني دَ انبياؤ ته امام ﷺ ئي

ته ياد شوې په لقب خير الانام ﷺ ئي

هم خاتم دَنبوت ئي محمده ! ﷺ

نور رڼا په هر جهت ئي محمده ! ﷺ

بهترين دے طريقه دَ دې دُنيا ده

منوره په دُنيا کښې دا رڼا ده

ډير عالي په لوئے همت ئي محمده ! ﷺ

نور رڼا په هر جهت ئي محمده! ﷺ

په وفا سره ممتازه په جهان ئي

په حيا سره ممتازه په جهان ئي

بهترين په سخاوت ئي محمده! ﷺ

نور رڼا په هر جهت ئي محمده! ﷺ

ته علاج دَ هر رنځور ئي دَ جهان

ته شفا ئي په دُنيا دَ هر انسان

ډير عظيمه په نسبت ئي محمده! ﷺ

نور رڼا په هر جهت ئي محمده! ﷺ

ته مَلګرے دَ غريب او دَ يتيم ئي

مهربانه په دُنيا کښي ته کريم ئي

قدردان ته هر ساعت ئي محمده! ﷺ

نور رڼا په هر جهت ئي محمده! ﷺ

ستا اقوال ددي جهان دي دُرّ مرجان

دا ګلونه دي ښائسته دَ ګلستان

تل سبب دَ هر عزت ئي محمده! ﷺ

نور رڼا په هر جهت ئي محمده! ﷺ

هم اغيار دي دَ دُنيا ستا قدردان

مخلوق شته دے په هر خوا ستا قدردان

بهترين په شريعت ئي محمده! ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـور رڼــا پــه هــر جهــت ئـي مـحـمـده ! ﷺ
دَ طـــه ﷺ ســره يــاد شــوي ئـــي يٰسيــن ﷺ
هــم يــاد شــوې پــه دُنيــا کښــې ئـي امين ﷺ
مـجـمـوعــه دَ صـداقـت ئـي مـحـمـده ! ﷺ
نـور رڼــا پــه هــر جهــت ئـي مـحـمـده ! ﷺ
احـمـد وائــى تــهٔ شـفيـع ﷺ هـم دَ مـحشـر ئـي
هــم مـحبــوب دَ کــائـنــات دَ رَبّ اکبــر ئـي
ډيــر عــالــى اوچــت نسبــت ئـي مـحـمـده ! ﷺ
نـور رڼــا پــه هــر جهــت ئـي مـحـمـده ! ﷺ

## نعتِ مصطفٰی ﷺ

رهـنـمــا تــهٔ دَ هــرچـا ئــي مـحـمـده ! ﷺ
رهـنـمــا هـم تــهٔ زمــا ئــي مـحـمـده ! ﷺ
مـقـتـدا دَ هـــر بشـــر دَ دې دُنيــا ئــي
رهـنـمــا دَ هــر يــودر دَ دې دُنيــا ئــي
مـنـوره نــور رڼــا ئــي مـحـمـده ! ﷺ
رهـنـمــا هـم تــهٔ زمــا ئــي مـحـمـده ! ﷺ
رهـنـمــا دَ عـلـمــاء دَ دې دُنيــا ئــي
رهـنـمــا دَ اوليــاء دَ دې دُنيــا ئــي
لاثــانــى دلتــه پيشــوائــي مـحـمـده ! ﷺ
رهـنـمــا هـم تــهٔ زمــا ئــي مـحـمـده ! ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



رهـــنـــمـــا دَ هـــردانـــا ئـــي پـــه بيـــان كښـــي
رهـــنـــمـــا دَ هـــرحـــكيـــم ئـي پـــه جهـــان كښـــي
قـــدرمـــنـــده مـــصـــطـــفـــیٰ ئـــي مـــحـــمـــده ! ﷺ
رهـــنـــمـــا هـــم تـــهٔ زمـــا ئـــي مـــحـــمـــده ! ﷺ
دَ اســـتـــاذ دَ زمـــانـــي هـــم تـــهٔ رهبـــر ﷺ ئـــي
تـــهٔ رهبـــر ﷺ هـــم دَ طـــالـــب پـــه هـــريـــو درئـــي
لـــكـــه نـــور دَ هـــرسبـــا ئـــي مـــحـــمـــده ! ﷺ
رهـــنـــمـــا هـــم تـــهٔ زمـــا ئـــي مـــحـــمـــده ! ﷺ
تـــهٔ شـــفـــا دَ هـــر مـــرض ئـــي پـــه جهـــان
تـــهٔ دوا دَ هـــر مـــرض ئـــي پـــه جهـــان
رهـــنـــمـــا دَ حـــكـــمـــاء ئـــي مـــحـــمـــده ! ﷺ
رهـــنـــمـــا هـــم تـــهٔ زمـــا ئـــي مـــحـــمـــده ! ﷺ
احـــمـــد وائـــي رهـــنـــمـــا هـــم تـــهٔ زمـــا ئـــي
كـــائـــنـــات كښـــي لاثـــانـــی تـــهٔ پـــه هـــر خـــوا ئـــي
لاثـــانـــی دلتـــه پيـــدا ئـــي مـــحـــمـــده ! ﷺ
رهـــنـــمـــا هـــم تـــهٔ زمـــا ئـــي مـــحـــمـــده ! ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اے زمـــا دَ زړهٔ تـــكـــوره مـــحـــمـــده ! ﷺ
اے زمـــا دَ ستـــر كـــو تـــوره مـــحـــمـــده ! ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـــهٔ هـــادي ﷺ دَ زمـــانـــي ئـــي پـــه جهـــان
تـــهٔ هـــادي ﷺ ئـــي هـــم پـــه زمكـــه اوآسمـــان
ميـنـــــه نـــاك دَ پـــلار اومـــوره مـــحـــمــده ! ﷺ
اے زمـــــا دَ ستــــرګـــو تـــوره مـــحـــمـــد ه ! ﷺ
تـــهٔ ئـــي سـپــورے درحـمـت پــــه ټـول جهـــان
تـــهٔ ئـــي فـــضـــل دَ الـــلّـــه كـــرم احســـان
اے رحـــمـــت دَ كـــلـــي كـــوره مـــحـــمـــد ه ! ﷺ
اے زمـــــا دَ ستــــرګـــو تـــوره مـــحـــمـــد ه ! ﷺ
تـــهٔ عـــلاج دَ هـــر رنـــځـــور ئـــي دَ دُنيـــا هـــم
تـــهٔ طبيـــب ﷺ دَ هـــر بشـــر ئـــي اوشـــفـــا هـــم
وايـــم داپـــــه زوره زوره مـــــحـــــمـــــده ! ﷺ
اے زمـــــا دَ ستــــرګـــو تـــوره مـــحـــمـــد ه ! ﷺ
لاجـــواب ئـــي پـــه دُنيـــا كښـــي لاثـــانـــى ئـــي
تـــهٔ طبيـــب هـــم جسـمـــانـــى ئـــي روحـــانـــى ئـــي
قـــريبـــى ئـــي دَ خپـــل روره مـــحـــمـــده ! ﷺ
اے زمـــــا دَ ستــــرګـــو تـــوره مـــحـــمـــد ه ! ﷺ
ستـــا روضـــــه يـــوه حـــصـــــه ده دَ جـــنـــت
احـــمـــدوائـــى پُـــرســـكـــون ده هـــر ســـاعـــت
پـــه ســـكـــون ئـــي دَ هـــرشـــوره مـــحـــمـــده ! ﷺ
اے زمـــــا دَ ستــــرګـــو تـــوره مـــحـــمـــد ه ! ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

محمد ﷺ دے دَ دُنیا راته عزیز
په هر دراوېه هرخوا راته عزیز
تل دے سپورے دَ رحمت په کائنات
داعظیم دے رهنما ﷺ راته عزیز
نورانی په هر صفت ددې جهان دے
داعظیم دے مقتدا ﷺ راته عزیز
هم په مینه محبت سره یکتا دے
داحکیم دے ښهٔ دانا ﷺ راته عزیز
دَ وړو او هم دَ لویو خلقو خوښ دے
دا محبوب دے دَ مولیٰ راته عزیز
هریو قول ئې خوږ ګڼین دے دَ جهان
دَ نبی ﷺ ده دا وینا راته عزیز
په سیرت او په صورت سره دے ښکلے
لاثانی دے مجتبیٰ ﷺ راته عزیز
احمدوائی نورانی په ټول صورت دے
دَ دُنیا ده دا رڼا ﷺ راته عزیز

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چالیدلے چې دَ سیّدالوریٰ ﷺ مخ
وبه نه ګوری هیڅ کله دَ بل چا مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسنداره په دُنیا کښې لاجواب دے
لاثانی دے په دُنیا دَ مصطفیٰ ﷺ مخ

منوره نورانی په هر صفت دے
منوره په دُنیا دے په رڼا مخ

نورانی دے لکه نمر دَ دې جهان
ډیر حسین په کائنات باندې دے دا مخ

نورانی لکه قمر دے دَ جهان
لاثانی دے په دُنیا دا په ښکلا مخ

نورانی دے په مثال دَ نور سحر
داسے نشته په دُنیا دَ یو دانا مخ

لکه څنګ چې لامثال په محبت دے
داسے نشته په دُنیا کښې دَ وفا مخ

لکه څنګ چې حیادار په ټول وجود دے
نشته دغه شان دُنیا کښې دَ حیا مخ

احمدوائی لاثانی په هر صفت دے
خورم قسم چې لاثانی دے دَ طٰهٰ ﷺ مخ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اتباع دَ محمد ﷺ کښې ده فلاح
دَ سکون ده ذریعه دَ کُل ارواح

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیغه لاره دَ جنت ده په دُنیا کښې
شریعت دَ محمد ﷺ دے نور مصباح
هر یو کار ئې دے دَ خیر فلاح نه ډک
که طلاق دے په دُنیا او که نکاح
نورانی په انتها هم محمد ﷺ دے
نورانی دے په شروع او افتتاح
هر یو قول دَ محمد ﷺ زر دَ جهان دی
په قلم که دغه لیکے په الواح
په هر ځائے کښې ئې تعریف کوی احمد
ثناخوان ئې دے مقیم او هم سیّاح

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هم مدّاح ﷺ دے محمد ﷺ او هم ممدوح ﷺ
دَبدن دَ پاره وګڼه دوی روح
دَ نبیانو مُرسلانو دے امام ﷺ
که آدمؑ دے دَ جهان او که دے نوحؑ
هم رحمت دَ دوجهان دے محمد ﷺ
هم علاج دے دَ دُنیا دَ هر مجروح
دَ هر څه دے دَ تخلیق هغه سبب
که دی کانی دَ دُنیا او که ذی روح

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد وائی هم محبوب دَ ربّ اکبر دے
دا خبره ده موجوده په شروح

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دین به تا دَ پاك رسول ﷺ کړی، شر نه بچ
تا به دلته کړی دَ هر، ضرر نه بچ
تا به بچ دَ مصیبت کړی دَ دُنیا نه
تا به دلته کړی دَ هر زهر نه بچ
تا به بچ کړی هم دَ شرك او له بدعت نه
تا به دلته کړی دَ هر خطر نه بچ
دَ ابلیس نه به تا بچ کړی په هر لار
ورسره دَ بیوقوفه خر نه بچ
په اباده به اباد دے په دُنیا کړی
تا به دلته کړی دَ هر کنډر نه بچ
تا به بچ کړی دَ بدکار نه په جهان
تا به دلته کړی دَ بداثر نه بچ
ستا په ستر کو کښې حیا به را پیدا کړی
تا به دلته کړی دَ بدنظر نه بچ
دَ حسد نه به تا بچ کړی په دُنیا کښې
کندوشاړو نه او هر حجر نه بچ

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمدوائي تابه بچ کړي له دښمنه
دَ دُنيا تورو تيرو دَ رنه بچ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

بهترينه په عرب اوپه عجم دے
دا حسين زمونږه خوږ نبي اکرم ﷺ دے
بهترين دے په هر دردې جهان
عزتمنده په دُنيا دے عاليشان
کائنات کښې هم علاج دَ هريو غم دے
دا حسين زمونږه خوږ نبي اکرم ﷺ دے
بهترين په خلائق کښې دَ جهان دے
بهترين هم په مکان اولامکان دے
مرتبه کښې په نبيانو مقدم دے
دا حسين زمونږه خوږ نبي اکرم ﷺ دے
هم رحمت دے په دُنيا کښې هرساعت
هم وجود ئي دے تول مينه محبت
قدردان دَ کائنات په هر قدم دے
دا حسين زمونږه خوږ نبي اکرم ﷺ دے
هم سخي دے لاثاني په سخاوت دے
مرتبه کښې هم دَ تولونه اُوچت دے
بهترين دے کائنات کښې محترم دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



داحسین زمونږه خوږ نبی اکرم ﷺ دے
ترجمان دے هم دَ حق او صداقت
ترجمان دے هم دَ نوراو شریعت
مثالی په کائنات کښې په رحم دے
داحسین زمونږه خوږ نبی اکرم ﷺ دے
اولین ﷺ په کائنات دے دَ نبیانو
آخرین ﷺ په کائنات دے دَ نبیانو
په نبیانو کښې راغلے چې خاتم دے
داحسین زمونږه خوږ نبی اکرم ﷺ دے
هم ساقی دے دَ کوثر دَ خپل اُمت
لاثانی دے دَ محشر په شفاعت
احمدوائی ډیر عظیمه په عالم دے
داحسین زمونږه خوږ نبی اکرم ﷺ دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مخ دَ یار شمس وقمر نه هم ښائسته دے
تل حسین دَ کائنات په هر حصه دے
هم حسین دَ هر بشر نه دَ دُنیا دے
هم حسین دَ نور سحر نه دَ دُنیا دے
په وجود هغه اُسوه تل حَسَنَه دے
تل حسین دَ کائنات په هر حصه دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیر حسین په هر صفت دے محمد ﷺ
ډیر حسین تول په سیرت دے محمد ﷺ
باکماله ډیر عظیم په حوصله دے
تل حسین دَ کائنات په هر حصه دے
ډیر حسین دے په ګفتار او په ادا
ډیر حسین دے دَ دُنیا په نوررڼا
احمد وائی هم خالی دَ هر نقطه دے
تل حسین دَ کائنات په هر حصه دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ما ستا تلی ستا یادونه په سینه دی
لکه ښکه چې پراته په مدینه دی
ما ستا تلی ستا یادونه دی سینه کښې
لکه ښکه چې دی هره سیپاره کښې
دا یادونه تول ژوندون له ائینه دی
ما ستا تلی ستا یادونه په سینه دی
لکه ښکه چې پراته په مدینه دی
دا یادونه مې علاج دَ دې دُنیا دے
په دُنیا مې دَ سرتاج دَ دې دُنیا دے
دا یادونه په ګوتمه کښې نګینه دی
ما ستا تلی ستا یادونه په سینه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چې پراته په مدینه دي
دا یادونه اطمینان دَ هر بشر دي
رنړا ګانې دي اونور دَ هر سحر دي
اې احمده ! ښه ښائسته تول رنګینه دي
ما ساتلي ستا یادونه په سینه دي
لکه څنګه چې پراته په مدینه دي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

لوئے مقام دے دَ رسول ﷺ دَ عاشقانو
تپوس وُکړۀ په دُنیا دَ عالمانو
لوئے مقام لري سنت دَ محمد ﷺ
لرئے مقام لري نسبت دَ محمد ﷺ
لوئے مقام دے دَ نبي ﷺ دَ اُمتیانو
تپوس وُکړۀ په دُنیا دَ عالمانو
لوئے مقام لري ادا دَ محمد ﷺ
لوئے مقام لري رنا دَ محمد ﷺ
تل ممتاز ده ددُنیا دَ رنړا ګانو
تپوس وُکړۀ په دُنیا دَ عالمانو
لوئے مقام لري ګفتار دَ محمد ﷺ
لوئے مقام لري دربار دَ محمد ﷺ
تپوس وُکړۀ په دُنیا دَ درویشانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تپوس وُکړهٔ په دُنیا دَ عالمانو
لوئے مقام لری هر در دَ محمد ﷺ
لوئے مقام لری خبر دَ محمد ﷺ
تپوس کوُلے شي دُنیا کښي دَ ولیانو
تپوس وُکړهٔ په دُنیا دَ عالمانو
لوئے مقام لری هر ګل دَ مصطفیٰ ﷺ
احمدوائی لاثانی دے په دُنیا
تپوس کوُلے شي دَ دین دَ ملنګانو
تپوس وُکړهٔ په دُنیا دَ عالمانو

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چي تابع دَ پاك رسول ﷺ وی دَ یارانو
دا ده نخښه دَ صادقه عاشقانو
چي تابع وی دَ اولاد دَ محمد ﷺ
هم قائم وی په بنیاد دَ محمد ﷺ
دا ده نخښه دَ نیکانو صالحانو
دا ده نخښه دَ صادقه عاشقانو
چي تابع وی هر ادا کښي دَ نبی ﷺ
چي تابع وی په وینا کښي دَ نبی ﷺ
دا ده نخښه په دُنیا دَ متقیانو
دا ده نخښه دَ صادقه عاشقانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـــې تـــابــع وی دَ ســنــت دَ مـحـمـد ﷺ
چـــې تـــابــع وی هــرســاعــت دَ مـحـمـد ﷺ
دا ده نــخښـه دَ صـــادقـــه مـؤمـنــانــو
دا ده نــخښـه دَ صـــادقـــه عـــاشـقـــانــو
چـــې تـــابــع وی دَ رڼـــا دَ مـحـمـد ﷺ
چـــې تـــابــع وی پــه هــرخــوا دَ مـحـمـد ﷺ
دا ده نــخښـه پـــه دُنیـــا دَ بـــزرګـــانــو
دا ده نــخښـه دَ صـــادقـــه عـــاشـقـــانــو
چـــې تـــابــع دَ هــدایـــت وی دَ نبـــی ﷺ
چـــې تـــابــع وی مــکــمــل دَ مــدنـــی ﷺ
دا ده نــخښـه دښــو خــلــقــو ښــه کســانــو
دا ده نــخښـه دَ صـــادقـــه عـــاشـقـــانــو
چـــې روان وی دَ نبـــی ﷺ پـــه لاره تـــل
هــم رښتیـــا ئـــې وی لیـــکـــل اوهــم وئیــل
دا ده نــخښـه دَ نیــکـــانــو کـــاتبـــانــو
دا ده نــخښـه دَ صـــادقـــه عـــاشـقـــانــو
چـــې تـــابــع وی دَ رحــمــت دَ دوجهـــان
احــمــدوائـــی پـــه ضـلـع کنبـــې دَ مـــردان
داده نــخښـه دَ الـــلّـــه دَ بـنـدیـګـانــو
دا ده نــخښـه دَ صـــادقـــه عـــاشـقـــانــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اے امـــــام دَ انبیـــــاؤ مـــرســـلانـــو ! ﷺ
اے امـــــام دَ اولیـــــاؤ او نیـــکـــــانـــو ! ﷺ
تـــۀ امـــام دَ بـحـــروبـــر ئـــي پـــه دُنیـــا کښــي
تـــۀ امـــام دَ هـــر بشـــر ئـــي پـــه دُنیـــا کښــي
تـــۀ امـــام ئـــي پـــــه دُنیـــا دَ متـــقیـــانـــو
اے امـــــام دَ اولیـــــاؤ او نیـــکـــــانـــو ! ﷺ
تـــۀ امـــام دَ هـــررهبـــر ئـــي پـــه دُنیـــا کښــي
تـــۀ امـــام دَ نـــور اونـــمـــر ئـــي پـــه دُنیـــا کښــي
تـــۀ امـــام ئـــي دَ عـــظیـــم عـــظیـــم کســـانـــو
اے امـــــام دَ اولیـــــاؤ او نیـــکـــــانـــو ! ﷺ
تـــۀ امـــام ئـــي لاثـــانـــی پـــــه هـــرصـــفـــت
تـــۀ امـــام ئـــي مـــجـــمـــوعـــه دَ مـــحبـــت
تـــۀ امـــام ئـــي پـــــه دُنیـــا دَ عـــالـــمـــانـــو
اے امـــــام دَ اولیـــــاؤ او نیـــکـــــانـــو ! ﷺ
تـــۀ امـــام ئـــي هـــم رحـــمـــت دَ دوجهـــان
تـــۀ امـــام ئـــي هـــم نـــصـــرت دَ دوجهـــان
تـــۀ امـــام ئـــي پـــــه دُنیـــا دَ رهبـــرانـــو
اے امـــــام دَ اولیـــــاؤ او نیـــکـــــانـــو ! ﷺ
تـــۀ امـــام ئـــي هـــم هـــادي ﷺ ئـــي پـــه صـــفـــت

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهترينه طريقه ده ستا سنت
تهٔ امام ئې په دُنيا دَ استاذانو
اے امام دَ اولياؤ او نيکانو ! ﷺ

تهٔ امام دَ هر کتاب ئې په دُنيا کښې
لاثاني ئې ته په نور او په رڼا کښې
تهٔ امام ئې په دُنيا دَ شاعرانو
اے امام دَ اولياؤ او نيکانو ! ﷺ

تهٔ امام ئې په محشر دَ هر بشر
احمدليکي او دا وائي برابر
تهٔ امام ئې په دُنيا دَ عابدانو
اے امام دَ اولياؤ او نيکانو !

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ختم نبوت زنده باد
ختم نبوت زنده باد
ختم نبوت هم ايمان
ختم نبوت هم بُرهان
دا رنګ دے دَ دين بُنياد
ختم نبوت زنده باد
ختم نبوت تاج دَ سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختم نبوت نور قمر
دا ویـنا دَ هر اُستاد
ختم نبوت زنده باد
ختم نبوت هم طاقت
ختم نبوت هم راحت
دا سکون دَ هر فریاد
ختم نبوت زنده باد
ختم نبوت دین دُنیا
ختم نبوت حق وینا
دا تـوبـه دَ آدم زاد
ختم نبوت زنده باد
ختم نبوت هم عزت
ختم نبوت لوئے نسبت
نو نعره ده یو مُراد
ختم نبوت زنده باد
ختم نبوت هم ګلزار
ختم نبوت هم دستار
دا نعره دَ هر آزاد
ختم نبوت زنده باد
ختم نبوت هم جمال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختم نبوت هم کمال
بي له دے دين بي بُنياد
ختم نبوت زنده باد

ختم نبوت هم رحمت
ختم نبوت لوئي دولت
مشك عنبر دَ هريو باد
ختم نبوت زنده باد

ختم نبوت حق پيغام
ختم نبوت دين اسلام
دا علاج دَ هر فساد
ختم نبوت زنده باد

روح دے دا دَ هر بدن
دا سکون دَ هر يو تن
تاته دا دے تل وی ياد
ختم نبوت زنده باد

ختم نبوت نُور نا
دا ښائست دَ هر فضا
هر يو کور په دي اباد
ختم نبوت زنده باد

ختم نبوت هم سحر

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا رڼا روښانه نمر

تل دے ستا وی اعتقاد

ختم نبوت زنده باد

ختم نبوت یو آواز

هم آخر دے هم آغاز

پوخ یقین لکه فولاد

ختم نبوت زنده باد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

سلام ووایه په رسول الله ﷺ زما نسیمه!

اے دَ صبا نسیمه! اے دَ صبا نسیمه!

نسیمه لاړ شه مدیني ته حصاریږه مهٔ نور

بس دے تیار شوي زر کړه نور نور تیاریږه مهٔ نور

کله تیریږي دَ عرب چي په صحرا نسیمه!

اے دَ صبا نسیمه! اے دَ صبا نسیمه!

سلام مي ووایه نسیمه! پاك رسول الله ﷺ ته

فام کړه نسیمه! ورسره زما دغي وینا ته

حال مي رسول ﷺ ته کړه بیان ددي دُنیا نسیمه!

اے دَ صبا نسیمه! اے دَ صبا نسیمه!

زر کوه زر کړه اے نسیمه! خپل سفر دي کوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځــــه روانيــــږه خپــل ســفــر ددي ســحــر دي كــوه
لاړ مـديـنــې تــه شـۀ دَ پاك خيـر الورىٰ ﷺ نسيمـه!
اے دَ صبـــانسيـــمـــــه! اے دَ صبـــا نسيــمــــه!
نسيــمــه ! زركــړه مـديـنـي تــه دا سفـر كـوى خـونـد
ګـرځيــدل هـلتــه مـديـنــه كښـي بـرابـركـوى خـونـد
نسيــمــــه! لاړ شــه مـديـنـي تــه دَ طــٰهٰ نسيـمـــه!
اے دَ صبـــانسيـــمـــــه! اے دَ صبـــا نسيــمــــه!
نسيـمــه ! يـوسـه دَ احـمـدعـلـى فـريـادرسول ﷺ تـه
بيـان مـي هـلتـه كړه دا رنګ دَ زړه مراد رسول ﷺ ته
يــو اُمّتـــى دےـ دَ مــردان ستـــانــه جُـدا نسيمـــه!
اے دَ صبـــانسيـــمـــــه! اے دَ صبـــا نسيــمــــه!

★★★★★★

★★★★★★★★★★★

★★★★★★

تمت بحمد اللّٰه تعالىٰ وبتوفيقه

ربناتقبل منا انك انت السميع العليم وتب علينا انك انت التوّاب الرحيم

وصلى اللّٰه تعالىٰ علىٰ خير خلقه محمد واٰله واصحابه واهل بيته اجمعين

١٦ رمضان المبارك ١٤٣٦ ه

3 جلائی 2015ء

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library